انکالوژی

اساسات

Ketabton.com



(c) ketabton.com: The Digital Library



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلـــوړو زده کـــړو وزارت
دننګرهـــــــار پوهنتون
دطـــــب پوهـــــــنځی
دداخلـــی ځـــــانګـــه

دسرطانـي (انکالوژي) ناروغيو اساسات

مولف: پوهاند دوکتور محمد ظاهر (ظفرزی)

۱۳۹۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د کتاب نوم	د سرطاني (انکالوژي) ناروغيو اساسات
ليکوال	پوهاند دوکتور محمد ظاهر ظفرزی
خپرندوی	ننګرهار طب پوهنځی
ویب پاڼه	www.nu.edu.af
چاپ ځای	سهرمطبعه، کابل، افغانستان
چاپ شمېر	۱۰۰۰
د چاپ نېټه	۱۳۹۰
دکتاب ډاونلوډ	www.ecampus-afghanistan.org

دا کتاب د افغان ماشومانو لپاره د جرمني کمېټی (www.Kinderhilfe-Afghanistan.de) لخوا تمویل شوی دی.

اداری او تخنیکی چاري يې د افغانیک موسسی لخوا ترسره شوې دي.

د کتاب د محتوا او لیکنې مسؤلیت د کتاب په لیکوال او اړونده پوهنځي پورې اړه لري. مرسته کوونکي او تطبیق کوونکي تولنې په دې اړه مسولیت نه لري.

د تدریسي کتابونو د چاپولو لپاره له مور سره اړیکه ونیسئ:

ډاکتر یـــحـــیی وردک، دلوړو زدکړو وزارت، کابل

دفتر: ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰

موبایل: ۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴

ایمیل: wardak@afghanic.org

د چاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي.

ای اس بي ان: ISBN: 978 993 640 0504

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لوړو زده کړو وزارت پیغام

کتاب د علم او تکنالوژۍ په تر لاسه کولو کې د تاریخ په اوږدو کې یو ډېر مهم رول درلودلی دی او د تحصیلي نصاب اساسي جز او د زده کړو د کیفیت په لوړولو کې خورا مهم رول لري. نو ځکه باید په علمي معیارونو برابر او تازه مواد د ټولنې د اړتیاوو په نظر کې نیولو سره د محصلینو لپاره برابر او چاپ شي.

زه د هغو محترمو استاذانو ستاینه او ورځخه مننه کوم چې کلونه، کلونه یې زحمت ویستلی دی، او کتابونه یې تألیف او ژباړلي دي او نورو ښاغلو استاذانو ته بلنه ورکوم چې دوی هم پخپلو رشتو کې درسي کتابونه برابر کړي، تر څوچاپ او د ګټې اخیستنې لپاره ببرته د محصلینو په واک کې ورکړل شي.

د لوړو زده کړو وزارت دا خپله دنده بولي چې د خپلو ګرانو محصلینو د نه روزلو لپاره نوي او تازه درسي مواد برابر کړي.

په پای کې د ټولو هغه ادارو او کسانو څخه، په تېره بیا د Dr. Eroes او ډاکټر یحیی وردګ څخه مننه کوم، چې د طبي کتابونو د چاپ زمینه یې برابره کړې ده.

هیله لرم چې دغه ګټور کار ته ادامه ورکړل شي او هم د نورو برخو تدریسي کتابونه د چاپ په ګاڼه سمبال شي.

په درنښت

قانونپوه سرور دانش

د لوړو زده کړو د وزارت سرپرست، کابل ۱۳۹۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د درسي کتابونو چاپ او د طب پوهنځيو سره مرسته

قدرمنو استادانو او ګرانو محصلينو!

د افغانستان په پوهنتونونو کې د درسي کتابونو کموالی او نشتوالی يوه لويه ستونزه ګڼل کيږي. د دې ستونزې د هوارولو لپاره موږ په تېرو دوو کلونو کې د طب پوهنځيو د درسي کتابونو د چاپ لړۍ پيل او تر اوسه مو ۶۰ طبي درسي کتابونه چاپ او د افغانستان ټولو طب پوهنځيو ته ورکړل .

د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت د ۲۰۱۰ـ۲۰۱۴ کلونو په ملي ستراتيژيک پلان کې راغلي چې :

" د لوړو زده کړو او د ښوونې د ښه کيفيت او محصلينو ته د نويو، کره او علمي معلوماتو د برابرولو لپاره اړينه ده چې په دري او پښتو ژبو د درسي کتابونو د ليکلو فرصت برابر شي، د تعليمي نصاب د ريفورم لپاره له انګليسي ژبې څخه دري او پښتو ژبو ته د کتابونو او مجلو ژباړل اړين دي، له دې امکاناتو څخه پرته د پوهنتونونو محصلين او ښوونکي نشي کولای عصري، نويو، تازه او کره معلوماتو ته لاس رسی پيدا کړي" .

د افغانستان د طب پوهنځيو محصلين او استادان له ډېرو ستونزو سره مخ دي. دوی په زاړه مېتود تدريس کوي، محصلين او استادان نوي، تازه او عصري معلومات په واک کې نلري، دوی له کتابونو او هغه چېپټرونو څخه ګټه اخلي، چې زاړه او په بازار کې په ټيټ کيفيت کاپي کيږي. بايد هغه شمېر کتابونه چې د استادانو له خوا ليکل شوي دي راټول او چاپ شي.

په ۲۰۱۱ کال کې د کابل طبي پوهنتون څخه (۹ عنوانه)،د ننګرهار (۱۳عنوانه)، کندهار (۷ عنوانه) او هرات (۴عنوانه) طبي درسي کتابونه (ټول ۳۳ عنوانه) راټول او چاپ کړل، چې يوه ببلګه يې ستاسې په لاس کې همدا کتاب دی.

د افغانستان د پوهنتونونو او د لوړو زده کړو وزارت د غوښتنو له مخې، غواړو، چې دغه پروګرام د هېواد نورو پوهنځيو ته هم وغځوو.

لکه څنګه چې زموږ هېواد تکړه او مسلکي ډاکټرانو ته اړتيا لري، نو بايد د هېواد د طب پوهنځيو ته لازياته پاملرنه وشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې د کتابونو چاپول زمونږ د پروګرام یوه برخه ده، غواړم دلته زمونږ د نورو هڅو په اړوند څو ټکي راوړم:

۱. درسي طبي کتابونه

دا کتاب چې ستاسو په لاس کې دی د درسي کتابونو د چاپ د لړۍ یوه برخه ده. مونږ غواړو چې دې کار ته دوام ورکړو او د چیپټر او نوټ ورکولو دوران ختم شي.

۲. د نوي میتود او پرمختللو وسایلو په کارولو سره تدریس

د ننګرهار او بلخ پوهنتونونو طب پوهنځي یوازې د یو پروجیکټور درلودونکې وو، چې په ټول تدریس کې به تري ګټه اخیستل کېده او ډېرو استادانو به په تیوریکي شکل درس ورکاوه. په ۲۰۱۰ کې مو د DAAD په مرسته وکولای شول د ننګرهار، خوست، مزار، کندهار او هرات طب پوهنځیو ټولو تدریسي ټولګیو کې پروجیکټورونه نصب کړو.

۳. د هېدل برګ پوهنتون په نړیوال طب کې ماستري

په نظر کی ده چې د هېواد د طب پوهنځیو د عامې روغتیا د څانګو استادان د جرمني هیدل برګ پوهنتون ته د ماسترۍ لپاره ولېږل شي.

۴. د اړتیاوو ارزونه

په کار ده چې د پوهنځیو روان وضیعت (اوسنۍ ستونزې او راتلونکي چېلنجونه) وارزول شي، او بیا ددې پر بنسټ په منظمه توګه اداري، اکاډمیک کارونه او پرمختیایي پروژې پلې شي.

۵. کتابتونونه

په انګلیسي ژبه په ټولو مهمو مسلکي مضمونونو کې نوي نړیوال معیاري کتابونه د پوهنځیو کتابتونونو ته وسپارل شي.

۶. لابراتوارونه

په هر طب پوهنځي کې باید په بېلا بېلو برخو کې لابراتوارونه موجود وي.

۷. کدري روغتونونه (د پوهنتون روغتونونه)

د هېواد هره طب پوهنځی باید کادري روغتون ولري او یا هم په نورو روغتونونو کې د طب محصلینو لپاره د عملي زده کړو زمینه برابره شي.

۸. ستراتیژیک پلان

دا به ډېره ګټوره وي، چې د طب هر پوهنځی د اړونده پوهنتون د ستراتیژیک پلان په رڼا کې خپل ستراتیژیک پلان ولري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

له ټولو محترمو استادانو څخه هیله کوم، چې په خپلو مسلکي برخو کې نوي کتابونه ولیکي، وژباړي او یا هم خپل پخواني لیکل شوي کتابونه، لکچر نوټونه او چېپټرونه اډېټ او د چاپولو لپاره تیار کړي او بیا یې زموږ په واک کې راکړي، چې په ښه کیفیت چاپ او بیا یې په وړیا توګه طب پوهنځیو او د محصلینو په واک کې ورکړو.

همدارنګه د پورته یادو شوو نورو ټکو په اړوند خپل وړاندیزونه موږ ته په لاندې آدرس وسپارئ، څو په ګډه مؤثر ګامونه واخلو.

له ګرانو محصلینو هیله کوم، چې په یادو چارو کې له خپلو استادانو او موږ سره مرسته وشي.

په آلمان کې د افغاني ماشومانو سره د مرستې ټولنې (Kinderhilfe-Afghanistan e.V.) او د ټولنې مشر ښاغلي Dr Eroes نه د زړه له کومې مننه کوم، چې تر اوسه یې د دغه کتاب پر شمول د ۱۳ کتابونو د چاپ لګښت په ورین تندي پر غاړه واخیسته او له دې سربېره یې د لانورو مرستو وعده هم کړې ده. همداراز د افغانیک (Afghanic) موسسې څخه هم مننه کوم، چې د کتابونو د چاپ تخنیکي او اداري کارونه یې تر سره کړي .

په افغانستان کې د کتابونو د چاپ په برخه کې د لوړو زده کړو وزارت سرپرست قانونپوه سرور دانش، علمي معین پوهنوال محمد عثمان بابري، مالي او اداري معین پوهاند صابر خویشکي، د پوهنتونو او پوهنځیو له رییسانو او درنو استادانو څخه یوه نړۍ مننه کوم، چې موږ یې تشویق کړي یو او د کتابونو د چاپ په برخه کې یې له موږ سره همکاری کړې .

ډاکټر یحیي وردګ، د لوړو زده کړو وزارت
کابل، ۲۰۱۱ م ،دسامبر
د دفتر تلیفون : ۰۷۵۶۰۱۴۶۴۰
موبایل تلیفون :۰۷۰۶۳۲۰۸۴۴
ایمیل: wardak@afghanic.org

× × ×

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډالۍ

داکتاب دهغه چا لپاره ډالۍ کوم چې دسرطاني ناروغ دژوند د اوږدوالي لپاره شپه او ورځ زیار باسي او دتل لپاره ددې ناروغانو د ستونزو د له منځه وړلو په هکله فکر کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

منزلیک

څرنګه چې ددې کتاب تالیف او لیکنه یې د محترم ګران ورور ډاکټر یحیی (وردګ) له خوا هڅول شوی او زما پاملرنه یې هر وخت د طبي کتابونو په تالیف او دهیواد طبي پرسونل د لاپرمختګ لپاره راوړي ده دزړه دتل څخه مننه کوم او دهغه روغتیا او سلامتیا او دسلیم عمر اوږدوالی ورته د الله جل جلاله له دربار څخه غواړم.

همدارنګه د ډاکټر رحمت الله (رحمت) دزیار څخه چې ددې کتاپ په کمپوز، ډیزاین او چاپ کې برخه اخیستې ډیره مننه کوم اود لوی الله جل جلاله څخه ورته د بریالیتوبونو غوښتونکی یم.

دمحترم پوهندوی دکتور بریالی (ولي زاده) چې دداخلی څانګی ددندو دښه تنظیم او ترتیب کې پراخه ونډه لري. زما سره یې دکتابونو دنوي معلوماتو په راټولولو، ترتیب، تنظیم اودکتاب په معیاري کولو کې زیار ایستلی دی دزړه دتل څخه مننه کوم او دتل لپاره ورته کامیابي او خوشحالي د الله جل جلاله څخه غواړم.

او هم د داخلی څانګی غړی پوهنیار دکتور کامران (ظفرزی) څخه دزړه له کومی مننه کوم چې ماسره یې دکتابونو په ترتیب، تنظیم او دموادو په راټولولو کې کې زیار ویستلی دی او په راتلونکې کې دلابریالیتوب هیله کوم.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فهرست

عنوان	مخ
سریزه	الف
د Oncologic ناروغیو ستونځی	۱
ایتولوژي	۳
تصنیف بندي	۶
درملنه	۱۴
دکانسر پتالوژي	۳۱
د Dysplasia تعریف	۴۲
دکانسر جراحي تدابیر او اهتمامات	۴۴
دکانسر دپراختیا فکتورونه اودهغی کلینیکي خواص	۴۵
دکانسر تشخیص	۴۸
دشعاعي درملنی پرنسیپونه	۶۸
دشعاعي تراپي ډول ډول موخی	۸۰
دکیموتراپي پرنسیپونه	۹۱
دسرطان روحي او عقلي اړخونه	۱۱۴
پارا نیوپلاستیک سندروم	۱۲۴
دثدیو کانسر	۱۳۵

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینیکي تشخیص ۱۳۷
تصنیف بندي ۱۴۱
دتداوي پرنسیپونه ۱۴۲
د درملنی پایلی ۱۵۴
دتداوي په ذریعه ژوند بنه کولو پوښتنه ۱۵۴
دسږو کانسر ۱۶۰
عمومي کتنه ۱۶۰
کلینیکي تشخیص ۱۶۱
تصنیف بندي ۱۶۵
دتداوي پرنسیپونه ۱۶۸
دکیموتراپي پرنسیپونه ۱۷۰
دهضمي جهاز کانسر ۱۷۴
دمری کارسینوما ۱۷۴
ایتالوژیکي فکتور ۱۷۵
کلینیکي تشخیص ۱۷۶
تصنیف بندي ۱۷۶
اناتومیکي کتنی ۱۷۶
دمعدی کارسینوما ۱۸۵
پیژندګلوی ۱۸۵

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینیکي بڼه ۱۸۷
تصنیف بندي ۱۹۰
دکوچنیو کولمو تومورونه ۱۹۵
پیژندنه ۱۹۵
کلینیکي منظره ۱۹۷
دکولون،ریکتم اودمقعد تومورونه ۲۰۱
ایتالوژي ۲۰۲
کلینیکي ننښی ۲۰۲
دهضمي جهاز اساسي غدواتو کانسر ۲۱۸
کتنه ۲۱۸
پانقراص ۲۱۸
کلینیکي پلټنی ۲۱۹
تشخیصي طریقی ۲۲۱
تصنیف بندي ۲۲۳
پتالوژیک ډولونه ۲۲۳
ینه ۲۲۸
ایتالوژي ۲۲۸
کلینیکي پلټنی ۲۲۸
خارج الکبدي صفراوي قنات ۲۳۴

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینیکي پلټنی ۲۳۴
تصنیف بندي ۲۳۶
پتالوژیکي ډولونه ۲۳۶
صفراوي کڅوړه ۲۳۸
کلینیکي پلټنی ۲۳۸
دتداوي پرنسیپونه ۲۴۱
دښځو تناسلي لاری کانسر ۲۴۲
کتنه ۲۴۲
درحم کانسر ۲۴۵
کلینیکي پلټنی ۲۴۶
دتشخیص طریقی ۲۴۸
مرحله بندي ۲۵۱
داندومتریم کانسر ۲۶۱
کلینیکي پلټنی ۲۶۲
تصنیف بندي ۲۶۴
دتداوي پرنسیپونه ۲۶۷
دمبیض کارسینوما ۲۷۳
کلینیکي پلټنی ۲۷۴
تصنیف بندي ۲۷۵

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دښځو دتناسلي لارو نيوپلازم ۲۸۵
کلينيکي تصنيف بندي ۲۸۶
دمهبل کارسينوما ۲۸۷
کلينيکي منظره ۲۸۷
يورالوجيکي او نارينه تناسلي کانسر ۲۹۳
دپښتورګو تومورونه په کاهلانو کې ۲۹۳
کلينيکي پلټنی ۲۹۴
دکليوي حويصل کارسينوما ۲۹۸
دپښتورګو رشيمي تومورونه ۲۹۹
کلينيکي پلټنی ۲۹۷
حالب ۳۰۳
کلينيکي پلټنی ۳۰۴
دمثانی کانسر ۳۰۵
کلينيکي پلټنی ۳۰۶
پروستات ۳۱۹
ايتالوژي ۳۱۹
خصيی ۳۲۷
کلينيکي تشخيص ۳۲۸
دپوستکي کانسر ۳۳۲

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینیکي تشخیص ۳۳۹
مالګنینت میلانوما ۳۵۱
پیژندنه ۳۵۱
کلینیکي پلټنه ۳۵۳
دسر او غاړې تومورونه ۳۵۷
کلینیکي پلټنې ۳۵۹
دخولې دجوف ځمکه ۳۷۷
کلینیکي پلټنه ۳۷۸
دلعابیه غدوات او دژامې هډوکي ۳۹۲
کلینیکي پلټنه ۳۹۲
دمرکزي عصبي سیستم تومورونه ۴۱۱
ویشنه ۴۱۲
سترګه ۴۳۲
دسترګو د جفن او منضمې تومورونه ۴۳۲
پیژندنه ۴۳۲
کلینیکي پلټنې ۴۳۷
داخل کروي تومورونه ۴۴۲
دسترګې دکرې تومورونه ۴۵۵
پیژندنه ۴۵۵

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهډوکو تومورونه ۴۲۱
دهډوکو تومورونه ۴۲۱
ویشنه ۴۷۳
درخوه انساجو سارکوماګانی ۴۷۵
کلینیکي پلټنه ۴۷۹
درملنه ۴۸۱
داندوکراینې غدواتو کانسر ۴۹۴
درقیه غدی کانسر ۴۹۴
کلینیکي لټنه ۴۹۷
دفوق الکلیه غدی دقشر کانسر ۵۱۲
کلینیکي لټنه ۵۱۴
خبیث لمفوما ۵۲۳
هوجکن ناروغی ۵۲۴
پیژندنه ۵۲۴
کلینیکي منظره ۵۲۵
خبیث لمفوما لمفوسایتیک او ریتوکولوم حجراتو ډولونه ۵۴۴
پیژندنه ۵۴۴
ماکروګلوبولینیمیا ۵۵۹
پیژندنه ۵۵۹

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینیکي لوحه ۵۲۰
لوکیمیاګانی ۵۲۲
پیژندنه ۵۲۲
کلینیکي سیر او سل میچوریتي ۵۲۲
کرونیک میلوسایتیک لوکیمیا ۵۷۵
کرونیک لمفوسایتیک لوکیمیا ۵۷۹
د اطفالو جامد تومورونه ۵۸۲
دمنتشر کانسر تنظیمول او کنترول ۲۰۲
دکانسر په پاملرنه کې د نرس رول ۲۰۸
ماخذونه ۲۲۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سریزه

سره لـه دې چـې سـرطاني نـاروغۍ دتنګرهـار دطـب پـوهنځی پـه داخلی،جراحي،پتالوژي او نورو مضامینو کې لوستل کیږي چی د هر غړي دډول ناروغۍ په مختلفو معیارونو نظر اچولی شویدی چی دطب د ډاکترانو او خصوصا دجراحي او انکالوجستانو لپاره ستونزه پیداکړي او دهغی دلټون لپاره زیات وخت په کار دی تر څو چی قبول شوي نړیوال موډیفیکیشن دتداوي په هکله پیداکړي.

امکان لري چی دتداوي بیړنی اقدام تیر شي نو ما له ځان سره پریکړه وکړه چی ددی ستونزی دمخنیوي لپاره داسی یوکتاب تالیف کړم چی دانسان دبدن دهر عضوی دسرطاني ناروغی لاملونه، کلینیکي بڼه، اختلاطات او دتداوي ډیر منل شوي نړیوالی لاری چاری او د درملنی ارزانه میتودونه څرګند کړم.

په دی ټکس کتاب کې دهمدی موخی لپاره دنړی نوی خپرونی او د انترنیت دلاری ددی ناروغی لپاره غنی زیرمه برابره کړیده.

برسیره پردی دطب دمحصلینو دتدریس لپاره او دسرطاني ناروغ سره کړنه او دهغه سره دمخامخ کیدو په وخت کې دکومی مانوری څخه کار واخلي په ګوته کړیدی او همدارنګه په کتاب کې دیو سرطاني ناروغ سره چی دبدن ډیر مهمو اعضاو ته لکه (سړي، دماغ، ځیګر، هډوکي او دهډوکي مغز او داسی نورو) ته میتاستاز ورکړی دی او په ناعلاجه ناروغی اخته وي دهغه روحي تقویه کولو، د درد زغم کچه او دپرمختللي Depression اوداسی نوری ستونزی چی دهغه د درد او مرګ د زیاتیدو لامل ګرځي مخه ونیسي.

الف

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګند شوی دی او دپاتی ژوند دسمبالښت لاری چاری د داکترانو له خوا ډاډګیرنه ورکړل شي.

یادونه کوم چی پخوا فکر کیده چی داناروغی زمونږ په هیواد کې کمه ده خو زمونږ په اوسنی څیړنه او پرکتیس کې داڅرګنده شویده چی نوموړی سرطانی افت زمونږ دخلکو ګریوان ته لاس اچولی اودمرګ کندی ته یې راکاږي نو بی ځایه به نه وي چې دخپل هیواد داکترانو او طبي پرسونل ځانګړی پاملرنه دی افت ته راوګرځوم او دزړه سواندی له مخی ددی ناهیلی ناروغانو تداوي ته په بیړه سره راودانګي ترڅو چی کم تر کمه ددې ناروغانو دژوند اوږدوالي لامل شي او یا اقلا دهغوی د درد ، خفګان او نا امیدی په هکله ډاډګیرنه ورکړي اودهغوی پاملرنه دالله جل جلاله دربارته راواړوي.

زما په عقیده دا کتاب داوس لپاره بډایه زیرمه ده او په راتلونکي وخت کې به دعلمي کاروان دحرکت سره سم مونږ هم خپلی علمي پریکړو ته دوام ورکړو او ددی ناروغی په هکله به دنړی د نورو انکشافاتو او څیړونو سره ځان دتیارسی په حال کې وساتو.

همدارنګه باید څرګنده شي چی دراتلونکي لپاره دا زما هوډ دی چی دداخلی دیپارتمنت دملګرو په مرسته د خپل هیواد د سرطاني ناروغیو او انکالوژي په هکله بشپړ نوي معلومات راټول او غوره علمي څیړنه تر سره کړم ترڅو په ګران هیواد کې ددې بی رحمه ناروغی د لاملونو، تشخیص او درملنی لپاره یقیني علمي ډګر پرانستل شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Oncologic ناروغيو ستونځی

انکولوجي د نيوپلاستيک ناروغی څيړنی او مطالعی ته ويل کيږي او په عمومي ډول کانسري پرابلمونه په دغه بحث کې شاملیږي. او همدارنګه يو شمير زيات ډول ډول تومورونه چی خپيشه خاصيت لري او دناروغانو دمړينی لامل ګرځي تربحث او څيړنی لاندی نيسي.

کانسري حجرات دعضويت د هر نسج په هر سن کي پيدا کيږي او په وصفي ډول په موضعي نژدی حجراتو ويا د دوران او لمفاتيک چينل له لاری نورو حجراتو ته خپريدای شي. په هغه ټولنه کې چی انتاني ناروغی دکنترول لاندی راغلی دی او دنفوس عمر اوږد شوی دی په دا ډول خلکو کې د کانسري پيښو وقوعات زياتيږي.

په پرمختللي جامعو کې دکانسري ناروغيو مړينه نظر قلبي وعايي او کليوي ناروغيو مړينی ته مخ په زياتيدو ده. برسيره په دغه مړينی طبي اهتمامات او دنرسنګ څارنی هم په دغه Mortality کې زيات رول لوبوي.

The Rise of Death from cancer USA ۱۹۰۰-۲۰۰۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۱۹۰۰ راپه دې خوا زیات مرګ په څرګند ډول په ټولنو کې دعمر د زیات والي له امله راپیدا شویدی (لمړی شکل).

په امریکا کې دکانسر له امله کلنی مړینه د ۳۰۰۰۰۰ پوری رسیږي او داسی باید ووایو چی دهر کورنی یو غړی ددغه خطر سره مخامخ دی. یوکم شمیر خلک پیداکیدای شي چی هیڅ ډول اړیکی د کانسري پرابلمونو سره نه لري د خبیثه ناروغیو نمونې دجنس او جغرافیایي موقعیت له نظره فرق لري. ښځی نظر نرانو ته دکانسر د پیداکیدو لپاره ډیره مساعده زمینه لري. لیکن هغه واټن چی دسړو د کانسر زیاتوالی په نرانو او دورمیږ دکانسر په ښځو کې چی شتون درلوده اوس ډیره نژدی شوی دی. په ښځو کې د ثدیه، کولون، رحم او پوستکي کانسر زیات عمومیت لري او په نرانو کې د سړو، GI، پوستکي، پروستات اودخولی د جوف او لرنګو فرنکس او مثانی کانسر زیات دلیدنی وړ دی.

په ماشومانو کې کانسري وقوعات نظر کاهلانو ته ډیر کم دي.

لیکن د Mortality په لحاظ زیات اهمیت لري په انګلستان کې هغه ماشومان چی د ۱-۱۴ کلنی په سن کې وي د کانسري وقوعاتو مړینی دپاملرنی وړ ده خو دترضیضي وقوعاتو مړینه هم دپام وړ ده.

کانسر نظر نورو ناروغیو ته زیات ماشومان مړه کوي، تقریباء ۴۵۰۰ ماشومان مخکی له ۱۵ کلنی څخه په یوه کال کې په امریکا کې مړه کیږي. لوکیمیا ،دماغی تومور، دپښتورګی کانسر او لمفوما ډیر لوی او عمده دمرګ فکتورونه ګڼل کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Etiology

په واضح ډول د کانسر لامل تراوسه معلوم نه دی. که څه هم دکانسري حجراتو او دنورمال حجراتو په منځ کې د هستوپتالوجیک له نظره په واضح اوښکاره ډول فرق او توپیر موجود دی بیاهم لږ څه میتابولیک توپیرونه هم شته.

دکیمیاوي جوړښت له نظره د نوکلییک اسید ساختمان په دواړو حجراتو کې یوشانته دی. خو بیا هم په کانسري حجراتو کې حیاتي پروتیس یو څه اندازه نظر نورمال حجراتو ته کم دی او برسیره پردی تنفسي انزایم (Respiratory Enzymes) ، سایتوکروم، اوستیوکروم او کتیداز هم کم لیدل کیږي. د Aerobic او Anaerobic حالتونو لاندی دکانسري حجراتو د Glycolysis ثابت او په وصفي ډول توپیر لري که څه هم یو شمیر مولفینو په دغه باره کې زیاتی څیړنی کړیدي. بیاهم ډیری کړکیچنی ستونځی دکیمیاوي له نظره په کانسري حجراتو کې لاهم شته. اوسنی معلومات د کانسر نیوجنیک موادو په هکله دقیقی کیمیاوي عامل په حیث ډیر وړوکی رول لوبوي. په حیواناتو کې د پولي سایکلیک هائیدروکاربن دنیوپلازم دپیداکوونکی عامل په حیث پراخه مطالعات شوي دي. او همدارنګه د پطرولي فابریکو په کارګرانو کې د پوستکي کانسر او اوروفرنجیل او برانکوجنیک په چلمی کسانو کې یادونه شوی ده.

Aniline رنګه مواد دمثانی په کانسرو کې چې زیات رول لري خو بیا هم په ځینو واقعاتو کې ډیر نادر لامل ګڼل شویدی. دریدیشن شعاع دکانسري عامل په هکله ډیر

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

زیات او لوړ توقعات موجود دي خو بیا هم دټولو کانسري پیښو د ۱% نه زیات رول نشي لوبولی یورانیم، سترونیتم، Niclel او بیریلیم وایي چې په حیواناتو کې کانسر پتوجنیک خاصیت لري او په اغلب احتمال دمعدن په کارګرانو کې د سږو د کانسر لامل ګرځي. د Asbestes د میزوتیلوما په پیدا کیدو کې په کارګرانو کې مشخصه رول لري.

د ریسرچ کار ګران او د DNA په هکله دمعلوماتو زیاتوالی داسی څرګنده وي چې کانسر پتوجنیک او ارثي، Viral او کیمیاوي مواد او ریدیشن عمده فکتورونه دي، په اخر کې وایم چې بیا هم تراوسه د کانسر په هکله واضع او یقیني جواب نشته.

۳- تشخیص

مقدم تشخیص دناروغ دتعلیم او دخبرو په رښتینوالي او ډاکټر پوری اړه لري. دکانسر مقدمه علامه په مختلفو اعضاو کې ډول ډول وي دمثال په ډول په ثدیه او نامعلوم نزف دکوم جوف څخه باید کانسر فکر مینځ ته راوړي. لیکن په ناروغیو کې دکانسر د تشخیص دایښودلو ویره ناروغ سره مشوره دغنډ سره مخامخ کیږي. هرداکتر باید دکانسري ناروغیو لټول زده کړي خصوصاء په هغه ناروغانو کې چې عمر یې د ۴۰ څخه زیات وي د پوستکې موضعي افات، رحم، خولی، ثدیه، دسږي او ریکتم پروستات او تایروئید په ناروغانو کې لټول ضروري وي. ځکه چې دوامداره خبرتیا د ناروغ په هکله که څه هم اعراض کم وي ناروغی په مقدمه مرحله کې تشخیص کیږي او دتداوي له نظره زیات

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بریالیتوب مینځ ته راوړي. ځکه چی په ناروغ کې د کانسر شکمن کیدل ځیر او ضروري مناسبی مشوری ته ضرورت پیدا کیږي. شکمنی علامی پرله پسی معاینی او جراحي مداخلی ته اړتیا پیدا کیږي ترڅو چی تشخیص قاطع او ریښتنی کړي او نور تستونه او رادیوګرافیک معاینات باید اجراشي. خو باید لومړی داتستونه زیات اقتصادي ضرر ناروغ ته ونه رسوي. همدارنګه باید زمونږ اټکل دتایید وړ وګرځي. که چیری یوځل پتالوجیک تشخیص وضع شو ځینی اضافي تعیني تستونه د کانسر داناتومیک پراختیاء د معلوماتو لپاره ضروري اجراء کیږي. دغه مرحلی د کانسري ناروغ د تداوي دپلان او دناروغی دانزارو لپاره زیات اهمیت لري که چیري هستالوجیک کانسري تشخیص ایښودل شوي وي بیاهم د کانسر تشخیص بشپړ نه دی نو د دی مقصد لپاره اضافي تشخیصي معاینات ضروري دی ترڅو چی د کانسر پراختیاء د TNM د کټګوری پر بنسټ کیښودل شي.

۱- ابتدايي افت (T) :

دابتدايي افت د معلومولو لپاره که چیری داخلي موقعیت ولري لکه د عنق اویا مثانی کانسر ښه به داوي چی د عمومي انستیزیا وروسته لتون وشي او د ناحیی رادیوګرافي په مرسته د کثیفه موادو او د تموګرافي تکنیک باید اجراء شي او د Scopes پواسطه مستقیم او غیر مستقیم لیدل ښه وتیره ده.

۲- (N) Lymph Nodes

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کـه چيـری لمفـاوي عقـدات د جس وړ وي کلينيکي معاينـات يې ضـروري دي. نـو ددی مقصد لپاره دکثيفه موادو پواسطه لمفوانجيوګرافي، راديوايزوتوب معاينه دکانسر اټکل کـولای شـي پـه اوسـني وختـو کـې د سـتنی بايوپسـي دلمفوانجيـوګرافي سـره يوځـای استعماليږي.

۳- ميتاستاز Metastasis (M)

عموما دکانسر دا پراختيا سږو، ځيګر دهډوکي مخ او دمـاغ ته زيـات وي. نـو لـه دې کبله دسږو راديوګرافي دهډوکو سروي معمولاء اجراکيږي.

درادیوایزوتوپ طریقـه د ځيګر Scans (Au ۱۹۸) دمـاغي Technicium ۹۹m Scans دهډوکو Scans(Strontium ۸۵,۸۷m) صـورت نيسـي. لابراتـواري تسـتونه لکـه انـزايم الکالين او داسيد فاسفتاز اوداسی نور بايد اجراشي. همدارنګه د ځګر او دهډوکي دمخ بايوپسي يوکومکی عمليه ده دهری عضوی دکانسرو وصفي انتشار او خاصيت په مشرح ډول اويا نژدی هغی ته تر بحث لاندې ونيول شي.

تصنيف بندي(Classification)

ډيره ضروري خبره داده چې دکانسر تصنيف بندي داناتوميک او هستالوجيک لـه نظره اجراء شي. ځکه چی دکانسري اناتوميـک کمي او هسـتالوژيک کيفي طبيعيت پوهيـدل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنـاروغی د سـیر لپـاره کـونجی ده لـیکن د نشـراتواو مجلاتـو دمطـالعی څخـه داسـی معلومیږي چی په بشپړه توګه ددغه وصفونو پوهیدل ناممکن خبره ده.

هغه حملات چی په هغی دکانسر دمراحلو له نظره لمړنی ، منځنی او پرمخ تللي بولي پرته دزیاتو تشریحاتو څخه داجملی تر اوسه لاهم نا اشنا ښکاري اوحتی دکانسر ډیر ماهر ډاکټر نه پوهیږي چی دکوم ځایه او په څه ډول لین ګذاري وکړي هغه کلمات لکه "Nonoperable" "Operable" Nonresectable" "respectable"

او پرته له کوم څرګند معلومات او پوهی څخه تراوسه په مجهول ډول استعمالیږي او خصوصا داخبره لاتورهم هغه وخت ستونځمنه شوه چی کریتریا دهر جراح له خوا په هر وخت او زمان کې بدل شول.

کله چې تکنیک او وسایل زیات اماده شول دکانسر په هکله دغه بدلونونه مینځ ته راغلل.

هغه یوشمیر زیات بین المللي کمیتی شته چی کوشش کوي چی یو ستندرد بین المللي نامګذاري دکانسر په باره کې مینځ ته راوړي. او عمده خبره داده چې دوی هڅه کوي چی دکلینیکي له نظره د مغلقو نومونو او تشریحاتو څخه ډډه وکړي.

پدې موضوع کې ساده ګي ډیر زیات اهیمت لري سره له دې دکانسر د پلټونکو سره په هره کټګوري کې کافي معلومات نشته دوه عمده چې د کانسر ناروغیو تصنیف بندي یې کړیده عبارت دي له UICC او بله (Ajccs) امریکن خبات کومیتي ان کانسر Staging American Cjoint committee on cancer staging دتصنیف بندي ګټوری لاری دادي:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

الف: داکتر دناروغ دتداوي په پلان کې مرسته کوي.

ب: دناروغی دانزارو په باره کې معلومات وړاندی کولای شي.

ج: دتداوي د نتيجي د تخمين په باره کې ارزيابي کوي.

د: دمعلوماتو د بدلون لپاره لاره اسانه کوي.

هـ: دکانسر د پلټنې د دوام لپاره لاره خلاصوي.

اناتومیک فکتور

دکانسري ناروغيو معنی داډول تصنيف بندي د هغی دوصفي وسعت پورې اړه لري لکه چې مخکی مو وويل داخبره په دری جملو کې يادول کيږي.

۱- د T کلمه د Primary tumor لپاره ټاکل شويده.

۲- د N کلمه د ناحيوي لمفاوي عقداتو داخته کيدو سره ارتباط لري.

۳- د M کلمه دناروغيو د Metastasis سره اړه نيسي.

۱- T N M تصنيف بندي:

ډيره نوی تصنيف بندي دابتدايي تومور دتعريف له مخی او دلمړني ساحی داخته کيدو له کبله T۱, T۲, T۳, T۴ په ډول يادونه کيږي. اودساحی دپراختيا په لحاظ دغه کلمات ذکر کيږي او همدارنګه N۰, N۱, N۲, N۳ دپرمخ تللي لمفاوي عقداتو د مصاب کيدلو معنی ورکوي. دغه پورتني تصنيف بندي شايد اويا ښايي چې پوره منطقي اثبات په ځينی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تموري واقعاتو کې ثابت نشي کړای اوټول کلینیکي واقعاتو له دغه لاری په تمام معنی ټول اړخونه نشو مطالعه کولای خو بیاهم دغه میتود دتومور دانتشار لپاره د لټولو ډیر ښه لیاره ده. دمثال په ډول T دابتدایي موضعي افت لپاره د N په ثانوي ډول د لمفاتیک سیستم د احتوا کولو او M داوعیوي انتشار لپاره معنی ورکوي.

مهمی ستونزی چې د UICC او AJCCS په کیماتیک ډول تشریح شویدي اوس دیو سمبول په ډول TNM په شکل یادونه کیږي او دا په مختلفو ساحو کې ځانګړی معنی ورکوي دهر کانسري واقعاتو ساده کیماتیک دیاګرام په ډیر ساده ډول په هر مبحث کې علیحده ذکر کیږي دمحصلینو او داکترانو لپاره دا ضروري نه دي چی هر Table یادکړی.

۲- دکلینیک له نظره په نسبي ډول جراحي کریتریا د Stage دمعلومولو لپاره:

کلینیکي کریتریا دجراحي عملیاتو لپاره ډیر ضروري ده او باید د امکان دحده پوری یو صحیح او درست Staging وشي. او باید د کلینیکي معایناتو ریښتینوالی دغور لاندی ونیول شي ترڅو چی دتیروتنی څخه ډډه وشي او دا باید وویل شي چې هیڅکله کانسري واقعه د جراحي معایناتو له مخی دوباره نه تصنیف کیږي دعمومي لارښودنی په توګه دا ډیر قانع کوونکی رپورت دی چی ناروغ ته په یو مناسب ګروپ کې ځای ورکړل شي دا ډول تومورې اوصاف کولای شي چی دغیر عملیاتي تمورونو میتود اویا جراحي ستندرد دعملیاتي لارو یو له بله بیل کړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Symbolic Oncotaxonomy

په کلینیکي طبابت کې ددغه پورتنی عنوان تصنیف بندي ډیر زیات اعتبار نه لري.

تصنیف بندي باید دناروغی د انزار او تداوي په لحاظ ډیر معنی دار او وصفي اهمیت ولري او دناروغی کلینیکي پریکړه دکلینیکي معایناتو پوری اړه نیسي

الف: دابتدایي تمور (T) او لمفاوي عقداتو (N) او میتاستاز M اړیکی په پورتني لاری Overlapping دایرو کې په ګوته شویدي.

ب: په عمومي ډول ویلی شو چې ابتدایي تموري افت کولای شي چی په دری خواو انتشار وکړي.

ج: برسیره دکانسر په تصنیف دناروغ او دناروغتیا دوخامت تشخیص هم ضروري وي.

ځکه چی مخکی صفحه کې دناروغی خفي، نابنکاره اویاتحت الکلینیکي مرحله کې قرار لري.

دانکوجنیک Toxonatomy تعریف چی دناروغی جغرافیایي ساحه په غیر Verbal مرحله روښانه کوي دناروغی د راتلونکي انزار لپاره کافي ګټل کیږي

۴- د Staging سیستم اساسي تاثیرات:

په عمومي ډول څلور اناتومیک Stages موجود دي.

داخبره ډیره دتشویق وړ ده چی وویل شي چی Staging په منظم ډول نشي کولای چی دکانسر پیشرفت اوپرمختګ ښکاره کړي که څه هم په ځینی پیښو کې کانسر په وصفي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول دابتدايي افت څخه نظر يا افت ته زيات پرمختګ کولای شي خو بياهم ځينی اختلافات شته ميتاستاز په حقيقت دکانسر د پراختيا لمړنی علامه ده چی دجسامت له نظره وړوکی او حتی ميکروسکوپيک جسامت لري. Staging په مطلق صورت دکانسر دتداوي او انزار دتداوي پلان له پاره ډيره موثر لاره ده.

Stage I, T۱, N۰, M۰ :

په دی مرحله کې کلينيکي معاينات يوه واحده محدوده کتله چی ديوی عضوی او يا ناحيه کې ځای لري ښکاره کوي. داډول کتله دعمليات سره د غوځيدلو وړ ده او دغه افت يوه مطلوبه کتله ده چې يواځي موضعي ناحيه يې نيولی او د لمفاوي عقدات او دوعايي انتشار په کې نه ليدل کيږي داډول ناروغ د ژوندانه د پاره ښه چانس لري او ۷۰-۹۰ سلنه پوری د ژوندي پاتی کيدلو بخت لري.

Stage II, T۲,N۱, M۰

په کلينيکي معاينا تو کې دا افت دموضعي ناحيی چارچاپيره انساج احتوا کوي او داولين ستيشن لمفاوي عقداتو ته انتشار کوي. دا افت د عمليات او ايستلو وړ دي. ليکن د موضعي پراختيا له کبله دهغی بشپړ ايستل دشک او تردید سره مخامخ دی. دهغی پارچه دميکروسکوپيک له نظره کپسول او لمفاتيک ساحی ته توپير کړيدي ددی ناروغانو د ژوندانه لپاره ښه چانس د ۵۰ % ± ۵% اټکل شويدی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

: Stage III, T۳,N۲,M۰

په کلینیکي معایناتو کې ډیر پراخه ابتدایي انتشار او د عمیقه نسج د التصاق ښکاره کوي.اوهمدارنګه دلمفاوي عقداتو او هډوکو باندی دعین افت تیری منځته راغلی دی. دا افت د عملیات وړ لیکن دایستلو وړ ندی ځکه چی په ښکاره ډول افت د ماوفی ناحیی شاته پټ دی. ځینی ناروغان په دی مرحله کې د (۵% ± ۲%) دژوند چانس لري.

: Stage IV, T۴, N۳, M+

دلری میتاستاز شواهد دماوفه ناحیی شاته لیدل کیږي داډول افت دعملیات وړ نه دی ډیر لږ اویا هیڅ د ژوندانه چانس نشته. (د ۵% څخه کم وي).

NB

کټ مټ کریتیریا یا د هماغی عضوی دساحی پوری اړه نیسي. لیکن دایو عمومي لارښود دی چی داعتبار وړ او ډیر ګټور Staging دانتشار د روښانه کیدلو او د کلینیکي له نظره دکانسر دوصف د تخمین سره اړه لري. اوداباید وویل شي چی دکانسر عمیقه او ژور انتشار یواځی اناتومیک فکتور دی چی دناروغی وخامت ښکاره کوي په خپله دکانسر جسامت او سطحي انتانات دومره اهمیت نه لري.

همدارنګه نور څلور کرتیریا هم موجود دي چی دکانسري واقعاتو په څرنګوالی کې استعمالیږي او هغه عبارت دي له: کلینیکي، رادیولوژیک، جراحي او پتالوجیک

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ازموینی څخه مونږ کولای شو چی د دوو لارو د کانسر وخامت اوتهاجم او کیفي انتشار معلوم کړو.

هستالوجیک فکتور

د کانسر هستوولوجیک تخمین له ډیر پخوا څخه استعمالیږي اوداعملیه دتمور دتداوي دپلان او دناروغی په انزارو کې د اناتومیک وسعت څخه زیات او یا برابررول لري مونږ کولای شو چی دکانسر وخامت او کیفي طبیعیت دانتشار له دوو لارو معلوم کړو.

۱- هستالوجیک Grade :

دکارسینوما د Grading تخمین لکه څرنګه چی د Broder's له خوا شویدی د Squamous cell کارسینوما دوخامت درجه ډیره ښه پوهیدل شویده. عینی ترتیب کولای شي چې د ثدی دکانسر، مثانی او نورو لپاره استعمال شي. که څه هم د رادیوتراپي د نتیجی اټکل کول لږ څه مشکل کار دی خو بیا هم ویلی شو تر یوی حده پوری دکانسر Anaplasticity درادیوتراپي سره مستقیم اړیکی لري.

۲- هستالوجیک Type

دمبیض او خصیوی تمورونو حقیقي پیژندل ډیر زیات اهمیت لري دمثال په ډول دتداوي له نظره دکوریو کارسینوما دعین Stage تمور ډیر خراب انزار لري نظر دعین Stage Seminoma تمور ته هم دارنګه د ثدی دکانسر ډولونه چی Tornberg له خوا او

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دماغي تمورونه چی د Kernchan له خوا ښودل شويدي د اهتماماتو دنيولو لپاره ډير گټور دي.

Dual Classification

ترکومه حده چی امکان لري د Dual اناتوميک اوهستولوژيک تصنيف بندي بايد دکانسر په هکله وشي ځکه چې د رپورت دبرابرولو لپاره ښه ميتود دی ترڅو چی يوه سلسله سره مقايسه شي کله دجراحي او راديشن تداوي دعين کتگوری د مشابه گروپ سره مقايسه کيږي د يو حقيقي اندومايزشن د هر سلسله لپاره بايد داساده تست په Retrospect او Prospect مطالعاتو کې اجراشي يواځی لار چی په هغی شک کميږي شايد په راتلونکي Decade کې تصنيف بندي په پراخه معنی چی په هغی کې Editor دمجلاتو Authors اساسي رول ولوبوي اود يو بين المللي کوميتی په څير ومنل شي.

درملنه

بالاخره دکانسر د ناروغانو د تداوي لپاره بايد يو ښه مناسب او ماهر سړي له خوا اجراشي چی په دی برخه کې کافي زده کړی ولري په طبابت کې دکانسر په لحاظ ځينی داسي واقعيت شته چی فيصله کوونکي اقدام ناروغ د ژوند اودمرگ په منځ کې ژغورلای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی ناروغانو په هکله مسولیت زیات او قضاوت مشکل دی دتداوي اساسي معضله داده چی ناروغ جوړ اوډیر کم وظیفوي نقصان پیداکړي. فیصله باید داسی وشي چی د صحیوي فکتورونو له مخی چی څه ډول ناروغ بیخي او مطلق تداوي کولای شو.

۱- دکانسر تهاجم او وخامت

۲- دانتشار په لحاظ دکانسر اټکل

۳- دتداوي طریقو مورتالیتي او موربیدتي.

۴- دکانسر دناروغ دجوړیدو څیړنه دتداوي د طریقو له لاری.

کله چی دتداوي چانس کم وي دکانسر د بشپړ ایستلو لار ډیر قناعت بخښوونکی ده لیکن دبده مرغه په طبي شرایطو کې شایدداسی فیصله وشي کوم چی دناروغ په هکله بریالی نتیجه لاسته رانشي اودا یوه محافظوي اقدام دی چی دمرض دبازګشت علت وګرځي او په کانسر زیات جراحي عملیات او اقدامات دزیاتو وفیاتو لامل ګرځي.

دډیرو پرابلمونو له کبله چې په طبابت کې موجود دي دتداوي چانس ډیر نسبي دی اوداسی سوال منځ ته راځي چی په کومه فیصدي دحیات اوژوندانه اندازه په ډیر پرمختللي کانسر په تداوي کې دجراحي له کبله او رادیوتراپي اویا کیموتراپي له کبله منځ ته راځي؟ چی ددی سوال په هکله کوم فارمول اویا کوم Figure په لاس کې نشته پرته دداکتر د تشخیصي تجاربو او خیالاتو څخه که چیری مطلق علاج ناممکن وي داکار د Palliation

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لپاره ډیر ښه لارښود ګڼل کیږي. که څه هم عمومي دناروغ په اساسي اهتماماتو کې موافقی شته. خو بیا هم په ځینو واقعاتو کې موقعیت د قدرت نه لیری خبر نه دی.

د ټیم په شکل دپتالوجست، جراح، رادیوتراپیست او داخله داکتر تامه همکاري د یوکانسر په تداوي کې په زړه پوری اقدام دی لیکن دغه ډله ایزه اقدام ددی معنی نه لري چی دهریوداکتر مسولیت، قضاوت په خپله برخه کې له منیځه یوسي. دطب محصلین باید په تدریجي ډول د تومورونو توپیرونه په مختلفو برخو کې موافقی دهر ناروغ په برخه کې په ډیر احتیاط سره تعقیب کړي او روزمره نشراتو په ویلو خپل اذهان روښانه کړي پوخ قضاوت دکلینیکي تجاربو په اوږدو اینبودل شویدی.

یوائی کلینیکي Staging درست نه دی ترڅو چی میکروسکوپیک وسعت په لاس کی نه وي سره له دې تشخیصیه وسایل او تخنیک ډیر زیات اصلاح شوي او په لاس کې شته خو بیا هم دکلینیکي Stage حقیقي پتالوجیک Stage دپوهیدلو لپاره ځینی ستونزی په منځ کې شته او هم دغه مشکلات دي چی دکانسري ناروغی داهتماماتو لپاره ډیری بدی اغیزناکه تاثیرات منځ ته راوړي دی په لږ وخیم کانسر کې کله چی دپوستکي کانسر په هکله حقیقي تداوي باید تشریح شي او وخیم کانسر لکه د سږو کانسر لپاره موضعي تداوي غیر موثر دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نتایج (Results)

A : دپنځو کالو د ژوندانه Rate :

دپنځو کالو پورې دکانسر دناروغ دژوندانه حد په عمومي ډول دکانسر ناروغ د علاج لپاره بهترین کلینیکي لارښود قبول شویدی دغه ډیر یو مغلق او کړکیچن لارښود دی چی دمختلفو سببو له کبله لکه Stage دتداوي موثریت اودناروغ دعضویت دمقاومت منځ ته راغلی دی په هغه دوهم شکل کې دپنځو کلو ژوند دساحی او جنس په لحاظ ښودل شویدی ځینی په زړه پوری نقاط په لاندني ډول دي:

۱- ښځی نظر نرانو ته په عین کانسر کې د ژوند پاتی کیدو ښه چانس لري.

۲- په موضعي افت کې (په لومړی ساحی ابتدایي تمور) دعلاج لپاره ډیر مساعد دی او کله چې تمور موضعي لمفاوي عقدات احتوا کړي دغه علاج نیمیایي ته راتیټیږي.

۳- دټولو Stage نتیجه دموضعي لمړنی افت په اساس مقایسه کیږي اوداباید وویل شي چی څومره اوپه څه ډول دکانسر میتاستاز شته.

۴- ځینی کانسرونه په ډیر زیاته اندازه په موضعي Stage کې علاج پذیر دی.

۵- ژوندی پاتی کیدل ډیر بهتر چانس لري په دی شرط که چیری په اضافي اعضاو کې ځای ونیسي او د ژوند چانس په داخلي ناحیو کې کم دی دغه علامی او پورتنی جز دکانسر د مقدم تشخیص او میندلو پوری اړه لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکانسر دموخر Stage درپورت نشتوالی.

ددغه پورتنیو معلوماتو عدم موجودیت دکانسر د تداوي په نتیجه او تداوي کي داکتر دشک سره مخامخ کوي. لکه چې مخکی مو وویل دغه موافقی د Dual د اناتومیک او پتالوجیک تصنیف بندي دهر کانسر په حصه کې مینځ ته راغلی دی. کله چې دغه تصنیف بندي اجراکیږي دغه لاندني طریقه او ټکي باید ولټول شي.

۱- د Sub viral دشروع وخت د امریکایي دکانسر د کومیتی له خواد داسی بیان شویدی چی دتداوي دشروع دپیل اویا هغه وخت چې په منظم ډول دتومور شروع شوی نه وي دغه تعریف عموما دکلینیکي له نظره دکانسر د Stage دتخمین دزمان راپه دې خوا منځ ته راغلی دی.

۲- د ۵% څخه کم PO.۰۵ په احتمالي ډول عموما د احصائیوي څیړنو لپاره ډیر وصفي دی هغه ۱۱ اپندیکس ۹۵% قناعت بخښوونکی ریفرنس دی.

۳- دتداوي نتیجه باید مطلق Sub Viral وي خصوصاء په هغه ناروغانو کې چی ترڅارنی لاندی دي او که چیری دڅارنی دلست څخه وتلي شي په داسی ناروغانو کې د Sub Viral تعین مشکل دی خو بیا هم کولای شو چی نسبي Sub Viral خیال په فکر کې راوړو.

۴- د Sub viral اندازه باید تعین د درې میاشتو نه تر لسو کلو پوری وي دایې اعظمي حد دی که چیری Sub viral کلو پوری اټکل نشي هیڅ معنی نه لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- کـه څـه هـم د ۵ کلـو د Sub viral انـدازه معمـولاء اسـتعمالیږي اوداباید د عـود اویـا دعراض څخه ازاد ناروغ وي ډیره ترجیح ورکول کیږي لیکن په ځینو کانسري ناروغیو کې لکه د تائیروئید کارسینوما کې دا کافي Follow up نه ګڼل کیږي.

۶- دمعلوماتو معرفي کول باید حقیقي اویا Life table میتود په شکل وي او دعمر او جنس په لحاظ بایداصلاح شي اودغه میتود د امریکا دکانسر دمشترکی کمیتی له خوا AJC تشریح شویدی.

۷- ډیـر راپورونـه دناروغـانو د جراحـي او شـعاعي تـداوي پـه لحـاظ تقسـیم شـویدي او Retrospective تداوي لپاره مهم دي مولف باید د دغه تقسیماتو لپاره خپل دلایل ووایي نه د Randomization له مخی.

۸- دناروغانو (دوامداره څارنه د ۱۰-۱۵ کالو پوری اودهغوی شمیر دکانسر مړینه اویا نور اضافي ناروغی چی کانسر ناروغان وژني اوس دفعلاء لپاره اماده په لاس کې نشته.

"Cure" باید دمولف له خوا دځینو نقاطو له مخی په مناسب وخت کې چی معمولاء دتداوي څخه لس کاله وروسته ناروغ ژوندی یادونه کیږي ځکه چی اوس دعـود کولـو ضرر پس لـه دې ډیر زیات پرابلم نه دی ګر چی عیناء کانسر د Stage او هستالوجي له مخی په مختلفو میتودونو تـداوي کیږي. خوبیـا هـم ثـانوي فکتورونـه بایدتعین اوانتخـاب شـي د جراحـي کاندیدان ځوان اودښه صحت خاوندان دي نظر هغه ناروغانو ته چی دشعاعي تـداوي لپـاره کاندید کیږي اودغه اخرنی ډله د نورو داخلي اضافي ناروغی سره یوځای وي دغـه لاندنی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوه میتودونـه دکانسـر د ناروغـانو د اخرنـي نتیجـی دراپـور دشـکل برابرولـو لپـاره استعمالیږي.

۱- دکانسر اخرنی نتیجه راپور نمبر ۳ چی د USPHs له خوا تشریح شویدی دغـه میتـود د کانسري ناروغانو اختلاطات په ۱۰۰% افاتو کې چی د Type او خاصیت لـه لحاظـه فـرق لـري نتیجـه ګیري شویدی په مقایسـوي ډول په دغـه میتـود کې عمر، د ۵ کالو ژوندون اندازه اودناروغ دبهبودي وخت په نظر کې نیول شویده.

۲- دکانسـر دانزار د Manual او Author G.James لـه خوا دامریکـا دکانسـرو د کمیتـی څخـه نشـر شـویدی. پـه دغـه راپـور کـې دکانسـري واقعـاتو تـازه اختلاطـات مطالعـه چـی ۱۹۵۳-۱۹۲۴ پوری تداوي شویدي ذکر راغلی دی په دی کې دپنځو کالو ژوندانه اندازه د Staging تداوي او هستالوجي سره مترافقه فهرست سره بیـان شـویدی. اوپـه دغـه تشـریح کې په تازه ډول د علاج حالت پـه نسـبتي ډول بـدل شـوی او دهری عضـوي د کانسـر لپـاره خصوصي هم وي.

بیا هم باید وویـل شـي چـی د دواړو میتـودو ناکـافي والـي واضـح او ښـکاره دی ځکـه پـه دغه راپورونوکې په Randomized شکل ذکـر نـه دی راغلـی اودکانسـري واقعـاتو د اخرنـي مرحلی د نتیجه ګیري لپاره اجازه نه ورکوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دناکامي دليل او وروسته دتداوي Index

دناکامي مکمل دليل دی چی تراوسه پوری په ټولو نشراتو کې دکانسري واقعاتو لپاره غير ضروري مناقشی او نانډری مينځ ته راغلی دی ددی لپاره چی بشپړ معلومات د کانسر دناروغانو په هکله راپيداشي نوبايد په واضح او تعينی دليل دناکامی لپاره ذکر شي.

ايا دغه ناکامي دابتدايي افات دکنترول دناقابليت، لمفاوي عقداتو اويا ميتاستاز اويا په ګډه سره دټولو له مخی پيدا شوی مينځ ته راغلی دی. دواضح ناکامی دپوهيدو لپاره درستوالی انتخابي تداوي پلان بايد ښکاره شي دمعالج داکتر له خوا شويدي ديوکانسري ناروغ دځارنی لپاره ابتدايي تداوي دتداوي څخه وروسته تصنيف بندي ډيره ضروري ده.

دکانسر دپلتنی تازه لارښوونه:

دکانسر پلټنه بايد له دری جهته مطالعه شي: کانسر د حجراتو ناروغی وخيم، همدارنګه د يوی عضوی دانساجو مرض په ډول او بالاخره د اورګانيزم ناروغی په شکل مطالعه کيږي.

دسايتولوجي له مخی کله چی نورمال حجرات په خبيثه حجراتو باندی بدل شي هغه ته کانسر ويل کيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کانسر د حجراتو دناروغيو په څير

A : جنتيک او کروموزومي فکتورونه

۱- دجن مسئله د کانسري ناروغيو دنظريـاتو يـو قبولـه شـوي او واحده نظريـه ده چې د ويروسي انتاناتو پواسطه يو ميوتوجنيک بدلون په حجره کې منځ ته راوړي او برسيره پردی د تشعشع حادثی هم ددی ميوتوجنيک حادثی مسوله ګڼل کيږي. د DNA غير منظم کيـدل په حجره کې دترانسفرميشن بدلون منځ ته راوړي او په نتيجه کې دکانسر ناروغيو لامل ګرځي.

۲- Deltation دانظريه (يا په حجره کې دحياتي انزايم له منځه تلل).

۳- داسی عقيده موجود ده چی کروموزوم دخبيثه ناروغيو په پيدا ينبت کې مهم رول لري. ځکه چی کروموزوم دحجراتو په Multiplication او ترانميشن باندی اغيزه کوي اودطبعي او نورمال حجری دخاصيت د بدلون سبب ګرځي.

a: Boveri's نظريه وايي چی خبيثه ناروغی ديوغير نورمال کروموزوم پوری اړه لري ليکن دانظـر دومـره ثابـت نـه دی پـه دی حادثـه کـې د Polyploidy او تغيـرات نـه دکرومـوزوم Tetraploid شمير زيات اهميت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

b: تراوسه پوری کومه وصفي قاطع نظریه په دی باره کې نشته پرته د PH کروموزوم ۲۱ څخه چی تراوسه معلوم شویدی چی په مزمن هیلوئید لوکیمیا په پیدایښت کې رول لوبوي (دی حالت ته دفلادیفیا کروموزوم وایي).

c: دمنګولیزم اودلوکیمیا اړیکی اوس پیژندل شویدي.

d: دکانسري ناروغیو فامیلي ارتباطات او حساس کیدل ښکاره شویدي.

B: میتابولیک او بایوکیمیکل فکتورونه

دخبیثه حجری او نورمال حجری میتابولیک او بایوکیمیکل تحولات پیژندل دکانسر دناروغیو په کیموتراپي او رادیوتراپي کې زیات جنتیک رول لوبولای شي.

۱- د DNA دخرابوالي نظر شته خو تراوسه پوره نه دی پیژندل شوي د DNA محتویات دحجرات په نشوونما کې رول لري لیکن د حجرات د Type اوشکل سره کوم ارتباط نشته.

۲- په حجرو کې دپروتین دمیتابولیزم دخرابوالي پیداکیدل چی د حجراتو RNA & DNA دغلط ترانس کرپشن له کبله مینځ ته راځي اویاداچی د پروتین Messenger دترانس لیشن له کبله پیداکیږي کمی تظاهرات نظر کیفي تظاهراتو ته په نتیجه کې پیداکیږي چی په نتیجه کې دحجراتو بدلون منځ ته راوړي لیکن دخبیثه ناروغیو لامل نه ګرځي.

۳- اواکسیجنیشن او د حجراتو PH د Warburg تیوري له نظره ذیدخیل دي په کانسري حجراتو کې په زیات مقدار د Aerobic او Anaerobic موندل شویدي دګلوکوز ترانس

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فارمیشن په لکتیک اسید باندی په زیات مقدار د مختلفو اوکسیجن حالتونو کې لیدل کیږي خبیثه حجره کولای شي چی په Glycolysis حالت کې تر ډیره وخته ژوندی پاتی شي.

۴- خبیثه حجراتو کې په زیات مقدار د انزایمونو فعالیتونه لیدل کیږي کله Hexokinase او ګلوکوز ۲ فاسفات دی هائیدروجنیز او داسی نور.

C: دسطحی خواص فکتورونه

۱- په خبیثه حجراتو کې دتماس خاصیت له منځه ځي اوداخاصیت دخبیثه حجری دتهاجم وتیری لپاره ښکاره دلیل کیدای شي نورمال حجره په یوه نازکه Monolyer کلچر کې کله چی دبلی حجری د جدار سره په تماس کې راشي خپل تحرکیت له لاسه ورکوي حال دای خبیثه حجره په ازاد ډول پرته له کوم ډار څخه حرکت کوي اوډیر په کمه اندازه بین الحجروي التصاق لري.

۲- دحجروي جدار د پردی مطالعه دالکتروفوریزسن اویابایوکیمیکل انالیزس اودالکترولیک میکروسکوپي مطالعاتو ښودلی دی چی دحجری واحد Sialomuco peptides خاصیت شاید د خبیثه خواصو یو دلیل وي.

دفبرین اویا دانساجو کلچر (تکنیک PUCK)

۱- ددی تکنیک پواسطه دکلچر شوي حجراتو مطالعات د پورتني تکنیک له مخی ناممکن دی چی حجرات په واقعي ډول اندازه کړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- حجرات دباکتریا په ډول باید کلچر شي او پرینسودل شي چی کلون اویا کالوني جوړ کړي په دغه وخت کې کولوني ضرب ۱۰-۱۲ ورځو په وخت کې حساب کیږي اووروسته له هغی اخیستل کیږي معمولاء هغه کولون چی اخیستل کیږي باید له ۵۰ حجرو څخه کم نه وي.

۳- داسیستم د رادیوبایولوجیکل مقصد لپاره د کلي په ډول استعمالیدای شي په دی میتود کې تقسیمات ضرب دبایوکمیکل دوز او د رادیوسنیستریشن له مخی اجراکیږي.

کانسر دانساجو د ناروغیو په ډول

Cell Kinetics دحجراتو د Renewal مطالعات یو ډیر لوی د ریسرچ پروګرام دی چی په اورګانیز انساجو کې معلومیږي او د حجراتو سیکل وخت د Turnover په نورمال او خبیثه انساجو کې تر بحث لاندی نیسي.

۱- Lose شوي Tritium استعمالیږي:

Thymidine چې بیل شوی دحجراتو دپرولیفریشن مرحله متاثره کوي او DNA په څیر د حجراتو تقسیمات او ویش په ګوته کولای شي.

۲- دحجراتو د Generation سیکل

S مرحله کې DNA جوړیږي او حجرات دتقسیمات لپاره اماده کوي او د Lable په واسطه معلومیږي. M مرحله د میتوسیزس په نوم یادیږي دغه دواړه پیژندل شوي مرحلی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دوه جداګانه (ځانګړي) ډول په G۱ او G۲ جداکيږي. لـيکن تراوسه پـوری معلومـات پـه لاس کې نشته چی څه تحولات دحجری په داخل کې په دغه وخت کې صورت نيسي. GI پـه غير په پرولـيفريشـن مرحله کې د طول په لحـاظ فـرق لـري پـه خپله حجره معمـولا Go پـه مرحله کې دی.

۳- Cell Tumor wer دحجراتو دغه مرحله په کراري سره صورت نيسي نو له دی کبله د Rapid growing پـه نـوم يـادیږي. تومـور پـه نورمـال انسـاجو کې لکـه هيماتوپوييتيـک سيستم او د GI سيستم کې يادونه کيږي ليـکن په خبيثـه حجراتو کې د حجراتـو د مينځـه تللو ميکانيزم دخرابی سره مخـامخ کيږي او دغـه غيـر نورمـال حادثـه پـه خبيثـه ناحيـه کـي ځای نيسي.

۴- دشعاعي تداوي عاجل اهتمامات او يا کيموتراپي دا تاثير لري چی حجرات د Q (غـير پرولـيفريشن مرحله) څخه (پرولـيفريشن مرحلی ته راګرځوي.

B: Microcirculation اواوکسيجنيشن

۱- دکانسری حجراتو قدرت چی خپل ځان لپاره يوميکروسرکوليشـن دثـانوي نيـوپلازم پـه توګه مينځ ته راوړي داسی فکرکيږي چی د يو انجيوپلاستيـک مادی پوری اړه لري.

۲- دوسکوليريزيشن او سرکوليشن اواوکسيجنيشن په مينځ کې اړيکی مطالعـه شـويدي چی دتومور دنکروزس نمونه ښکاره کړي.

۳- اوکسيجنيشن د رادیشن تاثير کنترولوي او دحجراتو پرولـيفريشن متاثره کولای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- دسرکولیشن او دیفیوژن نمونه په تموري حجراتو کې دفارموسیسوکل تقسیمات لپاره کلی ګڼل کیږي.

C: Invasiveness داسی تعریف کیږي:

دکانسري حجراتو هغه قدرت ته وایي چې دانساجو په نورمال حجراتو کې تیری او ارتشاح وکړي.

۱- دانفلتریشن Passive قدرت:

هغه حالت دی چی داخل حجروي التصاقات کموي اوکانسري حجرات تر فشار لاندی نیسي اوداخل او اسانه یې دنته کوي او بالاخره نورو انساجو ته دفشار په ډول داخلوي.

۲-Active View فعاله تهاجم او تیری

دغه لاندنی مغلقو وتیرو پوری اړه لري لکه دحجراتو مغلق حرکت فګوستیک خاصیت اودموادو افراز لکه هائیلورینداز،پروتولیتیک انزایمونه اودځینی توکسیني موادو افراز لکه د پیپتائید توکسین چی د کولاجن او منظم نسج لپاره د ارتشاح لپاره ضروري دی رول لري.

D : هغه ماډل چی دمطالعاتو لپاره استعمالیږي:

۱- تمور په Synegrenetic میزبان کې غرس کیږي.

۲ – په ځینو حیواناتو کې بنفسهي تمور پیدا کوي.

۳- دکړکی میتود دموږک په پوستکي، سوی په غوږ او هماستر په بارخوګانو کې.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴-د اورګان کلچر سیستم

۵- دحیواناتو د مادل تنبه چی دکلینیکي پرابلمونو په څیر وي.

کانسري اورګانیزم دناروغی په ډول

A: امیون فکتورونه

۱- دتمور وصفي انتیجن دلمړی ځل لپاره د (۱۷ Foley پواسطه معلوم او شروع شو او وروسته له هغی Prehn او Main مطالعه کړه.

۲- دتمور وصفي انتیجن په ویروسي او کیمیاوي تولید شوي کانسر کې تعین شویدی لیکن په بنفسهي تمورونو کې تراوسه پوری کوم ثابت انتیجن نه دی موندل شوي.

۳- په موازي ډول دنوموګرافت ریجکشن اودمیزبان عضوي مقاومت په خبیثه ناروغی کې برابردی.

۴- امیون میکانیزم زیاتره د حجروي اویا لمفاتیک معافیت پوری اړه لري نه داچی دیو هارمونل اوانتي باډي معافیت نوم ورکړل شي.

۵- تمور چی وصفي انتیجن ولري اکثرا د حجری په منځ په سطح اوساختمان کې ځای لري اودانظریه Alexander ورکړیده. اووایي چی دا انتیجن دعضویت امیونیتي یعنی معافیتي خاصیت پوری اړه لري.

۲- اوداسی کوشش دپرمختګ په حال دی که چیری په شعاعی تداوي کی تموری حجرات په یو ناروغ کې زرق شي دناروغ معافیتي میکانیزم تنبه کولای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nutrition :B

داخبره تراوسه پوری دمناقشی اولانجی سره مخامخ ده چی وایي د پروتین کموالی اویا زیات والی دتمور نشونما کمه اویا زیاتوي دپروتین زیاد مقدار اخیستل فبرش کپسول زیاتوي اودناروغ دعضویت مقاومت دتمور په مقابل کې لوړ وړي.

Ecology :C

دمحیطي فکتورونو مطالعات اودهغی کارسینوجنیک تاثیرات:

۱- دفابریکو ځینی مواد لکه Aniline رنګ، پولي سیکلیک هایدروکاربن اونور محیطي مخرش مواد لکه Beryllium, Nickel او کرومیم داسی پیژندل شویدي چی کارسینوجنیک تاثیرات لري.

۲- ځینی بیالوجیکل فکتورونه کله ویروسي ، او Malaria د Burkitt's دتمور دپیدایښت مسول بلل کیږي او همدارنګه شیستوزومیازس دمثانی دکانسر په پیداکیدلو کې رول لري.

۳- تشعشع هم په ځینو واقعاتو کې کانسري واقعات مینځ ته راوړای شي لکه دشعاع بهر ته وتل په تصادفي ډول اویا دطبي شعاع سره مخامخ کیدل په اطفالو کې ډول ډول کانسري واقعات پیداکولای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

VIII : کلینیکي Trials کوشش:

نن ورځ داخبره ټولو موافقه کړیده او زیات دلچسپي لري چی کانسري واقعات په ګډه سره کله جراحي،تشعشع او کیموتراپي پواسطه شروع کړي. لیکن داموضوع هره ورځ تغیر او بدلون پیداکوي او په امریکا کې ډیری شفاخانی او هر مرکزعلیحده پروتوکول لري. نو په دی اساس نشو ویلای چی کوم پروتوکول دی کوم مرض لپاره اهمیت لري او ډیر کوششونه روان دي چی یو واحد او قبول شوی پروتوکول په دی برخه کې منځ ته راشي او ددی مقصد لپاره هلی ځلی روانی دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکانسر پتالوژي

ددی لپاره چی یوځوک دکانسر ناروغ وپیژني داخبره ضروري ده چی دکانسر په پتالوژي وپوهیږي.

تعریف:

کانسر اصلاء یو لغت دی چی دمختلفو لارو تعریف شویدی.

۱-کانسر هغه حالت ته وایي چی په هغی کی دانساجو د حجرو دنشونما نورمال کنترول میکانیزم په ثابت ډول خرابیږي او دغه حجرو ته دپرمختللي نشوونما اجازه ورکوي یوشمیر نور مرضونه چی په هغی کې احتمالاحجرات زیاتیږي او دمختلفو سببونو له کبله په انسانانو او حیواناتو کې مینځ ته راځي چی په دغه عملیه کې حجرات ډیرپه چټکتیا سره تقسیمات مومي.

۲- دسوماتیک حجراتو یو جنتیک ناروغی دی چې دیوی مقدمی نورمالی حجری د Mutation نتیجه ده چی په نوي شکل په خبیثه حجره بدلیږي.

۳- دعضویت دانساجو مرض دی چې په هغه کی حجره په یو نوي شکل بدلیږي او هغی ته Cancerous حجره وایي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- کانسر یو مرض دی چی هغی کې حجره بنفسهي ډول تهاجمي خاصیت پیدا کوي اودغه خبیثه خاصیت د Stem cell د Mutation په وخت کې پیدا کیږي.

خوبیا هم تر نن ورځی پوری یو ځانګړی او عمومي کوم تعریف دکانسر لپاره قبول شوی نه دی. لیکن دپخواني تعریف له مخی کانسر دحجری بنفسهي چټک نشوونما ده چی غیر قابل علاج ناروغی مینځ ته راوړي خودا باید هم وویل شي چی دهغه تجاربو له مخی چی په لاس کې لرو دکانسر او د تمورونو بنفسهي نشونما او بیا وړوکی کیدل داسی عقیده پیدا کوي چې غیر قابل رجعت خاصیت دکانسري ناروغی لپاره دا پورتني دضعف سره مخامخ کولای شي.

مهمترین اواساسي ترتیبات دکانسر د وقایی لپاره انسانانو کې عاجل اقدامات دي.

دتعریف اودکانسري ناروغیو د اساسي علت له مخی باید دکانسر څواساسي اوثابت ټکي په نظر کې ولرو.

۱- نیوپلازم یوائی دهغه حجراتو څخه پیدا کیږي چی دارتشاح قابلیت ولري.

۲- تموري حجرات هیڅکله مشخصه نه دي اوداکاملا شحمي حجری نه دي نو له دې کبله معمولادی خاصیت ته Anaplastic وایي.

۳- کانسر وروسته د دوامداره تخریش له کبله (کیمیاوي او ویروسي) پیدا کیږي لیکن ډیر وروسته دیوی اوږدی خفی مرحلی څخه منځ ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- اکثرا دعین نسج کانسر Multicentric وي داډول مثال د دوه طرفه ټدیه په کانسر کې لیدل کیدای شي.

۵- هایپرپلازیا او Dysplasia په حجراتو کې تمور پیداکوي اوداحالت وروسته دځومیاشتو اویا کلو څخه راپیداکیږي (ددغه حالت پیژندل اومناسبه تداوي په دغه مرحله کې شاید دکانسر د پیداکیدو مخنیوی په انساجو کې وکړي).

۶- دکانسر حجرات د Dormant په شکل د ډیر وخت لپاره ځای نیولی دی.

۷- یو څو محدود شمیر کانسرونه شاید په خپله وړوکي شي اودځینی کانسرونو بیالوجیکي خاصیت شایدهارمون او یا کیموتراپي پواسطه بدلون ومومي دکانسري حجرات هیڅکله Autonomous نه دي.

۸- تراوسه پوری په بشپړ توګه دیوی کانسری حجری او نورمال حجری ساختمان او بایوکیمیکل خاصیت یوتربله پیژندل شوي نه دی لکه چی په لمړی بحث کې مو ولوست دکانسر تشخیص او تعریف تقریباء او همیشه د میکروسکوپیک معایناتو پوری اړه لري لیکن دا ډیره مهمه ده چی په یاد کې ولرو چی هستالوجیک کانسر دکلینیکي کانسر سره یو برابر شویدي او همدارنګه هر کانسر په هر ناروغ کې په انفرادي ډول دکلینیکي له نظره زیات فرق لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۲۷ څخه زیات نیوپلازم په انسانانو کې پیژندل شوي اودهستالوجیک له نظره تعریف شویدي. په یوه ځانګړي تمور کې ډول ډول بدلونونه شاید لایتناهي وي خو دا باید ووایو چې دکانسر پیژندل ډیر مهم دی اوپه یوه ناروغی دکانسر موجودیت په خپله دمیزبان دمقاومت پورې زیات اړه لري نظر دکانسر هستالوجیک خاصیت ته دکانسر کلمه یواځی هغه ناروغیو ته چې خبیثه خاصیت لري ورکول کیږي. اودکلینیکي لوحی دکانسر خواص لایتناهي دی او دچټک مرګ نه نیولی تر بنفسهي جوړښت پورې اټکل کیدای شي کلینیکي اعراض او علایم په زیاته پیمانه دکانسر دموقعیت پورې په هر ناروغ کې اړه لري اوداباید بیا تاکیداء وویل شي چې دناروغ د خارجي اوداخلي محیطي تغیرات اوبدلون دکانسر په وقایه او پرمختګ کې عمده رول لوبوي. دزیاتو معلوماتو ټولول او تجارب او ماهریت دادی چې کانسر بایدوقایه شي ځکه چې دپیدایښت څخه وروسته ټول هلی ځلی ناروغ ددغه وژونکی ناروغی څخه نشي ژغورلی.

دکانسر پیژندل

دناروغی طبي تاریخچه اودمیکروسکوپ لاندی دحجراتو کتنه دکانسر پیژندل تعریف اوتصنیف بندي لپاره ډیره ښه لار ده اوداکار د یو ماهر پتالوجست دذکاوت سره مستقیمه رابطه لري ځکه چې کله کله په ځینو واقعاتو کې هایپرپلازیا دنیوپلازم حجرات په صحنه کې د شک خواته راکاږي او باید دهغی کلینیکي ملګری ددغه مشکلاتو څخه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: مریض باید ښه وساتل شي یعنی حفظ الصحه، تغذیه او دوینی حالت یې باید منظم وساتل شي.

۲- عرضي (Palliative):

A: که څه هم په دې حالت کې کم دوزونه استعمالیږي لاکن داهم باید په پاملرنی سره استعمال شي او ښایي چی جانبي عوارض هم ولري د عرضي تداوي هدفونه په لاندی ډول دي.

۱- مریض ته بی عرضه اوږد وخت ورکول یعنی هغه افراز چی د تشعشع دتداوي په موده کې پیداشوی دی وخت یې له نوموړي مودی څخه زیات دی.

۲- ناروغ ته اوږد او ارام ژوند ورکول.

۳- مریض د پریشانی او عذاب ورکونکی اعراضو څخه ازادول مهم دی اګر چی د ژوندانه مودی ښایي چی اوږده نشي چی ددی اعراضو په جمله کې نزف، درد او بندش شامل دی چی دادتمور دپراختیا په حالت کې منځ ته راځي او باالاخره دمرګ لامل ګرځي.

۴-راپیدا شوي اعراض لکه نزف، بدش او تثقب څخه مخنیوی کول.

C: همدارنګه تداوي باید بی ضرره وي خودکانسر څخه بدتر اختلاطات ورنکړي.

۳- مضاداستطبابات

په لاندی شرایطو کې شعاعی تراپي غیر موثره تمامیږي (په استثنا دځو نادرو ناروغیو).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: بیله کوم څرګند اعراضو تداوي کول: چی دلته یو نادر استثناء هغه حالت دی چی په کوم کې په موضعي توګه په هډوکو کې درد موجود وي اود ټدیی دکارسینوما په شتوالي کې دهډوکو د میتاستازس اشتباه وربانډی وشي لاکن په دی حالت کې دهډوکو د Scanning معاینه باید مثبت وي.

B: دشعاعي تراپي Psychological استعمال دا هیڅ استثناء نه لري.

IV: دشعاعي عکس العمل ترمیم

څرنګه چی عمل او عکس العمل دطبعي حرکي قوانینو لپاره اساسي دی هم دارنګه عکس العمل او بیرته شفا ورکول د شعاعي بیالوژي او شعاعي پتالوژي دمیخانیکیتونو لپاره داساسي قوانینو حیثیت لري دایونایز شعاع او بیولوژیک مادی ترمنځ دلمړی تعامل څخه وروسته یو لړ تعاملات فعالیږي او ښایي چی په یو ژوندي حجروي سیستم کې یوه وژونکی بدلون مینځ ته راوړي دا حجروي سیستم دکوربه نارمل نسج اویا تومورې نسج کیدای شي د انرژي دانتقال دطبعي تعامل په اثر یو ډول کیمیاوي تعامل منځ ته راځي چی دازادو کیمیاوي پاتی شوو دازادیدو داوبو په هایدروجن OH او پر هایدروکسل ایونو باندی تجزیه کیږي دبیوکمیکل غټ تاثیرات په مورد کې داسی عقیده موجود ده چی نوکلیک اسید هم اخته کوي لکه DNA, RNA او ټول حیاتي انزایمونه چی داپه یو بارز حیاتي زخم منتیج چی دانقسام په مرحله کې د مړو حجراتو په شکل وي چې دکروموزمونو Aberration په مایکروسکوپ کې دټوټه شوي پارچو په څیر ښکاري اویا د Cross bridging پواسطه تظاهر کوي بیولوژیکي زخم دمړی حجری په شکل واقع کیږي او د شعاعي تراپي له نظره د تومور دویجاړیدو سبب ګرځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په همدی ترتیب د Biochemical recovery او حیاتي ترمیم کوشش هم مینځ ته راځي. چې له دی کبله دکوربه حجرات خپل سالم جوړښت ساتي او خپلی عضوی وظیفی ته اجازه ورکوي چی خپل تمرکز وساتي او باالاخره اورګانیزم ضعیف او له منځه یې یوسي.

دشعاعي پتالوژي له نظره د هغوی اخرنی اغیزه دپورتنی تعاملاتو د مجموعي تاثیر دمینځ ته راتلو سبب کیږي کوم چی په خپل وار د مریض د ژوندانه دمودی د اوږدوالي لامل کیږي او د نیوپلازم د Recurrence خطر په کې کم وي داډول تعاملات او دهغوی طرزالعمل په دویم جدول کې ذکر شویدی.

پاملرنه:

۱- شعاعي فزیک او شعاعي بیولوژي باندی د II او III پراګراف ولوستل شي.

A: فزیکي Modifiers :

۱- کلاسیک شعاعي تراپیوتیک تخنیکونه چی د X تشعشع او رادیوم څخه استفاده کوي برابر شویدي چی دنورمال نسج او د تومورونو ترمنځ دهغه شعاع یا وړانګو د دوز مناسبه توزیع چی د تداوي په موخه استعمالیږي ترسره کوي داپه دی معنی چی تومورنه اعظمي دوز ورسیږي او نورمال نسج ته کمترین دوز ورسیږي.

۲- په تیرولسو کالونو کې د ټولونه لوی پرمختګ د Tolo cobalt واحدونو اود جنریتر استعمال چی د ۱-۲ میلون Mov په حدود کې د Mega voltage تشعشع تولیدوي چی Ortho voltage باندی یې فایده د لاندی فکتورو له کبله ده.

A: عمده ژور دوزونه : چی دتومور په تداوي کې زیات موثر دی.

B: کم ترکمه جنبي انتشار کم ترکمه شعاعي منظم دوز.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: غیر تفریقي جز په هډوکو باندی زیات منظم دوز.

D: په پوستکي باندی غیر عرضي تاثیر یواځی خفیف جلدي التهاب (Dermatitis)

۳- د LET لوړه تشعشع لکه د نوترون د Beam تداوي چی د تومور په Hypoxia تاثیر کوي د X تشعشع او تشعشع حتی د ۲-۱ Mov حدود کې اویا د LET کمه تشعشع په هایپوکسیک حجراتو غیر موثره دهی.

B: Chemical Modifiers

۱- اکسیدایز کوونکی عوامل oxidizing agent

تیوریکي اساسي داکسیجن داشباع لپاره په لاندی څیړنو متکی دی.

A: دتومور اودنورمال نسج ترمنځ اساسي فرق دادی چی نیوپلاستیک حجرات داقدرت لري چی د hypoxia حالاتو کی ژوندی پاتی شي او خپل تولیدی قدرت سالم وساتي

B: دیوی حجری په داخل کې دادهغوی په محیط کی دموجوده اکسیجن قسمي فشار د هغی حجری عکس العمل د شعاع په مقابل کې تعینوي هغه حجرات چی په ښه ډول اکسیجن ولري په ښه توګه د X د تشعشع په عین دوزونو د منځه وړل کیږي (چی د ۲.۵-۳.۰ پوری فرق کوي)

C: څرنګه چی په نارمل نسجونو کې اکسیجن په بشپړ توګه موجود وی نو له دی کبله اوس داسی کوشش کیږي چی په تومور کی داکسیجن فشار لوړ کړای شي.

D: هغه وسایل چی نن ورځ استعمالیږي په لاندی توګه دی.

داتموسفیر اکسیجن تنفس کول د ۳۵% سره یوځای د Hyperbaric اکسیجن تنفس کول او د H_2O_2 پرفیوزن شامل دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مناسب هیموګلوبین

دانساجو د اکسیجن دفشار منحنی د Oxy Hb د انفلاقي منحنی په ساده سالین محلول کې د O۲ د حجم پواسطه تعینیږي. څرنګه چې په نارمل حالاتو کې د شریاني وینی د O۲ او Hb داشباع اندازه ۹۵% ده انیمیا دتومور د Anorexia لامل کیدای شي باید د Hb مقدار ۱۲g او د Hct سویه تر ۳۵% پوری همیشه وساتل شي.

۲- ارجاع کوونکی عوامل

شعاعي تحفظ ورکوونکی مواد چې د Sulfohydryl ګروپو څخه لاس ته راوستل شویدي چې په دی جمله کې Cystin او Cysteamine شامل دي.

C: Biochemical modifiers

دتي لرونکو حیواناتو دحجراتو شعاعی حساسیت ددی حجراتو په اویا نوکلیوتائید برخی پوری ارتباط لري دتی لرونکو حیواناتو د حجراتو په شعاعي بیولوژي کې دمقداري تکنیکونو د مرستی معرفي کیدو پواسطه د یو زیات شمیر دواګانو د ځانګړي تاثیراتو اویادهغوی تاثیر د X دشعاع سره په تجربه اثبات شویدي داسی ښودل شویده چې په حجراتو کې د شعاعي حساسیت د پیداکولو لپاره ځینی دواګانی لکه FU, Budr ۵ ، Methotrexate او Actinocycit ډیر موثر دی او په موجوده وخت کې د مطالعاتو پواسطه د متنوع کانسرونو تحقیق کې استعمالیږي.

D: Biologic modifiers

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تردی عنوان لاندی ویتامین او انتي بیوتیکونه راځي او د هغوی دتاثیر میخانیکیت دکانسر په محدود کولو کې په ښه توګه معلوم شوی نه دی.

۱- Synkavit (Vit K)

ددی دتاثیر میخانیکیت امکان لري چی د RNA دترکیب دنهیه کولواو انزایمو پواسطه د Co enzyme I (DPNH) اوکسیدایز کولو څخه عبارت دی. یو عالم د Nitchel په نوم عقیده لري چی دا پورتنی حقیقت دتومور او دنورمال نسج تر منځ د انزایمونو متفرقه غلظونه تثبیتوي نوموړي عالم د سږو د کانسر تداوي د تشعشع او Vit K پواسطه اجراء کیږي اویو څه ناڅه کامیابي یې لاس ته راځي.

۲- په Neuroblastoma کې:

Vit B۱ په لږه کامیابی سره استعمال شویدی.

۳- په William tumor کې:

D: Actinomycin دتشعشع سره یوځای استعمال شویدی او ښودل شوی دی چی دژوند توقع زیاتوي دجلدي شعاعي عکس العمل وروستنی Reactivation هم په کی منځ ته راتلای شي.

۴- همدارنګه د Natulan, Procarbazine استعمال هم اوس تر څیړنی لاندی دی.

V- دوخت ، دوز ارتباط په شعاعي عکس العمل کې:

یواځی دشعاع، دوز یا اندازه مهم شی نه دی بلکه غوره خبره د وخت له نظره د دوز ویش دی یعنی دوخت فکتور داسی څرګند شویدی چی که دتداوي ګانو ترمنځ واټن زیاته شي نو دهمغه ډول تاثیر دپیداکولو له پاره باید مجموعي دوز هم زیات کړی شي او ددی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرګندوي یوازی په دی اساس کیدای شي چی ددی واټن په اوږدو کې یو څه ناڅه دانسا جو Recovery صورت نیسي او کلینیکي تجاربو هم داسی ښودلی ده چی نورمال نسج نسبت نیوپلاستیک نسج ته په ډیره چټکیتا سره بیرته ښه والی مومي او له همدی کبله دیوی اوږدی مودی توصیه شوي دوز دمجموعي مقدار د زیاتولو پواسطه دتومور د وژونکی دوز او نسجي تحملی دوز ترمنځ توپیري تناسب دی دوه طریقو پواسطه زیاتوالی شو.

اول د کسرونو Fractionation پواسطه:

لوړ شدید دوزونه په لنډه وقفه یعنی دخارجي تشعشع په وخت کې Protraction ټیټ شدت لرونکی دوزونه چی دیوی اوږدی مودی لپاره ورکول کیږي یعنی بین الخلالي رادیوم او Ditrature کې څیړنی په لاندی ډول ګروپ بندي شویدي.

A: دجلد کلینیکي وخت او دوز څیړنی

زمونږ اوسنی نظر دادی چی مجموعي دوز، دتعاملاتو Size او شمیر او د کسرونو Timing کول ټول مهم فکتورونه دي.

B: کلینیکي وخت او دوز څیړنی:

د Puck دتکنیکونو داستعمال پواسطه په مختلف محدود باندی ګرافونه رسم شویدي او دهغوی پواسطه یوه Optional ناحیه د جغرافیی له نظره ښودل کیدای شي چی په هغوی کی دنیوپلازم کنترول لوړ او د late necrosis واقعات کم دي.

C: تجربوي وخت اودوز څیړنی:

په Tissue culture کې د Puck او Marcus دطریقو د استعمالولو پواسطه دکسري دوز پلان د حجروي Hypoxia د بدلیدونکی فیصدي سره اندازه او کسرونه لټول شویدي اګر

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې داسی امید کیدای شي چی ښه کلینیکي رژیم داسی میتود تعقیب کړی لاکن داطریقه تراوسه اجراء شوی نه دی.

۱- (۱۰) Elkind ښودلی دی چی د Recovery پروسی دشعاع دمخامخ کیدو څخه وروسته فوراً شروع کیږي.

۲- ژوندی پاتی شوي حجرات ددوباره تخریب او ترمیم قدرت لري.

D: Strandiquist ine (۱۹) چی د Iso effect time dose plots رسمونه دي) کوم دنارمل نسج او تومور څخه لاس ته راځي نو کلینیکي شعاعي تراپي ته نور هم ساینسي جنبه اواساس ورکوي.

VI: دشعاعي تراپي په تحقیق کې اوسنی لارښوونی:

دشعاعي تراپي دتحقیقاتو څلور R,S عبارت دي له Repair, Reoxygenation, Repopulation او Reassorment څخه.

A: Repair یا ترمیم

هغه افت چې په حجراتو کې دتشعشع نه وروسته تولیدیږي امکان لري چی وژونکی وي Petantialy dethal اویا Sub dethal وي اوداسی شواهد وجود لري چی په اساسي ډول افت په DNA کې یواځی دیو Standard ماتیدل ښکاره کوي.

۲- داډول افت هغه وخت Lethal شکل غوره کوي چی دخپل په شان دیوبل Single strand سره تعامل وکړي دترمیمي پروسو مخه نیونکو طریقو لټنه چی زیاتره دانزایمونو پواسطه صورت نیسي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: Reoxygenation :

۱- دتشعشعاتو دکسري کورسونو په اوږدو کې ښه Oxygenation لیدل شویدی چی دتومور د Paranchymal حجراتو دمنځه تللو او دبین الوعایي مسافودکموالي له کبله منځته راځي له دی کبله یوفوق الوعایي نسبی حالت مینځ ته راځي (Vascularity زیاتیږي). چی د Oxygen دښه پرفیوژن سره یوځای وي همدارنګه دمړه شوو حجراتو داکسیجن کموالی هم د O۲ نفوذ زیاتوي.

۲- د Tumor Micro circulation پتوفزیولوژي دمختلفو شرایطو لاندی نور هم مفصل تحقیق او لتنی ته اړتیا لري اودهغوی تاثیر د تومور داکسیجن په فشار باندی هم ولټول شي.

۳- دتداوي په جریان کې د O۲ دمختلف ډولو تنفس کول د نوموړی مطالعی کلینیکي وضاحت دی.

C: Reasortment

۱- دادشعاع پواسطه تولید شوی Synchrony څخه عبارت دی په دی معنی چی تکثر کوونکی حجرات په عین مرحله کې راوستل شي او non Cycling حجرات Co په (S) Cycle بدل شي.

۲- ځینی شواهد داسی ښیي چی اساسي پرابلم د CO حجراتو اویا هغه حجراتو چی په اوږده GI مرحله کې وي په انقسامي فعالیت کې راتلل راوستل دي چی له دی کبله هغه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دشعاع په مقابل کې Vulnerable کیږي. دتومور په Micro card کې د Oxygenation او د انقسامي فعالیت ترمنځ مستقیم ارتباط وجود لري.

۳- دیوسایکل دوخت اندازه کول پدی پوری اړه لري چی په حجروي سایکل کې Synchrony پیداشي په انساني تومورو کې Data اوداعظمي شعاعي حساسیت پیژندل په حجروي سایکل کې دټولو څخه زیات په کاریږي.

D: Repopulation

دتومور اودنارمل نسج د Population kinetics مطالعات داسی Variates لکه د حجروي سایکل وخت، دنشونما کسرونه او حجروي ضیاع ټول دنشونما او صاف تامینوي.

۲- دتومور دنشونما ریاضي مودولونه زیاته نظري جنبه نسبت عملی جنبی ته لري.

۳- دمعلوماتو د لټولو لپاره د Tritium labeling تخنیک څخه استفاده کیږي ښایي چې په Invive توګه صورت ونیسي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکیموتراپي پرنسیپونه (Principles of Chemotherapy)

۱- Perspective (تناظر)

دکانسرکیموتراپي یوه نوی موضوع ده چی دانسان لپاره د چلینج حیثیت لري یوشمیر زیات پر مختللي خبیثه افات یوشمیر زیات حیوانات اویو شمیر انساني تومورونه چی په کامیابه توګه دکیمیاوي تداوي په واسطه معالجه شویدي زمونږ دموجوده پیړی دلوړ ترین Therapeutic پرمختګونو له جملی څخه دي یوشمیر زیاتی نوری دواګانی تهیه شویدي او ښه به داوي چی دنومورو دواګانو د ډولونو څخه او دهریو ډول دوا استطبابات، دوزونو او مضاد استطبابات سره ځان اشناء کړو علاوه پردی چی نومورې دواګانی دکانسر ناروغانو ته عرضي شفا ورکوي. خو کانسري دواګانی په استقلابي ناروغیو لکه Allopurinol په نقرص کې، وایروسي ناروغیو کې لکه Cytarobine په Varicella کې د immune suppressive په منظور لکه imuran په Organ transplant کې او بالاخره په جلدي ناروغیو کې لکه MTX او Psoriasis, ۲-Azauridine کې هم استعمال شویدي.

I- فارمکالوجیکي پرنسیپونه:

A: د سیستمیک ناروغیو لپاره سیستمیک تراپي:

۱- موضعي نیوپلازم باید په موضعي توګه تداوي شي لکه دجراحي د جراحي او شعاعي تراپي په ذریعه.

۲- تیت شوی کانسر ښایي چې د سیستمیک میتودونو پواسطه تداوي کړای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- دکانسر انتشار کیدای شي چی لاندنی دری حالتونه ولري.

متبارز:

دکانسر دلمړنی ځای څخه د لیری میتاستاتیک محراقو شتوالی.

B: مخفي:

۱- Myelogenous leukemic یو ډول نیوپلازم دی چی یواځی د هډوکي مخ او وعایي سیستم ماوفوي.

۲- Melanoma داسی کانسر دی چی په لمړنی وختو کې د وینی پواسطه میتاستاز ورکوي.

C: امکاني

هغه تومورونه چی جسامت یې غټ وي او یا تخلیه شوی لمفاوي عقداتو ته یې میتاستاز ورکړی وي اکثرا دمخفي میتاستاز سره یوځای وي.

۴- یوه موضعي لاکن شدیده ناروغی ښایي چی دموضعي کیموتراپي پواسطه تداوي شي مثلا د Per fusion infusion پواسطه (Section V A دی ولوستل شي)

B: د دواګانو د Optional (مناسب) استعمال لپاره د حجراتو دانکشاف Kinetics دی حتما تر نظر لاندی ونیول شي.

۱- د یوی خبیثه حجری Kinetics

A: دحجراتو لویه برخه په فعالانه ډول په نارمل حجراتو تقسیږي، تر کیموري او ضد استقلابي عمل ته حساس دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: تومـوری حجـرات بـی کفایـه وي یعنـی پـه بطـي توګـه تقسـیږي (د تقسـیم وخـت یـې اوږدیږي) او ورځخه تولید شوی زیات شمیر حجرات Daughter cell په خپله مړه کیږي.

C: دتومـور حجـم پـه سـریع توګـه زیـاتیږي (د دوه چنـده کیـدو وخـت یـې لنـډیږي) لاکـن دا د حجراتو د ځانګړي سریع ویش له کبله نه وي بلکه دتقسیم کوونکو حجراتو دیو لویی کتلی څخه ښودنه کوي.

D: په څو تجربوي موډل کې داسی تومورونه هم لیدل شویدي چی هلتـه دحجراتـو Kinetics دنارمل انسـاجو څخه ډیر تفاوت نه لري دا ډول شرایط د کیموتراپي اویـا شـعاعي تراپي پواسطه د متفرقه تاثیر دلاسته راوړلو په لاره کې مشکلات پیداکوي.

۲- دنارمل حجراتو Kinetics

A: دحجراتو یوه کوچنی کتله انقسـام کوي، دحجراتو لـویی برخی پاخی او رسیدلي وي دحجراتو لویی برخی داستراحت په مرحله کې وي یعنی تقسیم کولای شي لاکن ددی لپـاره تنبه شوی نه دی.

B: داستراحت په حال کې حجراتو ته په کنترول شوي تقسیم باندی تنبه کول، د ترضیض یا مرضونو پواسطه د ضایع شوی حجراتو د معاوضی لپاره (مثلا دوینی ضیاع یا دانتـان په حالت کې د هډوکي مخ دخپل نارمل حالت څخه ۵-۷ چنده زیـات پـه سـریع توګـه حجرات تولیدولای شي).

C: نو له دی کبله امکان شته چی ددواګانو متناوب دوزونه پـه ثابتـه توګـه تقسـیم کـوونکی حجرات تخریبوي په داسی حال کې چی نارمل حجراتو ته هیڅ ضرر نه ورکوي کـوم چې پـه هغه وقفه د دوا نه ورکوي خپل نارمل تکثر ته ادامه ورکړي او انکشاف وکړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی خطر هم وجود لري چی دوا په غلطه وقفه کې ورکړل شي چی هغه وخت په نتیجه کې نارمل حجرات ددی دوا پواسطه تخریب شي کوم وخت چې نارمل حجرات دمخ عظم ته د Repopulate کولو لپاره دتکثر او انکشاف په مرحله کې وي.

۳- ددوا او د تومور دتعامل Kinetics :

A: هره یوه دوا په خپل هر دوز کې د مورد هدف حجراتو یوه مخصوصه برخه له منځه وړي.

B: دتوموري حجراتو امکاني Lethal تعداد په انسان کې ۱۲-۱۰ یا یو کیلوګرام وي.

C: امکاني او د تومور کوچنی ترین حجم چې پیژندل کیدای شي 10^9 حجرات دي یا یو ګرام دتوموري حجراتو واړه کلونی ګانی د 10^2-10^7 حجراتو پوری د Cytology پواسطه تشخیص کیدای شي یعنی د Cervix کانسر د Vaginal smear سایتولوجیک معاینه.

D: څرنګه چی 10^{10} (مساوي په یو حجره) نه تر 10^1 (مساوي په لس حجراتو) (یا د حجراتو حقیقي شمیر د log±۱ په اندازه زیاتیږي) پورې حجرات ۳.۳ دوه چنده کیږي.

E: اوس زیاتره دواګانی یوائی دحجراتو Log ۳-۲ دمنځه وړلی شي چی ددی په نتیجه کې تومور غیر قابل جس دی لاکن بیا هم 10^9 حجرات ور څخه ژوندي پاتی کیږي.

F: داعراضو دمنځه تللو څخه وروسته دتداوي ادامه دتومور هغه حجم چی دتشخیص وړ نه دی کموي او همدارنګه د حجراتو تعداد د 10^9 څخه هم کموي داډول تعقیبیه تداوي دمرض دشفاء لپاره ضروري ګڼل کیږي او دمرض دغیر عرضي مودی د اوږدوالي سبب ګرځي.

G: همدارنګه په وجود کې دحجراتو د شمیر د کمولولپاره Combination therapy هم اجراء کیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مثلاً که دوه داسی دواګانی استعمال شي هر یو یې ۹۹.۹% حجرات د منځه وړای شي ددی دواګانو یوځای استعمال د حجراتو شمیر د 10^{10} څخه تر 10^{4} کموي چی دحجراتو دا اندازه دوجود دمعافیتي سیستم پواسطه په اسانی سره کنترول کیدای شي.

۱- Surgical Excision + Radiation therapy

۲- Surgical excision + Chemotherapy

۳- Radiotherapy+ Chemotherapy

۴- کیموتراپي Surgical Excision + Roentgen therapy

C: د دوا، کوربه تومور ترمنځ تعامل

۱- دواګانی باید یوځای استعمال شي ځکه چې دتومور ضد تاثیر زیاتوي. لاکن مختلف توکسیستي لري مثلا Paresthesia, Vincristin لامل ګرځئ سایکلوفاسفامايد د WBC انحطاط منځ ته راوړي او کورتیکوستروئید دګلوکوز د غیر نارمل استقلاب لامل کیږي لاکن پورتنی دری واړه دواګانی Lymphatic Leukemia حجرات د منځه وړي.

۲- څرنګه چی په ځینی تومورونو کې خفیفه Antigenisity لیدل شوی ده (لکه په Colon کوریو کارسینوما کې) اوپه نورو کې اشتباه شویده نو ځکه داسی نظر وجود لري چی دانتاني عواملو په شان د تومورې حجراتو په تخریب کې معافتي میخانیکیتونه مرسته کولای شي لاکن بیا هم په دی حالاتو کې دحجراتو د شمیر کمولو لپاره نورو تداوي ګانو ته هم ضرورت شته.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- داسی ډول عواملو ته ډیر زیات ضرورت شته چی د کوربه دمعافیتي تعاملاتو او قدرت باندی برید ونکړي او دتومور انتیجن په پیژندلو او دهغه په مقابل کې عکس العمل تنبه کولای شي.

۴- معافیتي عکس العملونه خصوصا Humoral ډول ښایي چی Bloking تولید کړي کوم چې دتوموري حجراتو دپاسه پوښ جوړوي او هغوی ساتنه کوي چی په پایله کې دتومور نشونما پرمختګ کوي نو له دې کبله د Immune therapy د ترتیبولو په وخت کې د ډیره زیاته پاملرنه او احتیاط وشي.

II: نورو دواګانو جوړول

A: منابع Sources

۱- Empirical

۲- حیاتي Biological

A: دیو مخصوص Histopathological فعالیت لرونکی عامل Screening کول مثلا نایتروجن مسترد (War gas) دلمفوئید انساجو د تخریب لامل کیږي نو ځکه په (Lymphoma) کې ورځخه په ازمایشي توګه کار واخیستل شي یوه ضد حشري دوا چی Ortho P Dichlor diphenol dichloro sthane نومیږي چی د ادرینل د قشر د نکروزس لامل ګرځي او د ادرینل د قشر په کارسینوما کې ورځخه استفاده کیږي.

B: د داسی عاملو Screening کول چی دانساجو Differentiation تنبه کوي لکه Progestin چې دنارمل او کانسري Endometrial حجراتو د Differentiation لامل ګرځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: لکه څرنګه چې فولیک اسید په انسان کې د لوکیمیا نشونما تنبه کوي چې په دې ډول دساختماني Analogy مفکوره پیدا شوه چې دفولیک اسید د تاثیر څخه مخنیوی کوي نو له دې کبله د فولیک اسید دمخنیوي لپاره اولنی عامل Aminopterine ترکیب شو چې د Anti Lukemia Analogy په حیث استعمالیږي.

۳- Rational (عضلي)

څرنګه چې Uracil دنورو پرامیدني په نسبت دتوموري حجراتو پواسطه زیات اخیستل کیږي نو له دې کبله Flurouracil-۵ او Azauracil-۶ تهیه شول.

B: دټیټه درجه DNA ترکیب دتومور پواسطه Pyramidine او پیودین Basis ته ضرورت لري له دی کبله Mercapto-۶, Azapurines-۸, Arabinosylocytocine, Arabinosyl-adenine او نور ترکیب شول.

B: Stages

۱- Preclinical

A: مرکبات د فعالیت دمعلومولو لپاره په داسی سیستمونو باندی معاینات اجراء کیږي چې په ډیر سریع توګه نمو کوي لکه Antiviral, antibacterial مورګ او د صحرایي مورګ تومورونه.

B: داعضاو مخصوص سمي تاثیرات هم په لوړو حیواناتو کې معاینه کیږي لکه Doga, monkeys

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Clinical Phase -۲

د دوز متغیری سویی، دزرق لیاری او متعدد زرقیات ددی مقصد لپاره اجراکیږي چی دسریري له نظره تحمل وړ دوراني رژیم اندازه تعین شي.

Clinical phase -۳

A: Alkalyting : دموثره عواملو ترمنځ د پرتله وشي چی دتومور لپاره ورځخه یوه Standard therapy لاس ته راوړل شي.

III- دتومور دواګانو ټولګی

A: Alkalyting عامل:

۱- دعضویت په مهمومرکباتو باندی مستقمیه حمله کوي د DNA په انزایمونو او معمولا د فزیولوژي له نظره د مالیکول په Critical برخه باندی حمله کوي او Covalent رابطه جوړوي چی په نتیجه کې نومورې مالیکول په نارمل استقلابي تعاملاتو کې استعمالیدای نشي.

۳- کیدای شي چی دحجراتو د DNA په ترکیب اودتوموي حجرو په تقسیم باندی هیڅ تاثیر ونه کړي چی دمخکی څخه عیار شوي مالیکولو باندی عمل کوي مثلا داډول عامل د لمفوما، او لوکیمیا په هغه حجراتو باندی چی انقسام نه کوي ډیر زیات تاثیر کوي.

۴- ددوا تاثیر اکثراء دهغوی په مستقیم سمی تاثیر پوری اړه لري او همدارنګه د دوز د سوی سره هم اړه لري نو ځکه لوړ سمی دوزونه دکوچني دوزونو په نسبت ډیر موثر تمامیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- مثالونه :

Nitrogenmastard (HN۲, Mastargen, Mechro ethamine) یو Proto type مرکب دی. Vesicant, war gas په سریع توګه شروع کوي غیر ثابت دی یواځی د وریدي لاری ورکول کیږي.

B: سایکوفاسفامایډ

ډیر عمومي مشتق دی چی په زیاته توګه استعمالیږي

۱- ثابت دی ځکه دخولی له لاری، داخل ورید ، تحت الجلدي اوداخل عضلی ورکول کیږي.

۲- څرنګه چی د ځیګر پواسطه فعالیږي باید دسیستمیک لاری څخه تطبیق شي.

۳- په ادرار کې اطراح کیږي ددې لوړ دوزونو د غلیظو میتازو سره یوځای د Hemorrhagic cystitis لامل کیدای شي چی ددی دمخنیوي لپاره دناروغ باید Hydration صحیح شي. iV ۱۵mgm/kg/week یا ۳mgm/Kbw/day

C: Phenyl alanine mastard

(PAM, ALeran, Melphalan) ۰.۵ mgm/Kbw/day PO or IV

B: Anti metabolites

۱- داډول دواګانی دتقسیم کوونکو حجراتو استقلابي پاتوی باندی تاثیر اچوي او معمولاً د DNA ترکیب تر حملی لاندی نیسي دا په عادي توګه داستقلابي پاتوی د پیش قدم مالیکولو د Co factor ساختماني Analogy او په وجود کې د ترکیب شوی انزایمونو په

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فعالیت کې مداخله کوي او یاپه غیر طبعي اوغیر وظیفوي محصولاتو کې ګډون کوي کوم چې دحجراتو د مړینې لامل کیږي.

۲- څرنګه چې دنوموړي عاملو هدف هغه حجرات دي چې د DNA ترکیبوي نو له دې کبله نوموړي د Cyclo sensitive یا Mitotically linked په نوم هم یادیږي.

۳- څرنګه چې Antimetabolites دخپل فعالیت لپاره مخصوص حجروي انزایمونه ضرورت لري نو له دی کبله د نوموړو تاثیر ددی انزایمو په شتوالي پوری متکی دی همدارنګه که حجرات ددی په ډول انزایمو څخه نشتمن وي نو د دوز زیاتوالی دعامل تاثیر نه زیاتوي همدرانګه دزیات والي پواسطه د سمیت دانداز ی زیاتوالی هم تاثیر زیاتولی شي.

څلورم ټولګی

Anti folics

۱- د Dihydrofolate reductase دفعالیت سره مداخله کوي.چې دکاربن دانتقال لپاره ډیر مهم انزایم دی او دپیودین د دویم (C۲) او اتم (C۸) کاربن او Pyramidine د ۵- Methyl بقیی دعلاوه کولو لپاره حجرات ورته ضرورت لري.

II- دانسان په بدن کې په استقلاب نه رسیږي او دپښتورګو پواسطه یې اطراح صورت نیسي نو له دی کبله هغه ناروغانو ته نه ورکول کیږي چې د پښتورګي خرابوالی لري.

III: دنوموړو عاملو دفعالیت اندازه دحجراتو د اخیستلو سره متناسب ده چې دیوی خاص لاری پواسطه یې واخلي نو ځکه زرقي لار غوره لار ده ځکه چې په پلازما کې لوړ غلظتونه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ ته راولي او د مورد هدف حجراتو پواسطه ژر اخیستل کیږي او په سریع توګه دپښتورګوڅخه اطراح کیږي.

IV: دمرکب ډول يې Metho trexate دی.

V: Chorio carcinoma, Acute Leukemia او د یوزیات شمیر جامد تومورونو په خلاف ښه تاثیر لري.

VI: بهترین دوز يې په هفته کې دوه ځلي د ورید له لاری دی.

B: دپیورین د Biosynthesis او Inter conversion سره په ډیرو خواو مداخله کوي.

۲- فعالیت يې په مورد هدف حجراتو کې په Phosphorylation باندی اتکاء کوي.

۳- دمرکب ډول يې Marcuptopurine-۶ دی چی د Hypoxanthine یو د Analogy دی.

۴- په اساسي یا مقدم توګه په Acute leukemia باندی تاثیر لري.

۵- معمولاً دخولی له لاری ورکول کیږي.

۶- که د Xanthin oxidase نهیه کونکي مواد هم استعمال شویدي لکه Allo purinol نو دوز دیو پر څلور په اندازه کم کړل شي.

C: Anti pyramidine

۱- داعامل یا خو د Uridin او Thymidin ، Biosynthesis سره مداخله کوي کله Fu-% Ana uracil-۶ اویا په DNA کې دګډون کولو پواسطه خپل تاثیر وښایي لکه Budr او Cytosine arubinoside

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دمرکب ډول يې Fluro uracil-۵ دی چی د استقلابي عملیی د ختم نه وروسته د Inhibitor thymidylate synthesis مادی باندی تبدیلیږي او دتدیو د کانسر په خلاف ښه تاثیر لري.

III: اوسنی دوز يې ۲۰ mg/K.BW هفته کې یوځل دخولی اویا ورید دلاری وشي.

IV: Cytosine arabinoside (چی نور نومونه يې "Arac" Cytarabine "CA",:Cytosor دی د حاد لوکیمیا په خلاف ښه تاثیر لري.

V: عادي دوز يې ۵mg/K/I.V په هفته کې دوه ځلي دی.

C: Hormones

۱- دتومورونو خلاف په فارمکالوجیک دوزو تاثیر کوي کوم چی د فزیالوجیک دوزونو ۱۰۰-۱۰% دی نو ځکه دتاثیر میخانیکیت يې دهورمون په څیر نه وي.

۲- لاکن کـه څـه هـم نومـوړی هورمونونـه دهغـه تومورونـو پـه خـلاف ډیـر فعـال دی کـوم هورمونونه چی په هدفي اعضاو کې منځ ته راځي مثلاً: ثدیی، پروستات او لمفوسیت.

۳- جنسي ستیروئیدي هورمونونه په بطي توګه عمل کوي نو له دی کبله د نوموړي Anti tumor تاثیر تر ډیرو هفتو نه ظاهریږي.

A: دلمړي ځل لپاره داهورمونونه دویمي جنسی اعضاو باندی د نهیه کوونکي تاثیراتو د لرلو له کبله انتخاب شوی وه مثلاء اندروجن د ثدیو دکانسر لپاره استعمال شویدی.

خـو بیـا هـم Cross Over عمومیـت لـري دثـدیی دغـدی کانسـر هغـه ډول مریضـان چـی داندروجن په مقابل کې ځواب وایي او مرض يې عود کوي دامریضـان وروسته د استروجن په مقابل کې عموما ځواب ورکوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: کله کله د ستروئید تراپي قطع کول د تومور د بیا پاتی کیدو لامل کیږي چی د Withdrawal response په نوم یادیږي داخبره په دی پوری اړه نه لري چی تومور په ابتدایي مرحله کې دهورمون په مقابل کې ځواب ورکړي یا نه؟

۴- دثدیی دکانسر تراپي په دی اساس ولاده ده چی هغه مریض باید وپیژندل شي چې دهورمون په مقابل کې حساس مرض پوری، اکثراء د لمړنی جنسي هورمونو تراپي په مقابل کې دځواب ورکولو پواسطه مریض تصنیف بندي کیږي. داولنی Ablative (لکه په premenopausal ښځو کې Oopherectomy او Post menopausal ښځو کې Adrenalectomy یا Hypophysectomy یا دهورمون تطبیق (لکه په ځوانانو کې Androgen او د ۷۰ کلنی څخه زیات ښځو کې استروجن) عموما داسی مفهوم ورکوي چی مرض د نوموړي تراپي چی دجنسي هورمون یا Ablative پواسطه صورت نیسي ځواب ورکوي که مریض د ابتدایي هورموني تراپي په مقابل کې ځواب ورنه کړي نو داسی معنی ورکوي چی نوموړی مریض د Non hormonal تراپي پواسطه تداوي شي.

۵- تولګی :

A: استروجن

دمرکباتو ډول یې دادی "DES" Diethylstil besterol چی دخولی له لاری ۱۵mg/day ورکول کیږي، Estradiol ben zoate دعضلی زرق له لاری د ۵mg په اندازه په هفته کې دوه ځلي ورکول کیږي نوموړی دواګانی د پروستات په پیشرفته کانسر او دزړو ښځو د ثدیو په کانسر کی ګټور دي.

B: اندورجن:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمرکباتو ډول يې دادی Delatatin, Hydroxy progesterone caproute دوز يې ۵mg دعضلی زرق له لاری د ۵mg په اندازه هفته کې درې ځلي دي او Flu oxymestrone, Halotestin چی دخولی له لاری ۳۰ mg/day ورکول کيږي.

C: Progesterone

دمرکباتو ډول يې دادی Delatutin hydroxyl progesron caproute چی دوز يې دعضلی له لاری ۲mg/K.W دی او Medroxy progestron Accera د ۳۰۰mg/day دخولی له لاری ورکول کيږي.

D: کورتيکوستروئيد:

دمرکباتو ډول يې دادی Prednisone چی دخولی له لاری ورکول کيږي او Prednisolon دعضلی يا وريدي له لاری ورکول کيږي. نوموړی دوا په لوړو دوزونو ۱mg/K/day څخه زيات، دحاد Lymphocytic leukemia لمفوما لپاره ګټور ثابت شويدی.

په ټيټو دوزونو کې ۳۰ mg/day دټديی دکانسر په ځينی واقعاتو کې دخباثت دکمی Hemolytic کم خوني، يا دپروستات دکانسر Fibrinilytic سندروم لپاره ګټور تمامیږي.

۱- متفرقه (طبعي محصولات ، انتي بايوتيک او نور)

۱- N-Isoprophyl –P- Toluamide(Metulane) Arocurbazine Methyl hydrazine

A: ښايي چې د H۲O۲ د ازادولو اويا داول څخه دتهيه شوي DNA دتخريبولو په ذريعه عمل کوي.

B: د H۲O۲ ازادیدل ښايي چی حجرات د Roentgen تراپي په مقابل کې حساس کړی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: همدارنګه Hodgkin ناروغی ، Ovarian کانسر او د سږو Out cell Ca کې ګټور ثابت شویدی.

D: ښایي چې دلبدي، کانګی او Myelo suppression منځ ته راولي.

E: دخولی له لاری او وریدي دوز يې ۱۰۰ mg/m۲/day دی.

۲- D ctinomycin (Cosmegen, Dactinomycin)

A: په DNA کې دګوانین د بقیو سره یوځای او مغلق جوړوي چې په نتیجه کې د RNA د ترکیب څخه مخنیوی کوي.

B: د William's تومور او Chronic carcinoma په خلاف ډیر ښه تاثیر لري.

C: معمولاً د وریدي لاری د ۱۱۵mg/Kg/day ورکول کیږي یا هغه ورځو کې چې مریض شعاعي تراپي اخیستی وي دا دوا د وریدي له لاری په اندازه ورکول کیږي.

۳- د Vinca اکلوئیدونه

A: دشنه باغونو د Linn, Vincarosea, peri winkle یا Cathransis roseas څخه.

B: داسی معلومیږي چې نومورې د RNA ,Linid ترکیب او په Microtulules ، Cytoplasmic باندی تاثیر لري.

C: Vincristin (Nocvin, VOR)

۱- په حاد Lymphocytic leukemia lymphoma دثدیی کانسر او William's Tumor کې ګټور دی.

۲- پیشرفته Cumulative او محیطي نیوروپاتي ښایي چې دمزمن استعمال په نتیجه کې منځ ته راشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- څرنګه چی ډیر کم Myelo syppression منځ ته راولي نوځکه د Leucopenia په مریضانو کې استعمالیدای شي.

۴- یواځی دوریدلهلاری استعمالیدای شي چی مکمل دوز یې ۱۵gama/k/week او دماشومانو دوز یې ۱۵۸/Kg دی.

D- Vinblastin (VLB, Velben):

۱- د Chorio carcinoma, Lymphoma او دټدیی دکانسر په ضد ښه تاثیر لري.

۲- Myelo suppression د ډیر کم Neuro toxicity سره یوځای لري.

۳- د وریدي لاری ۸/K/week ۱۰۰ او فمي مستحضرات یې دخولی له لاری ۱۰/day-۵ په اندازه استعمال شویدي.

۴- Mitomycin

A: دباکتریاو یو محصول دی چی د Alkulyting عامل په څیر فعالیت لري.

B: ډیر غوره تاثیر یې دهډوکو په مخ باندی دی خصوصاء Thrombocytopenia منځ ته راولي څرنګه چی موضعي توکسیک سمی تاثیر لري نو په ډیر پام سره د وریدي لاری ورکول کیږي.

C: یواځنی عامل دی چی دمعدی د کانسر په ضد د کتنی وړ او مهم تاثیر لري.

D: عادی دوز یې ۱۲۵/Kg/IV په هفته کې دوه ځلي دی.

۵- Mithramycin (Mithracin)

A: داهم دبکتریاو محصول دی چی جانبي عوارض لري چی دوینی په لخته کیدو باندی تاثیر اچوي او Hypoculcemia تولیدوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دخصیو د Embryonal cell کانسر په خلاف ډیر زیات موثر دی چی Kg ۵۰-۲۵ په اندازه اته ساعتو لپاره ورکول کیږي چی ددی infusion تر دوو اونیو پورې تطبیق کیږي.

C: همدارنګه دهډوکو د Pagets ناروغی په تداوي کی ورځخه کار اخیستل کیږي او د Hypercalcemia په تداوي کې چی دهرسببه وي ګټور دی دوز یې r/kg ۲۵ دورید له لاری په هفته کې یوځلي دی.

D: یوائی دورید له لاری استعمالیږي.

۲- Atabrine

A: دملاریا ضد درمل دی چې په لوړ غلظتونو یوه اندازه دتومور ضد تاثیر هم لري.

B: که مستقیما په خبیثه Effusion مایعاتو کې زرق شي نو ښایي چې د Ascitis او پلورل مایع د تجمع په مخنیوي او کنترول کې مرسته کوي.

C: که زیات دوزونه یې استعمال شي نو Retinopathy تولیدوي مجموعي دوز یې باید mg/day ۴۰۰ څخه زیات نه شي چی ۴-۵ ځله ورکول کیږي.

(BCNU) Bischloro ethyl nitrous urea

A: دتاثیر میخانیکیت یې څرګند شوی نه دی.

B: Hodgkin Lymphoma ددی داستعمال سره ۲۵% ځواب وایي په داسی حال کې چی دنورو عاملو په مقابل کې مقاوم دی.

C: څرنګه چی د Blood brain barrier څخه تیریږي نو ددماغ میتاستاتیک او مقدم تومورو په تداوي کې کمک کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: مستحضر یې د دوو ورځو لپاره هره ورځ ۱۰۰ mg/m۲ د وریدي له لاری دیوساعت لپاره ورکول کیږي.

E: څرنګه چې په موخر ډول سره په مخ باندی توکسیک تاثیر واردوي نو تکرار کورسونه یې د ۴-۶ هفتو په وقفه ورکول کیږي.

۸: (IV) (DTIC): Dimethyl triazeno imidazo carbox amide

A: امکان لري چې Alkulyting عامل وي.

B: په Melanoma باندی ۲۰% موثر دی او یواځنی دوا ده چې دنومورې تومور په خلاف دکتنی وړ مهم تاثیر لري.

C: د ۱۰ .۲۵mg/Kg/day په اندازه دورید له لاری ورکول کیږي چې په دی صورت کې د خفیف لوکوپینیاء یوځه ناڅه دلبدي او د Grippe په شان سندروم لامل کیږي.

۹- انزایمونه لکه L-Asperginase چې دمورچکانو د حجراتو د غشاء ترکیب خرابوي او دلمفوسیتو د حجروي غشاء جوړیدل بی نظمه کوي په دی جمله کې د ۱۰۰ m/Kg په اندازه په هفته کې دوه ځلي ورکول کیږي.

۱۰- (Deunorabicin) Daunomycin

د Adriamycin په څیر انتي بیوتیک دی.

A: د DNA او RNA په جوړیدو کې مداخلت کوي.

B: دوی د Anti lukemic تاثیر او سمی تاثیراتو ترمنځ فاصله ډیره کمه ده.

C: که د ۲۰ mg/K.W اندازه استعمال شي نو په قلب باندی تاثیرات واردولای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: په حاد Myelogenous leukemia کې یواځی ۱-۲ mg/Kg IV په هفته کې دوه ځلي استعمالیږي.

۱۱- Bleomycin

A: جاپاني انتي بیوتیک دی اویواځنی دوا ده چی په کانسر باندی تاثیر لري.

B: جانبي عوارض یې Allopecia جلدي Atrophy تبه او کله کله دسړو دفبروزس څخه عبارت دي.

C: دوز یې د ورید له لاری ۱۵mg/K.W په هفته کې دوه ځلي چی مجموعي مقدار یې ۲۰۰-۳۰۰mg/Kg ته رسیږي.

IV: دتومور ډول او دهغوی عکس العمل:

دعکس العمل سرعت دکانسر د ښه کیدو د ډولونواو وختونو او په عمومي ډول د ښه راپور ورکړه او شمیر څخه لازښوونه کوي دوخت اندازه میاشتو له مخی کیږي چی له بده مرغه دا اندازه محدوده ده په پرته له Category A کیموتراپي چی داوږدی مودی لپاره دکنترول د شفا حاصلولو په هکله غیر موثره ثابت شویده په پرته دیوځو پیښو دکانسرد ترمیم تعریف داسی کیږي. چی د ځلورو اندازه شوو توموري کتلو د ۵۰% څخه زیاته برخه کوچنی شي چی موده ددی ترمیم یوه میاشت ده، او همدارنګه ترمیمم معمولاء د مریض دصحت دښه والي داحساس د زیاتیدو او د ژوند د اوږدوالي سره یوځای وي.

A: دکیموتراپي پواسطه د شفاء نتایج منځ ته راځي (بیله دی چی دکانسر په پاتی کیدو کې کوم شواهد موجود دي مریض تر پنځو کالو پوری ژوندی پاتی شي)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تومور دعکس العمل اندازه هغه دواګانی چی استعمال شویدي:

۱- کوریو کارسینوما چی ۷۰% VLB ATD MTX یواځی Transplant شوی انساني تومو ردی.

۲- ACtd + X-ray or Vincristin %۷۰ William, tumor

۳- Cyclophosphamide %۵۰ Burket's Lymphoma

۴- Arednison + MTX ۲ MP VCR %۵۰ Acute lymphocutic leukemia

۱۳- لوړ حساسیت لرونکی (مکمل ترمیم په کې شمولیت لرلای شي) تومور د عکس العمل اندازه هغه دوا چی استعمالیږي:

۱- حاد لمفوسایتیک لوکیمیا ۹۰% Arednison, MTX, VoR, ۲-MP Ara-C Cyt (Any ۲)

۲- پروستاتیک کارسینوما ۷۵% Diethyl stel besterol

۳- هوچکن لمفوما مکمل ۵۰% دلاندی ورکړل شوو دواګانو دکلاسو څخه (YT) Procarbazine, VLB

۴- مزمن لوکیمیا ۲۰% Vcr, Arednison , Hn۲, Bcun Cyt, Busulfan (cm۱ only)

۵- Seminoma %۴۰ CYT

۲- نور لمفوما %۳۰ CTT Vincos, Procarbazine

۷- Multiple Myeloma %۷۵-۵۰ Pre BCNU CYT or PAM+Pred

د دواګانو یوځای ورکول عموما د لوړ عکس العمل فیصدي ورکوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: حساس (ځینی مکمل او یوشمیر زیات ناتام شفا ښیي)

تومور دعکس العمل اندازه دوا چی استعمالیږي.

۱- Germinal epithadno carcinoma		
مبیض	%۴۰	CTT, HN۲
خصیو (رشیمی ډول)	%۵۰	Mithramycin
۲- Endo material adeno carcinoma	%۴۰	Provera, Delatutin
۳- Brest adeno carcinoma	%۳۰	Des T.P, CYT, Fu, Vcr
۴- د ادرینل دقشر کارسینوما	%۳۰	OP DDD
۵- دسږو Out Cell Carcinoma	%۳۰	CYT, Procarbazin, BCNU
۶- دکولون ادینوما	%۲۵	FU
۷- Melanoma	%۲۵	Dimethyl triazeno imidazo
۸- نیوروبلاستوما	%۲۵	Carboxamide CYT, Vcr
۹- دمعدی ادینو کارسینوما	%۲۰	Mitomycine C
۱۰- درخوه انساجو	%۲۰	Combination of C=CY+VC
۱۱- دکولون ادینو کارسینوما	%۲۵	FU

D: تومور	درمل چې استعمالیږي
۱- دپانکراس کانسر	Tuber cidin, or streptozotocin, FU
۲- Renal Cell Adeno carcinoma	Prevera or T.P

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- نارینه Chroic Carcinoma Combination of MTX + Vcr+۲-M.P

تومور درمل چی استعمالیږي

۴- دپوستکي Epidermoid Beleomycin

E: دکیموتراپي په مقابل کې مقاوم

۱- دسږو Epidermoid کانسر

۲- دبولي تناسلي طرق کانسر

۳- دماغي تومورونه

۴- د رقیه غدی کانسر

۵- دهډوکو او غضروفونو Sarcoma

V- عمومي تراپیوتیک نظریات:

A: موضعي کیموتراپي

۱- Infusion (زرقي)

A: داخل وعایي کتیتر او Portable پمپونه.

B: Infusion د h/day ۲۴-۸ دهفتو او میاشتو لپاره.

C: د Anti metabolitic استعمال

۲- Perfusion

A: د داخل شریاني وریدي کتیتر په ذریعه د دوا د لوړ دوزونو کوچنی او شدید دوباره Circulation

B: دبدن څخه دباندی دپمپ داستعمال په ذریعه د وجود هغه برخه چی تومور لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: هغه Alkulyting او Cytotoxic دواګانی استعمالیږي چی د ژور دوز عکس العمل منحني لري.

E: په اساسي توګه د Melanoma لپاره مخصوص دی (PAM) یا DTIC

B: کوم وخت باید کیموتراپي استعمال شي (یعنی استطباب لري).

۱- هغه تومورونه چې زیاتره دشفا وړ دي دهغوی په مقدم مرحله کې باید کیموتراپي شروع کړي شي لکه William's tumor dactinomycin کې)

۲- د نورو نیوپلازم لپاره چې مترقي Symptomatic ناروغی منځ ته راولي.

۳- دمریض د مجموعي Palliative او استنادي تداوي د پروګارم د برخی په حیث.

۴- هغه مریضان چی شفامومي باید په دوامداره توګه تداوي اجراکول او په وجود کې د تومور د بارکمول شفاء د اوږدوالي په منظور اجراءشي البته سمي عوارض دی په دقت سره وکتل شي.

۵- دمزمن دوامداره او متناوب تعقیبیه تراپي اصل ځای تر اوسه تاکل شوی نه دی او دمطالعی لاندی دی.

۲- دتطبیق په وخت باید ډیر تر پام لاندی ونیول شي.

C: عکس العمل ورکونکی مریض ته مجموعي ګټی:

۱- دژوند دپاتی کیدو وخت زیاتیږي.

۲- دتموري کتلی له کبله په داخلي نارامی کې کموالی.

۳- دکانسرو د استقلابي فعالیت له کبله په Para neoplastic سندورم کې کموالی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسرطان روحی او عقلي اړخونه:

دکانسر نوم اویا داچی یو شخص خبر شي چی هغه په کانسر اخته شویدی تقریباء په ټولو خلکو باندی یو ډول ویره اچوي داخبره هم دوه علتونه لري یوداچی په خپله کانسرونو کې اخته شوی ناروغ کوم بل کانسري ناروغ یې لیدلی وی او بل داچی دکانسر په مورد د خلکو خبری په کتابونو او مجلو کې لیکنی او اوسنی مبارزه چی خلکو ته دکانسر په هکله تعلیم ورکوي نو په دی مورد کې خلک داسی فکر کوي چی دایوه ډیره دردناکه او وژونکی ناروغی ده لاکن دبل خوا دغیر کانسري ځینی ناروغیو چی دوفیاتو اندازه یې لوړه ده دکانسر په شان روحي تشویش منځ ته نه راولي. دکانسر نوم انسان ته دیوی خطرناکی او وژونکی ناروغی مفکوره پیداکوي د نورو خطر ناکو ناروغیو اساسي ګروپ یعنی انتاني ناروغی یوه داسی مفکوره ورکوي چی دمریض د وجود مقاومت او دننې ورځنی انتي بیوتیکو موثر استعمال دناروغی مخنیوی کولای شي یو شمیر نوری ناروغی چی دکانسر په شان خطرناکی دي لکه دقلبي ریوي، کلیوي یا دماغي وعایي عدم کفایی له کبله منځ ته راځي ډیری کمی خطرناکی ناروغی ګډل کیږي او ددی په هکله داسی فکر کیږي چی دعمر د پرمختګ له کبله منځ ته راځي. په هغه ناروغی چی لکه ترضیضات، تسممات، قلبي احتشاء چې په حاد ډول منځ ته راځئ دکانسر په نسبت ډیری کمی خطرناکی دی داځکه چی زیاتره ستونځی دتداوي په بیړنی تداوي سره نسه کیږي او دناروغ ستونځی په لنډه موده کې له منځه ځي اویا دناروغی په حالت کې څرګند نسه والی یا دهغوی دمرګ لامل کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکانسر ناروغی مریضانو دهغوی دخپلوانو او طبیبانو لپاره کړکیچنه لوحه دروحي تشویش Anxiety څخه عبارت دی (۱) په دی ډول مریضانو کې د تشخیص او تداوي په سنجولو کې د Anxiety سره تطابق کول دیر مهم ګڼل کیږي. دکانسر مریضان او هغوی معالجینو ته هغه خبره چی ډیر اهمیت لري هغه دمعالج دمهارت او پوهی په جراحي، شعاعي تداوي یاکیموتراپي پوری تړاو لري دوهمه خبره چی اهمیت لري هغه د طبیب له خوا د ناروغانو سره دخپلو اړیکو ساتل او دهغوی د عمومي او روحي ستونځو پیژندنه ده چی په ناروغانو کې منځ ته راځي دمریض په روحی ستونځو باندی پوهیدل اوهغوی ته پاملرنه کول ښایي چی جراحي، شعاعي کیمیاوي تیراپیوتیک میتودونو کې دناروغ ګډون او کومک اړین وي او همدارنګه دمریض لپاره ارام محیط برابروي یوځه اندازه داسی ډول ښښی شتون لري چی دکانسر مریض روحی حالت دکوربه دمقاومت یادکوربه تطابق دنیوپلاستیک پروسو سره یوخیال وي هر هغه شخص چی دکانسر مریض د روحي ستونځو ته کتنه کوي هغه دا ډول کتنه دخپل دید او تجربی په اساس پیژندلای شي دهر یو معالج هغه پوهه د کتنی لاندی نیول کیږي کوم چی دخپل کانسر مریض هیجاني عکس العمل سره اودهغی دتداوي د اصولو سره لری نو په داسی حالت کې باید د مربوطه معالج خصوصي تجربی او خصوصی رایی ته اهمیت ورکړل شي نه دا چی زه تاسو ته د کوم شخص ځانګړی کتنی، مشوری او حل په هکله پراخه معلومات وړاندی کړم.زه غواړم چی اول هغه اساسي عوامل تاسو ته وړاندی کړم کوم چی دیو ځانګړی شخص دکانسر مریض روحی عکس العمل معلومات او دوهم ځینی هغه کتنی وړاندی کړم کوم چی طبي محصلین د کانسر مریض سره دمخامخ کیدو په وخت کې لري په پای کې یوشمیر

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ریفرنسونه کوم چی په داسې ډول انتخاب شوي دی چی دهغی څخه تاسو یو پراخ نظر دنوموړو ستونځو په مورد کې برابر کولای شي وړاندی کړم او داسی ریفرنسونه هم په کی شتون لري چی دستاسو د نوری مطالعی لپاره انتخاب شویدي.

دکانسر مریض روحی حالت دیو شمیر زیات خصوصیاتو په اساس تاکل کیږي کوم چی ددی حالت لامل شویدی اویو زیات شمیر نور عوامل چی دهغی مرض دتګ لاری سره اړه لري هم په دی جمله کې شامل دي چی په لاندی ډول خلاصه کیږي.

۱-دمریض برخورد دکانسر په مقابل کې.

۲- دمریض پورې اړونده وصفي څرګندونی

۳- دتداوي لپاره په اوسنی لاس رسي.

۴- دمریض دشخصیت جوړښت اودهغی طرزالعمل خپل ژوند خواته

۵- ځینی موجوده اجتماعي منابع لکه مذهبي اړخونه، کار او اقتصادي حالت.

۶- دمعالج برخورد او شخصیت.

۱- دمریض برخورد د کانسر په مقابل کې:

هر هغه مریض چې په خپل بدن کې دکانسر د موجودیت اشتباه وکړي یا واقعاء دهغوی په وجود کې کانسرتولد شوی وي داډول مریضان یوڅه معلومات ترلاسه کوي کوم چی دهغوی د ناروغی په باره کې دعکس العمل اساس جوړوي کله کله داډول عکس العمل یواځی یوه اشتباه وی چی راپور د یو داسی شخص په معلوماتو باندی ولاړ وي کوم چې ډیر کاله پخوا په کانسر اخته شوی وه او وروسته یې په بشپړ ډول شفا موندلی وه اکثراء دا ډول ناروغ په ځان باندی دیوداسی نژدی خپل ګمان کوي کوم چی یوه اوږده ناروغی تیره کړی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي او کيدای شي چی دناروغ په فکر کې دخپلو ګاونډيانو خپری رايادی شي کوم چی دهغوی ديو داسی شخص په باره کې خبری کولی کوم چی باالاخره دخپل مرض له کبله مړ شوی يا د عامو خپرونو دمجلاتو له مخی ديو داسی شخص دمرګ څخه خبر شي کوم چی دخپلی ناروغی دشديد تکليف او درد له کبله مړ شوی وه زيات شمير خلک کوشش کوي چی دخپلی ناروغی د منځ ته راتلو لپاره کوم معقول دليل په فکر کې راوړي لکه زيات ډوډی خوړل، دتمرين نشتوالی، سګرټ څکول، دجنسی فعاليت زياتوالی، دعمر زياتوالی يا پرمختګ دخپلی ناروغی لامل ګڼي خپل معالج ته دداسی ډول خيالاتو داظهار کولو پواسطه مريض ډير ارامتيا مومي او ددی لپاره ضروي نه ده چې معالج کوم وصفي اقدام وکړي يواځی ورته غوږ ونيسي او ځان پری پوه کړي.

۲- په مرض پوری اړوند وصفي تظاهرات:

مختلف اشخاص د درد د زغم، تحمل اويا د هرکلي کولو لپاره مختلف قابليت لري او په فوق العاده ډول دهغه درد چی د ضعيفي ملګرتيا کوي د خبيثه ناروغی سره ټرلی وي په دی لړ کې استثنات هم وجود لري ليکن زياتره خلک دداسی ډول خبيثه افاتو سره چی حياتي دندی ګډوډی کوي لکه تنفس، خوراک کول او تغوط په خفه کوونکی کې د مشکلاتو سره مخامخ کوي وروسته له دی څخه ډير زيات مشوش کوونکي ستونځی هغه دی چی دمثبتی لف لټ په خرابولي دلالت کوي منځ ته راځي لکه د نرتوب يا ښځينه خواص بدلون چې په دې ډله کې سترګی، اطراف، ثديه غدی يا تناسلي غړی بدلون شامل دي دداسی ډول ستونځو دپراختيا اندازه چې د Anxiety پواسطه څرګنديږي په دی خو

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا باید معلومه شي چی ایا ناروغ خپله Reproductive مرحله تکمیل کړی ده ایا دهغوی دمخصوص عضوی په دندو کې خرابوالی مینځ ته راغلی وه.

زیات شمیر خلک دیوداسی ډول خبیثه افت څخه په عذاب کې وي کوم چی نورو خلکو ته ښکاره کیدای شي لیکن بیا هم ځینی خلک د داسی افت څخه ارامتیا حس کوي او په اسانتیا سره څرګند او تداوي کیدای شي ځینی خلک دیو داخلي افت څخه چی دلیدو وړ نه دی او په وجود کې په یو نامعلوم ځای کی قرار ولري زیات شمیر ناروغان دیو داسی افت څخه چی دلیدو وړ نه دی او په بطن یا سینه کې ځای لري بی علاقه وي او توجه ورته نه کوي.

۳- دتداوي لپاره په لاس کې موجوده طریقی:

زیات اندازه مریضان د منتشر کانسر دمنځه وړلو لپاره دجراحي عملیی سره موافقه کوي لیکن دیو کم شمیر ناروغانو لپاره دایوه ډیره خطرناکه مسله ده مخصوصاء که نوموړو مریضانو مخکی له دی څخه کومه جراحي عملیه تیره کړی نه وی یا که دجراحي په عملیه کې په پراخه اندازه د عضوی د قطع کیدو امکان موجود وي هغه مریضان چی ډیرژر د جراحي مشکلاتو سره تطابق کوي ښایي چی د شعاعي تداوي سره په معامله کولو کې د ستونځو سره مخامخ شي دائکه چی دا ډول تداوي ډیر اوږد وخت نیسي او مبهم وصف لري کیدای شي چی یو شخص ډیر ژر شعاعي تداوي قبوله کړي په داسی حال کې چی بل شخص د Cobalt ماشینی یا وړانګو څخه ویره پیدا کړي.

۳- دمریض د شخصیت جوړښت اودهغه طرزالعمل دخپل ژوند خواته:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دناروغ برخورد دخپل کانسر اودهغی د تداوي سره او دهغه د Anxiety دمنځ ته راتلو اندازه په اساسي ډول د هغه دشخصیت د جوړښت پواسطه تعین کیږي ایا مریض اجباري یا Hitrionic, depressive یا اشتباه کوونکی Counter phobic یا نورو باندی متکی دی یو اجباري یا Compulsive یا نورو باندی متکی دی یو اجباري یا Comulsive ناروغ دیو پاک Amputation سره لږ مشکلات پیدا کولای شي چی دیو Hystoric یا Counter phobic شخص لپاره ډیروخیم او تباکن تمامیږي.

لاکن Compulsive خلک د iliostomy سره اجراشوی Colectomy له کبله نهایي اندازه Anxiety ښکاره کوي په عمومي ډول هغه مریضان چی په کانسر باندی اخته کیږي داحساساتو له نظره اودخپلو خواهشاتو د تکمیلیدو له نظره دخپل ژوندخواته په مختلفو وختو کې مختلف برخورد ښکاره کوي ځینی داسی احساس لري چی دهغوی ژوند په ارامتیا سره بشپړ شویدی او ځینی نورو یې مخکی د وخت څخه دژوند ارمان دلاسه ورکړی وی په داسی حال کې چې ځینی نور د خپل ژوند د مقصد یا خواهشاتو د ساتلو یا تکمیلولو لپاره کوشش کوي.

۴- موجوده اجتماعي منابع

په زیات عمومیت سره داسی شمیرل کیږي چی کانسر مریض Anxiety یا Depressive کیدل دهغوی دناروغی په مقابل کې یو طبعي عکس العمل دی.

په حقیقت کې کیدای شي چې مریض دخپل فامیل د غړو دارتباط دبدلون له کبله مشوش او Depress شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله کله دکانسر د تظاهراتو دشروع څخه وروسته اوهم ځینی وخت دکانسر د استیلا کیدو په نتیجه کې هم انکشاف مومي په زیاتره واقعاتو کې نوموړي Depressive عکس العملونه په تصادفي ډول دواقع شوي اجتماعي تغیراتو سره ارتباط لري کوم چی باید د هغه عمر دګروپ په هریوداسی شخص باندی تیر شي چی په کوم کې کانسر منځ ته راغلی دی اکثراوقات د نوموړو ارتباطاتو او په محیط کې داساسي اشخاصو په عضلي ډول لټنه دمریض په روحي تشوشات له منځه وړای شي کوم چی مخکی لری د مریض د خبیثه افت له کبله بلل شوي وه یوه ارام وړ مذهبي عقیده او د یو مذهبي رهنما سره ارتباط د کارسینوما دمریض لپاره فوق العاده ګټور ثابتیږي لیکن هغه خلک چی دا احساس کوي چی هغوی په خپل مذهبي کارونو ښه وه ښایي چی کوم وخت چی په کانسر اخته شي نو بیا هم مشوش پاتی شي.

دایو داسی ډول حالت دی چی لږ زیات پاملرنی ته اړتیا پیداکوي د مریض وظیفه په کور اویا په دوکان کې ښایي چی دهغه د روحي ښه والي لپاره فوق العاده زیات اهمیت لري او دهغه له خوا خپل کارته ادامه ورکولو کې عدم کفایه اویا مخکی له وخت څخه دهغی په وظیفه کې د کمښت منځته راتلل ښایي چی دهغه د روحي تشویش یو اساسي منبع وي زیاتره مریضان د خپلو پیسو دګټو له پلان سره علاقه لري چې خپل فامیل لپاره او دځان دتداوي لپاره ارامي برابره کړي.

۵- د معالج شخصیت او طرز العمل:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینی معالجین غواړي چې دکارسینوما مریضان تداوي کړي او په دې لړ کی ډیر باصلاحیته هم دي چی په اختصاصي ډول د هغه نواحیو سره دمعامله کولو په مورد کې ډیر مهارت لري.

ځینی نورمعالجین نه غواړي چی دکارسینوما مریضان ترخپلی پاملرنی لاندی ونیسي او کیدای شي چی په دی ساحه کې مهارت ونه لري په هر یو کتګوري کې داسی ډاکتران وجود لري چی دهغوی د شخصیت ساختمان یو وسیع تنوع لري کله ځرنګه چی مریضان له دی نظره چی دهغه خپل کارسینوما ځرنګه معامله کوي فرق لري نو په همدی ډول معالجین هم د کارسینوما مریض دتداوي کولو له نظره فوق لري. ځرنګه چی کیدای شي چې یو مریض دیوداکټر دتداوي سره ډیر زیات ارامتیاء حس کوي او په همدې ډول بل ډاکتر مریض دیومحتاط نژدی او علاقه لرونکي معالج څخه خپله ارامتیاء مومي.

خوشبختانه په زیاته اندازه معالجین دکتنی ورډول دومره ښه والی لري چی دهغه خپله اساسي طریقه د ځانګړی مریض د ضروریاتو له نظره ترمیمولی شي په عمومي ډول د کارسینوما یو مریض د یو داسی معالج سره ډیر ښه رفتار کوي کوم چی یو فعال او دوامداره ارتباط وجودلري.

۲- دطب محصلین اودکانسر مریضي:

دیو طبي محصل په حیث اود هرچا په شان تاسو دکانسر مریضانو سره اول ځل دمخامخ کیدو په وخت کې یو مخصوص طرز العمل به غوره کړی کوم چی د تاسی د مطالعی اوددا سی ډول اشخاصو سره او هم د نژدی خپلوانو سره دستاسو په خپلی تجربی باندی اساس لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی امکان لري چی ستاسو د لمړنی تجربی کوم چی تاسو د یو کانسر مریض څخه اخیستی دی ستاسو خیالاتو په عمومي ډول د ډاکترانو د معالجوي مهارت د ستاسوو داستاذانو او حتی د ستاسو د خپل ځان په مورد کې په ډیر ژوره توګه په امتحان شي تاسو کیدای شي چی دکتنی وړ اندازه مشکلاتو سره هغه وخت مخامخ شي کوم وخت چی دیوکانسر مریض سره د اړیکو پیداکولو کوشش وکړی دمریضي د پاملرنی په اوږدو کې کیدای شي چی تاسو ډیر زیات بافهمه متهیج، یا ډیر زیات تهیه شوي اوسي دابه ښه وي چی په یاد ولرو چی تاسو دمریض دحالت سره په زیاته اندازه نارامتیاء احساسوي نه پخپله دمریض سره بایدپه یاد ولرو چی دکانسر مریضانو مثال چې د بستر مریضانو کې لیدل کیږي په لوړه اندازه غلط معلومات راکوي او دهغو مریضانو څخه نماینده ګي کوي کوم چی دمرض پواسطه په حاد ډول په تکلیف اخته شویدي او په ډیر خراب ډول ښه والی پیداکوي او په دی ډله کې یو زیات شمیر هغه ناروغان شامل نه دي کوم چی دناروغۍ سره د روغتون څخه دباندی ډیر ښه وظیفه اجراکولی شي.

کله کله تاسو سره دکانسر مریضي سره دهغه خبرو له نظره چی تاسو دهغی تشخیص او خارجي بڼه د معلومولو په منظور هیڅ ګټه وانخلی او تاسو ښایي چی زیاتره د مریضی سره په تماس راشي او مریض هم په دغو نقاطو کې ازمایش کړی دستاسو نه دا توقع کیږي چی دسرویس د موظفینو څخه یاد مریض دشخصي معالج څخه داسی پوښتنی وکړی چی څه او په څه ډول مریض ته دهغه شرایطو اړوند معلومات ورکول کیږي. په ځینی حالاتو کې تاسو دمریض د خرابو حالاتو له کبله او دهغه دتداوي دغیر موثر ډول تداوي کولو کې دطب دناتواني څخه نماینده ګي کوي کیدای شي چی په نوموړي شرایطو کې تاسو په عذاب

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي اوهمدارنګه کیدای شي چی تاسو دهغه دښکاره غفلت او بی پروایي له کبله په عذاب شي کوم چی ستاسو په خیال کې د ستاسو دمریض سره کیږي او تاسو داسی فکر کوي چی تداوي یوبل ډول کورس د ترجیح وړ دی په ځینی شرایطو کې کیدای شي چی ستاسو نظریه مناسبه وی او په ځینی نورو وختونو کې کیدای شي چی ستاسو خیال صحیح نه وي دابه ښه وي چی په یاد ولرو چی دکانسر دمریضي په پاملرنه کې دټولو نه اغیزه ناک فکتور د هغه اړیکی د معالج داکتر سره دی کوم چی معالج داکتر د بستر څخه مخکی، دبستر په جریان او وروسته له هغی څخه په دوامداره ډول د مریض په پاملرنه کې برخه اخلي دهغه دمعالج له خواسنجول شوی مخصوص پلان او طریقه ښایي چی دهغه دمریض لپاره دټولو څخه زیات اغیزناکه لاره ده.

په داسی حال کې چی دکانسر مریض سره دستاسو داړیکو پواسطه په مختلفو وختونو کې د ژورو ازموینو څخه تیر شي چی بالاخره کیدای شي چی تاسو ته نور هم اسانتیا پیدا کړي.

په دې ډول تاسو کولای شي چی دخپل مریض مشاهده اودهغی دتداوي په سنجولو او عملی کول په ډیره اغیزناکه ډول سرته ورسوي تاسو به ددی خبری دمشاهده کولو لپاره چی څرنګه یوزیات شمیر مریضان دخپل مرض د تاثیراتو سره تطابق کوي یو ښه موقع پیدا کړي او همدارنګه تاسو به ددی خبری د لیدو موقع هم پیدا کړی چی په څومره قهرمانه ډول یوزیات شمیر اشخاص د داسی مرضو دتکلیفونو شفا کولی شي کوم چی مرض منځ ته راوړي او مخکی له وخت څخه مریض دژوند د ختمیدو لامل ګرځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

The Para Neoplastic Syndrome

دمریضي یوه زیاته برخه چی دکانسر سره ملګری وي په حقیقت کې دادکانسر حملی یا دنارمل عضوی د وظایفو سره میخانیکي بریدمستقمیه نتیجه ده امکان لري چی دیوغران (سکه) په اندازه جسامت لرونکی دسږو Out Cell کارسینوما په ناروغ کې تبه، بی اشتهایي ، کم خوني، Cachexia په شدید شکل پیداکړي په داسی حال کې چی یوه ښځه چی دثدیی په کانسر باندی اخته وي امکان لري د ۱ کیلو ګرام په اندازه تومور په خپله ثدیه کې ولري په داسی حال چی دهغوی د وجود وزن، اشتها او نور دندو کې شاید ډیر کم ونه لیدل شي یو زیات شمیر تومورونه د خپل ځان څخه ځینی مواد تولیدوي چی په لیری واقع شوي عضو باندی تاثیر اچوي او دکوربه په وظایفو باندی تاثیر اچوي چې دنومړي موادو پیداکیدل د مخصوصو تومورو څخه په مختلفو طریقو صورت نیسي چی په نتیجه کې Hyper calcemia کم خوني او د ادرینل دغدی دقشر فرط فعالیت، Hypo immunity او داسی نور منځ ته راځي دجسامت له کبله منځ ته راغلی استقلابي پیښی پوهیدنه اوتشریح لږ تر لږه په جزوي توګه د Neoplastic حجراتو او انساجو د Patho physiology په اساس کیدای شي د پرمختللي کانسر لرونکو ناروغانو مکمل Palliative په لړکې نومړی سندروم ته زیاته پاملرنه وشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- تعداد او ډولونه Frequency and types:

دپرمخ تللي خبيثه امراضو له جملی څخه ۱۵% ناروغان چی په روغتون کې بستر شويدي بارز کلينيکي تظاهرات په هغه عضو کې ښيي کوم چې دلمړنی عضو څخه ليری واقع شوی وي او د Metastatic تومور ذخاير په کې شامل نه دي که په ډيره توجه سره لتنه وشي نو په همغه اندازه د Sub clinical سندرومونو شتوالی هم معلوميدای شي دمريض د ژوند په موده کې د Para neoplastic سندرومونو توقعات امکان لري ۵۰-۷۵ ته ورسيږي.

۱- د Ectopic تومورونو توليدول معمولاً زيات ليدل کيږي (د ټولو سندرومونو يو پر درې برخه کې) جوړوي

دهضمي طرق کانسر که دمری نه کولون خواته ښکته شي نو ښه انزار لري دعلوي هضمي لارو د کانسر علاج کې دټولو نه لويه بدبختي داده چی زياتره افات دخپل مرض سير په اوږدو کې اعراض نه ورکوي اويا ډير وروسته اعراض ورکوي کله چی لمړی ځل کلينيک ته مراجعه وکړي نو نوموړی کانسر ډير پرمخ تللی وي دمعدی معايي نيوپلازم اساسا دجراحي دنظره ډير د دلچسپي وړ دی ځرنګه چی دنارمل هضمي لارو شعاعي حساسيت زيات دی او زيادتر Adeno carcinoma شعاع ته مقاوم دی چی ډير خراب Radio therapeutic منځ ته راولي.

دشعاعي تراپي اول اساساء دعرضي تداوي په حيث دی او په مقدم توګه دهضمي جهاز دواړه اخرنی برخی لکه مری، ريکتم او مقعد کارسينوما دتداوي لپاره کمه دی چی په دی اوسني وختو کې دلچسپي په دی لړ کې مخ په زياتيدو دی چی دمری او Rectum ځينی افات په تداوي کې د عملياتو څخه مخکی تشعشع او جراحي يوځای بايد اجراء شي.

دمری کارسينوما

Introduction - ۱

A: وقوعات: په جاپان کې ټولو نه زيات واقع کيږي. د ۱۰۰۰۰۰ نرانو څخه ۳، ۴۲ کسان چې د ۱۰۰۰۰۰ کې ۱۰ څخه ۳۵ زيات دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د دوهم نړیوالی شخړی څخه نه وروسته افریقا کې هم دکتنی وړ زیات والی لیدل شویدی.

۲- د جنوبي Carolina په ساحلي علاقو کې خصوصا نارینه تور پوستانو کې دوقوعاتو اندازه زیاته ده.

۳- دپورتنی توپیرونو لاملونه پوهیدل شوي نه دی.

B: شیوع: په VSA کې نرانو کې زیات واقع کیږي چی نسبت ۳:۱ دی لاکن په سویدن او فنلیند کې ۴۰-۵۰% ښځی مصاب کیږي.

C: وفیات: په پرمخ تللي سن نرانو کې مرض زیادتر د ۶۰ کلنی څخه وروسته عمومیت لري ښایي چی Achalasia او Hiatal Herna سره یوځای په لږ عمر (ځواني) کې هم واقع شي.

اتیالوژیکي فکتور

تراوسه پوری معلومه شوي نه ده لیکن ځانګړی شرایط د نوموړي کانسر دمنځ ته راتلو لپاره ښه زمینه مساعد وي مثلاً Pulmmer Vinosn syndrome (چی دروغو خلکو په نسبت ۹۱ ځل زیات په کې واقع کیږي) همدارنګه Hiatalus bernia achalasia ناروغانو کې (په داسی ناروغ کې چی دنوموړي ناروغی څخه یو ولري اومناسب تداوي په مقابل کې ژر ځواب ورنکړي باید هغوی باندی د کارسینوما دشتوالي اشتباه وشي).

E: موقعیت: په پورتنی یو پر دری برخه کې ۳۷% او لاندنی یو پر دری برخی کې ۴۳% واقع کیږي.

F: اهمیت: د USA دکانسر له کبله ۲% مرګ منځ ته راوړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

II: کلینیکي تشخیص

A: په ۹۰% پیښو کې ناروغان د Dysphagia دکبله مراجعه کوي.

B: وزن بایلل هم عمومیت لري.

C: دنورو اعراضو اوعلایمو په جمله کې Hemtemesis anorexia malaise او (نادرا) او رقبي عقداتو Adenopathy

D: بداو خراب علامی

۱- چپ صوتي کورد فلج (دراجعه حنجری عصب فلج له کبله).

۲- د دوامداره ټوخي (په شزن کې د فستول دجوړیدو له کبله)

III : توپیري تشخیص

A: باریوم بلع کول: په مری باندی غیر منظم جدار لیدل ډیر زیات مخصوص کتنه ده.

B: Biopsy Esophagus scopy سره.

C: دمری دلواژ په ذریعه Exfoliative cytology ډیره ښه معاینه ده لاکن ډیر وخت ته اړتیا ده.

D: Broncloscopy laryngo scopy دحتمي تداوي د اجراکولو څخه مخکی دناروغی د پراختیا داټکل کولو لپاره ډیر غوره معاینه ده.

IV: تصنیف بندي

اناتومیک کتنی:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- موقعیت: دتراپي دانتخابولو لپاره دنیوپلازم معلومول دټولو څخه مهم او واحد فکتور دی د علوی مری افات ډیر زیات خراب انزار لري لاکن د شعاع ورکولو نه وروسته د جراحي په نسبت ناروغ نسبتا ډیر ښه حالت غوره کوي. دښکتنی مری افات یو څه ناڅه ښه انزار لري ګر چی خطرناک هم وي اوهغه ناروغان چی په ښکاره افات لري دهغوی غوره تداوي جراحي ده.

۲- دکانسر نفوذ او ژوروالي:

دټولو جوړښتونو ته انتشار لپاره دکانسر ژور والی ډیر مهم فکتور دی اویو کامیاب جراحي قطع کولو عملیات چانس هم محدود کوي. د Serosa طبقی نشتوالی ښایي چی کانسر انتشار سره مرسته کوي او د Anastomosis جراحی قطع کولو نه وروسته Anastomose څخه Leak کیدو ته لارښوونه کوي دعقداتو مصاب کیدل امکان لري چی دمری داخته کیدو دژوروالي سره اړیکی ولري.

۳- دکانسر پراختیا په طولاني ډول

په تحت المخاطي اوعضلي لمفاوي اوعیو کې د کانسر Endolization ډیر عمومیت لري او جراحي پواسطه لیری کولو خرابوالی سبب کیږي. همدارنګه دقطع کولو په خط باندی دعود سبب هم کیږي. د Scalon's راپور ښیي چی ۴۵% نه تر ۸۰% دقطع شوي څنډی باندی پراختیا چی مری Sub totally قطع شوي وي په دې ګروپ ناروغانو کې شامل دي.

۴- عقداتو پواسطه پراختیاء:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا افت د جسامت سره ارتباط نبودل شویدی که افت د ۵ نه کم وي نو ۵۰% ناروغانو Metastasis ورکړیدی او که ۵ څخه زیات وي نو ۲۰ % عقدات ماوف شویدي.

۵- وعایي (درګونو پراختیا)

وعایي انتشار هم واقع کیږي، لاکن دلمفاوي قناتونو دمصاب کیدلو په څیر عمومیت نه لري، دلیږی ځایو Metastasis د دموي دروان څخه دومره عمومیت نه لري ځکه ناروغان دومره وخت پوری ژوندی نه پاتی کیږي.

۲- Metastasis

ځیګر ته ۳۲% اوسږو یا پلوراته ۲۱% ناروغانو کې صورت نیسي.

B: هستالوجیک کتنی:

۱- ټولو څخه عادی ډول یې په متوسط توګه تفریق شوی Epidermoid carcinogen دی ددی درجه بندي کوم کوشش نه دی شوی.

۲- Adeno carcinoma : معمولاً په لاندی مثلث کې لیدل کیږي او زیاتره د معدی د Fundus افت څخه منځ ته راځي. (شکل)

C: پتالوژیکي درجه بندي SMH :

۱- مری پوری محدود ، د cm۵ څخه کم اوږدوالی لري.

۲- مری پوری محدود د cm۵ نه زیات اوږدوالی اود قطع کولو وړ عقدات لري.

۳- دمری افت د cm ۱۰ څخه لوی وي دمری څخه مجاورو جوړښتونو ته انتشار د Inoperable عقداتو یا افاتو شتوالی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخراب انزار فکتورونه

دوزن بایلل په شدید توګه دعضلاتو ضیاع کیدل، دمری لوړ اندازی نه تر مکمل بندش Hemoptysis د سوري کیدو شتوالی ثبوت شتون زیادتره واقعات داولنی لیدنی په وخت کې III یا IV مرحله کې وي په زړه پوری افات او دابتدایي انسدادي علایمو سره یوځای وي زیادتره واقعات حملات کوونکی وي او دتشخیص څخه مخکی انتشار یې کړی وي.

۵- دتداوي پرنسیپونه

A: دعملیات کولو لپاره د جراحي چوکات دتکنیک اوانستیزي دپرمختګ سره زیات شویدی لاکن نوموړی اړوند پر مختګ په نتیجو کې ندی لیدلی شوی دجراحي طریقی نور هم جذري شویدی چی دمکمل Esophagotomy دحجاب حاجز څیری کول دپانقراص لکی پریکول، دتوري اود Cocliac عقداتو لیری کولو څخه متشکل دی دمعدی او مری تر منځ دوباره اړیکو جوړولو لپاره دښي کولون تحت الفصي Transplant پیوند اویا په صدر کې دځینی ښکتنی افاتو لپاره دمری دمعدی سره Anastomosis ورکړل شویدي.

B: دمری د Epidermoid کارسینوما شعاع ته ځواب وایي او ددی په واسطه موضعي تومور ختمول اکثرا صورت نیسي.

C: دابهر د قوس څخه پورته واقع شوي افات دپاره تشعشع په زړه پوری ګټل کیږي ځکه چی دجراحي وفیاتو اندازه په لاندنی ثلث کی ۱۲% په منځنی دریمه برخه کې ۲۴% او په پورتنی دریمه برخه کې ۴۰% ده دژوند کچه له نظره نتیجی تشعشع سره نسبت جراحی ته ښی دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: دشعاعي تراپي عملیاتو نه مخکی او وروسته جراحی یوځای اجراکولو پروګرام په اوسنی وختو کې څیړنی لاندی دي په دې امید سره چی ژوند اندازه به نوره هم لوړه شي لاکن تر نن ورځی پوری نتیجی په زړه پوری نه دی.

E: دمقدم افت د Metastasis لپاره کیموتراپي ډیر لږ ګټه ورکوي.

F: دناروغانو په یو لوی برخی کې دتراپي اساسي موخه عرضي تداوي کول دی اوددی مقصد دحاصلولو لپاره باید شعاعي تراپي یا جراحي دجملی څخه یو دانتخاب کړی شي که ناروغان په توجه سره انتخاب شي نو که دواړه تراپي یوځای اجرا شي نو ناروغ ته دګټی په عوض زیات نقصان ورکوي.

G: شعاعي تراپي یو ښه Palliative طریقه ده چی ښه عرضي عکس العمل تقریباء په ۵۰% ناروغانو ورکوي او نسبتاء ښه عکس العمل په ۲۵% نور ناروغانو کې هم لیدل کیږي.

E: دعسرت بلع څخه په موقتي ډول خلاص والي لپاره د یو مصنوعي تیوب د Endoscope په ذریعه په دی توګه چی تومور باندی دپل کار ورکړي یو ښه طریقه ده.

۱- SMH کې د درجه بندي لپاره په زړه پوری پلانونو لنډ یز :

د ۱ مرحلی ۱۱ لپاره:

عملیاتو څخه مخکی تشعشع او جراحي لاکن د پورته ذکر شوي پرنسیپونو په اساس په انتخابي پیښو کې یواځی یو میتود هم استعمالیدای شي.

د III او IV مرحلی لپاره:

که د فیستول تثقب صورت نیولی وي نو Gastrostomy مضاداستطباب لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

VI: شعاع ورکولو طریقی:

A: Super voltage تشعشع: یو ډیر لوی شعاعي ساحه استعمالیږي چی په طولاني جهت ۲۰-۲۵ سانتي متر ته رسیږي چی دټولو مری خپل تاثیر لاندی راوستلو Surity ورکوي ساحی پراخوالی یواځی ۵-۶ سانتی متر دی چی سږو ته دشعاع دوز کمولو کې مرسته کوي.

B: داساسي ماوفی ناحیی لپاره Tumorocidal دوز rad ۶۰۰۰ د ۴-۶ هفتو لپاره دی څرنګه چی تراپي پرمخ ځي دشعاع ساحه هم کمیږي اواخرنی یوځو زره Rad جی ۱۵ اوږدی ساحه کې اچول کیږي.

C: دعملیاتو مخکی یا وروسته شعاعي تراپي اجراکول معمولا Subcan cericdal دوز په حدود دی عملیاتو څخه مخکی شعاعي تراپي د Nakagana له خوا rad ۲۰۰۰ په یو هفته کې او Cliffon etal لخوا rad ۶۰۰۰ یعنی مکمل دوز ۶ هفتو کې ورکړل شویدی (۳) دعملیاتو څخه وروسته شعاعي تراپي د Reconstruction لپاره ۴۵۰۰ نه تر ۵۰۰۰ پوری دمعدی یا کولون دشعاعي حساسیت د لوړ اندازی له کبله ورکړل شویدي.

مری:

دتراپي په ابتداکې تثقب یا نزف بنایي منځ ته راشي کوم چی دمرض طبیعي تاریخچی یوه برخه ده یا وروستنی مرحلو کې التصاق منځ ته راځي.

سږي:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابتدا کې ښايي چې دتراپي څخه وروستنی موده کې شعاعي Pneumonitis منځ ته راشي او وروسته له هغه څخه شعاعي Fibrosis تشکل کولای شي دا اختلاط ډير عموميت نه لري اودناروغانو په يو کوچني فيصدي کې منځ ته راځي نور اعضاء لکه زړه او شوکي نخاع ډير کم ماوف کيږي.؛

مستعرض Myelitis

د rad ۵۰۰۰ څخه زيات دوز دتطبيق نه وروسته ليدل شويدي.

VII: پايلی

A: دشعاع تراپي يا جراحي دواړو سره نتيجی تر نن ورځ پوری ډير خراب دی.

B: په Edinburgh کې نتيجی

۳۹ – عمليات کولو وړ نه وو يا د عمليات په وخت قطع کولو وړ نه وو = (۲۱)

۱۸- دجراحي عمليات په نتيجه کې مړه شول. = ۴۳

۱۷- په اوسنی کال کې د Metastasis دکبله مړه شول = ۲۲

۱۸- دپاتی شوی Metastasis دکبله مرګونه = ۸

ددغو ۸ دجملی څخه ۳ دقطع کولو نه وروسته ۵ کالو نه لږ ژوندي پاتی شول اويا بيله Metastasis کوم بل علت سره مړه شول.

دټولومراجعه کوونکو لپاره په کالو ژوند اندازه ۵% چې معمولا راپور شوی اعداو څخه زياته ده ګرچې Smeets (۱۵) په يو شمير کې ۵ کالو ژوند اندازه ۸% ښودلی ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: نتیجه په ښکتنی مری کې نسبت پورتنی صدري مری کی چیرته چی هیڅ د ۵ کالو ژوند اندازه نشته ښه دی زیادتره جراحان داسی فکر کوي چی پورتنی صدري مری کانسر کې دقطع کولو کوشش په ډیر غیر معمولي واقعاتو کې اجراشي (لاکن ځوانو ناروغانو کی کوچنی افت شتوالی او انتشار په نشتوالي).

D:دا تداوي د دواړو ستندر میتودونو سره دخرابو نتیجو له کبله په ځینو مراکزو کې چی دعملیاتو څخه مخکی تشعشع او په تعقیب سره قطع کول په یو ځای توګه اجراکوي دتداوي میتود په حیث اختیار شویدی Semmour او Pettit دیوځای تراپي سره ددوه کالو ژوند اندازه ۱۲% مشاهده کړیده په داسی حال کې چی دهغوی ابتدایي تجربی اساس یوائی جراحي سره داندازه ۲۰% اویوائی دتشعشع نه وروسته ۵% وه. دقطع کولو سره دهستالوژي پواسطه په زیادتره Specimen کې دتوموري حجراتو یقیني ولیدل شوی لاکن تومور کوچنی و او قطع کول یې تداوي سره کومک وکړ (داډول مطالعه دومره مهم نه ده چی په کوم کې ناروغان په هغه زمان Roudomize کیږي په عوض ددی چی په مختلف زمانی وقفو کې تداوي کړی شي).

E: د SMH دمطالعاتو په لړ کې دشعاعي تراپي سره یوځای یو ناروغ ۵ کالو پوری ژوندی پاتی شو.

F: په طبي Literature کې بهترین نتیجی جاپان څخه د Nakayame له خوا راپور ورکړل شویدی. په دی راپور کې دعملیاتو څخه مخکی تشعشع اوجراحي یوځای اجراء شویدی دامطالعه تراوسه پوری یوائی دتحقیق کوونکو لخوا تاییدشوی نه دی.

دعلوي اووسطي صدري مری دکانسر دتداوي نتیجی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ۳ کالو ژوند اندازه

۱- دعملیاتو څخه مخکی تشعشع شوي ۴۴ پیسی ۴، ۴۴ ژوندی

۲- یوائی قطع شوی تشعشع شوی ۲۸ پیسی ۷، ۲۱ ژوندی

۳- یوائی تشعشع شوی ۱۲۸ پیسی ۸، ۲ ژوندی

G: د Edimbargh اوسنی تجربی اساس چی Pearson (۱۰) لخوا راپور ورکړل شویده چې په کی دمری دټولو سویو د Squamous کارسینوما لپاره دفواد په شمولیت سره یوائنی تداوي جذري شعاعي تراپي rad/۲۸ ۵۰۰۰ ده چی نتیجی یې ۲۰% د ۵ کالو ژوند اندازه ورکوي patients ۲۰/۹۹ چی ناروغ ۳ نارمل معدی، نارمل اواز سره ژوندی وه او ښه نشونما یې هم لرله چی په موازي جراحي پیښو کې دژوند اندازه دوه چنده کوي.

H: د Rider او Mendoza (۱۲) لخوا دشعاعي تراپي طریقو مقایسه په ۴۴۲ اجراشوه (د تورنتو Pricess mangrett روغتون کې) د Zmerbetaron طریقی لپاره بهترینه یا ښه ژوند اندازی ښودلی دی (۳ کالو ژوند اندازه ۲۳%) په نسبت د دوایي دوری یا ثابت ساحی Tole cobalt طریقی (۳ کالو ژوند اندازه ۴-۱۰ %)

۱- دمری دکانسر ۱،۸۵۹ واقعاتو دتفصیلي تحلیل یا تجزیی په اساس ۲۲۰ پیښی انتخاب شوي او په مقدم توګه جراحي پواسطه تداوي شوي دجراحي مختلف ډوله طریقو یو ۲،۱% ژوند اندازه ورکړه چی دهغوی په جلد کی Esophagectomy او Esophago gastrectomy ۵،۴% ژوند اندازه ورکړله patients ۹۱/۲۴ او Esophagectomy او Delayed transplant په ۱۹،۳% ژوند اندازه ورکوي (۲/۳۱)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دعملیاتو څخه مخکی تشعشع (په لوړ دوزونو) څرګند وي چی دقطع کولو وړتیا زیاتوي (۳۴،۴ % نه ۲۱%) لاکن ژوند اندازه نه زیاتوي.

دمعدی کارسینوما

۱- پیژندګلوی:

A: دمعدی دخبیثه تومور د ډلی څخه Adeno carcinoma دټولو څخه زیات عمومیت لري چی تقریبا ۹۷% یې تشکیلوي.

۱- د Sarcomas په ډله کې (معدی خبیثه افاتو پاتی ۱% نه تر ۳% جوړوي) ۲۰% لمفوما Lyemosarcoma وروسته Adeno carcinoma نه زیات واقع کیږي.

۲- Leimyoma دمعدی ډیر معمولي او سلیم تومور دی چی د Autopsy په معایناتو کې ډیر لیدل کیږي لیکن دکلینیکي اعراضو ورکولو له نظره ګیلی زیاتی نه وي ددی خو معمولي ګیلی یې د معدی معایي کتلوي یا Occult نژف دی.

B: Adeno carcinoma وقوعت په جاپان، چیلي او ایس لیند کې ډیر لوړ دی (پورتنی ټول هیوادونو کې دوفیاتو اندازه د USA دسپین پوستو نفوس په نسبت ۴ ځلی زیاته ده).

۱- په USA کې چې اوسیدونکي جاپانیانو کی نسبت د نورو نژادو خلکو ته زیات لیدل کیږي.

۲- په هغه خلکو کې چی ټیټ اقتصادي وضعیت لري ډیر لیدل کیږي هم دارنګه هغه خلکو کې چی زیات نشایسته لرونکی غذاء او په کمه اندازه تازه میوه جات او سبزیجات لرونکی غذا باندی تغذیه کیږي زیات مینځ ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: شیوع

په USA کې نران زیات اخته کیږي نسبت یې ۲:۱ دی همدارنګه نوره نړۍ کې هم نران زیات اخته کیږي البته اندازه یوڅه بدلون لري.

D: وفیاتو اندازه :

په یو منځني او وروستنی عمر کې ددې ناروغی د وقوعاتو لوړ اندازه د ۵۰ نه تر ۵۹ کلنی تر منځ زیات لیدل شوی دي.

E: سببي فکتورونه:

۱- څرنګه چې پورته هم ذکر شول نامناسبه غذا.

۲- دمعدی پولیپ چې دا نادر افت دی، ښایي چې دکانسر څخه مخ کې مینځ ته راځي دناروغی خپریدونکی ایلچي وي .

۳- خبیثه کم خوني:

د Adeno carcinoma سره یوځای خبیثه کم خوني وقوعات هم لوړ وي لاکن تراوسه ددواړو ترمنځ سببي اړیکی په پوره ډول څرګند شوی نه دي.

۴- دمعدی قرحه د ډیری مودی څخه داسی ګمان کیږي چې دمعدی سلیم قرحه امکان لري چې په خباثت بدله لاکن داسی هم واقع کیدای شي لاکن نادرا یو زیات شمیر معدوي کانسرونه تقرح کوي لاکن نوموړی دابتداء څخه کانسري وصف لري.

F: موقعیت

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵۰% څخه زیات په Pyloric ناحیه کې واقع کیږي، ۲۵% څخه زیات په صغیره انحناء کې شتون لري، ۱۰% څخه کم دکارديناک په معصره کې او تقریباء همدی اندازی Neuropathy ټولو معدی کې واقع کیږي، او ۲% نه تر ۳% پوری کبیره انحناء کې واقع کیږي لاکن دکبیره انحناء په امتداد کی سلیم قرحات ډیر زیات نادر دي اوله دی کبله په نوموړی ناحیه کی هره یوه قرحه باید دکانسر اشتباه ونیول شي.

G: اهمیت

د USA دکانسر مړینی ۱۰% جوړوي، لاکن په USA کې په تیرو ۳۰ کالو کې ددی وقوعاتو اووفیاتو اندازی کمی شویدي اوددی دکمیدو لامل معلوم شوی نه دی.

II: کلینیکي بڼه:

A: د اپي ګستریک ناحیی مبهم نارامي چی دعادي طبي تداوي سره ځواب ونه وایي او دبی اشتهایي او وزن بایللو سره یوځای یا پرته له دغو اعراضو شتون لري نو باید د معدی دکارسینوما امکان رد نه کړی شي.

B: دټپ په ځینی ډولونو کې درد کم عمومیت لري لاکن بیا هم که دقرحی اعراض موجود وي اودعادي طبي تداوي سره ځواب ورنکړي نو دمعدی کارسینوما څه ناڅه څارنه وشي.

C: داوسپنی فقدان کم خونی چی کوم څرګند سبب ونه لري دمعدی معایي یو افت په شتوالي لارښوونه کوي او معدی کانسرونه د Metastasis د ورکولو پوری هیڅ ډول اعراض نه ورکوي خو کله چی د ریکتم Shelf (په حوصله کې د پریتوان Implants څخه) یو Nodular ځیګر د یا Ascitisدتوموري میتاستازس له کبله د لیدنی وړ وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

III: تشخيصي څيړنې

A: دمعدی معايي څخه Occult وينی راتګ لپاره دغايطه موادو معاينه هغه وخت ډير اړينه ده چی د داسی کم خوني سره يوځای وي چی لامل يې څرګند نه وي خصوصاء د Hypochromic Microcytic وصف لري.


B: دمعدی عصاری انالیزس:

دمعدی دقرحی ناروغانو کې د Achlorhydria شتوالی دمعدی کانسر ته لارښوونه کوي اودبطني پلټنې او معاينه ته ضرورت لري چی معلومه کړای شي چی نوره د ګيدی معاينه په نورمال ده او دناروغ عمومي وضعيت دمعاينې لپاره برابر دی او که نه.

C: دعلوي معدی معايي Series دتشخيص لپاره دټولو نه ښه ميتود دی يو ماهر Radiologest اکثرا دمعدی ديو قرحه سليم يا خبيث طبيعيت تشخيص کولای شي په داسی حال کې چی د ډيرو موقعيتونو څخه اخيستل شوي ښه عکسونه ورسره موجود وي خو د کړنلارو د حل لپاره خپلی موخی ته رسيدای نه شي.

D: دمعدی يو سليم تومور چی د X-ray پواسطه ۴-۶ هفتو کې ترميم شي نو دخباثت اتکل بايد رد شي.

E: Exfoliate cytology چی Abravis ballon يا Chromatrip singlarage استعمالوي که مثبت وي ډير غوره نتيجه ورکوي لاکن ډير دا کار وخت نيسي او ډير ماهر پرسونل ته ضرورت لري.



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Benign (left) and malignant (right) gastric ulcer

F: ولچک ور (الاستیکي) ګستروسکوپ اودمعدی کمره دمعدی مخاطي غشاء امکاني منظره بیله کوم مشکلاتو په لاس کې راوړي او هغه ډول معدوي قرحاتو یا Polypoid افاتو په باره کې دپیداسوالونو دمعلومولو او حلولو لپاره کمک کوي.

G: دځیګر Scan :

کله کله دځیګر Metastasis تشخیص کوي او یو بی نتیجی Laparatomy څخه مخنیوی کولای شي.

لاکن داطریقه دځیګر هغه Metastasis چی 5cm.۵ څخه کم وي او ځیګر کی ژور موقعیت لري په تشخیص کې لږه مرسته کولای.



په پورته شکل کې دمعدی کانسر ښودل شویدی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

IV : تصنیف بندي:

A: اناتومیک تصنیف بندي:

اولنی مرحله : دمعدی جدار پوری محدود (معدی جدار عضلاتو کې برید کړیدی بیله دی چی مجاور احشاو یا عقداتو ماوف کیدو په کې شتون ولري موجود وي) د عملیاتو اوقطع کولو وړ افت دي.

دوهمه مرحله: معدی پوری محدود (تر سیروزا طبقی پوری نفوذ) دعقداتو ماوف کیدو لیدنه د میکروسکوپیک دنظره دعملیات او قطع کیدو وړ دی.

دریمه مرحله: دملحقه مجاورو اعضاو ته انتشار لکه ځیګر پانقراص، مستعرض کولو ن کله کله دلیدنی وړ مثبت عقداتو سره یوځای د عملیاتو وړ دی لاکن معمولاء دقطع کولو وړ نه دی.

څلورمه مرحله: دلیری ځایو Metastasis خصوصاً ځیکر، دپریتوان جدار Rectal shaft مبیض Krunkenberg تومور) عملیات یواځی دتشخیص داثبات لپاره اویاداعراضو دمنځه وړلو ازادولو لپاره لکه دپیلور انسداد اجراء کیږي.

B: دتومور ډولونه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- په محیطي توګه انتشار کوونکی کارسینوما یو غیر معمول ډول چی یواځی مخاطي غشاء ماوف کوي چی اکثراء منځنی برخی یې سالم پاتی کیږي.

۲- تقرحي کارسینوما: ددی ټولو څخه عادي ډول دی چی ژور تقرحي افت نه ورکوي بلکه سطحي وي اویوه پراخه نودول څنډه لري.

۳- Polypoid کارسینوما: دمعدی په لومن کې دجلا جلا افتونو په څیر وده کوي.

۴- Linitis : غیر معمول ډول دی چی ضخیم Nodular او مخکی څخه کوچنی شوی جدار سره یوځای وي چی هستالوژي پواسطه یو زیات اندازه دفایبروس نسج په کی لیدل کیږي.

V: دتداوي پرنسیپونه

A – جراحي انتخا بي میتودی لاکن دومره غوره عملیه نه ده .

۱- جذري Subtotal Gastrectomy چی عادي انتخابي تداوي ده اودمعدی لویه برخه د Lesser greater omentum سره یوځای لری کوي. چی ځینی وخت Splenectomy او Distal ancreatectomy هم ورسره اجرا کیږي (Omenta اوطحال ددی لپاره لیری کیږي چی هغه ناحیه تخلیه کوونکی لمفاوي عقدات قطع کولو ته اجازه ورکوي. که نژدی اعضاو ته مستقیم انتشار صورت نیولی وي لکه ځیګر یامستعرض کولون ته نو د نومورې اعضاو ماوف شوي برخی د لیری کولو پواسطه تداوي کیږي Gastro jejunostomy یا Gastrodudenostomy پواسطه بیرته ترمیم یې صورت نیسي.

۲- تام Gastrectomy هغه وخت استطباب لري چی د موضعي افت لیری کول موخه وي ددی میتود عادي استعمال په داسی ځای کې چی Subtotal gastrictomy کترکتومي کار اخیستل کیدای شي دعملیاتو زیاته Morbidity او Mortality کې منځ ته راوړي. اود

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵ کالو څخه کم دژوند هیله لري. او که چیری تام ګستریکتومي ناروغان داو د ډیر وخت لپاره ژوندی پاتی شي نو نوموړی ټول ناروغان (دپراخی ناتام ګستریکتومي ځینی ناروغان) په خبیثه کم خونی اخته کیږي اوداوسپنی فقدان کم خوني باندی هم اخته کیدای شي.

B: شعاعي تراپي اوکیموتراپي د معدی کارسینوما په جراحي تداوي کې موثر کمک نه کوي.

C: کیموتراپي د پرمخ تللو ناروغیو او هغه معدی کارسینوما چی دعملیاتو وړ نه دی Palliation په منظور استعمالیدای شي. لاکن دضعیف عکس العمل په شتوالي کې خطري جنبي تاثیرات او ناروغ ته نارامي دهغو اعراضو دوزن سره مقایسه شي کوم چی دعرضي تداوي پواسطه لیری کول غواړو.

۱-FU ۵ جی دورید دلاری په اونی کې یوځل په وقفوي دوز په اندازه تطبیق کیږي چی دیو Loading دوز سره یوځای یا بیله هغی دوز څخه وي دهغه ناروغانو په ۱۵-۲۰% کې چی سمیت مقابل کې زغم لري دافت یو په زړه پوری Regression منځ ته راولي.

۲- C Mitomycin چی یوانتي بیوتیک دی دمعدی په کارسینوما کې تراپیوتیک فعالیت ښکاره کوي او ۲۹% ناروغانو کې څرګند عکس العمل ښکاره کوي ۲۸/۳۲۹ inssris چی مخه نیسي چی د موضعي او هډوکي مخ سمیت په کې لیدل کیږي.

D: دمعدی یوائی د Lymphosarcoma عادي تداوي قطع کول دی او که لمفاوي عقدات یې هم lympho sarcoma لري نودعملیاتو څخه وروسته X-ray تراپي مهم ده نو که

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عقدات ماوف شوی نه وي نو شعاع معمولاء نه اجراکیږي که دمعدی Lympho sarcoma دمنتشری ناروغی په څیر موجود وي نو شعاعي تراپي انتخابي تداوي ده.

E: دمعدی Leimo sarcoma لپاره قطع کول موثر دی لاکن دکارسینوما په نسبت لږ Radical جنبه لري نوموړی افات نادرا لمفاوي عقداتو ته Metastasis ورکوي او دعقداتو لیری کولو ته ضرورت نه لري.

F: دهغه افاتو Palliation لپاره چې دشفا وړ نه دی بهترینه طریقه دافت قطع کول دی چی یوه وینه ورکوونکی ناحیه یا انسدادي ناحیه ددی په واسطه لیری کیږي دجنبي لارو Anastomose چی افت په خپل ځای پریږدي او بطني علوي برخی ته شعاع ورکول نادرا دکتنی وړ ارام ورکوي.

VI: نتیجی

A: تداوي: دتداوي پواسطه ضعیفي او ناهیلی پایلی لاسته راغلی دي.

B: په Minopalis کې نتیجی.

دمعدی کارسینوما ۱۰۰ ناروغان

۱۵ ناروغان دعملیاتو وړتیا نه لري = ۸۵

۳۴ ناروغان د جراحي عملیات په وخت کې داسی افت درلود چی دقطع کولو وړ نه و = ۵۱

۷ دجراحي عملیاتو په نتیجی کې مړ شول = ۴۴

۳۱ د Metastasis په نتیجه کې مړه شول =

۱۳ چی ۵ کالو پوری ژوندی پاتی شول

C: په جنوبي Carrolina کی نتیجی:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمعدی کارسینوما ۱۰۰ ناروغان

۴۲ ناروغان دعملیات کیدو وړ نه وو = ۵۸

۳۸ ناروغان د عملیات په وخت کې داسی افت درلوده چی دقطح کولو وړ نه و = ۲۰

۳ ناروغان دجراحي عملیات په نتیجه کې مړه شول =۱۷

۹ د Metastasis په نتیجه کې مړه شول = ۸ ناروغان په کالو پوری ژوندي پاتی شول

نوموړی Series د Mineapalis دتجربی څخه لوی هیواد دپاره تیپیک ده.

D: دلمفاوي عقداتو دماوف کیدو شتوالی یا نشتوالی، دشفا کولو په غرض اجراشوی Resection دکامیاب کیدو یاناکام کیدو دمعلومولولپاره دیو اساسي فکتور په حیث رول لوبوي، دجنوبي کرولنیا په سریز د منفي عقداتو سره تقریبا ۲۷% او مثبت عقداتو سره تقریباء ۰% ناروغان چی Resection وروروباندی اجراء شوی وه په کالو پوری ژوندی پاتی شول.

E: شعاعي تراپي او کیموتراپي (FU ۵) یوځای اجراء کول د MWyo په کلینیک کې دژوند اندازه زیاتولو کې ناکام شویده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکوچنیو کولمو تومورونه

پیژندنه

A: وقوعات

۱- کوچنی کولمی په عضویت کې دټولو نه لوی اپتیلیل نسج لرونکی عضوه ده لاکن دکوچنیو کولمو کارسینوماګانی یا نور تومورونه ډیر نادر دي.

۲- Massachusetts general Hospital : د ۱۹۱۳-۱۹۵۷ کال پوری یواځی ۱۳۲ کوچنیو کولمو داسی تومورو ته تداوي شویدي چی کلینیکي اهمیت یی درلود . دنومورې ۱۳۲ پیښو وقوعات په لاندی ډول دي:

	اثناعشر	جوجیونم	الیوم	%
سلیم تومورونه	۱۴	۲۰	۱۲	%۳۵
کارسینوئید	۰	۰	۱۵	%۱۱
کارسینوما	۱۰	۱۹	۴	%۲۵
لمفوما	۰	۱۲	۱۷	%۲۲
سرکوما	۱	۴	۴	%۷

B: د Adeno metraspleup ټولو څخه زیات عادي سلیم تومور دی.

C: کارسینوماګانی په اثناعشر او جیوجیونم اولنی یو څو عرواتو کې عمومیت لري. د Ampulo of vater کارسینوما په دی مطالعی کې شامل شوی نه دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: د Carcinoids د ۱۵ مریضانو د جملی څخه یوائی دوه په Carcinoid سندروم اخته شو.

B: Carcinoid syndrome

۱- ددی اعراضو په جمله کې د Episode په ډول اوبړین اسهال بطني کرمپونه دپوستکي متناوب Flushing دیو متحول او Ratchy په ډول داستما په څیر اعراض دښي زړه دمسامو افاتو خصوصا Pulmonic stenosis او Triicuspid regurgitation شامل دی.

۲- Carcinoid زیاتره کولمو کې واقع کیږي او دکولمو دافت له کبله دنوموړي اعراضو تولیدیدو لپاره باید دځیګر منتشر Metastasis موجود وي دا زیاتره دکوچنیو کولمو په Carcinoid کې عمومیت لري (همدارنګه که چیرې Carcinoid په داسی ځای کې موقعیت ولري چې دباب الوریدي دوران څخه دباندی وي لکه قصبات نو نوموړی سندروم ښایي چې بیله دی چې دځیګر ماوف کیدو منځ ته راشي.

۳- دکولمو Carcinoid اپندکس کې زیات واقع کیږي لاکن څرنګه چې نادراء Metastasis ورکوي نو ځکه داپندکس دافت سره یوځای کارسینوئید سندروم غیر معمول دی همدارنګه ریکتم کارسینوئید چې معمولاء دیو وړوکی پولیپ په څیر او تصادفاء د Sigmoide scopy په اوږدو کې څرګندیږي نادراء Metastasis ورکوي او هم له دی کبله نادراء اعراض تولیدوي.

۴- داسی یو سندروم دی چې د Histamine seratoni یا یو Peptide لکه Bradykinine دلوړ مقدارونو دتولید له کبله منځ ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: Peutz Jeghers syndrome

۱- یو سندروم دی چی په جنتیک ډول منځ ته راځي او اول داسی خیال کیده چی Mendellion dominant وصف لري لاکن اوس داسی ګمان کیږي چی ناتام Peneterance سره ملګرتیا کوي.

۲- مریضان د ژوند په اولنی مرحلو کې دپوستکي صباغات ښکاره کوي چی په شونډو اودخولی دجوف مخاطي غشاء کې د کوچني مدور یا بیضوي داغونه چی نصواري یا حتی تورر نګه صباغات په ځیر وجود لري دامریضان تیره نصواري یا تیاره بی رنګه Irises هم لري، وینښتان یې هم تیاره رنګ لري.

۳- داډول مریضانو کې معدی معایي پرولیپونه شتوالی توقع ساتل ښه دي اکثرا ئې سلیم وي چې Human tomas هم کیدای شي لاکن کم ترکمه ۲ واقعات Metastasis carcinoma هم لیدل شویدي چی ددی جملی څخه ۴ مریضانو په اثناعشر کې مقدم افت درلود.

D: په کوچنیو کولمو کې واقع شوی لمفوما ښایي چی دانسداد لامل شي او په غیر عمومي توګه داسی راپور ورکړل شویدی چی دکولمو انسداد سره یوځای Steatorrhea او بطني دردونو لامل کیږي په داسی حال کې چی محیطي Lympho adenopathy هم موجود نه وي.

II: کلینیکي منظره:

A: دټولو څخه زیات عمومي عرض یې انسداد دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- سلیم تومورونه په کاهلانو کې زیادتره د Intussuscption لامل کیږي.

۲- کارسینوماګانی د Napkin حلقوي تضیق په ذریعه انسداد پیدا کوي.

۳- لمفوماګانی زیاتره دحمله کولو، اعصابو تخریبولو پواسطه دکولمو تحرکیت خرابوي اوانسداد منځ ته راولي اوحقیقي تضیق په ذریعه انسداد نه تولیدوي.

B: داعراضو ورکوونکي مریضانو په نیمایي کې خون ریزي واقع کیږي.

۱- دکوچنیو کولمو تومورونه د ځینی وخت نامعلومه Melana لامل کیږي.

C: دبطن کینی کتلی داعراضو سره یا بی دکوم اعراضو د وجود درولودای شي.

D: تثقب عمومیت نه لري لاکن معمولاد لمفوما یا سرکوما سره ارتباط لري.

E: د Malabsorption سندروم چې Sprue په ځیر منظره لري لمفوماګانو سره نادراء واقع کیږي.

III: تشخیصي ځېرنی

A: کوچنی کولمی چی د X-ray پواسطه یا دبل کوم میتود پواسطه په ډیر مشکل سره معاینه کیدای شي لاکن که څه هم دکوچنیو کولمو Radiographic معاینه په مثبته پیښو کې باید اجراشي.

B: که دمعدی معایي جهاز پتهٔ خونریزي موجود وي اوسبب یې معلوم نه وي نو دیومناسب سوري لرونکي String تیرول د X-ray پواسطه موقعیت اندازه کول. د Flourescein زرق کول، د String دایستلو نه وروسته د وینی یا د Flourecein سویه معلومول، ښایي چی دخونریزي سویی خواته لارښوونه وکړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: دکوچنیو کولمو ورسول شي اوزیات شمیر Aspiration او د Occult وینی معاینی اجراء شي چې دخونریزي موقعیت تعین کولو کې کومک کوي.



په شکل کې دکوچنیو کولمو کانسر ښودل شویدی

D: د Celiac یا علوي صاریقی شراینو Angiography ښایي چې دکوچنیو کولمو نامعلوم نزفي موقعیتونه ښکاره کولای شي.

E: همدارنګه د نزف موقعیت معلومولو لپاره بطني لتولو ته ضرورت پیښیږي لاکن ښایي چی ګټور ثابتیږي دعملیاتو څخه مخکی کوچنیو کولمو تیوب موقعیت ټاکل په تیوب کې کولمی هموار Pleating پواسطه تیوب موقعیت ټاکل په تیوب کې کولمی هموار Sigmoidoscopy استعمال ښایي چی داسی ډول کوچنی تومورونه ښکاره کوي چی عادي میتودونو پواسطه معلومیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

F: په ادرارو کې HIAA ۵-Hydroxyindol acetic acid چې دسیروتنین دټوټه کیدو محصول دی، اندازه کول ښایي چې Carcinoid سندروم تشخیص په ټاکنه کې کومک کوي.

G: دپوستکي او مخاطي غشاګانو معاینه کې دصباغاتو ناحیې په دقت لټول ښایي چې د Jegher syndrome تشخیص تبارز کوي.

IV: دتداوي پرنسیپونه او نتیجې

A: زیاتره افات دجراحي عملیاتو پواسطه تداوي کیږي یا د Enterotomy هم سلیم افت ورسره لیرې کیږي اویا دکولمو قطع کولو او Anostomosis په ذریعه

B: دکوچنیو کولمو لمفوما قطع کول دعملیاتو وروسته X-ray تراپي سره یوځای او بې دهغوی ښایي چې دژوند اندازه اوږدوي.

C:همدارنګه کارسینوماګانې چې مساریقه لمفاوي عقداتو نه Metastasis کوي دنومورې عقداتو په پراخه پیمانه قطع کول لازمي کوي. (چې د Sarcoma دجملې څخه ډیر عمومیت لري) مساریقه عقداتو ته میتاستاز نه کوي او مساریقه عقداتو په محدود توګه قطع کولو ته اړتیاء پیدا کوي.

D: Carcinoid که څه هم په منتشر توګه ځیګر ته میتاستاز کړي. مریض ډیر وږو وږو وژني. دمقدم افت قطع کولو ته دانسداد د مخنیوي په منظور اجازه لري. که څه هم Metastasis مرض موجود وي داعراضو څخه ارامتیا د Para chlorophenyl alanine داستعمال سره په دې اوسنۍ وخت کې لیدل شویده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

H: دکوچنیوکولموټول خبیثه تومورونو خراب انزار لري چې ددی جملی څخه Carcinoid ډیر زیات بارز دی نوموړی تومور مجموعاء په کالو ژوند اندازه د ۲۰% څخه نه زیاتیږي.

دکولون ، ریکتم او مقعد تومورونه

۱- Introduction

A: وقوعات: په USA کې په ۱۹۷۰کې دکولون او مقعد دکانسر څخه مرګ اندازه ۴۵،۸۰۰ وه په داسی حال کې چې دکوچنیو کولمو دکانسر وفیاتو اندازه ۷۵۰، ۰ دمعدی ۱۵،۲۰۰ دمری ۲،۱۰۰ دسږو ۲۱،۷۰۰ بالترتیب وه USA کې دوجود دی ځای څخه واقع شوی مرګ اندازی کې په دریم ځای باندی لوړ اندازی څخه ښودنه کوي. دسفلي معدی معایي لیارو تومورونو وقوعات په جاپان او فنلینډ کې ډیر کم او برخلاف دمری معدی کانسر واقعات لوړ اندازه لري.

B: شیوع


په USA کې دکولون او ریکتم کانسرونه دواړه جنسونه په مساوي توګه مصابوي اودهغه داخلي کانسرو د جملی څخه دی چې ډیر زیات واقع کیږي.

C: **عمر**

دوه پر دری برخه د ۵۰ کلنی څخه زیات عمر خلکو کې واقع کیږي، ګرچی دفامیلي Polyposis یا تقریحي Colitis سره کانسر د ژوند په نسبتاء لمړی مراحلو کې لیدل کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



شکل کې سلګونه د Adenomatous Polyps لیدل کیږي چې د فامیلي Adenomatous Polyposis څخه ایستل شویدی

D: اتیالوژي

0 - دکولون فامیلي Peltposis : دا یو ارثي مرض دی او په دواړو جنسونو کې د Mendelion بارزو وصف په توګه انتقالیږي نوموړی Polype دخباثت خواته بدلیدو د پاره کتنی وړ میلان لري. چې دغوانی په عمر کې Colon کانسر کی دامعمول وي د Polyposis داعراضو دشروع کیدو نه ۱۵ کاله وروسته دکولون څخه وروسته دکولون په ټولو برخو کې کانسر چې د مرګ وسطي عمر یې ۲۷ کاله ده (داد Duke دمطالعی په اساس ۴۰) نوموړی په ۴۱ فامیلو کې د ۱۵۲ مریضانو د جملی څخه ۱۱۴ مریضانو کې کانسر پیدا کړو.

- 1

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



دمخاطي غشا Pigmentation ښيي چی د Peutz Jeghers سندروم لپاره وصفي ده

۲- داوړدی مودی Colitis لرونکي مريضانو کې مزمن Ulcerative colitis شتوالی د کانسر توليديدو حتمی ننبه ده، ډيرو مريضانو چی اعراضو کې هريو بدلون بايد داشتباه دنظر وليدل شي داکانسر کثير المرکز منشا او ډير خراب انزار لري. دکانسر دمنځ ته راتلو څخه مخکی Colitis د دوام موده ۱۲ کاله ده او دخباثت خواته بدليدو لپاره ۲۸ کاله ده.

۳- Diverticulosis او کانسر ښايي چې يوځای وليدل شي او ښايي چی د X-ray Lepratomy نه وروسته دګراس دنظره تفريق کول ګران دي لاکن داسی کوم شواهد وجود نه لري چې دکانسر په توليد کې د Diverticulosis رول لري.

۴- Hemorrhoid : دريکتم کانسر چی ډير معمولي افت دی او د Hemorrhoid سره يې تراوسه کوم ارتباط معلوم شوی نه دي لاکن که څه هم Hemorrhoid دريکتم څخه دوامداره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وینی راتلو اویاداسی نورواعراضو یواځنی سبب ندی ګڼل شوي خو ورسره یوځای د کانسر پلټنه په کار ده.

۵- Adeno matouspolyp

دایوډول کوچنی سره بخن افتونه دي چی اکثراً Stalk لري او د Colon په اوږدو کې په هر ځای کي پیداکیدای شي عموما په ریکتم او Sigmoid برخه کې وي په دې باره کې اختلاف موجود دی چی ایا نوموړی دخباثت لمرنی افات دی یا نه؟

همدارنګه هغه افات چې د Sigmoidoscop په ذریعه په اسانی سره کیدای شي د تشخیص لپاره باید Histological معاینه اجراء شي.

څرنګه چی ځینی کانسرونه د Polypoid په ډول وده کوي نو دباریوم امالی نه وروسته چی کوم افت د Sigmoidsop دسویی څخه پورته ولیدل شي د ډیرو مشکلاتو سبب کیږي. Grinmell داسی تجویز کړی چی که افت دقطر دنظره د څخه کوچنی وي نو د دی امکان زیات دی چی نوموړی افت خباثت خواته ځي خصوصاً که افت Stalk هم ولري که دا افتونه دهستالوژي له نظره هم خبیث وي نادرا Metastasis ورکوي.

۶- Villous adenoma

دایو ډول اسفنجي هموار اوبی حرکته افت دی چی د Colon دجدار څخه منشاء اخلي (معمولاً په ریکتم یا Rectosigmoid ناحیه کې لیدل کیږي). چی Stalk لري او زیات شمیر ذغابات داستطالی په څیر لري، خپریدونکی کانسرامکانات چی نوموړی افاتو کې نسبت Adenomatous پولیپ ته زیات دی.


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- دکیمیاوي Carcinogenic مواد دکولون دکارسینوما په منځ ته راتلو کې رول لري او ښایي چې مزمن قبضیت دا رول نور هم قوی کړی لاکن تر اوسه تثبیت شوی نه دی.

E: موقعیت

۱- داکانسر ۳۸% په سیکم او صاعده Colon کې ۱۸% مستعرض کولون او طحالي زاویه کې ۱۸،۹% په نازله کولون کې ۳۵،۹% په سګموئید او په ریکتم کې واقع کیږي ددی ډول توزیع د پاره کوم واضح دلیل یا تشریح وجود نه لري.



په شکل کې د کولون د کانسر موقعیتونه ښودل شویدي

۲- په اپندکس کې Adeno carcinoma نادره ده البته Carcinoid ډیر عمومیت لري او نوموړی د Meso appendix څخه دباندی خواته انتشار یا Metastasis کوي Mucocele (داپندکس یو سلیم افت دی کوم چې Rupture کولی شي د Pseudomyxoma peritonitis دمنځ ته راتلو سبب کیږي اودپریتوان دانتشار له کبله دمرګ سبب هم کیدای شي) او ادینوکارسینوما داپندکس دنورو تومورو لویه برخه جوړوي.

۳- په ریکتم کې کله کله یو کوچنی Polyp ښایي چې دهستالوژي له نظره Carcinoid ثابت شي نوموړی سلیم سیر لري Metastasis یا Carcinoid syndrome لپاره ډیر لږ میلان لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- دمقعدي قنات زياتره کارسينوماګانی Epidermoid دنوعی څخه دی برخلاف دکولون تيپيک Adeno carcinoma

II: کلينيکي نښی

A: ددی اعراض په کولون کې دتومور د موقعيت پوری اړه لري.

۱- دښي کولون افات په تيپيک ډول نامعلومی کمخوني او معدی معايي نزف په واسطه ښکاره کيږي. ځينی وخت يو بی عرضه بطني کتله د PE پواسطه دپام وړ ګرځي نومورې نادراء د ileocecal دسام بند وي چی دکوچنيو کولمو حاد بندش پواسطه ښکاره کوي دبطن د سفلي برخو په عذاب کوونکی او دوامداره درد نومورې تومور يو بل نادر شکايت دی.

۲- د Sigmoid تومورونو معمولاء د Nepkin حلقی دانکشاف له کبله څرګندږي دريکتم څخه په Microscopic ډول کله کله وينه راتلل ليدل کيږي لاکن عموميت نه لري همدارنګه کم خوني هم معموله نه ده.

۳- دريکتم دتومور تظاهر د ريکتم د درد په Microscopic (Gross) ډول نزف Tenesmus اودريکتم دناتام تشيدو احساس سره يوځای دی او نادراء دمقعد څخه تومور Prolapse کوي.

۴- دريتکم ويلای adenoma دالکترولايتو د ضايع کيدو يو نادر سبب دی چی دتومور د سطحی څخه په ليومين کې دمخاط زياته اندازه ضايع له کبله په تالي توګه منځ ته راځي.

۵- دتشخيص دپاره يو immunologic معاينی امکان د څيړنی لاندی نيول شويدی چی دکولون مقدم او تالي کانسر کې Carcino embryonic Ag شتوالی باندی اتکاء کوي.



په پورته شکل کې د کولون کانسر ښودل شويدی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

III: تشخيصي طريقی

A: ديوه ښی فزيکي معاينی عادي برخه دريکتم معاينه ده دکولون اوريکتم نيمايي کانسرونه يواځی د ګوتی دمعاينی پواسطه تراشتباه لاندی نيول کيدای شي اويوه مفکوره دکانسرپه باره کې ورکولای شي.

B: دسفلی کولمو د دوامداره اعراضو په شتوالي کې ټولو مريضانو ته يو کلنيزه فزيکي معاينه او سګموئيدو سکوپي استطباب لري.

C:دبطني کتلی په شتوالي کې چی سبب يې معلوم نه دی د باريوم اماله اجراکيږي همدارنګه داوسپنی دفقدان په کم خوني د ريکتم څخه ډيره وينه راتلل چی په ريکتم کې فعاله نزفي ناحيه موجود نه وي دريکتم د پوليپ په شتوالي کې دکولون دنورو برخو پوليپ شتوالی درد کولو لپاره هم دباريوم اماله استطباب لري.


Dieunti glosis اوځينی داخل جداري افات لکه : Lipoma يا Endometriosis چی کولون مصابوي ځينی وخت ددی تفريق دکولون دکانسر څخه ډير مشکل کيږي. لاکن زيادتره Napkin کارسينوماګانی چی X-ray کې مخصوصه منظره ورکوي دسيکم دافت ليدل ګران دی ترهغه پورې چی ټول سيکم دباريوم څخه ډک نشي حتی اليوم کې هم داخل نشي دکارسينوما د پلټنی دپاره اجراشوی باريوم اماله منفي ونه ګڼل شي.

دغايطه موادو څخه دپوليپ په تفريقي تشخيص کې مشکلات راپيداکيږي د ډ کيدو نقيصه بايد يو Stalk يا ثابت موقعيت کې په زيات شمير X-ray پانو کې وليدل شي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه Air centrist عکسونه ځینی وخت کمک کوي لاکن اکثرا ورته اړتیا نه پیښیږي.



شکل کې د Apple Core رادیوګرافیکه منظره ښي چې د کولون په Adeno Carcinoma کې لیدل کیږي.

D: دسفلي معدی معایي لاری دلیدنی لپاره Cillican foam اماله یو بل میتود دی خارج شوي Illicane east داسی ننښی لري چې کارسینوما یا پولیپ په شتوالي دلالت کوي همدارنګه د Sillicane دسطحی څخه دهستالوژیکي څیړنې دپاره حجرات هم لاسته راوړل کیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C:دسفلي قدامي افت د موضعي انتشار د معلومولو لپاره Cystoscopy اهميت لري.

IV: تصنيف بندي:

A: د Duke تصنيف بندي داناتوميک پراختيا ژوروالی اود Metastasis شتوالی يا نشتوالی پوری اړه لري او د Broder's تصنيف بندي دميکروسکوپ Anaplasia د درجی باندی تکيه کوي دنومورو د ډلی څخه هريو د کانسر دانزارپه هکله کې يو Raugh اندازه ورکوي لاکن په تومور کې دژور والي او Anaplasia ترمنځ توپيرونو له کبله لږه ګټه لري.

داخل جداري پراختيا

B: برخلاف دمری دکانسر دريکتم دکولمو په اوږدو کې تر ډيره ليری ځای پوری انتشار نه کوي ددی ګراس تومور نادراء 5cm څخه لوی وي.

C: دملحقه جوړښتونو سره التصاق عموميت لري ددی ډول انتشار دپاره بولي تناسلي طرق ، بطني جدار، کوچی کولمی عادي ځايونه دي په ښځو کې د مبيض ماوف کيدل هم غيرمعمولي نه دي.

D: Metastasis

۱- تقريبا په ۵۰% واقعاتو کې لمفاوي عقدات هم ماوف کيږي.

۲- دکولون زيادتره کانسرونه د مصاريقی شراينو د سير په تعقيب کې Periaortic عقداتو ته پراختيا کوي لاکن دمقعد کارسينوما حوصلی Perineal عقداتو ته انتشار کوي او د Reroperitoneal په عوض د Groin په عقداتو کې ښکاره کيدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- هغه عقدات چی تومور په کې ګراس دنظره موجود نه وي نادرا دکولون مثبت افات ښکاره کوي همدارنګه هغه عقدات چی دګراس له نظره مثبت وي ښايي چې يواځی التهابي بدلون ښکاره کړی.

۴- دريکتم افات چې دموضعي لمفاوي عقداتو څخه دباندی انتشارکړی وي داعصابو peri neural Sheath ماوف کوي اويو ده Dall او Biring لامل کيږي چې انزار يې خراب دي.

۵- ليری ځايوته انتشار : زيادتره ځيګر او بيا سږی ماوف کوي.

V: **علاج پرنسيپونه:**

د Retrosigmoid دسويی څخه ښکته واقع شوی پوليپ بايد د Sigmoidoscope په ذريعه د هستالوژيک معاينی د پاره وايستل شي.

B: ددی سويی څخه پورته واقع شوی پوليپ که قطر يې ۱cm څخه لوی نو د Lapratomy پواسطه وويستل شي ځکه چی د هستالوژي دنظره نومورې کارسينوما کيدای شي. که دافت قطر د ۱cm څخه کوچنی وي او بی عرضه وي نو مولفين وايي چې کتنه دی اجراشي. سره له دی دخباثت دپاره کم ميلان لري نور مولفين داسی فکر کوي چی دطبي وضعي دنظره تندرسته خلکو باندی دی Leparatomy اجراء شي.

C: دفاميلي Polyposis په ټولو ناروغانو کې مخکی له دې چی کارسينوما تشکل وکړي بايد په بشپړ ډول Colectomy اجراء شي مولفين په دې اختلاف لري چی د Colectomy په ډله کې شامل شي يانه؟ څرنګه چی د رکتم په برخه کې کانسر منځ ته راتلای شي نو ددی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


لیری کول اویا دهمیشه د iliostomy اجراکول د Conservative procedure په جمله کې رائي.

D : ذغابي Adenoma باید په دی توګه لیری کړای شي چې دنارمل مخاطي غشاء څنډې هم ورسره یوځای قطع شي که یو کانسر هستالوژي له نظره تثبیت شي نو د کانسر مناسبه درملنه باید اجراشي.

E: کانسر دکولون اومساریقی دپراخی برخو دقطع کولو دمعایي Anastomosis یا بطني عجاني Resection او Colostomy پواسطه لیری کړی شي چی دادکانسر دسویی پوری اړه لري. دمقدم تومور سره التصاق شوی اعضاء لکه: کوچنی کولمی Loops ، مثانه، رحم په برخو کې به د کولون سره یو ځای قطع کړل شي، امکان لري چی په ښځو کې د تومور پواسطه دمبیض د ماوف کیدوله کبله Oophrectomy اجراکیږي.

F : دجراحی عملی نه وروسته دژوند اندازه دکتی وړاندیز زیاتولو لپاره د Turubull اود ملګرو میتود Notond استعمالیدای شي.

G: که معقوله وي نو دمقعد کارسینوما کې د دواړو خواو خصیو تسلیخ ته او هم دارنګه عجاني Resection ته ضرورت پیداکیږي دا چی شفا سبب کیدای شي او نشي کیدای ددی عملی اجرا اړینه ده.



په شکل کې د ریکتم کانسر ښودل شویدی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

H: د ریکتم دنا علاج افتودپاره Colostomy نادراء Palliative تمامیږئ داډول افت که امکان ولري دبطني عجاني Resection پواسطه تداوي شي پرته ددی چی دشفا امید شتون لري یا نه لري.

I: په هغه مریضانو کې چی دبطني عجاني Resection لپاره Major جراحي مناسبه نه وي Neat coagulation او Rendon seed implantation په ذریعه ښه موضعي Palliative لاسته راوړل کیدای شي.

J: په اوسنی وختونو کې د کولون کارسینوما دعلاج لپاره دکیموتراپي اجراکولو دپاره کوم شواهد وجود نه لري او داپرابلم دځیړنی لاندی دی.

K: شعاعي تراپي:

دریکتم Adeno carcinoma په عمومي توګه او په متوسط ډول شعاعي حساسیت لري. او دهغو پیښو دجملی څخه چی تام Cancericidal دوز (rad ۲۰۰۰ په ۲ هفتو) سره معامله شویدی د ۵۰% نه تر ۷۰% پوری مریضانو کې دمقدم افت شفالیدل کیدای شي په لاندی حالاتو کې دشعاعي تداوي استطباب لري.

۱- په موضعي عجاني Recurrence کې دتومور دلوی والی او د درد دکمولو لپاره .

۲- په هغه افاتو کې چی دعملیات وړ ندې دانسداد او نزف د ختمولو لپاره.

۳- هغه مریضان چی قلبي وضع یې ښه نه وي او جراحي عملیات خطر لري.

۴- هغه مریضانو کې چې جراحي عملیات سره موافقه نه کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

L: دعملیات څخه مخکی شعاعي تراپي یواځی اجراء کول مخکی او اوس په یو شمیر زیات مطالعاتو کې څیړل کیږي.

۱- په ابتدایي مرحلو کې داسی راپور ورکړل شویدی چی دعملیات څخه مخکی یو ټیټ دوز rad ۲۰۰۰-۱۲۰۰۰ عملیاتو وړ موضعي کانسر کې د Dyuvawl تراپي په ډول استعمالولو پواسطه ۵-۱۰% واقعاتو کې دژوند اندازه ښه شویده.

دایو Randomized مطالعه نه ده او په کلینیک کې کنترول شوی ارزیابي څیړنو کې ثابت شوی نه دی.

۲- د V.A شفاخانی Randomized کلینیکي Trail دعملیاتو څخه مخکی تشعشع استعمال او د ریکتم په موضعي کانسر یواځی Resection اجراکولو ترمنځ هیڅ توپیر لیدلی نه دی.

۳- یو ملي مطالعه چی جریان لري rad ۴۵۰۰ په اندازه دوز انتخاب کړیدی کوم چی Subcanceriocidal دی لاکن ښه تحمل کیږي چی د جراحي عملیاتو نه وروسته دځارنی درملنه کې تطبیق کیږي.

M: **کیموتراپي:**

دمولفینو دتجربی په اساس د کولون Metastasis کانسر کې کیموتراپي نادراء ګټور ثابتیږي البته لاندی ورکړل شوی بیانات په طبي Literature کې څرګند شویدی.

۱- دکولون په پرمخ تللي عرض او منتشر کارسینوما په ځینی مریضانو کې په یو اندازه د Palliation په ډول د Fu % پواسطه تداوي کیدای شي دځیکر، سږو او نورو ځایو د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Metastasis اعـراض ددی پواسـطه ښـايي چـی لیـری او بـی عرضـه Metastasis نـاروغی تداوي کیدای شي.

۲- Fu ۵ معمولاد ورید له لاری تطبیق کیږي. Fu۵ دخولی دلاری هم دتطبیق وړ دی اوسنی څیړنـی غـوره ګڼي چـی ۱۵mg/Kg دوریـد د لاری هـره اونـی ورکـول دعـادي ۵ ورځنـی Loading دوز په شان موثر دی او سمیت هم کم دی.

۳- دسمیت جنبي عوارض عبارت دي د Stomatitis, Nausea (لـومړی علامی وچوالی، دښـکتنی شـونډی داخلي طرف باندی Soreness دی) اسـهال او د هـډوکو د مـخ انحطـاط څخه دی ددی دوا تراپیوتیک تاثیر دکتنی وړ اندازه سمیت ته اړتیا نه لري.

۴- دواته Adgective عکس العمل ورکوونکی ژوند اندازه اوږد ښکاره کـوي ۲۰ میاشـتو برخلاف هغه ناروغان د عکس العمل نه ورکوونکی دي د ۱۰ میاشتنی) اوږدوالی منځ ته راوړي.

VI: انزار

کـه پـه نـاحیوي لمفـاوق عقـداتو کـې Metastasis نه وي ور کړی نـو انـزار ښـه دي، لاکـن دافکتور دمعدی معایي لارو په علوي برخو کې دومره مهم نه دی.

B: دبطني عجـاني Resection څخه وروسـته پـه عجـاني ناحیـه کـې دیـو دوامـدار یـا عـود کوونکی Sinus شتوالي داسی څرګندوي چی په حوصله کې بـاقي پاتی یـا عـود کـوونکی تومور هم شتون لري.

C: دښي کولون کانسر نتیجی نسبت چپ کولون کانسر ته یوڅه اندازه ښه دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: نتیجی

دکولون یا ریکتم ثابت شوی کارسینوما ۱۰۰ مریضان

D: ۹ مریضان چی جراحي عملیات سره موافقه ونکړه = ۹۱

- ۳۲ مریضان چی د Resection وړ نه وه یا یواځی Palliation د پاره د Resection وړ وه = ۵۹

- ۹ مریضان د عملیات څخه وروسته مړه شول = ۵۰

- ۲۳ دټولو سببو څخه نتیجتاء د ۵ کالو څخه مخکی مړه شول (چی ۲۰% دکانسر له کبله مړه شول) = ۲۷

(۲۷ خلک د ۵ کالو لپاره ژوندي پاتی شول)

۲- مریضان تر ۵ کالو پوری دکانسر ژوندی پاتی شول = ۲۵ (په کالو کلینیکي شفا)

دتصنیف بندي په پلان باندی اخرني ټکی TNM سیستم:

څرنګه چی د TNM تصنیف بندي زیادتره په کلینیک کې اجرا شوی څیړنو په شمیر ولاړ ده دایواځی په تیرو څو کالو کې ممکن شوه چی VICC او AJCC دواړه د هضمي جهاز دتصنیف دپاره دیو سیستم د جوړولو دپاره یووالی لري د Wood اوسنی بهترین بحث د TNM دپاره نوی بنسټ جوړوي نوموړی تصنیف بندی ډیر اوږد تفصیلات لري او په ممکنه توګه دلته وړاندی کیدای نه شي لاکن دوه ځانګړتیاوی په لاندی ډول ورکړل شویدي.

د TNM تصنیف بندي د تومور کلینیکي مرحلو دپاره.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

معده VICC

ناحیی

۱- دپراکزیمل (Fundus) ناحیه

۲- وسطي ناحیه یعنی دمعدی جسم.

۳- دستل (Antral) ناحیه.

توجه:یو تومور په هغه ناحیه کې ګڼل کیږي چی زیادتره برخی یي په کې موجود وي.

T: مقدم تومور

T۱: دیوی ناحیی دنیمایي برخی څخه عبارت دی چی زیات یې نیولی نه وي.

T۲: چی دیوی ناحیی دنیمایي څخه زیاته برخه یې نیولي وي لاکن یو څخه زیاته ناحیه یې نه وي.

T۳: تومور چی دیو څخه زیاتی ناحیی نیولی وي.

N: ناحیوي لمفاوي عقدات:

څرنګه چی داخلي بطني عقداتو معاینه ممکن نه ده نو د NX علامه استعمالیږي، چی دهستالوژیکي معاینی استعمال اجازه هم ورکوي چی په دې حالت کې +NX بای _NX علامی استعمالیږي.

M: لیری ځای ته Metastasis :

M۰: که لیری ځای ته د Metastasis هیڅ ننښی موجود نه وي.

M۱: لیری ځای ته Metastasis شتون وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هستوپتالوجیکل پراختیا (دعملیات په وخت کې)

P۱ : کارسینوما چی یوائی دمعدی مخاطي غشاء کې ارتشاح لري.

P۲: کارسینوما چی تحت المخاطي غشا پوری ارتشاح لري لیکن Muscularis propria نه لري.

P۳: کارسینوما چی Muscularis propria پوری ارتشاح لري بلکه د Subserosa پوری منتشر دی.

P۴: کارسینوما چی Serosa چی دهغوی څخه دباندی ارتشاح لري.

کولون AJCCS :

T۱s : د Insitu کارسینوما دپاره.

T۰: دکلینیک دنظره تومور وجود نه لري (اود هستالوجیکي طریقی په ذریعه کانسر باندی کولون ریکتم منشاء اشتباه کیږي).

T۱: دجدار عضلي دماوف کیدو هیڅ ثبوت منشه (شخوالی وجود نه لري).

T۱ : Polypoid کارسینوما (مثلا په بایوپسي کې Polypoid adenoma شواهد دکارسینوما د محراقونو سره یوځای وجود لري).

شواهد د کارسینوما دمحراقونو سره یوځای موجود وي.

T۲: دعضلي جدار ماوف کیدل چی دشخوالي یاجس پواسطه څرګند وي لاکن دباندی سیروزا طبقی همواره ده.

T۳: دکولون دټول جدار ماوف کیدل دملحقه جوړښتونو ته دانتشار سره یوځای.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

T۴: د T۳ په څیر لاکن د فیستول تشکل سره یوځای (Gastrocecalic فستول)

TC: ملتیپل مقدم کارسینوماګانی.

دهضمي جهاز اساسي غدواتو کانسر

کتنه:

دهضمي جهاز اساسي غدواتو کانسر مخکی له دی چی تشخیص شي ډیر پر مخ تللی وي په نوموړي احشاو کې دکانسر شروع ډیره بطي دی او ددی لمړنی اعراض اکثراء په پټه توګه دمهم غیر وصفي معدی معایي حکایو څخه بد هضم ، اپي ګاستریک ناحیی نارامي، بطني یا دملا درد اویا غیر وصفي علامی لکه Cachexia وزن بایلل او کم خوني پواسطه ښکاره کیږي ترکوم وخت پوری چی دکوچني او موضعي افاتو سکریننګ او پلټنی دپاره نو بهتره تشخیصی معاینی په لاس کې نه دي نو دنوموړي اعضاوء کانسر دژوند دکچی کموالی کې هیڅ ښه والی یا بدلون راوړلای نشي.

پانقراص

۱- Introduction

A: وقوعات: د پانقراص خبیثه تومورونه نسبتا نادر دي او دکانسر دټولوډولونو ۲-۳% او د بطني خبیثه وژونکو ناروغیو ۱۰% جوړوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: شیوع: نارینه د ښځو په نسبت ۳-۴ ځلی زیات مصاب کیږي داتومورونه په اساسي توګه ۳۵ او ۷۰ کلنی په منځ کې منځ ته راځي او دوقوعاتو اعظمي اندازه په ۲۰ کلنی کې ده.

C: اسباب : پانقراص دکارسینوما سبب تراوسه څرګند شوی نه دی په دی کې هیڅ شواهد وجود نه لري چی مزمن pancereatitis یا سلفیس کوم سببي اهمیت لري.

II: کلینیکي پلټنی

A: پانقراص کارسینوما

۱- زیاتره رنځورانو کې داد Asthenia ، Anorexia وزن بایلل او Nausea دبطی شروع څخه وروسته ښکاره کیږي دوزن بایلل ډیر عمومي عرض اوپه تیپیک ډول چټک اویا بارز سیر لري درد ۷۰-۸۰% پیښو کې شتون لري چی معمولاً Dull یا Boring وصف لري او د Epihastrium یا ملا پوری ځای لري.

۲- که کارسینوما د پانقراص په سر کې وي نو پورتنی اعراض معمولاورو ورو او پرمخ تللی ژیړی دمنځ ته راتللو څخه مخکی ښکاره کیږي. دزیږي وصف دادی چی دامعمولاً دوامداره او خارښت Pruritus سره یوځای وي.

صفراوي کڅوړه توسع کوي او په ۵۰% واقعاتو کې د جس وړ وي د اپي ګاستریک ناحیی یا دملا درد په ۱/۳ پیښو کې موجود وي.


۳- دپانقراص دجسم دکارسینوما سره څرنګه چی تومور وده وکړي د Celiac ganglia په چاپیریال کې زیات شمیر عصبي ذفیرونه نفوذ کوي اوهغه ماوف کوي چی په نتیجه کې دملا درد منځ ته راځي نوموړی درد معمولاً دوامداره وي لاکن دډوډی خوړلو په وخت کې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اودملاستی په حالت کې نورهم شدید کیږي. په داسی حال کی چی دکینښناستو یا قدام ته قات کیدو په اثر درد په شدت کې کموالی منځ ته راځي.

۴- کـه کارسـینوما د پـانقراص پـه لکـی کـې وي نـو ابتـدايي اعـراض د نـورو اعضـاو تـه د Metastasis دکبله پیداکیږي چی په شدید ډول وزن بایلل او کمزوری سره ملګری وي یو بطنی تومور په ډیر عمومي توګه دلیدنی وړ دی.



په پورته شکل کې د پانکراس کانسر ښودل شویدی

B: **دپانقراص د** Islets **حجراتوتومور**:

۱- هغه تومورونه چی وظیفه یې دلاسه ورکړي نه وي: د Islets حجراتو داډول تومورونه د Insulin زیات تولیدیدلو له کبله منځ ته راځي دخفیف Hypoglycemia سره یوځای Lassitude, fatigue نارامي او Malaise ملګری وي نوموړي اعراض ښایي چی د اعضاو داوریدو دقدرت خړپړوالی، بی نظمه ګرځیدلو، حرارت ټیټوالی او Frank coma خواته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځي حملات يې متناوب دي اود سهار چای څکلو څخه مخکی واقع کيدل يې زيات عموميت لري.

۲- هغه تومورنه چی خپله وظيفه يې دلاسه ورکړي وي Zollinger Ellison تومور ددی ډول اعراض د يو شديد وژونکی تيپيک قرحی ناروغی ته ورته دي.

III: تشخيصي طريقی

A: په زړو خلکو کې دپانقراص کارسينوما تشخيص د پورته ذکرشوو اعراضو خصوصاء دژيړي دموجوديت په اساس دنظر لاندی نيول کيدای شي د يو بطيني کتلی شتوالی او اوسنی شروع شوي د يابيتس تشخيص سره نور هم کمک کوي. دژيړي په يو مريض کې د جس وړ صفراوي کڅوړی شتوالی معمولاء دپانقراص د Periampullary ناحيی کارسينوما باندی دلالت کوي (داد Courvoisiers قانون نومېړي)

B: دمعدی او اثناعشر باريوم Contrast عکسونه ښايي چی داثناعشر د C.loop دبی نظمي او Compression څرګند وي اوياد پيلور پراخه انسداد رابنې (داد معکوسی دری علامی په نوم يادېږي. دايواځی دپانقراص دسر Ca کې ليدل کيږئ اوعموما دباور وړ پلټنه ده.

C: دپانقراص د سر په کارسينوما کې د Transhepatic Cholangiography د صفرا انسداد په Distal common duct کې ښکاره کوي داډول څيړنی دپانقراص لپاره دومره

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تشخیصیه ارزښت نه لري او د Needle puncture ناحیی څخه د Leakage bile داختلاط سره ملګری وي.

D: دغیګر دوظیفی خارج الکبدي صفراوي انسداد څرګند وي کله چی دسر کارسینوما عمومي صفراوي قنات باندی فشار واچوي نو په سیروم کې د Alkaline phospatase سویه همیشه دپاره لوړه وي.

E: تقریبا د ۱۰% څخه کم مریضانو کې د پانقراص دعدم کفایی علامی لکه Steatorrhea لیدل کیږي دلوړی په وخت کې د وینی قند سویه ښایي چی لوړ وي (دیابیت ملیتس)

F: دپانقراص د Islets حجراتو هغه ډول تومورونه چی خپله وظیفه دلاسه نه وي ورکړی دوینی دقند سویه دلوړی په وخت ۵۰ ng وي او تشخیص یې دورید یا خولی دلاری قند تطبیق کولو پواسطه د اعراضو ژر دمنځه تللو پواسطه کیږي لاکن اخرنی او حتمي تشخیص دلتولو Leparatomy اوبایوپسي په ذریعه اجراکیږي.

G: د پانقراص د Islets حجراتو تومورونه چی خپله وظیفه دلاسه ورکړي وي د پیپتیک قرحی د رنځور چی قرحه یې اکثراء په یو غیر معمولي ناحیه کې لکه اثناعشر دویمه برخه اویا جیجینوم کې وي اشتباه وربانډی کیږي. کوم کی چی ټوله شپه دمعدی عصاره ډیر لوړ مقدار افراز وي او خپله محتوا کې لوړ اندازه اسید ولري.

H: په دی اوسني وختونو کې د ځینی محقیقینو دخوا Deleniomethionine scan تجویز شویدی لاکن داخیرنه ډیره ګرانه اویو غیر وصفي معاینه ده ځکه چی کانسرپه څیر نقصان ښکاره کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

I: د Epinephrine دزرق نه وروسته انتخابي Cealiac arteriopraphy نارمل Arterioles تقبض سبب ګرځي ليکن دتومور اوعيی باندی تاثير نه کوي او هغوی متوسع پاتی کيږي چی په ډير اسانتياء سره په عکس کې ليدل کيږي.

IV: تصنيف بندي

A: اناتوميک Staging :

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: شعاع:

په دی جمله کې شعاعي Vulvitia او Vulivtis دشعاعي Necrosis سره تام مهبلي تضیق، مهبلي Necrosis ، ریکتم قرحی، Vesico vaginal فیستولونه او Cystitis یادمثانی قرحی شامل دي دجراحي یا دتشعشع اختلاطاتو وقوعات دتداوي اجراء کوونکی پرسونل په تجاربو او مهارت باندی اتکا لري په مناسب ډول انتخاب شوی پیښو کې Morbidity او Mortality دنظر لاندی نه نیول کیږي.

VIII: عرضي تداوي

۱- په ډیر پرمخ تللي مرضونو یا طب دنظره عملیاتو وړتیاء لرونکی حالاتو د پاره کیموتراپي د مریض دارامي دپاره د کتنی وړ توګه کومک کوي.

۲- Progestron په لوړ دوزونو ۱۵۰۰ gm في هفته استعمال شویدی اودتومور د Metastasis په حجم کې ځینی وخت کموالی ورسره لیدل شویدی د درد کموالی اودښه والی احساس هم اکثراء ددی استعمال سره لیدل شویدی.

۳- ددی ډول کیمیاوي عواملو استعمال تراوسه دعرضي تداوي په منظور شویدی او په اساسي تداوي کې شامل شوی نه دی.

۴- دمرضي عود اکثراء مهبل یا حوصلی کی دانتشار څخه مخکی وي. په ۲۸-۳۳% واقعاتو کې ددی کنترول کول دخارجي تشعشع او رادیوم او کله کله دجراحي پواسطه ممکن وي دهورمون پواسطه تداوي د دوه کالو Remission اندازه ۲۵% ښودلی ده.

۵- داندومیتریم Metastasis کارسینوما تداوي دپاره د R.W Kistner پواسطه یو زیات هورموني تداوي رژیمونه ورکړل شویدي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: د Alpha Hydroxy progesterone coproate ۱۷ اعظمي دوز د ۱۰ gm-۴ په حدود کې د عضلی دلاری په اونی کې ورکول کیږي کله کله ټیټ دوز ښه عکس العمل ښکاره کوي.

B: د Medroxy progesterone acetate اعظمي دوزونه د ۵mg-۳ په حدود کې ماهوار اودتعقیبیه دوز په حیث ورکول کیږي په لومړی ځل د ۳ ګرام اضافه کوونکي دوز د ۲ اونیو په داخل کې تجویز شوی دا ډول (اضافه کول) ۱۰۰ mg Loading dose په اندازه لس ورځو دپاره بیاهم ۲۰۰ mg هفته کې دری ځلي په څو دوزونو ورکولای شو.

تقریباء ۲ هفتی دیو معروضي عکس العمل د اندازه کولولپاره په کار دی که ترمیم صورت ونیسي تعقیبه دوایي تداوي په یقیني توګه تجویز کیږي.

هغه خطرات چی دفکر څخه لیری نه وي یوه قلبي ناروغی او احتباس شتوالی دی چی ددی ډول تداوي پواسطه منځ ته راتللی شي په دی ډول مریضانو کی چې Progesteren استعمالوي باید قلبي حالت اودسږو دنده په احتیاط سره تعقیب شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمبیض کارسینوما

Introduction -۱

دمبیض کارسینوما مغلقه مرضي پیښه ده ددی خبیثه قوت اندازه په کتنی وړ توګه فرق کوي لاکن په عمومي توګه په بطي ډول شروع کیږي چی په تشخیص کې ځنډ د ډیرو خرابو انزارو سره ملګری وي.

سره ددی چی په جراحي او کیموتراپي تکنیکونو کې ډیر سریع پرمختګ شویدي دژوند دمودی اوږدوالی کې ډیر کم بدلون منځ ته راغلی دی.

څرنګه چی هستالوژیکي ډولونو کې متبارز فرقونه وجود لري اومرض وسعت دمقدم اساس تداوي له نظره اودلوی Radnom sampling اندازه ګیري دپاره ذخیره کولو کې مشکلاتو له نظره دتداوي بهترین Combination تراوسه فیصله شوی نه ده.

په موجوده وخت کې دتداوي دبدلیدونکو طریقو اختیارولو په مورد کې د کتنی وړ دلچسپي ښکاره شوی ده دتداوي دمیتودونو په پراخه پیمانه د تطبیق لپاره زیات وخت په کار دی همدارنګه باید ولیدل شي چی ددی میتود داستعمال پواسطه دژوند په اندازو کې ښه وایی منځ ته راځي اویا دنسایي کانسرو په ډله کې نوموړی مرض دعمومیت له نظره دریمه درجه لري چی دټولو تناسلي خبیثه افاتو څخه دمنځ ته راغلی مرګونو لویه برخه تشکیلوي اودنسایي کانسرونو دعمومیت دنظره دریمه درجه لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمخکی ذکرشوي ښځینه خبیثه کانسرو په خلاف دمبیض کانسر Races نسلونو مذهبي خطاوی اقتصادي سویو ته کوم میلان نه لري او څکه Epidemiologic څیړنی تراوسه بی نتیجی پاتی شویدي.

II: کلینیکي پلټنی

A: دامرض معمولاً د ۴۰-۲۰ کلنی عمر خلکو کې لیدل کیږي لاکن یوائی په دی ګروپ پوری محدود نه دي.

B: دحوصلی یا دبطن بی درده کتلی یوه علامه ده چی مریض کې ډیر عمومیت لري چی عبارت دي دموضعي فشار اعراض او دبطن دډکیدواحساس دی.

C: پرمختللی پیښی ښایي چی د Ascites درد او Metastasis ناحیی اعراضو په واسطه تظاهر وکړي اکثراً نوموړي پرمخ تللی اعراض دیو زیات شمیر میاشتو په موده کې منځ ته راځي چی مقدم تشخیص په تام توګه ناممکن کوي.

C: تشخیصي طریقی

دلپراتومي اوبایوپسي څخه هم بل داسی مکمل اطمینان ورکوونکی طریقه نشته چی په یو Abdominal کتله کی د خباثت شتوالی یا نشتوالی څرګند کړي لاکن په هر حال یو مکمل سیستمیک معاینه داساسي څیړنی اوعضویت کوم بل ځای کې دخباثت درد کولو د پاره چی مبیض ته یې Metastasis ورکړیدی ضرور ګڼل کیږي برعلاوه دتاریخچی او فزیکي کتنو څخه چی بطني حجم اندازه اودتومور اندازه په کی شامل ده نو هغه مطالعی چی ضروري دي په لاندی ډول دي:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: دلوی اوسفلي معدی مکرر عکسونه دیو مقدم معدی معایي تومور څخه Metastasis درد کولو دپاره اجراء کول.

B: که دحالب بیځایه کیدل موجود وي نو IVP دی اجراء شي.

C: دثدیو مقدم خبیثه افاتو دردکولو د پاره دثدیو کتنه او Mamography داستطباب په صورت کې اجراء شي.

D: د رحم، عنق او مهبل Prolaps smear کله کله د مبیض سره یوځای غیر طبعي حجرات ښکاره کولای شي.

E: په اوسنی وختو کې عادي Cal De Sac اسپریشن اودغیر نورمال حجراتو تجزیه په رسیدلي عمر ښځو کې دتجربی اندازه ګیري لاندی نیول شویدي نوموړي تستونه په Cal De Sac وینځولو کې دمبیض Ca حجراتو اخیتسو قدرت ته لارښودنه کوي په هر حال کله چی دا وینځنی دتوموري حجراتو دپاره مثبت وي نو د ژوند دپاره انزار خراب دي.

F: د Ascites په پیښو کې دځینی شرایطو لاندی دحجروي بلاک دپاره دمایعاتو د Paracentesis پواسطه جمع شویدي او دمبیض تشخیص ددی پواسطه ثبوت ته رسیږي دانبایي چی ابتدایي کیموتراپي ته دتومور د پیړوالی کمولو په منظور اجراکولو ته اجازه ورکوي او همدارنګه په یو راتلونکي نیټه باندی یقیني جراحي اجراء کیدای شي.

IV: تصنیف بندي

دنورو نیوپلازم په څیر ددی کانسر طبقه بندي دیو داسی جدول دتشکیلیدلو لپاره ضروري ده کوم چی داسی یو چوکاټ تشکیل کړی چی د ضروري Data او د تداوي دتنظیم دفلسفی دقوي کولو لپاره کومک وشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی زیات شمیر راپورونو کی اناتومیک تصنیف بندي دمرض په انزارو کې د ټولونه مهم فکتور په حیث منل شویدی او دعنق Ca پیښو په شان وړاندی شویدی ګر چی لږ شمیر مولفین په دی عقیده دي چی دتومور هستالوژي په انزارو کې ډیر ارزښت لري لاکن اوسنی راپورونو دهستالوجیکي ډولونو اودرجه بندي په اهمیت باندی ټینګار کړی.

دتیرو وختونو راپورونو داساسي خرابوالي دجملی څخه یو د دوه اړخیزه تصنیف استعمالولو پواسطه رد کیدای شي چی دا تصنیف بندي دمرض انتشار اناتومیک وسعت او هستالوجیکي ډول او درجی په اساس ولاړ ده باید هیر نه شي چی د مبیض مرحله بندي په جمله کی دجراحي په اوږدو کی دعنق Ca ضد کتنی وجود لري او چیرته چی مرحله بندی اساساء یو کلینیکي اندازه ګیری وي.

د مبیض تصنیف بندي دنسایي ولادي بین المللي فیدریشن په اساس:

اناتومیک مرحله بندي (کلینیکي او عملیاتي:

لاندی تعریفونه د International Fed of Gycology او Trics cynology American collegen of Obster دواړو لخوا قبول شویدي.

۱- ۱ مرحله : نشونما دمبیضونو پوری محدوده ده.

IA مرحله : نشونما یواځی یو مبیض پوری محدوده ده Ascites وجود نه لري.

IB مرحله : نشونما ددواړو مبیضونو پوری محدوده ده Ascites وجود نه لري.

IC مرحله :نشونما د دواړو یا یو مبیض پوری محدوده ده Ascites شتوالی لري چی خبیثه حجرات هم په مایع کې دلیدنی وړ وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- II مرحله : نشونما یا دواړه مبیض ماوف کړي دي اوحوصلی ته انتشار لري.

IIA مرحله: رحم یا یواځی تیوب ته انتشار یا Metastasis شتوالی.

IIB: دحوصلی نور انساجو ته انتشار

۳- III مرحله : نشونما یو یا دواړه مبیضونه ماوف کړیدي او بطن پراخ داخل پریطواني Metastasis هم ورکړی دی (Omentum ، کوچنی کولمو او دهغوی مصاریقی ته).

۴- IV مرحله : نشونما یو یا دواړه مبیض کی داسی ځای میتاستاز سره چی دپریتوان جوف څخه دباندی وي.

۵- خصوصي مرحله: هغه پیښی لټول شوي (لپراتومي) ندی اوهغوی باندی د مبیض کارسینوما اشتباه ده (جراحي چی دپلټنی یا دتداوي په منظور اجراء شوی نده).

B: هستالوژیکي ډولونه اوتفریق

یوزیات شمیر میتودونه چی دهستالوژي دنظره دتومور د درجه بندي د پاره استعمالیږي په تیروخت کې د Rechestes پوهتون طبي مرکز مونړیو ساده میتود استعمال کړیدی چی دنسایي متخصصینو عضوی چی دکانسر لغت تعریفوي پواسطه منل شوي میتود څخه توپیر لري البته دواړه تصنیف بندي به وړاندی کیږي.

۱- د Strong Memoriod روغتون تصنیف بندي

۱- ډول : بنه تفریق شوي Cyst adeno Ca ، Seroul یا Mucinous (ددی ډول په جمله Border line Ca شامل دی)

B: B ډول : خراب یا کم تفریق شوي Cyst Adeno Ca یا Serous Mucinous

C: C ډول : جامد کلک Adeo Carcinoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: D ډول : داندومیتریم په ډول Endometroid Ca, Adeno Carcioma

E: E ډول: خصوصي تومورونه Errhenoblastoma, Dysgeminoma, Granulosa Cell tumor وغیره.

۲- مصلي Cystadenoma داپیتلیل جراتو د تکثري فعالیت او هستوي Abnormalities سره لاکن بی دکوم ارتشاحي تخریبي نشونما (تیټ پوتانشیل خباثت).

B: Mucinous cystomas

۱- Mucinous benign سایتوادینوما.

۲- میوسین سلیم Cyst adenoma داپیتلیل حجراتو دتکثري فعالیت او هستوي ابنارملتي سره یوځای لاکن بدون دکوم ارتشاحي تخریبي نشونما (دخباثت تیست قدرت).

۳- Mucinous cysto adenoma

I- Endometroid تومورونه (داندومتریم د Ca سره ورته والی لري.

۱- Endometroid سلیم

۲- Endometroid tumor داپیتلیل حجراتو د تکثري فعالیت او هستوي ابنارملتي سره یوځای بدون دکوم ارتشاحي تخریبي نشونما (دخباثت تیست قدرت)

D: Brenner tumor celioblastomas

E: غیر تصنیف شوی کارسینوما

A: دمبیض Ca په ټولو نوی مرحلو کی جراحي دتداوي اساسي شکل دی چی کم ترکمه یو تام Hystrectomy او دوه طرفه Salpingo Oopherectomy په کې شامل دی او که امکان موجود وي څومره چی ممکن وي تومور ایستل کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: په عادي ډول Omentectomy نه اجراء کيږي او که نه Metastasis په کي صورت نيولی دی بيا ضرور اجراء کيږي.

C: په انتخابي پيښو کې دويم نظر عمليات ته هدايت ورکول کيږي (VID دی وکتل شي).

D: کوم وخت چی د Microscopic بقيه جاتو امکانات لوړ وي دعملياتو نه پس دحوصلی خارجي تشعشع هدايت ورکول کيږي اوپه حوصلی کې پاتی شوی ګراس کارسينوما دپاره ضروري ګڼل کيږي.

E: په انتخابي پيښو کې دوقايی او درملنی په منظور کيموتراپيک دواګانی پريتوان په داخل کې نصب يا کله کله شعاعي فعال Isotopes استعماليږي.

F: پورته ورکړل شوي طريقی هميش دپاره روايتي او په زړه پوری تداوي ميتود ګڼل شويدی لاکن تر ډيره اندازه په هر حال نوموړی ميتودونو دژوند اندازه باندی هيڅ تاثير نه دی اچولی. اوسنی وختو کی هم ددی سببه يو زيات شمير موسسو اضافي Partocali شروع کړيدی کوم چی دتداوي نتيجی ښه کولو دکوشش د پاره مختلف طريقه استعمال اودهغوی افاديت اندازه کوي.

۱- دټولو نه زيات اميدواره کوونکی طريقه دتشخيص څخه وروسته دپرمختللي ناروغيو تداوي د کيموتراپي د استعمال پوسيله ده. چی په دی کې دتومور حجم کمولو دپاره کوشش کيږي او بيا دناروغی دپاتی برخی يا دټولی ناروغی دمری کولو دپاره جراحی عمليه او شعاعي تداوي استعماليږي ددی ډول طريقی نتيجه د ژوند داندازی زياتولو په برخه کې تراوسه لاسته نه دی راغلی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دمبیض په ابتدایي اوموخری کارسینوما په تداوي کې په عمومي صورت سره کیموتراپیوتیک عوامل په ابتدایي او موخری کارسینوما په تداوي کې په عمومي صورت سره کیموتراپیوتیک عوامل ډیر بارز رول لوبوي. هغه دواګانی چی اکثراء استعمالیږي عبارت دي له (PAM) Phenyl alanine Mastard, Chlorambouci cystoxan, (Cysto phosphamide) Actinomycin-D ۵ FU, Thio TEPA thiotriethyene phosphamide او Velban شامل دی.

په دی اوسنی وختو کې دواګانی یوځای هم استعمال شویدي چی هر یو یې په مختلف اندازه تاثیر کوي او حجروي سطح کې تخریب منځ ته راوړي.

۳- Radio Therapist هم خپل دتداوي طریقه په انتخابي پیښو کې ترمیم کړیده چی دحوصلی دعادي دوز باندی په اضافي توګه ټول بطني نه تشعشع ورکوي داطریقه دیوزیات شمیر تکنیکونو داستعمال پواسطه سرته رسي اوپه دې مربوطه Radio therapist پوری اړه لري.

G: دمراحلو دنظره دتداوي پرنسپونه

۱- اولنی مرحله

په ټولو پیښو کې تام Hysterectomy او دوه طرفه Salphingo Oopherectomy اجراکیږي. دخراب یاکم تفریق شوي Cystadeno Ca ، جامد Adenocarcioma, B.C Histogolgic Croup او Dysgerminomas دپاره دعملیاتوڅخه وروسته Super voltage تشعشع لپاره هدایت ورکول کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخل پريتواني کيموتراپي هم استعماليږي خصوصا په هغه پيښو کې چې په کې خبيثه حجرات د جراحي په اوږدو کې د تومورې Cyst دجوړيدلو له کبله منتشر شي يا کله چې عملياتو څخه مخکې بطن وينځلو کې خبيثه حجرات وليدل شي.

۲- II مرحله

په ټولو پيښو کې تام Hystrectomy او Salping Oopherectomy اجراکيږي چې په تعقيب يې تشعشع هم اجراء کيږي دټولو هستالوجيکي انواعو دپاره Super voltage تشعشع هدايت کيږي دلته هم داخل پريتواني دواګانی استعماليږي موجوده وخت کې A۴ ۱۹۸ ډير کم عموميت سره استعماليږي اوداسی ښايي چې Thio TEPA يا Nitrogen mustard شعاعي فعال مواد معاوضه کړيدي.

۳- III مرحله

دامکان تر حده پوری دتوموري کتلی ايستل، تام Hystrectomy او دوه طرفه Salpingo OOpherectomy په شمول سره اجراکيږي دعملياتو څخه وروسته حوصلی ته تشعشع په ټينګه توګه هدايت کيږي په ځينی پيښو کې تام بطني تشعشع ژوند اندازی کی زيات والی منځ ته راولي.

Ascites مايع دکيموتراپيوتيک عواملو دعلاوه کولو پواسطه هم کنترول کيدای شي.

په دی جمله کې Atalorine شامل دی چې Ascites کنترول کوي لاکن کانسري حجراتو باندی هيڅ اغيزه نه لري د دوا علاوه کولو څخه مخکی دبطن جوف بايد هيڅ التصاقات ونه لري يا ښايي چې Loculation د شاوخوا نارمل کولمو ته شديد تخريب رسيدلو دکبله

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

منځ ته راتللی شي نوموړی پرابلم په شعاعي فعال موادو Traces دوزونو علاوه کولو او بطن د Scanning پواسطه چی دوا د زرق څخه مخکی په بطن کې انتشار کوي ختم کیدای شي.

دنوموړو مریضانو شعاعي یا کیموتراپي درملنی څارنه یو دراماتیک عکس العمل ښایي چی منځ ته راشي چی په کلینیکي ډول په کې تومور کتلی د منځه ځي (دویم نظر) عملیات ځینی وخت دتراپي داندازه ګیري اود پاتی تومورې برخی چی اوس جراحي پواسطه لیرې کیدای شي دپاره تجویز کیږي په هر حال داپیښی په ډیر احتیاط سره انتخاب شي.

۴ – IV مرحله :

۱- بایوپسي یواځنی عملیه دی چی اجراکیدای شي لاکن هرځومره چی ممکن وي دتوموري کتلی دلیرې کولو لارښوونه کیږي. یعنی دمساریقه تور غټی کتلی غټ Cystic کتلی وغیره. دتشعشع دپاره ددخول دساحی لټول په یوه لویه نامه بطني ساحه کې دحوصلی ساحه ده.

هغه مریضان چی ښه تفریق شوي مصلی Cystadeno Ca لري ددوی بهترینه موقع دژوند اندازی داوږدوالي یاشفا دپاره لري. دلویو تومورې کتلو په شتوالي کې یو فعال Isotopes نتیجی دکبله استعمالیږي داډول علاج د مبیض په Ca کې ټولو نه زیات کامیاب ثابت شوی او نور نسایي خبیثه ناروغیو دپاره ډیره لږه ګټه ورکوي.

۱- Chlorambucil او Phenyl alanine mustard ډیر په زړه پوری دی اودخول دلارې استعمالیږي دنوموړو دواګانو داستعمال سره باید دهډوکو دمخ انحطاط په ډیره توجه سره تعقیب شي عمومي استنادي اقدامات د یوشمیر زیاتو معاینو په شمول سره ضرور

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګډل کیږي ددی مریضانو څخه په ځینو کې یو زیات شمیر دواګانی په یو ځای ډول هم استعمال شویدي، لاکن په اوسنی وخت کې دپیښو د واقع کیدو د کښله داوړدی مودی ژوند دپاره ددی ګټه ورکوونکی ډول اندازه کیدای شي دبطني مرض په شتوالي کې دکولمو انسداد یو عمومي اختلاط دی که طبي تداوي کامیابه نشي نو په موضعي ډول جراحي Decompression معمولاً اجراء کیږي.

دوامداره تداوي او جراحي تراپي ضروري ده ځکه چی ځینی وخت یو مریض چی پراخه منتشره ناروغی لري دیوڅه مودی دپاره ژوندی او تولید کوونکی پاتی کیږي.

VI: نتیجی

دانزارو او ژوند اندازی په تعین کولو کې دټولو نه زیات مهم فکتورونه اناتومیک طبقه بندي او هستالوژیک ډول او دنیوپلازم د درجی تعین کول دي همدغه شان د SMH نتیجی په طبي ادب کې مجموعي نتیجی دعکس په حیث وړاندی کیږي.

نوموړی غیر معمولي ښی نتیجی د III,II,I مرحلی دپاره باید په هره مرحله کې دپیښو دلږ تعداد په رڼا کې ولیدل شي.

A: دمبیض Ca اناتومیک مرحله بندي پواسطه د Rechesterds پوهنتون مرکز **۵۵**-۱۹۳۱ مطلق په کالو ژوند اندازه.

	یوائی جراحي	جراحي تشعشع	مجموعه	
۱- مرحله	۱۰،۱۱	۸،۱۲	۱۸،۲۳	%۷۸
۲ مرحله	۴،۷	۱۲،۱۷	۱۲،۲۴	%۲۷
۳ مرحله	%	۹،۱۳	۹،۱۳	%۲۹

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴ مرحله	۱،۳۳	۸،۵۲	۹،۸۲	%۱۰
مجموعي	۱۵،۵۱	۳۷،۹۵	۵۲،۱۴۵	%۳۲

* - دجراحي او تشعشع ګروپ کې خراب نتيجی دپيښو د انتخابولو پواسطه تشريح کيدای شي په دی ګروپ زيات Anaplastic تومور موجوده ده.

E: دمبيض کارسينوما هستالوجيکي انواع اودرجه بندي په اساس د Rechester پوهنتون طبي مرکز ۵۵ – (۹۳)

	يوائی جراحي	جراحي تشعشع	مجموعه	
A: نبه تفريق شوي	۲،۷	۸،۱۲	۱۸،۲۳	%۷۸
B: لږ تفريق شوی Cyst adeno Ca	۱،۱۴	۱۲،۱۷	۱۲،۲۴	%۲۷
C: جامده Adeno Ca	۱،۱۳	۹،۱۳	۹،۱۳	%۲۹
D: Endometrid په ډول Adeno Ca	۳،۵	۸،۵۲	۹،۸۲	%۱۰
مبيض خصوصي کانسر	۱۵،۵۱	۳۷،۹۵	۵۲،۱۴۵	%۳۲

توجه:

دشعاعي تداوي ارزښت په نه تاکلو کې اساسي فکتور رول لوبوي د Randomization نشتوالی دی اود تشعشي ارزښت داوړد ژوند اندازه په دريمه مرحله کې چی جراحي نه وروسته دګراس دنظره د تومور بقيه پاتی شي.

C: دمبيض Ca تولی پيښی دمرحلی دنظره ۵ کالو ژوند مطلق اندازه مرحلی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرحلی او او او او

۱- ٪۷۸ ٪۷۵ ۵۳ ۷۰ ٪۲۳ ٪۲۲

Stages	Rubin (۴۲) Grise and terry	Kott meier	Kent (۴۰) and Mckay	Laterur (۴۲) and Davis	Mumell (۴۳) Jacox taylor	Carlin(۴۲) and Frodey
۱	۷۸٪	۷۵٪	۵۳٪	۷۲٪	۲۳٪	۲۲٪
۲	۲۷	۷۰	۵۹	۲۰	۲۷	۵۲
۳	۴۴	۳۴	۴۰	۲۴	۱۲	۱۸
۴	۱۰	۹	۱۰	۲،۷	۱،۷	۰
Total	۳۲	۳۵	۳۲	۳۷	۲۸	۲۳

پرته لدی چی پرمختللی تکنالوژي ددی ډول پریشان کوونکی مرض په تداوي کی استعمال شویدی دشفا نتیجی تراوسه مایوس کوونکی دی دژوند اندازی ښه والی یواځی هغه وخت ممکن دی چی داخبیثه مرض په ابتداکی تشخیص او ژر تداوي شي.

څرنګه چی نوموړی عضوه معاینی او جس امکان کم دی نو یو نوی تشخیصي طریقه په ډیر شدت سره طبیبان ضرورت لري.

دښځو تناسلي لارو نیوپلازم

دښځو تناسلي طرق ټول نیوپلازم ۹۰٪ دعنق Fundus او مبیض د Ca پواسطه استعمال شویدی پاتی ۱۰٪ دومره عمومیت نه لري او یواځی په مختصره توګه وړاندی کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- د Vulva کانسر

A: وقوعات: دتناسلي کارسینوما %۵-۳ جوړوي اعظمي وقوعات په ۵۰-۷۰ کلنی کې %۹۵ د Epidermoid Ca دجملی څخه دي.

B: اساسي حکايي

افرازات، خونريزي، Pruritis ، درد ، تومور او قرحه.

C: ددی سره ملګری یا مخکی له دی Vulvar افت عبارت دی له:

Diabet Vulvitis Keraurosis Leakoplakia شعاعي Vulvitis Atrophic Vulvitis او زهروي امراض.

D: انتشار

ډيرو غني لمفاوي اوعيو مثبتوالی له کبله Contralateral انتشار عمومیت لري دشاوخوا ناحیی موضعي ارتشاح او Inguinal ، فخذي iliac لمفاوي عقداتو د Metastasis او په تعقيب يې نور هم لری ځايوته انتشار صورت نيسي.

E: کلينيکي تصنيف بندي

د Tansig او Mokelncy له خوا تشکیل شویدی او مرض دشفا کیدو قدرت پوری مربوط دی.

F: تداوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی اوسني وخت کې منل شوی جراحي عملیه تام Vulvectomy او د حوصلی دعقداتو تسلیخ دی داطریقه په یو یا دوه مرحلو کې اجرا کیدای شي.

څرنګه چی دا مریضان د ډیر زیات عمر خاوندان وي او قیحي طریقه ډیره زیاته استعمالیږي په داسی حال کې چی حتی نور زاړه مریضان هم په ښه توګه داجراحي تحمل کولای شي دعملیاتو دوفیاتو اندازه ۴% ده.

۲- نتیجی

ابتدایي افت (یو تومور چی ۳ سانتي متر څخه کم وي یا ۵-۱۰ سانتي متر څخه کم وي) تقریباء یو ۲۰-۸۰% پنځه کالو ژوند اندازه یی موخره افات چی عقداتو یا لیری ځایو ته Metastasis سره یوځای وي نو ډیره کمه ده د ۵ کالو ژوند اندازه ورکوي.

II: دمهبل کارسینوما

A: وقوعات: دښځو تناسلي ۱-۲% جوړوي د مریضانو متوسط عمر ۵۲ کاله دی دتوموري لوی تعداد Epidermoid کارسینوما دی دنورو ځایو څخه Metastasis باید رد کړل شي لکه دعنق او فندسي څخه.

B: کلینیکي منظره:

۱- دتشخیص څخه مخکی داعراضو متوسط دوام اکثراء اوږد وي.

۲- دمریض عمر اوږدی مودی ژوند اندازه باندی هیڅ تاثیر نه لري.

۳- په تور پوستو ښځو کې افت نادر دی او یهودي ښځو کې.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- دلیدو یا جس وړ افت شتوالی اساسي کتنه ده.

۵- اساسي اعراض عبارت دی دمهبلي افرازات او صباغاتو درد (ټول قسمتونه) بولي اعراض او مغبني کتلی څخه وي زیادتره افات دمهبل په خلفي جدار باندی وجود لري چی دانزارو دپاره یوبهترینه علامه ده خصوصاء که دمهبل علوی ثلث کې افت موجود وي.

C: تصنیف (د Meye کلینیک څخه ترسیم شوی):

۱- مرحله افت دمهبل جدار ته محدود دی.

۲- مرحله: افت انتشار د شاوخوا انساجو ته لاکن د وحشي حوصلی جدار، احلیل، مثانه یا ریکتم ته منځته نه دي راغلي.

۳- مرحله: دعنق تصنیف بندي یا دریم او څلورم مرحلی سره ارتباط لري.

D: پتالوجیکي منظره:

په عمومي صورت سره Everting ډول یې (چی کنارونه یې پورته راوتلی وي) ډیر عمومیت لري او دګراص له نظره د Papillary شکنن اسفنجي افت دهستالوژي له نظره Sqaumous cell epithelioma ډول یې ډیر عمومیت لري اودمایکرسکوپ له نظره ورته والی په اساس اکثراء دعنق ناروغی سره غلطیږي.

E: تداوي

شعاعي تراپي د رادیوم Applicators په شکل کې په موضعي توګه علاوه کول دټولو حوصلي خارجي تشعشع سره اجراء کیږي دمرض په تنظیم کې تغیر عمومیت لري ځکه مریضانو تر منځ ډیر زیات فرقونه موجود دي په دی اوسني وختو کې جذري جراحي دتام

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Vaginectomy او حوصلی عقداتو تسلیخ سره یوځای او مناسب وخت کې قدامي Extenteration هم اجراء شویدی ددی طریقی سره حاصل شوی نتیجی اندازه شوی نه دی.

F: **نتیجی**

یوائی دشعاعي تداوي سره د **۵** کالو ژوند اندازه په لږ تعداد پیښو کې تقریباء **۳۵%** ده دتداوي شروع کیدو نه وروسته د ۱۸ میاشتو په اوږدو کې تقریباء نیمایي مریضان مړه شول.

VI: Fallopian تیوب کارسینوما

A: وقوعات: دتناسلي طرق ټول خبیثه امراض ۱% جوړوي.

B:اساسي اعراض او علایم: غیر منظم مهبلي خونریزي او مهبلي افرات ز چی اکثراً دشیدو رنګ په څیر وي دبطن غټیدل او دحوصلی کتلی شتوالی متوسط عمر **۵۰** کلنی ده.

C: دعملیات په ذریعه تشخیص ډیر کم صورت نیسي.

D: تداوي

تقریبا ټول واقعات دجراحي پواسطه تداوي کیږي چی باید یو تام Hystrectomy او دوه طرفه SC په کې شامل وي دعملیات څخه وروسته تشعشع عموما استعمالیږي لاکن ګټوره ثابت شوی نه ده.

E: نتیجی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کالو ژوند اندازه تقریباء ۲۵% ده چی تقریبا نیمایي مریضان د ۲ کالو څخه کم ژوند کوي.

F: تبصره

په تجربوي ډول داخل وعایي موضعي Nitrogen Mustard استعمال شویدی چی لږ ګټه ورکوي او په تعقیب جراحي اجراء کیږي ددی طریقی داستعمال سره نور تجربی دنتیجی اخذ کولو نه مخکی ضروري ده.

C: کیموتراپي :

چی دمبیض دکارسینوما دپاره استعمال شوی وه سره ورته والی لري لاکن ددی میتود دګټو اندازه ګیري دپاره ډیر کم مواد وجود لري.

IV: درحم Chorion epithelioma, Chorio Ca

A: وقوعات: په USA کې یو ډیر نادر مرض دی چی ۱۰۰۰۰۰ ښځو کې وقوعات ۰.۱ دی Chorio Noepithelion په دوه شکلونو کې وجود لري اولنی شکل یې یواځی ښځو کې واقع کیږي د Hydatidiform mole د Chorionic epithelium څخه ۵۰% دیو سقط شوي پریتوان څخه ۲۵% یا نشونما کړی پلاسنتا څخه ۲۵% منځته راځي. دتومور دویم شکل معمولاء د Teratoma څخه منځ ته راځي چی معمولا ښځو کې مبیض او په نارینه کې په خصیو کې وي دتومور داشکل دومره نادر دی چی په ښځو کې دی ته هیڅ اهمیت نه ورکول کیږي.

B: کلینیکي پلټنی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Chorionic epithelema څخه مخکی واقع شوی هر یوحالت فرق کوي اودحمل ډول اودپلاسنتاء نسج چی داور څخه منشه اخلي پوری اړه لري ددی مرض ټولونه مهم فکتور چی ارتباط ورسره لري عبارت دي ددی قدرت څخه دمرض خباثت تعین کولای شي چی کلینیک کې دانتشار لټول یو مقدم ضرورت دی ددی مریضانو تر اوړدی مودی پوری معاینه او تعقیبول ضرور دي.

خصوصاء په دی اوسنی وختو کې ددی نایاب مرض په تداوي کې په زړه پوری نتیجو دمنځته راتلو له کبله نور هم ضرور دی.

C: تصنیف بندي او هستالوجیکي درجه بندي ددی تومور دپاره دپوهیدو او باور وړ نه دی د Henting تحقیق ته دی مراجعه وشي.

D: تداوي

جراحي او تشعشع ددی افت دیقیني تداوي دپاره یواځینی شکل دا نتیجی په مساوي توګه خرابی دي د Hertz دتحقیق په مرسته کیموتراپي اوس د تداوي انتخابي میتود دی او اوړدی مودی لپاره ژوند اوس زیات عمومیت لري (۷۰%) د Metastasis Methorexate فمي او زرقي لارو څخه دحیرانوونکي نتیجی سره استعمال شوی حتی دلیری ځای Metastasis په موجودیت کې هم ورڅخه استفاده شویده نوموړی تومور یواځنی خبیثه افت دی چی په دوامداره توګه کیموتراپي سره بنه نتیجه ورکوي اودکارسینوما نورو شکلونو دتداوي په منظور دنوی دواګانو استعمالولو او ازمایش کولو دپاره خلک اماده کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Prognostication for the seventies in Gynecologic Oncology

په اوم لسیزه کې دنسایي انکالوجي لپاره تګ لاره:

۱- دهغه Gynecology انکالوجي کی دلجسپي لري باید دشعاعي Therapist او طبي انکالوجستانو سره باید کوششونه ګد کړي او ددا سی کمکي ګروپونو تشکیل دیو زیات شمیر موسساتو څخه یې منشاء اخیستی دی منځ ته راولي اودهمدی کوشش په اثر دتداوي ګډ پلانونه په کنترول شوي توګه دځیړلو کوشش وکړي چی په نتیجه کې دمریضانو دژوند په اندازو کې بنه والی ولیدل شي او همدارنګه دنسایي خبیثه امراضو اپیدمیالوژي په بنه توګه وځیړل شي داډول ګډ کوششونه په یو لنډ وخت دمناسب او صحیح معلوماتو دتهیه کولو لپاره زمینه مساعدوي چی په نتیجه کې دتداوي بنه ترینو طریقو لپاره مواقع هم لاسته راوړي.

۲- دتداوي دګډو طریقو زیات استعمال باید وشي چی په دې جمله کې کیموتراپي، شعاعي تداوي او جراحي په ګد ډول سره دتداوي په یو بنه مشرح پروګرام کې استعمال شي.

۳- دهغه کانسرونو چی نسایي منشاء لري د درجه بندي داجراء کولو په منظور باید عملیاتي Lapratomy دتداوي دشروع کیدو څخه مخکی په زیاته اندازه اجراء شي اودکانسر ددرجه بندي لپاره کلینیکي پیمانو داستعمال څخه تر وسه وسه ډډه وشي.

۴- دکانسر په تداوي کې دامیونولوجي او وایرولوجي پیشرفته رول او همدارنګه کانسر دامینولوژي لپاره امونولوجیک یا وایروسي سبب لټول.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يورالوجيکي اونارينه تناسلي کانسر

۱- تناظر

هغه نيوپلازم چی بولي او په نارينه تناسلي لاره کې منځ ته راځي د خبيثه افاتو ډلی څخه دی چی ډير واقع کيږي په يو کال کې تقريباء ۳۳۰۰۰ وفيات دنوموړی ناحيود کانسر څخه منځ ته راځي ددی ناروغانو د ساتنی او نگهداري دپاره تقريباء دتداوي ټول ډولونه استعماليږي.

په دی جمله کې هارموني کنترول او کيموتراپي هم شامل دی که چيری ناروغ ته دزياتی توجه او زيات ژوند اندازی ورکول موخه وي نو په پايله کې د تشخيص او تداوي دپاره Collaberative طريقه ډيره ضروري ده.

دپښتورګو تومورونه په کاهلانو کې:

A: دکاهلانو د پښتورګو کانسر څخه تقريباء ۲۳۰۰ مرګونه منځ ته راځي.

B: تقريباء ۱۱،۱۰۰ نوی پيښی هر کال تشخيص کيږي چی ۱-۲% دټول پيښو احتوا کوي.

C: دتشخيص په وخت وسطي عمر ۵۵- ۶۰ کلنی ده.

D: دکليوي پرانشيم Hypernephrose adeno Ca په ۸۰% پيښو کې منځ ته راځي او ۲:۱ په نسبت نرانو کې زيات واقع کيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکليوي حويصل Transitional cell يا Squmous cell په ۱۵% واقعاتو کې ليدل کيږي په نرانو او ښځو کې په مساوي توګه واقع کيږي.

F: د Hypernephrone ايتالوژي څرګند شوی نه دی د پښتورګو حويصل تومورونه ښايي چی مزمن التهاب اوتخرشيت سره ارتباط لري چی دپښتورګي دتيږو دناروغی له کبله په تالي توګه منځ ته راځي.

II: کلينيکي پلټنی (اعراض اوعلايم)

A: Hematuria ۷۰% درد، ۵۰% جس وړ کتلی ۲۰%، تبه ۱۲% او Poly cythemia ۳%.

B: دهيماتوريا دشروع نه د تشخيص د وضع کيدو پوري دتاخير مودی وسطي اندازه ۲۳ مياشتی ده او د درد اولنی عرض څخه تر تشخيص وضع کيدو پوری ۱۴ مياشتی ده.

C: د تشخيص دوضع کيدو په وخت کې ۳۷% پيښی Metastasis لري.

تشخيصی طريقی

A: Urinalysis ښايي چی RBC څرګند کړي.

B: اطراحي يوروګرافي IVP ديوځای نيوونکی کتلی شتوالی د Pelvo calycal برخی دبيځايه کيدو او دپښتورګي دخارجي شکل دبی نظمه کيدو سره يوځای ښکاره کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Retrograde Pyelography

دپښتورگو دحويصل يا د Calyx سيستم دتومور په موجوديت کې ښايي چې دډکيدو نقص ښکاره کوي.

D: Nephrotomography

تقريبا په ۹۵% پيښو کې Cyst ديوجامد تومور څخه تفريق کولو کې کمک کوي.

E: انتخابي کليوي Artrierography

تقريبا ۱۰۰% واقعاتو کې تشخيص وضع کوي چې د Neo Vascula ture مخصوص کتنو او دافت دپراختياء شواهد سره يوځای وي.

F: د افت دپراختياء په اندازه کولو کې مرسته کوي په Vena cava يا کليوي وريد کې دډکيدو نقص يا دنوموړي جوړښتونو انسداد د Resection يا دجراحي عملیی دنوعيت دپاره استطباب دی.

G: دپښتورگو حويصل څخه د حالبي کتيتر ايياري پواسطه اخيستل شوی ميتازو کې دخبيثه حجراتو تثبيت کول دجراحي داجراء دپاره کفايت ور شواهد ورکوي.

IV: تصنيف بندي

A: اناتوميک مرحله بندي

IA: داخل کليوي داخل محفظوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تومور محفظ شوی وي او محفظه يې سالم او بی دکليوي پرانشيم انتشاروي.

IB: داخل رحمي، خارج المحفظوي

دتومور محفظه پارچه وي او کليوي پرانشيم ته انتشار صورت نيولی وي وريدونه يا لمفاوي اوعيی حملی لاندی راغلی د پښتورګو محفظه سالم وي.

III: Microscopic Peri Nephric

دپښتورګو د محفظی دلاری Perinephric شحم ته انتشار صورت نيولی وي او د وريدونو لمفاوي اوعيو ته انتشار، مايکروسکوپيک شواهد موجودوي ګراس مرض د Resection وړ دی يواځی په ميکروسکوپيک ډول بقايا پاتی کيږي.

III: Perinephric ګراس:

Perinephric صفاق ته انتشار دوريدونو او لمفاوي اوعيو ته انتشار دګراس د نظره څرګند وي چی د جراحي پواسطه په ناتامه توګه تومور ليری کيږي او دګراس په ډول پاتی کيږي.

IV: ليری ځايو ته ميتاستاز

احشاو ته ميتاستاز موجود وي يعنی هډوکو، سږي اودماغ ته

پاملرنه:

د TNM تصنيف بندي په پراخه توګه نه استعماليږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: هستالوجيکي انواع:

۱- Hypernephroma

۲- کليوي حويصل Squamous يا Transitional

V: دتداوي پرنسيپونه:

A: Hypernephroma

۱- مرحله: Nephrectomy (جذري نفريکتومي چی عقداتو تسليخ په کې شامل وي)

۲- او ۳ مرحلی: Nephrectomy او دعملياتو څخه وروسته شعاعي تداوي.

۴- مرحله: د درد او نژف دپاره عرضی تداوي په منظور نفريکتومي اجراکول د نفريکتومي او واحد Metastasis د Resection (دماغ، سږي اوهډوکی) پواسطه کله کله شفا حاصليدلو راپورور کرل شويدي په ځينی موسسو کې پروجستيرون يا تستستيرون دمختلفو نتيجو سره استعماليږي.

۴- يو ملي پروتوکول دعملياتو څخه مخکی تشعشع د ۴۵۰۰ (او ۴-۵ هفتو پوری) او په تعقيب انتخابي کليوي Arteriography او Nephratomography دتشخيص لوړ صحيح والی (۱۰۰%) په اساس ممکن شويدی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دکليوي حويصل کارسينوما:

۱- که دعملياتو ورتياء ولري نو Nephro ureterectomy اجراکولو ته ترجيح ورکول کيږي.

۲- څرنګه چی دحويصل Transitional حجراتو تومور ښکته دحالب خواته او حتی مثانی ته د خبيثه حجراتو د ورکولو ميلان لري نو ځکه حالب ليری کول ضروري دی (لاکن Hypernephrons کی دانادراء منځ ته راځي).

VI: پايلی

A: اولنی او دويمه مرحله Hypernephroma

۵ کالو دپاره ۳۰ – ۵۰%

۱۰ کالو دپاره ۱۵ – ۳۰ %

B: دريمه مرحله Hypernephroma

۵ کالو دپاره تقريبا ۱۰%

۱۰ کالو دپاره تقريبا ۵%

C: بهترين نتيجی Robson پواسطه راپور شويدی (د ۵ او ۱۰ کالو ژوند اندازه ۲۵%) او د صدري بطني نفريکتومي دعقداتو تسليخ له کبله دی په مقدمه توګه د پښتورګو د Pedicle بندش مخکی له دی چی پښتورګو Manipulation اجراء شي اجراء کول او د پښتورګي د ليفي شحمی غلاف سره يوځای ايستل.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: دحویصل Transitional کارسینوما چی انتشار کړی وي په کالو ژوند اندازه ۱۴۷%

او دانتشار سره ۴% (دپرا نشیم ماوف کیدل دژوند اندازه ډیر زیات کموي)

E: Squamous cell ۵ په کالو ژوند اندازه نادره ده.

F: په Hypernephroma دمقدم تومور لیری کولو پواسطه د Metastasis بنفسهي ترمیم

Regression لیدل شویدی.

دپښتورګو رشیمي تومورونه Willm's Tumor

Introduction

A: Mesoderm څخه منشاء اخلي.

B: ۷۵% د ۵ کلنی څخه مخکی واقع کیږي.

C: ۲۵% د ۳ کلنی څخه مخکی منځ ته راځي.

D: په دواړو جنسونو کې په مساوي توګه منځ ته راځي.

E: په ۲،۷% مریضانو کې دواړه پښتورګي ماوف کوي.

F: دورکتوب ډیر لوی خبیث تومور دی.

II: کلینیکي پلټنی

A: په ۵۰ سلنه پیښو کې بطنی کتلی دجس وړ وي.

B: په ۲۰ سلنه پیښو کې Hematuria موجود وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: په ۳۰ سلنه پیښو کې درد موجود وي.

D: په ۷۵% پیښو کې دوینی فشار لوړوالی لیدل شویدی.

III: تشخیصي طریقی

A: دتشخیص دپاره معمولاً یو اطراحیه یوروګرام غوره معاینه ده.

B: دصدر X-ray ښایي چی Metastasis څرګند کړی.

C: که اطراحیه یوروګرام تشخیص وضع نه کړي نو Retrograde pyelodrapy ته اړتیا پیښیږي.

D: Acrtography ګټور دی.

IV: تصنیف بندي

اولنی مرحله:

تومور په ښه توګه موضعي وي په بشپړ توګه ایستل کیدای شي نو وروسته د تومور Rupture منځ ته نه دی راغلی په Resect شوی برخه کې دتومور انتشار د پښتورګی څخه دباندی په ګراس ډول شون نه لري.

دویمه مرحله:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دجراحي نه وروسته دګراس دنظره داخل البطيني پاتی شونی د ناروغی په دی جمله کی یوائی بایوپسي د عملیی څخه مخکی یاددی په سیر کې دنیوپلازم Rupture دلمفاوي عقداتو (بایوپسي پواسطه ثابت شوی)د کلیوي وريد يا سفلی اجوف وريد ته پراختیا او توسع د پښتورګي څخه دباندی انتشار څرګند ګراس پراختیا او یا دمقابل طرف پښتورګی ماوف کیدل نښی لیدل شوي دي په دی شرط چی د بطن څخه دباندی کومه بله ناروغی شتون ونه لري.

دریمه مرحله:

(لیری ځایوته Metastasis (سږویانورو اعضاو ته)

A: داخل بطني تومور د تشخیص د وضع کیدو په وخت کې شتون لري (هغه پیښی چی مخالف طرف پښتورګی په کې ماوف شوی وي په دې کې شامل دي)

B: دحقیقي داخل بطني تومور دتداوي دشروع نه وروسته دتوجه وړ ګرځي.

V: توپیري تشخیص

A: Hydro nephrosis

B: Neuroblastoma

C: دپښتورګي Polycystic ناروغی

D: Retroperitoneal sarcoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

VI: د درملنی پرنسیپونه

A: هرڅومره چی ژر امکان ولري نفریکتومي باید اجراء شي.

B: کـه تومـور د Resection وړ نـه وي يـا Metastatic وي نـو مخکـی لـه Resection څخـه شعاعي تداوي اويا کيموتراپي (Vinciristine يا Actinomycin) پيل شي.

C: کـه د Resection څخـه وروسـته د انتشـار نښـی موجـودوي نـو شـعاعي تـداوي او کيموتراپي اجراء شي بايد په ياد ولرو چی Wilm's تومور شعاعي حساسيت لري.

D: د Resection څخه وروسته منځ ته راغلی Metastasis تومـور دپـاره شـعاعي درملنه او کيموتراپي په ګډه سره ترسره کيږي.

E: پـه کلينيکي ازمايشـونو کـې دکيمـوتراپي انتخـابي درملنـه ده چی دوه اونی وروسـته ورکول کيږي او ددی درملنی مقدار د تجربی لاندی نيول کيږي

VII: ځانګړی کتنی

دشعاعي تراپي د اختلاطاتو په ډله کې Scalosis او کله کله په موقتي توګه د هډوکو دمخ انحطاط يا نادراء مخالف خوا پښتورګی شعاعي ضرر سره مخامخ کيږي.

VII: پايلی

A: بی دکيموتراپي

۱- دوه کلنی څخه کم عمره: دوه کالو ژوند اندازه ۷۳%

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ۳-۹ کلنی: دوه کالو ژوند اندازه ۱۸،۵ %

۳- (وخت دکول) Doubling time دانژارو دپاره یو چوکات په حیث د ۳۴۰ څخه تر ۳۳۸ پیښو دپاره صحیح ثابت شویدی دانظریه وایي چې:

دمریض دپاره دتومور د عود کولو خطر دتشخیص په وخت کې دمریض عمر جمع ۹ میاشتو (دحمل موده) سره مساوي دي دادکیموتراپي تاثیر کتنی لاندی نه راولي.

B: دکیموتراپي سره:

۱- دبوستن دکوچنیانو د روغتون د Farberr دتجاربو دراپور په اساس کوم وخت چې دنفریکتومي په سیر کې Actinomycin D په عادي توګه تطبیق او تشعشع سره اوږده شي تقریباء په ټولو پیښو کې Metastasis څخه مخنیوي وشو دبی دوا څخه ۲ کالو ژوند ۴۰ سلنه د Actinomycin سره دوه چنده ۹۸%) څخه لاهم زیات شو.

۲- Vincristine هم دغه شان Tumorecidal فعالیت څرګند کړیدی.

۳- د Metastasis تداوي دلرو بشپړ تشعشع Actinomycin دیوځای تطبیق پواسطه.

دسړو دهغه دوه طرفه Metastasis چې لمړی دتداوي وړتیا نه لري ددی میتود سره ۵۸% پیښو کې وړ وه اویوځه ناکامي دنورو ځایو ته د Metastasis دکبله هم منځ ته راغلی وه.

حالب

Introduction

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: دمقدم تومور دپاره نسبتا نادر ځای دی.

B: Transitional cells تومورنه دهستالوژي له نظره مثانی او کليوي حويصل ته ورته دی.

C: په ۲۰-۷۰ کلنی کی ډير عموميت لري.

D: نرانو کې د ښځو په نسبت ۲:۱ ځله زيات واقع کيږي.

E: دحالب په سفلي ثلث کې ۵۰% منځ ته راځي.

II: کلينيکي پلټنی

A: په ۷۴% واقعاتو کې Hematuria ټولو نه زيات عمومي علامه ده.

B: په ۵۰% واقعاتو کې دبندش، موضعي انتشار يا Metastasis له کبله درد موجود وي.

III: تشخيص

A: دادرار معاينه کې : وينی سره کرويات، حالبي کاستونه

B: دغير نورمال حجراتو دپاره سايتولوژي

C: اطراحيه يوروګرافي (IVP): بندش، دډکيدو نقص نشتوالی

D: Cystoscopy (دماوفه ناحيی څخه دوينی توئيدل)

E: Retrograde Ureterography او Pyelo graphy

IV: دتداوي پرنسيپونه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: که افت دقطع کولو وړ وي نو Nepheroureterectomy دشفا په موخه اجراکول دي.

B: که پښتورګو وظیفه کم شوی وي نو په موضعي توګه قطع کول یا دیو پښتورګی ایستل

C: هغه پرمختللی پیښو دپاره چی موضعي انتشار لري شعاعي تداوي اجراکول.

V: نتیجی

A: په کالو ژوند اندازه ۱۰% څخه کم.

B: دکم درجی تومور د بهتر انزار لرونکی دی.

C: دحالب نری جدار ابتدایي مرحلو کې ماوف کیدل او په موضعي توګه انتشار سره

عمومیت لري.

دمثانی کانسر

Introduction

A: دبولي طرق ډیر عمومیت لرونکی تومور دی.

B: په USA دټولو کانسرو د وفیاتو څخه ۳۵% په غاړه لري.

C: دمثانی کانسر څخه د وفیاتو اندازه په ۱۹۷۰ کې په لاندی توګه ده.

نارینه ۲۱۰۰ نتیجی ۲۸۰۰ دنرانو دښځو ترمنځ تناسب ۱:۳،۲

D: صنعتي Exposure چی دایتولوژي سره اړه لري.

۱- Anilline dye, rubber industry and cable industry

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- Aminodiphenyl, Betamephthyl amine او Tobacoter په حیواناتو کې تومور منځ ته راولي سګرت څکول ښایي چې دمثانې د کانسر په منځ ته راتلو کې رولو لوبوي.

۳- په انسانانو کې دتومور دعامل سره مخامخ کیدل او دتومور د منځته راتلو ترمنځ اوږده دتفریخ دوره شتون لري (۲۰-۲ کاله).

E: ددی کانسر د Squamous cell په ډول کې یې لاملعبارت دي د مثانی مزمن انتانات د تیږو او S.Hematobium دی.

F: دوقوعاتو معمولي عمر ۵۰-۷۰ کلنی ده.

G: دتومور موقعیت:

۱- ۸۴% دمثانی وحشي او خلفي جدارونو کې.

۲- ۴۰% دمثانی په Trigone کې.

II: کلینیکي پلټنې

A: ګراس Hematuria ټولو نه زیات عمومیت لري او په ۷۵% پیښو کې اولنی علامه ده.

B: دمثانی تخرشیت د فریکونسی او Dysuria سره تقریبا یو پر درې پیښو کې اودمرض په وروستنی مرحلو کې زیاتیږي.

C: د Micro hematuria شتوالی د تثبیت کولو لپاره اندازه ګیري ته ضرورت پیښیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: خونريزي په ځانګړی توګه متناوب وصف لري او دتشخيص په ځنډ کې يو فکتور هم دی ځکه مريض او طبيب ښايي چی يودبل سره کارپريږدي.

III: تشخيصي طريقی

A: کوم وخت چی دګراس له نظره متيازی پاک وي نو Urinalysis پواسطه Microscopic Hematurea څرګندیږي.

B: دعلوي بولي طرق او مثانی دډکيدو دپاره اطراحيه يوروګرافي.

C: Cystoscopy معمولاء تشخيص وضع کوي.

D: د انستيزي لاندی Bimanual معاينه دتومور درجه معلومول دپاره اجراکول د تداوي څخه مخکی اندازه ګيري دپاره ضروري ګڼل کيږي.

E: بايوپسي دتومور درجه بندي او دارتشاح ژوروالی اندازه کولو لپاره دمرحله بندي طريقی يوه برخه ده.

F: Cytology په صنعت کی ښايي چی سکرېننګ قدرت ولري او په تعقيبيه پروګرامونو کې ښايي چی افتونه په ابتدايي مراحلو کې تشخيص کړي.

G: Cystography د Triple voiding cystogram په شکل کې ښايي چی دمثانی د جدار ارتشاح څرګندیږي.

IV: تصنيف بندي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرحلی: ۰ یواځی سطحی مخاطي غشاء کی ځای لري

A: تحت المخاطي سطحی ته پراختیا کوي.

B۱: عضلاتو ته سطحي انتشار لري.

B۲: عضلاتو کې عمیق سطحي پراختیا مومي.

C: Perivesical ارتشاح

D: دمثانی څخه دباندی انتشار.

۱- اناتومیک فکتورونه

A: دمثانی په جدار کې دتومور د نفوذ ژوروالی یواځی ټولونه مهم فکتور دی. چی د یو مخصوص افت اخرنی انزارو په باره کې لارښوونه کوي او په دریم شکل کې ورکړل شوي د مثانی کانسر درجه بندي لپاره اساسي لارښوونه هم برابروي.

B: دزیات شمیر تومورونو شتوالی بیله کوم انتشار یا دافت اخته شوي ناحیی ښایي چی د تداوي طریقي په تعین کولو کې یو مهم فکتور وي.

C: دکلیوي حویصل یا دحالب دمقدم کانسر څخه ښایي چی تومور ښکته خواته خبیثه حجرات انتشار کوي.

D: میتاستازس دلمفاوي او دموي اوعیو له لارې صورت نیسي.

E: دانزارو تقسیم کونکي خط د B۱ او B۲ ترمنځ قرار لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

F: د VICC او AJCCS لـه خـوا تشـکيل شـوی TNM سيسـتم د رسـم شـوي امريکـايي سيستم سره مقايسه کيدای شي په هر حال په دی هيوادونو کې TNM سيستم په پراخه توګه استعمال نه لري.

۲- هستالوجيکي فکتورونه:

دتومور هستالوجيکي منظره ښايي چی دتومور د ارتشاح او انتشار کولو قدرت په باره مونږ ته يو څه ناڅه لارښودنه کوي زيات شمير Anaplastic افتونه معمولاً دډير ژور ارتشاحي تومورونو کې ليدل کيږي.

A: اولنی مرحله: Papilloma papillary carcinoma

B: دويم نه تر څلورم درجی: Transitional Cell Ca (ښه تفريق شوي نه تر Anaplastic پوري).

C: Squamous cell carcinoma

D: Sdeno carcinoma ښايي چی د Urachas يا Cystitis glandularis څخه منشاء اخلي ۱% څخه کم).

۳- يوځای درجه بندي

لاندی ورکړل شوي مرحله بندي دتومور اناتوميک وسعت او هستالوژيکي منظره داساسي کتنو په حيث.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: ۱ ګروپ سطحي مرحله(O,A,B) تست درجه I,II

B: ۲ ګروپ سطحي مرحله (B۲,C) لوړه درجه III,IV,VI

C: ۳ ګروپ ميتاستاتيک مرحله (D) لوړ درجه III,IV,V

۴- دويمي کتنی

دتداوي دډول معلومولو څخه مخکی لاندی فکتورونه بايد کتنی لاندی ونيول شي.

۱- دمريض عمومي صحت

زياتره مريضان د ۶۰ کلنی څخه زيات عمر لرلو له کبله نو Geriatric ناروغيو سره مخامخ وي.

۲- دبولي تناسلي نور ملګري پرابلمونه:

لکه Prostatism بولي طرق انتانات، دحالب بندش، دپښتورګو Compromised وظيفه.

۳- دتومور دعود کوونکی اندازی تاريخچه:

دتومور دعود کولو لوړه اندازه ښايي چی دتداوي په پلان دځنډ سره مخامخ کړي.

۴- مخکی اجراء شوي جراحي يا شعاعي تداوي بايد حتماء د نظر لاندی ونيول شي.

۵- دجراحي يا شعاعي درملنی تربيت، تجربه او هنر

۶- دعملياتو څخه وروسته د کوم بولي انحرافي الی يا لاری استعمال په مورد کې دمريض تحمل لرلو قدرت شتوالی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- د Metastasis عمومي ناحیی عبارت دی له ناحیوي لمفاوي عقدات، ځیګر سږي او هډوکي.

V: دتداوي پرنسیپونه:

دتداوي ډول او وسعت یا پراخوالی د لاندی فکتورونو پواسطه معلوم کیدای شي چی مخکی هم ذکر شوي وه.

۱- اناتومیک هستالوژي تصنیف بندي.

۲- دتومور موقعیت.

۳- دمریض عمومي وضع یا صحت.

۴- مخکینی تداوي

A: جراحي تداوي طریقی:

۱- دهغه سطحی افتونو چی دعود کولو اندازه یې کم یا بطي وي دتشخیص دپاره معمولاً Endoscopic Resection او د برقي صدمو Fulguration پواسطه استعمالیږي او همدارنګه دپرمخ تللي واقعاتو یا دجراحي زیات خطر لرونکي مریضانو کې دخونریزي دکنترول دپاره هم استعمالیږي.

۲- دلوی سطحی تومورونو یا زیات شمیر افتونو اودخونریزي د کنترول دپاره واز لوپ Resection یا Fulguration استعمال.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- دمثانی په کنبد (Dome) یا جنبي جدار کې واقع لوی اوواحد افت دپاره دمثانی Segmental resection ځانګړي شویدی اوکه افت دحالب خولی سره نژدی موقعیت ولري نو دحالب Remiplentation ضرورت ګڼل کیږي.

۴- تام Cystectomy دپاره یو بولي انحراف ته اړتیا پیښیږي او په دې جملې بنایي دحوصلی موضعي عقدات دپروستات د منوی کځوړی او احلیل څومره برخه چی ضروري وي شامل دي.

A: Cystectomy هغه وخت استطباب لري چی تومور انتشاري یا Anaplastic وي نو ترایګون ناحیه کې وي دمریض د ژوند ښه انزار لري او د حوصلی ناحیی څخه دباندی هیڅ Metastasis دلیدو وړ نه وي.

B: جراحي بنایي چی په دوه عملیاتو کې اجراء شي چی انحراف په اول او په تعقیب Cystectomy وي یا همدارنګه په لمړی مرحله کې هم اجرا کولای شو.

C: دانحراف عمومي شکلونه

۱- Uretroilial illeal loop

۲- Rectal Bladder with colostomy fecal rectal

۳- Bleeding uretro cataneus

۵: دتصنیف بندي له نظره دجراحي غوره طریقی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: ۱ ګروپ: سطحی مرحله ۱ O.A.B ټیټ درجه I,II Ca

۱- Endoscopic Resection او Fulguration

۲- دمثانی Segmental resection په انتخابي پیښو کې.

۳- دمثانی دزیات شمیر Papillomatosis ځینی مقاومو پیښو دپاره تام Cystectomy

B: ۲ ګروپ: تروره مرحله B ۲ C لوړه درجه III, IV, Ca

۱- تام Cystectomy دبولي انحراف سره.

۲- په انتخابي واقعاتو کې د مثانی Segmental Resection

C: III ګروپ:

میتاستاتیک مرحله D لوړه درجه III, IV, Ca کله کله بولي انحراف.

B: شعاعي تداوي:

۱- دشعاعي تداوي اساسي غږي Super voltage تراپي دی او په لاندی حالاتو کې استطباب لرلی شي.

A: ۱ ګروپ: سطحي مرحله O,A,B درجه I,II Ca

۱- د Conservative جراحي اقداماتو لکه د Fulguration او Transurethral resection دپرابلم کنترول کولو کې ناکامي نه وروسته.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دکثیر التعداد Papillomatosis په واقعاتو کې که افت د ۱۰ څخه زیات وي چې دموضعي اقداماتو سره مناسب عمیق دوزونو لکه Radiu مخنیوي کوي.

۳- کوم وخت چې افت خپل هستالوژیکي درجه او د انتشار ژوروالی ته بدلون ورکړي او د II ګروپ افت باندې بدل شي.

۴- دتام Cystectomy دمتبادل په حیث کوم چې دافت دموقعیت یا دمریض دعمومي صحت له نظره ورته اړتیاء پیښه شي.

V: په راتلونکي کې د Papilloma دتشکل څخه مخنیوی دپاره دوقایوي اقدام په حیث ګټور نه دی.

B: ګروپ دپاره ژوره مرحله (B۲,C) لوړه درجه III, IV

۱- هغه افتونه چې دانتشار وصف یې معلوم شوی وي دهغې دانتشار دمخینوی لپاره جراحی محافظه کار اقدامات ناکام شویدي لکه د دریم او څلورم درجې Transitional cell Ca په پیښو کې.

۲- په هغه Ca کې چې عضلي طبقې Perivesical انساجو کې ښه ژور نفوذ کړی وي د Super voltage تشعشع سره لاسته راغلی ژوند اندازی دهغو اندازو سره چې جذري جراحي تداوي تام Cystectomy په واسطه لاس ته راځي د مقایسیې وړ دی په داسې حال

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې د Super voltage تراپي څخه وروسته تومور عود وکړي نو جذري جراحي اجراکولو مخه نیول کیدای شي.

۳- په دی مورد کی زیاته اندازه شواهد موجود دي چی ددی صنف مریضانو تقریباء ۵۰% دحوصلی عقدات داسی ماوف شوي دي چی تداوي ته اړتیا پیښیږي.

C: III ګروپ دپاره: میتاستاتیک مرحله D لوړه درجه III, IV Ca

۱- د درد او Hematuria په کنترول کولو کې دعرضي تداوي په حیث:

۲- د Anaplastic په انتخابي پیښو کې چی حوصلی پوری محدود او حالب بندش سره یوځای وي دانحراف ورکوونکي طریقو لکه ileal bladder استعمال دیو دوامداره لوړ دوز کورس دپاره اماده ګي او اسانتیا برابروي کوم چی د ژوند اندازه زیاتولی شي.

۲-دتشعشع نوری طریقی

A: دسطحي فتونو دپاره داخل جوفي Intracavitory میتودونه: لکه دمرکزي Mediu منبع یا ایزوتوپس سره Dallon

B: دضخیم افتونو اودهغه افتونو چی مثانی جدار ماوف کړي وي Cystotomy او بین الخلالي Implantation

C: دعمیق افتونو د پاره Super voltage تشعشع:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو تومورې دوز د rads ۲۰۰ په اندازه د ۵-۲ هفتو دپاره او بوستر دوزونه د ۱۰۰-۵۰۰ راده پوری دانتخابي تومورې ناحیو ته ورکول کیږي چې په دی جمله کې د حوصلی عقداتو تراپي تر rads ۵۰۰۰ پوری په کې شامل دی.

D: دمیتاستاتیک افاتو دپاره چې دعرضي تداوي په ډول تشعشع اجراکول.

۳- دتشعشع په مقابل کې تعامل:

A: فوري یا عاجل تعاملات.

۱- دا په اخرنی هفته کې او د X-ray تراپي څخه څو ورځی وروسته واقع کیږي یا په ۲۰% مریضانو کې دایزوتوپ څخه یو څو ورځی وروسته منځ ته راځي.

۲- ددی په جمله کې Urgency, Frequency, Dysuria, Nocturia اواسهال شامل دی داموقتي وي اودکانزرویتو تداوي په ذریعه په موثره توګه کنترول کیدای شي.

۳- نوموړی دمثانی دماوف کیدو وسعت اودتومور اختلاطاتو او نورو فکتورونو لکه BPH اتتان پوری اړه لري.

۴- دمنتن شوي مثانی یا په پراخه توګه Fulgurate شوي مثانی په واقعاتو په تداوي کې Morbidity زیاتیږي.

D: موخر شعاعي تعاملات (جنبي عوارض):

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- په دی جمله کې اساسي تعاملات عبارت دي د Cystitis تفلس شوي مثانی تقرح او نزف Ilietis یا Celitis څخه دی.

۲- دامعمولاء د تداوي څخه ۲-۱۲ میاشتی وروسته منځ ته راځي.

۳- دتشعشع څخه وفیاتو اندازه تقریباء ۲% ده.

C: کیموتراپي

۱- دسطحي عود کوونکي افاتو په تداوي کي په موضعي ډول TEPA علاوه کول یوځه ناڅه ارزښت لري. د Leukopia پرابلم ښایي چی دجذب کیدو پواسطه منځ ته راځي.

۲- په سیستمیک ډول یوائی FU ۵ تطبیق کول د مثانی زیات تعقمیدو هیڅ شواهد یا دعملیاتو څخه وروسته تطبیق کول د مرحلو درجی کموالی نه دی ورکړی.

IV: نتیجی:

A: یوسطحي ښه تفریق شوی تومور بهترین انزار لري.

B: دتداوي دطریقو نتایج بیل بیل اندازه کول مشکل دی ځکه مریضانو باندی دیوځخه زیات تداوي ګانی په عین زمان کې اجراء کیږي.

C: دسطحي افاتو Endoscopic تداوي ۸۰% د ۵ کالو ژوند اندازه ورکوي.

D: د ۵ کالو ژوند اندازه.

دمثانی Ca مقایسوي نتیجی په ۵ کالو کې.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Super Voltage تشعشع په مقابل د Versus تام Cystectomy

%۷۱-۱۲	%۸۰-۳۲
%۲۸-۷	%۸۰-۳۲
۰	%۱۲-۰
مجموعاء ۳-۲%	%۴۳-۱۳

پاملرنه

په هره مرحله کې ورکړی شوی لوی عددونه دمریض دانتخاب او ملګرو نور طبي مرضونو له کبله دی.

E: دعملیاتو څخه مخکی شعاعي تراپي دملی څیړنی نتیجی:

۱- دمثانی انتشار کارسینوما په ۳۲ مریضانو څیړنی لاندی ونیول شوه.

۲- دهغه مریضانو د جملی څخه چی ۴۵۰۰ rads په علاوه شویدی ۴۵% یې په خپل تام توګه قطع شوی مثانه کې هیڅ تومور نه لري.

۳- دنه تشعشع شوي مثانو څخه ۱۰% دتومور څخه ازاده وه (ددی تومورونو مخکی له دی Endoscopic پواسطه تداوي شوي وو).

۴- دتشعشع شوي ګروپ کې د ژوند اندازی د نه تشعشع شوي ګروپ په نسبت ښه نه وو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- FU ۵ د Placebo په نسبت ژوند اندازی نه ښه کوي او Double Whitmores non randomized F blind study مطالعه (Memorial شفاخانه نیویارک ښار) چی B۲C ژو رو مراحلو واقعاتو ښه نتایج ښودلي دي یعنی د جراحي دپاره ۳ کالو ژوند اندازه ۲۰% په مقابل ددی دتشعشع او جراحي دپاره ۳۲%.

C: Conclusion

۱- دترابي کوم یواځینی ډول وجود نه لري چی دنورو په نسبت بهتر وي.

۲- دهر ځانګړي پیښی دپاره دډیر متغیره شیانو دوزن کولو نه وروسته باید تداوي انتخاب شي.

۳- مرحله بندي:

دانزارو په اندازه کولو کی درجه بندي ډیر زیات اهمیت لري.

۴- دبهترینو مجموعي نتایجو دلاسته راوړلو لپاره Callaborative طریقو ضروري ګڼل کیږي (جراحي، شعاعي تراپي، کیموتراپي او طبعي تنظیم د بیمار شوو کسانو دپاره).

۵- دمقایسه کولو دمقصد دپاره دتداوي نتیجی اندازه یومشکل کار دی.

پروستات

Introduction

A: ایتالوژي – معلومه نه ده لاکن یوڅه هورموني ارتباط وجود لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دنارینه و مرض دی چی د ۵۰ کلنی نه وروسته واقع کیږي او په ځوانانو کې نادراء دلیدنی وړ دی.

C: د ۵۰ کلنی څخه زیات نرانو کې ټولو نه زیات عمومي کانسر دی (پوستکی په دی جمله کې شامل نه دی.

D: دوقوعاتو عمر USA ۱۹۵۰

۱- هر ۱۰۰۰۰ کې ۳۲ (مجموعي)

۲- هر ۱۰۰۰۰ ۳۴،۸ (سپین پوستان)

۳- هر ۱۰۰۰۰ ۴۹،۹ (چی سپین پوست نه وي).

E – دتومور دپاره وسطي عمر ۷۰ کلنی ده.

F: دپروستات Ca څخه تقریباء ۱۷۰۰۰ په یوکال کې مړه کیږي.

G: په نرانو کې د وژونکی کانسر دجملی څخه دوهمه درجه کې راځي (سږي، پروستات، کولون)

H: په Autopsy کې دهستالوجي د نظره تثبیت شوي پروستاتیک

وقوعات

د ۵۰ کلنی څخه زیات سن نرانو کې ۱۴-۲۴% دی.

I: د ۵۰ کلنی نه وروسته ددی دوقوعاتو اندازه ۱۷ کالو نه وروسته زیاتیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

J: معمولي تومور يې Adeno Ca دی او Sarcoma نادر دی.

تقريبا هر کال ۳۵۰۰۰ نوی واقعات منځ ته راځي.

II: کلينيکي پلټنی

A: موضعي

۱- هيڅ اعراض نه لري.

۲- دملګري سليم پروستاتيک Hypertrophy دکبله د بندش اعراض ورکولای شي.

۳- دسليم ناروغيو د پاره اجراشوي جراحي کې په تصادفي توګه ليدل کيږي.

B: پرمختللی

۱- دمتيازو دبندش اعراض.

۲- ميتاستاتيک اعراض (دهډوکو درد، وزن بايلل، يوريميا)

۳- هيماتوريا د پروستات سليم ناروغيو سره د خبيثه امراضو په نسبت زيات عموميت لري.

III: دتشخيص طريقی

A: موضعي

۱- د Rectum معاينی په اساس د پروستات د جملی څخه ۵۰% Carcinoma په ثابت کولو کې کمک کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- هستالوجیک تشخیص اکثراء دهغه Specimen دمعاینی په واسطه سرته رسي کوم چی د BPH دپاره اخیستل کیږي.

۳- دسیروم Phosphatase نارمل وي.

۴- یو Needle بایوپسي (عجاني یا Transrectal اکثراء مناسب وي.

۵- په انتخابي پیښو کی واز بایوپسي ته هم ضروت پیدا کیدای شي.

۶- د په ردولو کې منفي سایتولوژي لږ ارزښت لري.

۷- دهډوکي Survey کوم میتاستازس نه څرګندوي.

۸- کوم وخت چی دهډوکو سروی منفي وي نو دهډوکي Sr F۱ Scan ځینی وخت دفعالیت غیر استثنایي ناحیه به څرګنده کړي.

B: پرمختللي

۱- دریکتم معاینه دجامد تومور موضعي انتشار ښکاره کوي.

۲- د دوه پر دری پیښو کې چی تومور میتاستاتیک انتشار کړی وی سیروم اسید Phosphatase سویه لوړه وي.

۳- که میتاستازس هډوکو ته صورت نیولی وي نو الکالین Phosphatase سویه لوړه وي.

۴- دهډوکو سروي میتاستازس عمومي ځایونه (حوصله ، فقرات) ښکاره کوي چی ۹۰% پیښو کې Osteo blastic وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- Needle بایوپسي ساده او اسان تشخیص دی واز بایوپسي ته نادراء اړتیا پیښیږي.

۲- دمنفي عظمي سروی سره هډوکي (Sr^{85}- F^{181}) ښایي چی په ۲۰% واقعاتو کې ثبت وي نوموړی طریقه اکثرا میتاستاتیک مرض نورهم انتشار اوتوسع کړی ښکاره کوي.

IV: تصنیف بندي:

A: اناتومیک (امریکایي سیستم)

A: مرحله : پټ کانسر

B: مرحله : کانسري Nodule دپروستات محفظی پوری محدود وی.

C: مرحله : کانسر د محفظی څخه دباندی شاوخوا جوړښتونو ته توسع کړی دی یا دمحفظی په داخل کې محدود دی لاکن ورسره دسیروم Acid phosphatase سویه لوړه ده.

D: مرحله: دهډوکي یا دحوصلی څخه دباندی اعضاو ماوف کیدل لیدل شویدي.

پاملرنه

د VICC له خوا TNM په لاس کې شته لاکن په پراخه توګه نه استعمالیږي د TNM مقایسه ور اصناف د امریکایي حرفي سیستم په څنګ کې ورکړل شویدي.

B: هستالوجیکي

۱- Adeno carcinoma

۲- دتومور پیژندنه په انزارو کې اهمیت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- Perinearal انتشار ډیر عمومیت لري لاکن انزار سره کوم اړیکی نه لري.

V: دتداوي پرنسیپونه

A: موضعي مرحله (A,B) شفا ورډی.

۱- جذري Prostatectomy دعجاني Retropubic یا Transrectal لاری څخه.

A: پروستات، منوي کڅوړی اودمثانی Cuff لیری کیږي.

B: په صحت مند نرانو کې د موضعي افت دپاره موثر تداوي چی معمولاً ۹۰ کلنی نه چی کم وي دمیتاستازس شواهد نه لري او د ۱۵ کالو ژوند اندازه هم ښه دی وجود لري (تقریباً د ۵-۱۰ مریضانو دپاره)

۲- هغه مریضان چی دجراحي توان نه لري د استروجن او Orchiectomy پواسطه تداوي کیږي یا یواځی مشاهدی لاندی نیول کیږي یو V.A مطالعه داسی نظر ورکوي چی استروجن داساسي Thrombo embolism اختلاطاتو کې په کافي اندازه زیات والی منځ ته راولي خصوصاً هغه مریضانو کې چی یو اوږدی مودی دپاره د تداوي لاندی ساتل کیږي.

۳- شعاعي تداوي

ددی ډول تداوي کې دتجربی زیات والی دموضعي انتشاري او په متوسطه اندازه توسع کړی کانسر (دپروستات د محفظی څخه) د Papemia داحتباس سره کوم وي د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Super voltage شعاعي تداوي ډير شفا بخښوونکی اول خواته لارښودنه کوي دا د B او C مرحلی پوری ارتباط لري.

B: پرمختللي مرحله (D) شفا ورنه دی.

۱- استروجن او Orchiectomy زیادتره استعمالیږي.

۲- شعاع دهډوکو درد دښه کولو او ځینی وخت د موضعي منتشر تومور چی تراپي مقابل کې ځواب نه وایي دپاره موثر تمامیږي.

۳- دعکس العمل نه ورکوونکی افتونو دپاره د Steroids استعمالیږي.

۴- دهډوکو میتاستاتیک مرضونو کې P^{32} یوځه ناڅه ارزښت لري.

۵- Anti Androge cyproterone acetate اوس ځیرنی لاندی نیول شویدي.

نتیجي:

A: جذري Prostatomy (دشفا دپاره)

۱- تقریباء ۵۰% د ۵ کالو ژوند اندازه لری.

۲- تقریباء په ټولو پیښو کې Impotence منځ ته راځي.

۳- ۵% نه تر ۱۵ پیښو کې Incontinence واقع کیږي.

۴- په ځینی Series کې دموضعي منتشر افت دپاره هارموني تداوي او په تعقیب جذري Prostatectomy اجراء کول په مساوي توګه ښه نتیجه ورکړی دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- ښه تفریق شوی افتونه بهترین انزار لري.

۲- د ۱۵ کالو ژوند اندازی ۳۳% (د ۸۲ څخه ۲۸ مریضان چی دپروستات پوری محدود کانسر دپاره جذري Prostatectomy پواسطه معامله شول مرحله).

B: استروجن اویا Orchiectomy (دعرضي تداوي دپاره):

۱- په هغه مریضانو کې چی پراخ metastasis اودهډوکو درد لري Dramatic نتیجی لاسته راغلي دي.

۲- ۸۰-۹۰% په هغه مریضانو کې ښه عکس العمل چی اول ځل دپاره تداوي لاندی نیول شوي وه.

۳- د Orchiectomy او هارموني تداوي سره مساوي عکس العمل ورکوي.

۴- دهډوکو Metastasis ښایي چی دمینځه تللی وي.

۵- پروستات معمولاً په ۴-۲ هفتو کې کوچنی کیږي او معاینه کوونکی ښایي چی تومور جس نه کړي.

۲- یوځل چی Metastasis منځ ته راشي نو پرته لدی په افت څومره تفریق شویدي د ۲-۳ کالو ژوند اندازه ټاکل کیږي.

۷- دمرض پرمختللی اعراض لرونکی مرحلی دپاره داستروجن Stilphosterol داخل وریدي لوړ دوزونوتخصیص ښایي چی عکس العمل نور هم بهتر کړي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: شعاعي تراپي (شفا دپاره)

۱- Super Voltage تداوي:

۲۲۲ مريضان چی موضعي توګه منتشر کانسر لري (B and C مرحله) کوم چی د ۱۸ میاشتو نه تر ۱۰ کالو پوری تعقیب شوی دی د Borkson او Cage په واسطه دوی په کالو ژوند اندازه ۲۰% ده هم په دی ګروپ کې ۵۹ مريضان د ۵ کالو ژوند په خطر کې دی او ۲۵ د نیوپلازم شواهد نه په غیر ژوندي دي.

ددی نه علاوه ګستی داسی دی چی ۷۵% هغه پینبو کې Potency په قرار ساتل کیږي کوم چی ددی دلرلو ادعا کوي او هیڅ Incontinence نه لیدل کیږي.

۲- شعاعي طلا زرق په بین الخلالي مسافی کي:

یوه ډیره لوړه اختصاصي طریقه ده چی دیوکلینیکي ګروپ دپاره بهترینی نتیجی ورکړیدي په هر حال ددی استعمال دومره وسیع او پراخ شوی نه دی.

D: په مختلفو Series کې استعمال شوي دتداوي مختلف طریقو دنتایجو مقایسه کول مشکل دی ځکه چی دمریضانو وړ ګروپونه مطالعی لاندی نه دی نیول شوي یعنی مرحله بندي او ورسره ملګری طبي مرضونه فرق کوي.

خصیی (Testis):

Introduction

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: په نرانو کې دتولو کانسرونو ۱% تشکیلوي.

B: متوسط عمر ۳۲ کلنی دی چی دعمر په دی ګروپ کې تولونه زیات واقع کیدونکی Ca دجملی څخه دی.

C: په Cyprotorchid خصیو (ښکته شوی نه وي) کې وقوعاتو اندازه یې زیاته ده.

D: ایتالوژي معلوم شوی نه ده.

E: ښی طرف یې په ۵۲،۳% پیښو کی او چپ طرف ۴۷،۷% پیښو کې ماوف کیږي د دوه طرفه Cyptorchism واقعاتو کې مخالف طرف خصیی په ۲۴% پیښو کې Ca باندی اخته شوي او سفن کې ښکته شوي خصیو کې ددی اندازه ۱% وه.

II: کلینیکي تشخیص

A: هیڅ ابتدایي اعراض نه لري.

B: په خصیو کې دکتلی شتوالی یو ابتدایي کتنه ده.

C: دخصیو جامد یا کلکي تومورونو دجملی څخه ۹۲% خبیث دی.

D: تفریقي تشخیص

۱- Epididymitis

۲- Spermatocele

۳- Hydrocele

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- Benign Tumor (Rare)

۵- Orehitis

E- Gynecomastia

F: دمیتاستاز اعراض

۱= Periaortic عقداتو ماوف کیدل

۲- ریوي میتاستازس

III: تشخیصي طریقی

A: جس

B: ثدیو معاینه

C: دخصیو افتونو Transitllumination

D: صدري عکسونه

E: اطراحیه یوروګرام ښایي چی د Periaortic عقداتو ماوف کیدو له کبله تولید شوي دحالب انحراف ښکاره کوي.

F: د LH تاثیر اندازه کولو دپاره سیروم یا متبازو معاینه کول.

G: لمفوانجیوګرافي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- باید ترجیحاء دخصیو او Pedicle دواړو Lymphoangiogram اجرا شي ټول عقدات دی ولیدل شي خصوصاء دچپ کلیوي Pedicle

۲- یو مثبت Radiography کتنی دجراحي کتنو سره بهترین ارتباط ښکاره کړی په ۲۸% پینبو کې د Pedicle lymphoangiogram پواسطه یو مثبت تسلیخ وړاندوینه شویده.

IV: تصنیف بندي:

په دی اوسنی وختو کی داناتومیک تصنیف بندي اودهستالوژیک ډولونو ټاکل پیژندل شویدي دواړه ذکر شوي فکتورونه د انزارو او تداوي په ټاکلو کی مهم رول لري.

A: هستالوژیکي ډولونه

تولیدي نسج څخه منشاء ۹۷% Semonoma ده.

تیپیک (کلاسیک)

اناپلاستیک

Spermatocytic

غیر تیپیک

Embryonal Ca ۱۵-۲۰%

Teratoma ۱-۵%

۱- Teratoma (خبیثه ناحیو سره)

Teratoma carcinoma ۲۰-۲۵%

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chorio carcinoma %۱

ګډتومورونه %۲۰-۱۵

غیر تولیدي نسج څخه منشاء (۳%)

بین الخلالي حجراتو تمورونه

تومورونه

B: اناتومیک مرحله بندي

۱- Waiter Reed سیستم

IA: تومور یو خصیی پوری محدود دی: دتومور انتشار کوم کلینیکي یا Radiographic شواهد وجود نه لري بنایي چی په دی جمله کې اطراحیه یا Retrograde یورګرافي لمف انجیوګرافي سفلي Veno cavography او صدري Reentgenography شامل وي.

IB: د IA په شان لاکن یافوق البهري عقداتو تسلیخ پواسطه د هستالوژیکي شواهد وجود لري.

II: دفخذي iliac یا فوق ابهري عقداتو ته د میتاستازس کلینیکي یا د رادیوګرافي له نظره شواهد موجود وي د حجاب حاجز څخه پورته یا دحشوي اعضاو ته دمیتاستازس کوم لیدلو وړ شواهد نشته.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

III: دحجاب حاجز څخه پورته یا د عضویت نورو لیرې ځایو اعضاو ته دمیتاستازس کلینیکي یارادیوګرافي له نظره شواهد وجود لري.

۲- VICC, TNM تصنیف بندي مشایع کړیده لاکن دا اساسا د مرحله بندي په عوض دمقدم افت تفصیلات لري چې کلینیکي ارزښت يې کم دی.

۳- دمثبت Lymphoadenectomy وقوعات د خصیو تومورونه او نور Seminomas دپاره ۳۸% وه.

دتداوي پرنسپیونه:

A: جراحي :

۱- هرڅومره چې ژر امکان ولري مغبني پلتنې Inguinal Exploration دی اجراء شي د Cord لوړ سویه باندی ترې اوداشتباه لاندی افتونودپاره Orchiectomy اجراء کول دتومور د جس او ګوتو پواسطه لټولو څخه مخکی دوینی ارواء کنترول ممکن دی.

۲- دټولو Germinal تومورونو په استثناء دخالص Seminoma او Chlorio carcinoma دپاره دوه طرفه عقداتو تسلیخ تجویز کیږي.

B: شعاعي تداوي

۱- د Seminoma دپاره دعادي تداوي شکل د Retroperitoneal او Homo lateral iliac عقداتو تشعشع دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په Seminoma که Retroperitoneal عقدات هم ماوف شوي وي نو د پورتنی په څیر تشعشع سپارښتنه کیږي او همدارنګه منصف دپاره او وقایی په منظور اجراء کیږي.

C: Retroperitoneal عقداتو له نظره دتداوي استطباب:

هستالوژي	عقدات منفي	عقدات مثبت
Seminoma (خالص)		
Embryonal	S یا OX	S-X ±C
Teratoms (خالص)	S	
Terato Carcinoma	S	S-X ±C
Chronio Carcinoma	O یا C	

کلي : کیموتراپي = C جراحي = S تشعشع = X

D: کیموتراپي

Actinomycin D , Methotrexate او Chlorambucil په ګډه ډول د پرمختللي مرضونو د پاره استعمال شویدي ابتدایي نتایج ښایي چی دجراحي یا X-ray تراپي سره چی دکیموتراپي سره یوځای نه وي نسبتاء د ژوند اندازه زیاته وي.

E: دښځو Chrorio Carcinoma کې کیموتراپي ډیره موثره ده لاکن په نارینه و کې دومره تاثیر نه لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

F: Chlorambucil د Seminoma دپـــاره مـــوثر دی Mithramycin او Actonomycin د Embryonal او Terato carcinoma دپاره موثر دی.

نتیجی

د ۱۰ کالو ژوند اندازه گیری ټولو مراحلو دپاره:

دتومور نوع	ژوند اندازی %	دپیښو شمیر
Semonoma	%۹۰	۳۳۲
Embyenal Ca	%۳۵	۱۵۷
Teratoma Ca	%۴۷	۲۰۲
Chorioc Ca	%۱۱	۹
ګډ تومورونه	%۱۰۰	۱۳۱
مجموعه	%۲۰	۸۳۹

B: په ناحیوي لمفاوي عقداتو کې دعود کوونکی Seminoma ۵۵% واقعات دتشعشع پواسطه نور ۵ کالو دپاره شفا حاصل کیدای شي.

D: دخرابو انزارو منظره په دې ډول ده

درد، دمحفظی ماوف کیدل د Lymphoid stroma نشتوالی د اوعیو ماوف کیدل بین الخلالي حجراتو Hyperplasia د Endotropic فعالیت لوړوالی Gynecomastia هغه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکتورونه چی د انزار له نظره کوم اهمیت نه لري عبارت دي دتومور د جسامت اود اعراضو دوام څخه.

۱- یو طرفه Lymphadenoectomy د دوه طرفه Lymphadenectomy په څیر دژوند اندازه ورکړي ده. ۴۴% او ۴۷% باالترتیب ددی پوښتنی دځواب دلټولو د پاره کلینیکي ازمایشونو سرته رسول او همدارنګه دعملیات څخه مخکی یا وروسته د Lymphadenectomy سره تشعشع اجراء کولو رول اندازه کولو دپاره هم په کلینیک کې به څیړنی تر سره کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپوستکي کانسر

۱- تناظر

دپوستکی دخبیثه افاتو دکانسرونو مطالعه کول په زړه پوری خبره ده ځکه چی نوموړی کانسرونه دتداوي په مقابل کې څه ناڅه ځواب ورکوي ځرنګه چی د پوستکي کانسرونه سطحي افتونه دي دپوستکي د Epithelial کانسرونه د بطي نشونما له کبله موضعي پاتی کیږي جراحي اویا تشعشع په ځانګړي توګه په مساوي اندازه کامیاب ثابتیږي ددی دجملی څخه د هر یو ګټی په مختلفو نیوپلازمونو کې ډیر ژر لیدل کیدای شي.

۱- تعارف Introduction

A: وقوعات: خبیثه مرضونو له جملی څخه دپوستکی خبیثه افات زیات عمومیت لري داسی اندازه شوي ده چی د ۴۰-۵۰% دهغو خلکو څخه چی ۶۵ کلنی عمر ولري اویا کم ترکمه مخکی یوځل په خپل ژوند کی په کانسر اخته شوی وي زیات عمومیت لري د پوستکي کانسرونه دټولو نه زیات دکانسرونو په دویمه درجه کې راځي که یو شخصي خبیث افت ولري نو ۵۰-۲۰% ددی امکان شته چی د دویمي کانسر داخته کیدو په جمله کې به دپوستکي کانسر وي.

B: دپوستکي دکانسر ډولونه

دپوستکي ۹۰% کانسرونه د دوه ډوله هستولوژیک ډولونو له جملی څخه دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- Basal Cell Ca %۲۰

۲- Squamous Cell Ca %۳۰

دپوستکی پاتی ۱۰% کانسرونه د هستالوجیکي ډولونو ډیر انواع لري.

۳- Base squamous Ca

۴- Malignant Melanoma

۵- دعرقیه او Sebaceous دغدواتو ادینوکارسینوما

۶- Kaposis Sarcoma

۷- Mycosis Fungoides

۸- Hodking's Disease


۹- Mar Jolin's Disease

۱۰- Lymphomas

C: وفیات : دپوستکي دکانسرونو دوفیاتو اندازه ډیره ټیټه ده او د تداوي د هریو میتود سره د ۹۰% څخه زیات دشفا وړ دی یوائی د Malignant Melanoma په استثناء چی دپوستکي په کانسر کې ځانګړی دپام وړ موضوع ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Source: Fauci AS, Kasper DL, Braunwald E, Hauser SL, Longo DL, Jameson JL, Loscalzo J: *Harrison's Principles of Internal Medicine*, 17th Edition: http://www.accessmedicine.com

Copyright © The McGraw-Hill Companies, Inc. All rights reserved.

Atypical and malignant pigmented lesions.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: ایتولوژي فکتورونه

۹۰-۹۵% دپوستکي کانسرونه دعضویت په مکشوفه نواحیو کې منځ ته راځي نو له دی کبله د لمر زیاد ایتولوژیکي فکتورونو په جمله کې شمیرل شویده د نورو فکتورونو په جمله کې Xero derma pigmentosa چې په سابقه کې یې تشعشع اخیستی دي په مزمن ډول کیمیایو موادو ته مخامخ کیدل د ویلي شوي فلزاتو سوځیدل او د زاړه سوځیدلي تندبی زخم تقرحي کیدل شامل دي اودایو صباغي Nevous مزمن تخرشیت په Malingnant Melanoma کې یو ایتولوژیک فکتور کیدای شي.

E: اپیدیمیالوجي

دپوستکي دکانسر زیات وقوعات دپوستکي په مکشوفه نواحیو کې قرار لري د صحیح هستالوژیک تشخیص نه وروسته یقیني تراپي د شفا لوړی اندازی ورکوي چی له همدی امله دپوستکي کانسر د شفا وړ دی دپوستکي دکانسر لپاره مقدم صحیح تشخیص او یقیني تراپي باید په وقایوي ډول اجراشي ترڅو د شفا لوړی اندازی منځ ته راشي.

II: کلینیکي تشخیص

A: Basal Cell Carcinoma : په پورته شوی کلک، سور یا سور فولادي شکل په څیر افت د تندي، جفن، رخسار، پوزی او دشونډو په ناحیو کې موجودیت چی په کلاسیک شکل


Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Rodent قرحه چی په مرکزي برخه کې متبارزه تقرحه ولري او مورفي کلک اوسي، زیادتره د Basal Cell Ca خاته فکر کیږي.



Nodular melanoma




Basal cell carcinoma

B: Squamous Cell Ca

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی کانسر Seales لري، keratotic وي او په خفیفه اندازه غیر منظم پورته شوي څنډی لري چی معمولاء سطحی او مزمن تقرح لري وروستنی افت یې Exophytic اوماتیدونکی وصف لري چی لویه تقرح هم په کې لیدل کیږي.



Squamous cell carcinoma of the skin

C: دپوستکي نورکانسرونه

کومه وصفي منظره نه لري لاکن دپوستکي هریو دوامداره نشونما چی په پیشرفته شکل دسطحي څخه پورته شي اوتقرح ولري دیقیني تشخیص لپاره باید بایوپسي ورڅخه واخیستل شي.

پیش قدم خبیثه افات

دپوستکي کانسرونه په یوزیات شمیر پیش قدم خبیثه افاتو سره منځ ته راځي چی په لاندی ډول دی:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- Dermatitis

۲- Senile Keratosis

۳- Kerato A Canthoma

۴- Bowen's Disease

۵- Arsenical Keratosis

۶- Unstable Burns Car

III: تشخیصیه طریقی

A: Excisional بایوپسي:

که یو افت کوچنی وي او ۲cm طول ولري او دهغوی موقعیت اجازه ورکړي نو د ۰.۵ تر ۰.۱ څنډو پوری Excisional biopsy اجراکیدای شي داډول طریقه پتالوجسیت ته یوه مناسبه نمونه چی د څنډو ټول جهتونه په کی وي او ژوروالی هم ولري په لاس ورکوي که څنډی مناسب او منظم وي نو دا یقیني تراپي ده او که څنډی مناسب اویا منظم نه وي نو نور تراپي ته اړتیاء پیښیږي معمولاً جراحی یا شعاعي تراپي وربانډی علاوه کیږي چې په موقعیت، مجاورت او په نورو اعضاو کې انتشار پوری اړه لري.

B: Incisional بایوپسي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلويو افاتو لپاره دادول بايوپسي چې يوه څنډه احتواء کوي هدايت ورکول کيږي چې په تعقيب يې ژر يقيني تداوي اجراکيږي يعنی جراحي تداوي اويا شعاعي تداوي چې داهم په موقعيت دافت په نوع او دبی اعضاو سره التصاق پوری اړه لري.

C: بيله کوم هستالوژيکي تشخيص څخه بايد هيڅ دول تعين تراپي اجراء نشي لاکن دکوچني افاتو لپاره يوه مناسبه Excisional بايوپسي عموماء يقيني تراپي ده.

D: که کانسر دهډوکو سره ارتباط ولري نو دهډوکي دتخريب د شتوالي د تثبيت کولو لپاره راديوګرافي توصيه کيږي.

E: يو داسی مريض چې Multiple Keratosis ولري ديوی مياشتی لپاره Veseline يا Aquaphor علاوه کولو زياتره افات لري کوي اوهغه افات چې بيا هم دوامداره پاتی شي بايد بايوپسي شي.

IV: تصنيف بندي

A- اناتوميک : VICC د پوستکي کانسر چې د Malignant Melanoma څخه علاوه وي.

۱- T۱N۰: هغه افتونه چې سطحي يې ۱cm اويا کم وي او ژوروالی يې اويا کم وي.

۲- T۲ N۰: هغه افتونه چې سطحی قطر يې ۲cm تر ۵cm او ژوروالی يې تر وي.

۳- T۳ N۰ : هغه افتونه چې سطحي قطر يې ۵Cm-۲ د ۲cm څخه زيات وي او ژوروالی يې ۲cm اويا زيات وي او هډوکي اويا غضروف يې ماوف کړی دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- NO T۴ : هغه تومور چی دهډوکي او غضروف په شان جوړښتونه ترحملی لاندی نیسي.

د Melanoma لپاره د T۴ هیڅ ریفرنس نشته چی ۵cm مقدم کانسر سره Satellite Nodules طرف ته لارښودنه کوي کوم چی د T۳ دی دعقداتو تصنیف بندي دپاره د UICC دی ولیدل شي.



Lentigo malignant melanoma

B:پتالوجیکي مرحله بندي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپوستکي دکانسر هستالوژیک وصفونه باید دپتالوجست سره بحث شي ددی لپاره د شمیر له نقطی نظره مرحله بندي نه اجراء کیږي لاکن حجروي طرزونه اواوصاف اوهمدارنګه د خبیثه حجراتو د نوروجوړښتونو سره ارتباط دیقیني تراپي په تشکیلیدلو کې اهیمت لري.

V: دتداوي پرنسیپونه

دجراحي اویا شعاعي تراپي دپاره باید دشفا اندازه په مساوي توګه لوړه وي.

A: جراحي

د ۲cm اویا کم افت لپاره Excisional بایوپسي چی د ۰.۵ نه تر ۰.۱ پوری څنډی اخلي عموما یقیني تداوي په توګه قدر لري دمخ او لاسو په ډیرو نواحیو کې کې د ۲cm څخه لوی افات قطع کیدای شي لاکن داعظمي زیبایش اویا دښایست دلاسته راوړلو باید مناسبه منصوبه بندي وشي دنوموړي بندي په جمله کې ښایي موضعي مرور Flaps اویا دبشپړ پیړوالي لرونکی پوستکي پیوند شامل وي.

خبیثه افت هډوکي اوغضروف اخته کړی وي نو معمولاً جراحي ته مراجعه کیږي په غیر معمولي حالاتو کې چی میتاستازس رقبي عقداتو ته صورت نیولی وي نو دمیتاستازس دیقیني تداوي په منظور دغاړی جذري تسلیخ اجراء کیږي.

B: شعاعي تراپي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

که Excisional بایوپسي دتومور څنډې غیر منظم ښکاره کړي شعاعي تراپي اجراکیدای شي دادول تداوي باید په داسی نواحیو کې هم استعمال شي کله دسترګو جفن چیرته چی کوم ځای کی جراحي قطع کول Reconstructive جراحي ته ضرورت پیداکوي که خباثت هډوکي اویا غضروف کړی وي نو شعاعي تراپي معمولاً مضاد استطباب ده د پوستکي دکانسر تداوي دتشعشع پواسطه ډیر ژر لیدل کیږي یعنی Erythema نمداره Desquamution او ترمیم، انتخابي تاثیر اودتداوي اختلاطات ښودل کیدای شي مختلفی طریقی لکه خارجي تشعشع Radiation اونور شعاعي ایزوتوپ هریوځانته استعمال لري.

۲- Chemo surgery

دپوستکي دکانسر دتداوي لپاره یو بل میتود چی د Monis پواسطه کشف شوی دی Znel اونور اجزاوی د Fixing عواملو په ځیر استعمالوي دادیو Topical درمل په حیث علاوه کیږي اودیو زیات شمیر په ننبه شوي بایوپسي ګانو پواسطه په احتیاط سره کنترولیږي اومعمولاً دهغو غیر معمولي عود کوونکی افاتو لپاره مخصوص دی کوم چی مخکی دجراحي اویا شعاعي تراپي پواسطه تداوي شوي دی.

D: کیموتراپي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپوستکي دغیر معمولي عود کوونکی کانسرونو لپاره مختلف کیمیاوي عوامل په لاندی ډول استعمال شویدي.

۱- وعایي زرق

۲- موضعي زرق

۳- وسطي (Topical) Application

په موجوده وخت کې نومورې عوامل ډیر زیات شفابخښوونکی ثابت شوي نه دي لاکن ښایي چی مشکل افات نسبتاء داوږدی مودی لپاره کنترول کړی.

VI: خصوصي کتنی

A: اختلاطات:

دپوستکي دکانسر اساسي اختلاط بیا پیداکیدل دی همدارنګه دیونوي مقدم کانسر د منځته راتلو امکانات هم زیات دي او له همدی کبله مریض باید په کال کې ۲-۴ ځله تعقیب شي دهډوکي اویا غضروف ماوفه کیدل دیوعود کوونکی افت پواسطه تراپي ته ارتیاء لري میتاستاتیک حادثه له نیکه مرغه عمومیت نه لري لاکن که بیاهم منځ ته راتلای شي نو باید چټک یقیني تراپي اجراء شي.

B: دناکامي اسباب:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دناکامي عادي سبب د مریض ناوخته مراجعه کول دي او تر هغه وخته ناروغ خپلی مریضی ته توجه نه کوي ترکومه پوری چی مرض ښه پیشرفت وکړي او هډوکي اویا غضروف ماوف کړي اویا دوسیع Metastasis سره مراجعه وکړي دطبیب دناکامي بل لامل د اولنی یقیني تراپي نه استعمال او دتعقیب نشتوالی دی ځکه چی د طبیب په خیال کې دایواځی دپوستکي یوکانسر هم وي.

C: دانزارو فکتورونه

یوځوان شخص چی دپوستکي کانسر لري ددی زیات امکان شته چی نوموړی شخص په خپل ژوند کې دیوبل داسی کانسر سره مخامخ شي له همدی کبله په دی کانسر کی د مریض تعقیبول ضروري ګڼل کیږي.

میتاستازس کولای شي لاکن Basal cell Ca نه کوي د Base squamous عادي ډول عود او میتاستازس ته زیات میلان لري اوباید دیوخطر لرونکی کانسر په ډله کې وشمیرل شي.

دپوستکي هغه کانسرونه چی دځوکالو نه مخکی تشعشع شوی نواحیو کې منځ ته راځي لکه Acne هم عود کولو ته میلان لري نوی افتونه منځ ته راولي او Metastasis ورکوي په SMH کې لږ شمیر وفیات چی دپوستکي دکانسر له کبله مونږ لیدلی دي ددی درد اخرنیو له جملی څخه دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: دشعاع اختلاطات:

اساسي کتنه موخر شعاعي نکروزس دی چی د دردناکه تقرح او داپي تل نسج دبيرته نشونما دعدم کفايی سره ملگری وي.

E: په نورو افاتو کې تداووي

۱- دپوستکي عرقيه او شحمي غدواتو Adeno Carcinoma: نوموړی افات بطي غيرفعال افات دي چی دتشخيص پرابلم ګڼل کيږي او څرنګه چی شعاعي مقاومت لري نو دجراحي پواسطه قطع کول يې بهترينه تداوي ده.

۲- Mycosis Fungoides : A Lymphoma

نوموړي بدبخته مريضان د پوستکي وسيع ارتشاح لري چی ددی مرحلی څخه تيريږي.

۱- Iching Erythingmatous scaling او Eoghraphic plaques

۲- Nodular پورته شوی افات

۳- تقرحي او منتن شوي تومورونه

انتشار او ورسره يوځای Lymphoma ډير عموميت لري موضعي تراپي دتشعشع سره کاميابوي دپوستکي د وسيع افاتو لپاره دالکترانو ډرانګو تراپي ښه ارزښت لري کيموتراپي لږ تاثير لري لاکن استعماليدای شي.

B: Kaposis Sarcoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا یو نودولر Erythematous افت دی چی معمولاء په اطرافو کې منځ ته راځي لاکن بالاخره احشاوته انتشار کوي نوموړی تر ډیروخت پوری دوام کوي نوموړی دموضعي Excisional پواسطه کنترول کیدای شي او شعاعي تراپي ته په کوچني دوزنو زیات عکس العمل ورکوي.

۳- Hemangiomas

ددی په Strawberry ډول په طبعي ټوګه په اولنی کال کې د جسامت زیاتوالی په دویم کال کی د Plateous راتلل او په دوهم او پنځم کال کې رجعت اودمنځه تلل دلیدنی وړ دی اګر چی نوموړی شعاعي حساسیت لري لاکن دنوموړی افاتو لپاره تشعشع نه ورکول کیږي لاکن هغه وخت چی ډیره نارامي او ژوند ته دخطر سبب شي نو تشعشع اجراکیږي دتشعشع موخر تاثیرات زیبایش له منځه وړي خصوصاء هغه وخت چی افت په بنفسهي توګه رجعت کوي او له منځه ځي.

۴- دویمي اویاد پوستکي میتاستاتیک کانسر:

A: داتحت الجلدي نوډول دی چی زیاتره په ثدیو، سږو او کلیوي Primaries کې دلیدنی وړ دی ددی تراپي دتشعشع اویا موضعي Excisional پواسطه اجراء کیدای شي.

۵- کثیر التعداد سطحی کارسینوما

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادکانسر یو خصوصي ډول دی چی د Basal اویا Squamous cell دنوعی څخه کیدای شي نوموړی افت د مسطح Scalling erythroid افاتو چی دیوځو ملي متره ژوروالي لري پواسطه تظاهر کوي ددی اساسي پرابلم دنوموړو دتعداد کثرت اودهغوی سمت وده کوونکی طبیعت دی که دموقعیت په لحاظ دزیات تعداد له کبله ساده Excistional اجراکول مشکل وي نو په سطحي توګه د ۳۲ پواسطه تلوین شوي برخو باندی تشعشعي اجراء کول یو مثالي طریقه ده.

VII: نتیجی

A: Basal Cell Ca

دهریومناسبی طریقی پواسطه دجراحي تعشعشی تداوي باید تعقیب شي ترخو دشفاء لوړی اندازی ۹۰-۹۵% وي.

B: Squamous Cell Ca

دهر ډول تراپي سره ۷۵- ۸۰% دشفا اندازه لاسته راځي البته دادتومور موقعیت، دحجراتو د نوع او میتاستاز پوری اړه لري.

C: دعود په تعقیب ددویمي تداوي اجراء کول دکامیابي لوړ چانس ورکوي او په توجه سره دمریض تعقیبول ډیری ښی نتیجی ورکوي.

Malignant Melanoma C.M.M

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- پیژندنه

خبیثه میلانوما دجلدي مهمو کانسرونو له جملی څخه دی کوم چی دپوستکي دعادي کانسرونو سره په ډیرو طریقو توپیر لري داد Melaniocyte د حجراتو یو تومور دی نومورې حجرات د Epidermis په قاعدوي طبقه کې قرار لري او Melanin تولیدوي چی یو تیره صباغ دی په پوستکي کې دمیلانین د مقدار اندازه دپوستکي رنګ تعین کوي له نیکه مرغه دایو غیر معمولي تومور دی.

A: وقوعات

Caucasian په متوسطه اندازه ۱۵ صباغ داره افات لري اودتور پوستانو لپاره دا اندازه ۰.۲ اودنومورو لپاره په خباثت دسلیم تبدیلیدو امکانات ۱:۱۰۰۰۰۰۰۰ دی M-M د تولو کانسرونو ۱.۲% جوړوي د مرض وقوعات د ۵۰-۲۰ کلنی پوری دی خصوصاء خوش رنګه ښایسته خلقو کې ددی ټولو نه عمومي ځای او غاړه ده اوپه تعقیب یې سفلي اطراف دی.

B: وفیات

M-M دټولو کانسرونو دوفیاتو ۰،۷۴ فیصده جوړوي.

C: اتیالوژي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبب يې معلوم شوی نه دی البته ترضيضي او ارثي مساعد کوونکی فکتورونو ترشک لاندی دی همدرانګه Junctional Nevi او Compound Nevi ښايي چی خبيثه بدلون غوره کړي.

II: کلينيکي پلټنه:

A: دګراس له نظره افت ديو تومور او نصواري نقطی په څير ښکاري. محيطي لوی والی، درنګ غيرمنظم غلظت د ويښتانو محراقي راټوکيدل، متوسع نشونما، استحالوي تغيرات لکه تقرحي Blistering سوروالی او Soreness B ددی A.Melanotic ډول په خپل محتوي کې صباغ نه لري او د ګراس ميکروسکوپيک تشخيص نورهم مشکل کوي.

III: تشخيصي طريقی

A: دپوستکي دنورو کانسرونو په څير بهترينه تشخيصيه وسيله يې Excisional بايوپسي ده.

B: که افت لوی او تقرحی وي نو Incisional بايوپسي هم اجراء کيدای شي.

C: دافت کلينيکي اومايکروسکوپيک تشخيص هم اکثراء دمشکلاتو سره مخامخ کيږي ځکه چی نوموړی دپوستکي ديوشمير متنوع افاتو سره ترڅيړنی لاندی نيول کيږي.

IV: تصنيف بندي:

A: **اناتوميک مرحله بندي**: Anatomic Staging

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپوستکي دکانسرو تصنیف ته ورته دی.

B: د M-M طبعی تاریخچه او حیاتي طرزالعمل ښایي چی کافي متحول وي همدارنګه د ۲۰-۳۰ کالو دژوند اندازه اوهمدارنګه بنفسهي ترمیم او درجعت راپور هم ورکړل شویدی مګر دا د استثنایي پیښو نماینده ګي کوي.

۲- ددی انتشار په مستقیم توګه په دوامدار صفاقي طبقو سره هم نیولای شي اودلمفاوي اویا وعایي لاری څخه هم د Emboli په څیر انتشار کوي.

۳- علاوه پردی نوموړی د Junctional تغیراتو دمنځته راتلو میلان هم لري اودمقدم افت په ناحیه کې Intra epithelial انتشار کوي یا Dermis اویا تحت الجلدي نسج ته Emboli Metastasis ورکوي.

V: دتداوي پرنسیپونه

A: جراحي

۱- ددی مریضانو د شفا لپاره جراحي غوره عملیه ده.

۲- دمقدم افت تنظیم: ددی اساسي پرنسیپو پراخ موضعي Excision دی.

۳- دعقداتو تنظیم: زیاتره مولفین په دی عقیده لري چی دمربوطه ناحیوی لمفاوي عقداتو ویستل کومک کړی په داسی حال کی چی دمقدم افت موقعیت اجازه ورکړي او که دا

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

امکان ونه لري (دپښود تلي افت) نو دمقدم قطع کولو ۳-۲ هفتی وروسته دعقداتو ایستل اجراء کیدای شي.

B: **شعاعي تراپي**

۱- میلانوما دقانون په څیر یو شعاعي مقاومت لري.

۲- ځینی Therapist دمقدم ناحیی اود تخلیه کوونکي عقداتو لپاره د عملیات نه وروسته د وقایی په حیث تشعشع استعمال کړیده او په پایله کې ښه والی منځ ته راغلی دی لاکن ددی نظریې سره تراوسه موافقه موجوده نه ده

۳- که افت یوځو ملي متره پوری نه وی نو عرضي تداوي اجراء کول مشکل تمامیږي.

C: **کیموتراپي** (۱۲)

۱- په عمومي توګه پرته له دی چی د Melanin کیمیا په ښه توګه پوهیدل شویده خو هیڅ دوا د ژوند داندازو په ښه والی کې موثره نده تمامه شوی.

۲- په دی اوسنی وختو کې د M-M ۲۰% پیښی چی د Dimethyl triazeno amino imidazo carboxiamide پواسطه معلومه شویده یو معروضي رجعت ښودلی دی.

۳- په موضعي توګه دقلوي کوونکو عواملو پرفیوژن Phenyl alanine mustard د اطرافو په افاتو کې د ۵ کالو ژوند داندازو زیاتوالی ښکاره کړیدی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

VI: خصوصي کتنی

A- دځوانی څخه مخکی M.M ډیر نادر دی؛

B- حمل دژوند اندازی د کتنی ور توګه نه بدلوي.

C- لوی ویښتان لرونکي Nevi حتی دبلوغت څخه مخکی دخباثیت قدرت لري چی دهمدی امله دی ګروپ مریضانو ته خصوصي توجه ورکړل شي.

D- Juvenile میلانوما یوه اصطلاح ده چی دماشومانو یو صباغ داره افت ته ورکول کیږي چې سلیم افت دی او M.M پیشقدم هم نه دی.

VII: نتیجی او انزار:

A: نتیجی

۱- سطحي افات (Epidermis ته محدود) چی قطر یې کم وي ۷۰% د ۵ کالو پوری.

۲- مقدم موقعیت پوری محدود افت ۴۳،۵% کالو ژوند.

۳- دلمفاوي عقداتو سره یوځای افت ۱۲،۳% کالو ژوند

۴- میتاستاز لرونکي افت ۰% یوځای افت ۱۲،۳% کالو ژوند

B: انزار

انزار دیوشمیر زیاتو فکتورونو سره ارتباط لري چی په لاندی ډول دي:

۱- د افت لوی والی یا جسامت

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دنفوذ ژوروالی

۳- دعضویت ماوفه شوی ناحیه

۴- ناحیوي عقداتو ته دانتشار شتوالی اویا نشتوالی

۵- لیری ځایو ته میتاستازس

دسراوغاړی تومورونه

۱- تناظر

دسر او غاړی تومورونه دجادو (سحر) کوونکی افاتو له جملی څخه دي ځکه چی ډیر تیراپیوتیک Challenge لري دپتالوژي له نظره ددی ډول نیوپلازم ګروپ بندي مصنوعي ده لاکن اناتومیک کتنو جذري جراحي او شعاعي تراپي په ډیره زیاته اندازه دی ډول ګروپ بندی ته په تیرو کلونو کې ګټه رسولی ده په دی ساحه کې دکثیر التعداد پرابلمونو څیړنه د تومورونو جغرافیایي توزیع دکارسینوما د انتشار په مورد کې نظریې وظیفوي او Aesthetic کتنی ته ارتباط لري.

اګر چی دتداوي عمومي پرنسپونه وړاندی کیږي لاکن دټولو پیښو یوائی توب ضروري دی د ژوند داندازو اوصاف باید د فکر لاندی ونیول شي ځکه چی تداوي اوخبیثه افات دواړه ډیر زیات دسوء شکل لامل کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمحصل لپاره دسر او غاړی دکانسرو تنظیم اویا تداوي کول مشکل تمامیږي ځکه چی دیوڅو سانتي په اندازه درحم دبی ځایه کیدو له کبله، هماغه هستالوژیکي Ca چی دجراحي په ذریعه تنظیم کول یې ښه اسان وه یو رادیوتراپتیک پرابلم جوړیدای شي ځرنګه چی دنوموړي کانسر پیښی محدودی دي اوډیری خبری دهغی په مورد کی اثبات شوي نه دی همدارنګه ددی کانسر په هکله کلینیکي څیړنو تعداد کم دی.

نو له دی کبله هر سازمان کیدای شي چی دخپل ضرورت دتداوي دطریقی نسبت نورو ته بهتره او فوق العاده ثابت کولو لپاره دمبالغی څخه کار واخلي چی ددی ډول مسلی دمخنیوی لپاره باید دیو تداوي دټاکلو څخه مخکی د Cross consulation په شکل یودبل سره مرسته او تعاون کول او دتعقیبي کلینیکي پروګرام لپاره په ګډه سره خدمت کول ځمونږ موسساتو کې ثابټ او ټاکل شوی پرنسیپونه دي.

۲- پیژندنه

اګر چی د سر او غاړی کانسر دټولو خبیثه امراضو ډیره کوچنی فیصدي (۵%) تشکیلوي لاکن د تبارز ښکلاء سوء تشکلات او ورسره ملګري اجتماعي کرکي یا دمخ ددا غونو له کبله په مقایسوي ډول ددی زیات اهمیت غوره کړی دی هغه فکتورونه چی ددی افت لپاره لاره مساعدوي عبارت دي له سګرټ څکول، زیاته اندازه Ethanol اخیستل اوسفلیس.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دخولی حفظ الصحه اودهغی پاک ساتل، دخولی دجوف دکانسرونو په وقوعاتو کې د کتنی وړ اندازه کموالی منځ ته راوستی دی.

نوموړی بحث په پنځو عمومي برخو ویشل شویدی چی په لاندی ډول دی:

A: دپزی جوف Naso Phyrynx para nasal sinus

B : دخولی جوف

C: Oropharynx

D: Laryngo Pharynx

E: لعابیه غدوات Mandibula فکی هډوکی.

۳- کلینیکي پلټنی

A: د سر او غاړی اکثر تومورونه د Fungating کتلو، انتشاري تقرح یا مسطح Exophytic verrucous افتونو پواسطه تظاهر کوي ددی Endophytic او Enxophytic برخی ښایي چی یوځای وي او یا د دوی څخه متبارز وي.

B: اعراض دافت په موقعیت پوری اړه لري.

۱- پزه Para nasal sinuses دپزی څخه وینی لرونکی افرازات، دپزی بندش په غاښو او مخ کې د درد احساس د پزی په جوف کې دکتلی شتوالی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- Naso Pharynx دقحفي اعصابو افات، په غاړه کې دکتلو موجودیت ، دتنفسي مشکلات، په یوطرف کې داوریدلو بدلون.

۳- دخولی جوف پړسوب یا قرحه چی نه ترمیم کیږي درد دغاړی کتلی او Trismus

۴- Oro



Pharynx ، عسرت بلع، درد ، نفس تنګي، دغاړی کتلی Otalgia

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته شکل کې د غاړې تومور ښودل شویدې

۵- Laryngo Pharynx داواز خپوالی، نفس تنګي، دوزن بایلل، دغاړې کتلی

۴- تشخیصي طریقی

A: ددقیقی معاینی لپاره خولی Oro pharynx Nasopharynx او Laryngo pharynx داینی (هنداری) پواسطه معاینه کیږي محصلین بایددغیر مستقیم هندارو د معاینی پواسطه عملی پرکتس وکړي.

B: په توجه سره دقیق Bimanual جس اجراء کیږي.

C: دتوور دانتشار د ساحی دمعلومولو لپاره رادیوګرافیک څیړنی ډیری ضروري دي.

۱- ساده رادیوګرافي، چی دغاړی درخوه انساجو منظری په کی شاملی دي.

۲- Tomograms خصوصا دحنجری او Para nasal sinuses لپاره.

۳- دباریوم بلع کول د ستندرد او Cline په ډول

۴- دحنجری Contrast څیړنه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- صدري عکسونه

D: دټولو هغو افاتو څخه بایوپسي اخیستل تراشتباه لاندی وي که کلینیکي اشتباه ډیره لوړه وي باید تکرار اجراء شي.

E: تراشتباه لاندی سطحو تلوین کول د Toluidine blue پواسطه چی دخولی دجوف Insitu Ca څرګندولی شي.

۵- دتصنیف بندي تداوي او نتیجی دموقعیت له نظره:

A: دپزی جوف Nasopharynx Para nasal sinus

۱- Nasal Fossa

Nasal Fosa

۱= Introduction

A: وقوعالت يې ډير نادر دی.

B: معمولاء د Spetum مخاطي غشاء اویا سفلي Concha څخه منشاء اخلي.

۲- کلینیکي پلټنی:

دپزی څخه وینه لرونکي افرازات دتنفس په مقابل کې انسداد.

۳- تشخیصي طریقی:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: دپزی دسپیکولم پواسطه مستقیمه معاینه Nasopharynxyo scopy دمخ دهډوکو X-ray کول او بایوپسي.

۴- تصنیف بندي

A: هیڅ اناتومیک مرحله بندي نه لري.

B: دهستالوژیکي له مخی په لاندی ډول ده.

۱- دټولو پیښو ۹۰% د Epithelial کارسینوما له جملی څخه دي.

۲- کله کله میلانوما یا Angio Sarcoma واقع کیږي.

۵- دتداوي پرنسیپونه:

A: څرنګه چی په Epidermoid کارسینوما کې دمقایسی وړ دشفاء ښی اندازی او زیبایش نتیجی ورکوي نو ځکه شعاعي تراپي ته ترجیح ورکول کیږي.

B: شعاع ته مقاوم تومورونه لکه Fibro sarcoma Melanoma اودهغوی Epidermoid sarcoma چی هډوکو او غضروف ته یې انتشار کړیدی په مقابل کې دجراحي تداوي څخه کار اخیستل کیږي.

۶ – نتیجی

د ۵ کالو په پای کې په نسبي توګه ۸۰% ژوندی وه.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Para Nasal Sinuses

۱- تعارف یا معرفي کول:

۱- وقوعات: د سر او غاړې د ټولو کانسرو ۳% تشکیلوي.

په ښځو کې یې وقوعات په نوموړې ناحیه کې نظر سر اوغاړې ته زیات دي (۳۵-۵۰%) په شرقیانو کې یې دوقوعاتو اندازه لوړه ده.

B: موقعیت: ۹۰% په Maxillary Antrum اوپاتې ۱۰% په Ethmoidal برخه کې واقع کیږي د Sphenoid یا Frontal جیبونو کانسر دیر نادر دی.

۲- کلینیکي پلټنې

A: مزمن Sinusitis ته مشابه وي موضعي درد، دفشار احساس په شونډواو رخسارکې Parasthesia، دغابښونو درد، دغابښ دویستلو نه وروسته د دوامدار تخلیه کیدونکی Sinus شتوالی.

B: د انتگو تبارز یا Bulging او په وروستنی واقعاتو کې د Zygoma دپوستکي ته انتشار.

C: دسترگو دعلامو په جمله کې Proptosis دسترگو فلجونه د Lacrimal بندش.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: دخولی دجوف علامی: دغابښ درد، دغابنونو سست والی، دغابنونو Plate مشکلات Puffiness Smelling (په دی ډول ۲۰% وجود لرلی شي) په متوسطه توګه په پرمختللي پیښو کې د x-ray په ذریعه دهډوکو دتخریب شتوالی.

E: په رونتګوګرام کې د Antram دتیره خیال شتوالی (Opacification)

F: Metastasis معمولاً د مرض په سیر کې وروسته واقع کیږي یواځی ۱۰% مریضان د غاړې دعقداتو د Metastasis سره مراجعه کوي.

۳- تشخیصیه طریقی:

A: دانتروم اب پاشي او Cell Block څیړنو پواسطه.

B: دابتدایي افاتو دبایوپسي دپاره جراحي Antrotomy

C: د X-ray مطالعات:

د Sinus عکسونه او توموګرافونه چی د رخوه انساجو کتلی په انتروم ډکوي د هډوکو دجدار تخریب لیدل.

D: خارج ته د هریو راوتلي تومور بایوپسي کول.

۴- تصنیف بندي:

A: اناتومیک مرحله بندي: د Chngrengs پلین (سطحه) چی انتروم په قدامي سفلي او خلفي علوي برخو تقسیموي فکر کیږي چی دخلفي علوي قسمت افات خراب انزار لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: **هستالوژیک** :

Squamous Cell Ca دبلوغت په مختلفو درجو سره همدارنګه ادینوکارسینوما په کم عمومیت سره لیدل کیږي معمولاً په Ethmoid قسمت کې.

۵- دتداوي پرنسیپونه:

دجراحي او شعاعي تداوي په یوځای استعمال سره ښی نتیجی لاسته راغلی دي.

۱- ابتدایي Hemi Palatectomy Decompression پواسطه د تومور په حجم کې کمښت او انتان د کنترول لپاره.

۲- خارج تشعشع Super voltage د Rads ۵۰۰۰-۱۰۰۰ د ۵-۶ هفتو لپاره.

۳- دشعاع څخه ۴-۶ هفتی وروسته جذري Antrectomy اجراکول دکارسینوما په زیاتره پیښو کې په دې عملیه کې د سترګو زجاجي احشاوی هم ایستل کیږي.

۴- دجراحي په نقیصو کې د Radium mold نصبول.

A: دغاړی جذري تسلیخ یوائی دمیتاستاتیکي کلینیکي شواهدو په شتوالی کې اجراء کیږي.

B: کیموتراپي په اساسي تداوي کې د کمک په ډول اویا دمرض په عود کی دعرضي تداوي په حیث استعمالیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: دجراحي زخم بيرته ترميم، ظاهري وضع، خبری کول او دډوډی د خوړلو له نظره اهميت لري چی ددی لپاره جراجي عمليه او Parasthatic عمليه په ګډ ډول سره استعماليږي.

٦- نتيجی

A: دجراحي تداوي سره د ۵ کالو د ژوند اندازه ۳۰-۳۵% ده.

۱- دهډوکو ماوف کيدل دژوند اندازی کموي.

B: دمقدم تومور دغير مناسب کنترول له کبله ناکامي واقع کيږي.

C: دعملياتو د وړ پيښو لپاره دبهترينو نتيجو راپور ورکړل شويدی.

۱- Chngren's دجراحي عملياتو څخه وروسته تشعشع ۳۳%

۲- نوی جذري جراحي ۳۳%

۳- Larssen Etal عملياتو څخه مخکی تشعشع، جراحي او دعملياتو نه وروسته Rad ورکول ۴۵%.

۱- تعارف :

وقوعات: په USA کې د تولو کانسرونو د ۱% څخه هم کم جوړوي په چينايانو کې دوقوعاتو اندازه لوړه ده د عمر له نظره په ۵۰ کلنی کې واقع کيږي په نرانو کې دوه چنده زيات عموميت لري.

موقعيت:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷۵% په علوي او جنبي جدارونو کې واقع کیږي.

۲- کلینیکي پلټنی

داد انتشار په جهت پوری اړه لري او مختلف حالات نیولای شي.

A: په پزه کې خبری کول Nasal twang دپزی انسداد.

B: Eustanchian تیوب Hypo acousia

C: دقحفي اعصابو ماوف کیدل.

د II, VI Petro sphenoid jacod سندروم.

IX= XII د Retro Paratidian villaret سندروم.

D: Pain: اکثراء دهډوکي د تخریب له کبله وي (دقحف په قاعده کې)

A: Lympho adenopathy معمولاً علوي عمیق رقبي عقدات (۷۰-۸۰%) او ۴۰% پیښو کې دوه طرفه وي.

۳- تشخیصي طریقی

Naso Pharyngoscopy مستقیم او غیر مستقیم معاینه د قحف جنبي عسکونه، توموګرام.

۴- تصنیف بندي

A: اناتومیک

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- مرحله: Nasopharynx ته محدود

۲- مرحله: په غاړه کې د عقداتو دناروغی شتوالی.

۳- مرحله: په هډوکو کې د لیدو وړ تخریب داعصابو ماوفه کیدل.

۴- مرحله: لیری ځایو ته میتاستازس

B: هستالوژیک Squamous cell Ca ۴۰%

متفرقه ۳۲%

Adeno Ca ۴%

Lympho Sarcoma ۷%

Reticulo sarcoma ۱۰%

Lympho Epithelioma ۴%

۵- دتداوي پرنسیپونه

A: اناتومیک موقعیت داسی لارښودنه کوي چی دجراحي په عوض شعاعي تراپي انتخابي طریقه ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: هستالوژیک ډول يې دتشعشع ډول د ساحی داندازی دوز اوداسی نور تعين کوي مثلاء Sq.Cell Ca لوړ دوز لويه ساحه او دشپږو هفتو لپاره تشعشع بايد اجراشي کمه اندازه تفريق شوي کارسينوما لوړ دوز لويه ساحه اود ۸ اونيو لپاره بايد تشعشع اجراء شي.

Lymphomas: متوسط اندازه دوز لويه ساحه، دغاړی د ساحی وقايوي منظور اضافه د ۸ هفتو لپاره بايد تشعشع اجراء شي.

C: زيادتره پيښو لپاره Supra voltage تيراپي اجراء کيږي او Rad نادراء.

٦- نتيجی:

د ۵ کالو دشفا موده د ميتاستازس دزيات عموميت له کبله مجموعي نتيجه خرابه وي.

B: دعرضي تداوي معمولاء ډير ښه ثابتيږي.

C: د ۵ کالو دژوند داندازو فيصدي.

۱۹۵۲ د Geist او Pothman لخوا ۲۳%

د Monton او Parady له خوا ۲۵%

۱۹۶۲ Fletcher له خوا ۳۳،۴ % (مطلق)

۴۰% (نسبي)

۱۹۶۲ American کانسر ۳۰،۵%

Society Compitation

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: شونډی اودخولی جوف:

شونډی

۱- تعارف : دنوموړی جوړښت خبیثه افات د Vermillion اودمخاطي غشاء څخه منشاء اخلي د شونډی دپوستکي افات یو جلا پرابلم دی چې په خپل مربوط ځای کې ورڅخه بحث شویدي.

د Ca وقوعات:

۱- تقریباء همیشه په ښکتنی شونډو کې افت منځ ته راځي.

۲- ۴۰% په نرانو کې واقع کیږي.

۳- په تورپوستانو کې نادر دی.

۴- د ۴۰ کلنی څخه مخکی نادر دی.

د عمر دپرمختګ سره دوقوعاتو اندازه هم زیاتیږي.

B: دشونډو افات د سر او غاړی د خبیثه افاتو تقریباء ۱۵% جوړوي.

C: سببي عوامل

۱- شعاع

۲- مزمن تشعشع

۳- سفلیس

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- کلینیکي پلټنی

A: یو بی درده تقرح چی د دوه هفتو څخه زیات دوام ولري.

۳- تشخیصي طریقی:

A: بایوپسي ضروري ده که مثبت وي ۱۰۰% صحیح ده که منفي وي باید تکرار شي.

B: دمیتاستاتیک ناروغی دلټنی لپاره د Submental او Submaxillary مثلث باندی د دوو ګوتو معاینه اجراء شي.

۴- تصنیف بندي: اناتومیک

(ددی فصل په پای کې دی څلورم جدول ولیدل شي)

A: Exophytic هغه ډول چی سطحي تکثر په کې متبارز دی.

B: انتشار ۱- دعضلاتو ماوف کیدل

۲- هډوکو ته انتشار

۳- په پرمختللي افاتو کې پوستکی ته انتشار

C: Metastatic روش:

۱- ناحیوي لمفاوي عقداتو ته نسبتا په تأخیر سره انتشار کوي په استثنا د غیر تفریق شوي افاتو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دمیتاستازس لپاره اول Submental او Facial لمفاوي عقداتو او بیا Jugular ساچمی ته.

۳- لیری ځایو ته میتاستاز لکه (ځیګر، سږو ته) نادر دی.

هستالوجیک:

دشونډو دټولو خبیثه افاتو ۹۹% د Epidermoid کارسینوما دټولګي څخه دی دا معمولاً بنه تفریق شویدي.

B: Basal cell Ca کله کله منځ ته راځي.

C: دکوچنی لعابیه غدواتو تومورونه.

D: Melanoma

۵- دتداوي پرنسیپونه

A: دLeukoplakia (چی یو پیش قدم خبیثه افت دی) دی د لیری کولو لپاره دشونډو Shewe کول دخباثت دمنځ ته راتلو څخه مخنیوی کوي.

B: ددی ډول افت سره یوځای دجس وړ لمفاوي عقدات اکثراً د التهابي تعامل له کبله وي د ۲-۸ هفتو لپاره یو محدود مشاهدوي کورس بنه دی.

۲- نتیجی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: هغو پیښو کی چی اختلاطي واقعات منځ ته نه وي راغلي د ۵ کالو ژوند اندازه ۹۰%

ده.

B: په هغه پیښو کې چی دخولی وسیع انتشار یا لمفاوي عقداتو ته انتشار موجود وي د ۵

کالو د ژوند اندازه ۲۰ ده.

C: دغاړی موخر تسلیخ اوس هم دشفاء لوړی اندازی ورکوي.

D: دناکامی اسباب

موضعي عود او نادراء دلیری ځای میتاستازس

دژبی قدامي دوه پر دری برخه (۱۹-۲۰%)

۱- تعارف

د ژبی دقدامي دوه پر دری برخی خبیثه افات معمولاء دمخاطي غشاء څخه منشاء اخلي نو

لـه دی کبلـه زیـادتره د Epidermoid دجملـی څخـه دی همدارنګـه د ژبـی دخلفـي برخـی

تومورونه د Oro Pharyngeal افتونو په حیث رفتار کوي او له دی کبله دهمدی عنوان

لاندی څیړل کیږي.

A: وقوعات

۱- ۸۰% په نرانو کې واقع کیږي.

۲- د ۴۰ کلنی څخه ښکته غیر معمولي دي متوسط عمر یې ۲۰ کلنی ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: د ژبی افات د سر او غاړی دټولو تومورونو ۱۰-۱۵% تشکیلوي.

C: ایتولوژیکي فکتورونه

۱- مزمن

۲- دتمباکو ډیر زیات استعمال

۳- دخولی پاک نه ساتل

۴- سفلیس

۵- Plumer venson syndrome

D: اپیدمیالوجي

۱- ۱۲-۱۵% خلک دژبی دویم مقدار تومور په حیث پې لري.

کلینیکي لټنه:

A: دپیش قدم خبیثه افاتو لکه Leuko Plakia او Erythroplasin بدلون

B: کارسینوما دیو مزمن نه ترمیم کیدونکی بی درده قرحی پواسطه تظاهر کوي.

۱- موضعي درد پې وروستنی علامه ده.

۲- د Sub Maxillary او Digastric عقدات په ابتدایي مراحلو کې اخته کیږي.

۳- تشخیصي طریقی

A: بایوپسي ډیره ضروري دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دواقع شوي انتان دصحيح تداوي لپاره کلچر اجراء کول.

C: د X-ray څيړنې (۱) عظم فک

D: Exfloliate cytology اوبايوپسي چې دابي پواسطه لارښودنه کوي دپيش قدم خبيثه افاتو لپاره ګټور تمامېږي.

۴- تصنيف بندي

A: اناتوميک: TNM تصنيف بندي (څلورم جدول دي وليدل شي).

B: هستالوژيک: Squamous Cell Ca دتفريق اندازه په متغيره درجو کې.

۱- ۹۵% خبيثه افات د Epidermoid Ca دتفريق اندازه په متغيره درجو کې.

۲- کله کله Adeno Carcinoma هم واقع کيږي.

۳- نادراء Sarcoma چې دعضلي څخه منشاء اخلي.

۴- يو نادر ميتاستاتيک بقيه چې ديوليري ځای څخه دمقدم افت دانتشار پواسطه منځ ته راغلی وي.

۵- پرنسيپونه:

A: دکوچني مقدم افت تداوي او دتشعشع اويا دجراحي پواسطه داطمينان وړ ثابتيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- کـه عظـم فـک مـاوف شـوی وي يـا تومـور د هغـوی دپاسـه نښـتی وي د يـو مشـترک Resection هدايت ورکول کيږي چی د Hemi Glossectomy قسمي Mandibaloctomy اودغاړی تسليخ په کی شامل دی.

په دی ډول شرايطو کې دعملياتو څخه مخکی تشعشع کمک کولای شي.

B: دلمفاوي عقداتو تداوي جراحي ده.

۱- شعاعي او جراحي ساحی بايد يوبـل Over lap کړی او د تـداوي En-Blee پرنسيپ باندی عمل وشي.

۲- که عقدات د جس وړ نه وي بيا هم دعقداتو انتخابي تسليخ بايد اجراشي.

A: تقريبا د ټولو مريضانو نيمايي برخه چی عقدات يې دجس وړ نه وي دتشخيص په وخت د ټولو نه لمړی به يې ميتاستاز ورکړی دی.

B: که مخالف طرف هم ماوف شوی وي نو دغاړی دوه طرفه تسليخ هم ضروري دی که څه هم ددی د Morbidity اندازه زياته ده.

C: دغاړی دتسليخ مضاد استطباب په لاندی ډول دی.

۲- مقدم افت چی کنترول شوی نه وي.

۳- دغاړی په عميقه جوړښتونو باندی د عقداتو تثبيت کيدل.

۲- خصوصي کتنی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: دتداوي اختلاطات

۱- دعظم فک دقدامي برخی دایستلو له کبله دمخ سوء شکل.

۲- Dysarthria

۳- Dysphagia

۴- دغاړی دتسلیخ نه وروسته دشوکي نخاع Accessary فلج.

B: دناکامی اسباب:

۱- دمقدم اویا ناحیوي میتاستاز په کنترول کې کولو کې عدم کفایه.

۷- نتیجی:

د ۵ کالو ژوند اندازه

دعقداتو د ماوفه کیدو څخه غیر ۵۳%

دعقداتو د ماوف کیدو سره ۱۲%

مجموعا ۴۱%

دخولی دجوف ځمکه:

۱- تعارف:

A: دخولی دجوف ۱۵% کانسر ددی ناحیی څخه منشا اخلي.

B: متوسط عمر ۲ کاله وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: ۹۷% نران اخته کوي.

۲- کلینیکي پلټنه :

A: معمولاً د یو ارتشاحي افت په څیر تظاهر کوي چی د Fissure په شان تقرح لري.

B: انتشار یې چټک دی چی مخالف طرف او عظم فک اخته کوي.

C: تقریبا ۵۰% ادینوپاتي سره مراجعه کوي چی عموما دوه طرفه وي.

۳- تشخیصي طریقی:

A: دافت انتشار لپاره بهترینه معاینه مستقیم Bimanual جس دی.

B: بایوپسي همیشه استطباب لري.

C: که دهډوکي تخریب موجود وي نو باید رادیوګرافي اجراء شي.

۴- تصنیف بندي: A: اناتومیک : څلورم جدول دی ولیدل شي.

B: هستالوجیک:

تقریبا ټول افات د Squamous Cell Ca دجملی څخه دی.

۵- پرنسیپونه:

څرنګه چی نوموړی ساختمانونه د اناتومي له نظره دفکی هډوکي سره نژدی واقع شویدي نو نوموړی جوړښت عموما ماوف کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: کوچنی مقدم افات چی د فک دهډوکي نه لیری واقع شوي دي دشعاعي تیراپی په ذریعه ښه کنترول کیدای شي.

B: که تومور د هډوکي دپاسه ننښتی وي یا یې هغه ماوف کړی وي نو بهترینه طریقه یې ګډ Resection دی چی په کی دخولی ځمکه، قسمي Mandibulectomy او دغاړی Enblock تسلخ شامل دی.

B: په ابتدایي مراحلو کې لمفاوي عقداتو ته شدید میتاستاز دغاړی د انتخابي تسلیخ هدایت ورکول کیږي.

۲- نتیجی

د ۵ کالو ژوند اندازه.

بیله کوم عقداتو ۲۰%

دعقداتو سره ۳۰%

مجموعا ۳۷%

دخولی مخاطي غشاء

۱- تعارف:

A: دخولی دجوف دکانسرونو ۱۰% جوړوي.

B: متوسط عمر ۶۴ کلنی ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: ۸۵- ۹۰% نران اخته کوي تمباکو ژول او دپان دانی ژول ایتالوژي فکتور دی.

D: دخولی دجوف دنورو برخو په نسبت په دی ځای کې Lukoplakia زیات عمومیت لري.

C: دایو ډیر ښه بطي نشونما او تفریق شوی تومور دی چی عقداتو ته په کمه اندازه میتاستاز ورکوي. (۳۴%)

(Sub maxillary او علوي رقبي عقداتو ته)

۲- کلینیکي پلټنه:

A: درخسار تقرحي نه ترمیم کیدونکی افت.

B: درخسار د چیچلو پواسطه ترضیض ته مخامخ کیږي.

C: خولی په لعابو کې دوینی شتوالی.

D: دا افت معمولاً بی درده وي.

۳- تشخیصیه طریقی:

A: مستقیم معاینه

B: Bimanual جس

C: بایوپسي

۴- تصنیف بندي :

A: د TNM اناتومیک تصنیف بندي قابل دعمل ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: هستالوژیک : ۱- تقریبا ټول د Squamous Cell Ca دجملی څخه دی.

۲- دکوچني لعابیه غدواتو څخه هم کله کله تومور منشاء اخلي (Adeno Sarcinoma)

۵- پرنسیپونه

دابتدایي افاتو لپاره شعاعي تراپي ته ترجیح ورکول کیږي البته دجراحي پواسطه قطع کول او بیرته ترمیم کول یو متبادله لوی تداوي ده.

۲- نتیجی

د ۵ کالو ژوند اندازه

غیر له کوم عقداتو ۲۰%

دعقداتو سره ۲۴%

مجموعا ۴۳%

Gingiva and Hard Palate

(وری اوسخت Palate)

۱- تعارف :

A: سفلي وری: دخولی دجوف دکانسرونو ۱۲% جوړوي.

B: ۵۰% ښځی اخته کوي.

C: متوسط عمر ۲۰ کلنی ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: دادغابنونو په Molar ناحیه کې بنه تفریق شوی تومور دی.

E: ۴۰% عقداتو ته میتاستاز ورکوي.

۲- کلینیکي پلټنه:

A: دمصنوعي غابنونو په اچولو کې تکلیف او مشکل دی.

B: درد ناک تقرحات

C: په توکانو کې په طبعي ډول دوینی شتوالی.

۳- تشخیصي طریقی

A: بایوپسي

B: دعظم فک او Mandibula عکسونه

۴- تصنیف بندي :

A: اناتومیک : TNM تصنیف بندي

B: هستالوژیک

۱- په کلک Palate نادره اوپه علوي وری کی دومره عمومیت نه لري په Antrum کې دمقدم تومور شتوالی باید رد کړی شي.

۲- دلعابیه غدواتو Ectopic تومورونه د کلک Palate په نیوپلازم باندی مشتمل دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- دتداوي پرنسيپونه: دعمليـاتو څخه مخکی تشعشع اوپه تعقيب په سفلي وری کې دجراحي اجراء کول دعلوي وری يا کلک Palate دافتونو لپاره تشعشع يا جراحي استعماليدای شي.

۲- نتيجي

د **۵** کالو ژوند اندازه

بی له کوم عقداتو **۲۳**%

مجموعاء **۳۲**%

دشونډو اودخولی دجوف تصنيف بندي:

دتداوي پرنسيپونه: (د TNM دتصنيف بندي په اساس تهيه شوی خلاصه) دهر يوی پيښی تصنيف بندی دمقدم افت د وسعت (T۱ T۴) اودميتاستازس دشواهدو N۰ N۳ دشتوالی له نظره دتداوي دطريقو په انتخابولو کې عمومي د رهنمايي پرنسيپونه په لاس راکوي په ځينی ځانګړي پيښو کی استثنات هم وجود لري.

A: مقدم افات دمنفي عقداتو سره (هغه عقدات چی اخته شوی نه وي).

T۱ N۰:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دابتداي مقدم افاتو دکنترول لپاره شعاعي اوجراحي تداوي په مساوي توګه موثره ده اودتداوي دميتودانتخاب په وظيفوي Desthetic او په سرعت ورکوونکی فکتورو باندی متکی دی.

T۲ N۰

په متوسط ډول Exophytic افات دتشعشع پواسطه ښی نتيجی ورکوي او د ناکامي په واقعه کې دجراحي مخنيوی نه کوي.

T۳ N۰

په پرمخ تللي افاتو کې چی هډوکی يې هم اخته کړی وي جراحي ته ضرورت لري چی Resection اودغاړی تسليخ په ګډه توګه په کی اجراء کيږي.

T۴ N۰

وسيع افات: ګډ ميتودونه تر نظر لاندی نيول کيږي لکه شيموتراپي او شعاعي تراپي دعملياتو څخه مخکی شعاع او په تعقيب جذري جراحي دعملياتو څخه مخکی کيموتراپي په هغو انتخابي پيښو کې په دی اساس استعماليږي چی Inoperable افات په Operable افاتو بدل شي البته دايوعمومي پرنسيپ نه دی.

B: مقدم افات دمثبت عقداتو سره N۱ T۱

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په انتخابي پيښو کې تشعشع اوجراحي په ګډه توګه استعماليږي يعنی لمړنی افات لکه د ژبی Ca يا فمي Ca دشعاعي تراپي پواسطه دمعامله کولو نه وروسته دغاړی دتسليخ اجراء کول.

T۲,۳ N۲,۳

په رقبي عقداتو کی د ميتاستازس شتوالی په عمومي توګه دجراحي پرابلم دی دمقدم کانسر اودغاړی دعقداتو د Enblok دتسليخ لپاره استطبابات موجود دي.

T۴ N۳

لوی کتلوي افات اکثراء دعملياتو وړ نه دی او دعرضي تداوي په منظور شعاعي تراپي اويا کيموتراپي استعماليږي.

C: تکنيکونه

جراحي: دمقدام افاتو په تنظيم کې په وسيع توګه دځنډو کول ضروري دي او غير مناسب ځنډی دعملياتو نه وروسته تشعشع ته ضرورت لري نه داچی په زياتره پيښو کی د عود لپاره انتظار وويستل شي Fulguration غير مناسب او خطرناک دی بيرته ترميم ضروري دی.

شعاعي تراپي

دتشعشع تخنيک دافت په لوی والی او موقعيت باندی اړه لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- ابتدايي افات T۱ ۳cm بين الخلالي Ra دخولی له لاری Cone

۲- متوسط افات (T۲ ۳-۵cm) خارجی تشعشع ، بين الخلالي Ra ۱۹۲ Iridium ياد Au ۱۹۲ تخم.

۳- پرمختللي افات (T۳ ۵cm) اساساء خارجي تشعشع.

C: Oropharynx

۱- تعارف : په دی اناتوميک ناحيه کی نرم Tonsil, Palate لساني Tonsil بلعومي جدار او دژبی خلفي يو پر درې برخی شامل دي.

A: وقوعات

۱- په نرانو کې بارز دی (۹۰%)

۲- دوقوعاتو اعظمي اندازه د ۵۰-۹۰کلنی ترمنځ قرار لري.

۳- کانسر يوډير عمومي مقدم ناحيه ده دغاړی او سر دټولو کانسرونو ۱۰% جوړوي.

۱- کلينيکي پلټنه:

A: دبلع په وخت کې د درد احساس (داعموماء د غوږ طرف ته انتشار سره مطالعه کيږي.

B: اکثرا ديوی لوی رقبی کتلی په شکل تظاهر کوي.

۳- تشخيصي طريقی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A:مستقیم جس: د دوو ګوتو معاینه

B:غیر مستقیم Laryngoscopy

C:مستقیم

D: بایوپسي ضروري ده

۴- تصنیف بندي

A: اناتومیک : TNM تصنیف بندي موجوده ده (ریفرنس دی وکتل شي)

B: هستولوژیک:

۱- اکثراء Squamous Cell Carcinoma چې عموما نظر دخولی دجوف کارسینوما ته زیاته غیر قابل تفریق ده.

۲- Lymphoepitheliomas او Lymphous لکه Nasopharynx په شان منځ ته راځي چی دلمفوئید نسج د Weldeger's ring دپراخوالي له کبله پیدا کیږي.

۵- دتداوي اساسات

A: اناتومیک ناحیه اووسعت اکثراء شعاعي تداوي ته په جراحي برتري ورکوي.

۱- دمقدم افت لپاره: شعاعي تداوي یا جراحي هم موثره کیدای شي. جراحي تداوي دښه تفریق شوي افت او شعاعي تداوي د اناپلاستیک افتونو دپاره مناسبه ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دپرمختللي افت لپاره: په اکثرو واقعاتو کې شعاعي تداوي داتموسفریک اکسیجن د تنفس سره استطباب لري بیله دی دی چی هستولوژي په نظر کې ونیول شي.

B: که چیری ابتدایي افت ته تشعشع ورکول کیږي عموماء پورتنی رقبي عقدات هم په بر کې نیسي. که چیری ابتدایي افت یو طرفه وي او کنترول کیدای شي نو دغاړی شق کول په ښه تفریق شوي کارسینوما اجراکیدای شي.

C: جراحي مداخله مشترک Resection ته ضرورت لري مثلاء یوطرفه افت لپاره قسمي Mandibulectomy اودغاړی Enbole شق کول او اکثرا دغه کانسرونه دمتوسط خط څخه Palate او دژبی دقاعدی په برخه کې تیریږي او جراحي مشکلوي.

۲= نتیجی

د ۵ کالو ژوند اندازه

	بی له کوم عقداتو	دعقداتو سره
دتانسل کارسینوما	%۵۸	%۲۵
نرم پلیت Palate	%۴۲	%۱۴
دژبی قاعده	%۲۱	%۱۹

Hypopharynx Laryngopharynx

Hypopharynx

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- تعـــارف : پـــه دی برخـــه کـــې Pyriform سینســـونه Epiglotitis ,Vallecula او Aryepiglottic شامل دي ددی برخی تومورونه مخاطي منشا او Epidermoid وصف لري.

A: وقوعات

۱- په نرانو کې زیات واقع کیږي.

۲- دمتوسط انتشار سن د ۴۰-۲۰ کلنی تر منځ دی.

B: سببي عامل

۱- مزمن الکولیزم

۲- دتمباکو زیات استعمال

۲- کلینیکي پلټنه:

A: دبلع کولو په وخت کې درد چی دغوږ خواته انتشار کوي (Glossopharynxgeal) عصب د تعصیب په نواحیو کې Reflex کیږي.

B: دبلع عسرت

C: عسرت تنفس دهوایي لیارو باندی دفشار په اثر.

D: توخی

E: بدبویه تنفس

۳- تشخیصي طریقی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: دګوتو پواسطه مستقیمه معاینه

B: غیر مستقیم

C: مستقیم Laryngoscopy اوبایوپسي

۴- تصنیف بندي:

A: اناتومیک: TNM په اساس

B: پتولوژیک : Squamous Cell کارسینوما نسبتا نه تفریق شوی.

۵- دتداوي اساسات

A: په انتخابي واقعاتو کی مشترکه تداوي (دجراحی څخه دمخه شعاعي تداوي جمع Pharyngo laryngectomy او دغاړی شق کول) ګټوره ده.

B: Ary epiglottic fold او Valleulae هر کانسر د Laryngectous پواسطه تداوي کیدای شي.

B: د Pyriform sinus افت Pahryngo laryagectomy ته ضرورت لري.

C: دعقداتو میتاستاز ۵۰-۲۰% پیښو د عین طرف دغاړی دانتخابي شق کولو پواسطه تداوي کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

E: په محافظوي توګه پر مختللي واقعاتو کې شعاعي تداوي نظر په جراحي ته ښه پايله ورکوي دابتدايي Clearance لوړ درجه مخصوصاء داکسيجن دتنفس په واسطه حاصليدای شي.

۲- نتيجی

Survival:A

۱-مقدم افت چی عقدات په کی منفي وي ۳۰% د ۵ کالو دژوند اندازه لري.

۲- پرمختللی افات او هغه چی څو مثبتی عقدی ولري خراب انزار لري (۱۰-۱۵% د ۵ کالو دژوند موده).

Endolarynx

۱- تعارف:

A: دغه تومورونه دحقيقي حنجری دساختمانو دمخاطي پوښ څخه منشاء اخلي لکه صوتي حبول او نوری هغی ته نژدی برخی دغه تومورونه عموميت لري دسر او دغاړی د تومورونو ۱۸-۲۰% او دټولو کانسرونو ۱% تشکيلوي.

۱- ۹۵% په نارينو کې.

۲- په تورپوستو کې نادر دی.

۳- په ۵ او ۶ لسيزه کی اعظمي وقوعات لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: سببي عوامل يې عبارت دي له:

۱- مزمن الکولیزم

۲- دتمباکو زیات استعمال

۳- مزمن تخرشیت

۴- تصنیف بندي

A: اناتومیک: TNM تصنیف بندي ښه مفصله او پراخه ده لاکن دنوموړي کانسرونو په تنظیم کولو کې اودتداوي دنتیجو په راپور کې راپورته شوي مشکلات ښه څرګندوي.

B: هستالوژیک: Epidermoid Ca ورسره ملګری Leukoplakia

C: میتاستاتیک طرزالعمل:

۱- دمجاور عقداتو پواسطه انتشار بیا Diagastric عقداتو او Jugular ځنځیر ته انتشار کوي.

۲- میتاستازس عقداتو ته په مرحله وار توګه پرمختګ کوي اوبیا دیوځه مودی لپاره په هماغه ناحیه کې پاتی کیږي.

۳- څرنګه چی صوتي حبول نسبتاء لمفاوي اوعیی نه لري نو نوموړي افتونه معمولاء دمیتاستازس سره ملګری نه وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- پتالوژيکي مرحله بندي

A: نوموړی افات د Epidermoid کارسینوما دډلی څخه دی چی معمولاء یو څه درجه پوخوالی ښکاره کوي.

B: Lekoplakia اکثراء دپراخ تومورونو مخکی واقع کیږي او دمزمن تخرشیت له سببه وي.

۵- دتداوي پرنسیپونه

دصوتي حبول ازاد افات موضعي وي اومعمولاء میتاستازس نه لري.

۱- شعاع انتخابي تداوي ده (T۱ , T۲, N۰,M۰)

A: د ۵ کالو ژوند اندازه ۸۰-۸۵%

B: دخبرو کولو اواز ته تنقیص نه ورکوي.

۲- دمحتاط انتخابي طریقی په ذریعه د حنجروي Fissures سره دیوصوتي حبول قطع کول په مساوي توګه د شفاء ښی اندازی ورکوي.

A: دغیر مناسب Resection خطر موجوددی.

B: دصوتي حبول او د Commesurae تثبیت شوی افت (T۳,T۴,M۱ N۲ N۰)

۱- غضروف ته انتشار اودمیتاستازس دامکاناتو شتوالی جراحي نوره هم متاثره کوي.

A: قسمي Laryngectomy په هغو حالاتو کې چی انتشار محدود او عقدات منفي وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: د Commessure په افاتو کې تام Laryngectomy

C: که عقدات دجس وړ وي يا دجس وړ نه وي خو انتشار صورت نيولی وي نو تام Laryngectomy دغاړی د Enblok جذري تسليخ سره اجراء کيږي (دغاړی انتخابي تسليخ).

٦- نتيجی:

A: دژوند اندازی:

١- که د X-ray يا مناسب Exicision پواسطه تداوي شي د صوتي حبولو ازاد افات د ٥ کالو لپاره دژوند فيصدي ٨٠-٨٥% ده.

٢- انتشاري تومورونه چی دتام Laryngectomy پواسطه تداوي شوي وي د ٥ کالو لپاره د ژوند اندازه ٧٠-٧٥% ده.

B: اختلاطات:

١- شعاعي:

A: حنجروي اذيما

B: Chondritis

٢- جراحي

A: Cordectomy ١- غير مناسب Resection خطر

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: تام Laryngectomy ۱- د اواز له منځه تلل چی دمری یا میخانیکي حنجری پواسطه معاوضه کیږي. Asia طریقه اکثراء داواز په معاوضه کولو کې کمک کولای شي.

۲- بشپړ Trachitis Sicca Tracheostomy او دریوي انتاناتو دوقوعاتو زیاتوالی.

C: قسمي Laryngectomy

- قسمي

D: دعملیاتو دمړینی اندازه ۱% ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلعابيه غدوات او دژامی هډوکي

لعابيه غدوات : (Salivary Glands)

Parotid

۱- تعارف

نسبتا غير معمول داتومورونه د ټولو نيوپلازمو ۵، ۰-۲% جوړوي.

A: وقوعات

۱- سليم : د Parotid **دټولو تومورونو ۵، ۷۲% تشکيلوي، ګډ تومورونه ۵۷%** Warthin's **تومور ۲%** epithelial Lympho **۴%،** Hemangioma **۲%،** Lipoma **۸، ۰%،** Neuro Fibroma **۷، ۰%،** Lympho angioma **۴، ۰%.**

د Paritid **تومورونو ۵، ۲۷% جوړوي.** Maco epidermoid **۲%،** Squamous **۳%،** Adenoid cystic cell **۴%،** Acinic cell **۳% جامد ۷، ۳% لمفوما غير تفريق شوي ۳%،** Metastatic **۲%،** Sarcoma **۲، ۱%.**

۳- دجنس له نظره کوم فرق نه لري په هر عمر کې واقع کيدای شي په ماشوم کې د Parotid **يو تومور ديوکاهل په نسبت زيات امکان لري چې خبيث واوسي.**

۲- کلينيکي پلټنه:

نوموړی تومورونه په نکفيه غده کی دبی عرضه کتلی په څير تظاهر کوي. خباثت کلينيکي وصف په لاتدی توګه دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اولنی جدول	سليم	خبيث
نشونما	بطي، دوامدار	سريع
درد	وجود نه لري	کله کله موجود وي
دمخ فلج	وجود نه لري	کـه موجـود وي تشخيصـي قـدر لري
حاسيت	نادر	عموميت لري
قوام	Cystic	دتيګی په څير کلک
تثبيت	حرکت لري	ثابت
Trismus	وجود نه لري	موجود کيدای شي
دعقداتو اخته کيدل	وجود نه لري	موجود کيدای شي

۳- تشخيصي طريقی

A: د Stensen قنات څخه وصفي لعابي افرازات

B: د Prophyranx اودخولی دځمکی Bimanual معاينه چی په نکفيه غده کې دمقدم افاتو دموقعيت د معلومولو لپاره.

۱- دتيګو لپاره ساده عسکونه

۲- Sialogram

C: دصدر او فکي هډوکي عکسونه

۱- دريوي ميتاستازس نسبتا لوړ وقوعات.

D: مستقيما بايوپسي نه توصيه کيږي (په استثناء دپوستکي ته د انتشار په صورت کې).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- تصنیف بندي:

یوه هم په عمومي صورت سره یانه منل کیږي.

۵- دتداوي پرنسیپونه:

بهترینه طریقه جراحي ده چی د اووم زوج تسلیخ او دتومور لرونکي فص مکمل لیری کیږي. (په هغو کې چې دعملیاتو څخه مخکی دخباثت علامه نه لري).

۱-دجراحي په اوږدو کې دګراس له نظره کتنی څخه وروسته دافت څخه Frozen برخه اخیستل ددی لپاره چی نوری فیصلی وربانډی وشي ضروري ده.

۲- په ټیټه درجه خباثتونو کې دغاړی جذري تسلیخ دلمفاوي عقداتو دجس په صورت کې اجراء کیږي.

D: په لوړه درجه خباثتونو کې تامه Paratidectomy اودغاړی جذري تسلیخ استطباب لري.

C: شعاعي تراپي دلعابیه غدواتو په هغه تومورونو کې چی عود کوي اویا دعملیاتو وړ دی حتمی دي د شعاعي عکس العمل حدود د حساس او مقاوم ترمنځ فرق کوي.

D: کیموتراپي د عملیاتو وړ اویا عود کوونکی ناروغیو لپاره مختص دی.

۶- خصوصي کتنی:

A: نور لعابیه غدوات:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- دلعابیه غدواتو نسج په Palate فمي مخاطي غشاء ، شونډو، ژبه، Lacrimal غدواتو، بلعوم دپژی جوف، شزن او قصباتو کی موقعیت لري همدارنګه په Submaxillary او Sublingual غدواتو کی هم میندل کیږي.

۲-نوموړی نسج د Parotid په ډول تومورونه منځ ته راولي.

A: دنکفیه غدی په نسبت دتومور منځ ته راتلل لږ عمومیت لري.

B: په ځینی Ratio کې دسلیم او خبیث تمور نسبت دنکفیه غدواتو په نسبت دلته زیات ښودل شویدي.

C: په نوموړو غدواتو کی زیاتره واقع شوي کتلی دالتهابي ناروغیو له کبله دی په هر حال په کلینیک کې ددی تفریق کول دتومور سره مشکل دی.

۳- د Submaxillary غدواتو دخباثتو لپاره بشپړ Excistion اودغاړی Submaxillary تسلیخ بهترینه تداوي ده.

۴- په نوموړي غدواتو کې دنکفیه غدواتو دمشابه تومورونو په نسبت انزار ښه دي.

B : اختلاطات

۱- Facial Palsy

۲- Auriculo Tempomyl syndrome (Gustatury weating) ذایقه کولو پواسطه خولی لري.

C: انزار

۱- دخباثت له کبله مراجعه کول دشفا اندازه کموي.

۲- دخباثت هستولوژیکه منظره او لمفاوي اوعیو او دموي اوعیو ته دانتشار اندازه.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: دناکامي اسباب:

۱- د Facial عصب دسالم پاتی کولو لپاره چی Resection نامناسب ګرځوي.

۲- په غلط توګه دبایوپسي راپور چی دتوموري حجراتو په انتشار کې مرسته کوي اودشفا اندازه کموي.

۳- ناوختی مراجعه کول چی مرض پیشرفت کړی وي.

۷- پایلی

سلیم تومورونه

۱- ګډ تومورونه

A: دعود اندازه ۲%

B: دښپړ Labectomy دتطبیق کولو نه مخکی دعود اندازه ۲۰% وه.

C: عود عموما دخبیث ۲۵% کنترول کول یې هم ګران وي (۳۰%) ناکامیږي.

B: خبیثه تومورونه: ۱- Mucoepidermoid :

ټیټه درجه	۸۵%	د ۵ کالو ژوند اندازه
لوړه درجه	۱۵%	د ۵ کالو ژوند اندازه
۲- Squamous cell Ca	۲۰%	د ۵ کالو ژوند اندازه
۳- Adenoid Cystic Ca	۸۵%	د ۵ کالو ژوند اندازه

(Cylindromas)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

فکي هډوکی

۱- تعریف

عظم فک یو مغلق هډوکی دی چی دیوزیات شمیر انساجو څخه جوړشویدی. Osseaous ، مخ عظم Enamal اعضاء، وړی او ددی څخه هر یو دیولړ تومورونو دمنځ ته راتلو لامل کیدای شي.

پیشبنی:

۱- نران دښځو په نسبت ۳ ځله زیات اخته کیږي.

۲- په ځوان عمر خلکو کې زیات پیښیږي.

۳- د فکي هډوکي خبیثه تومور دکانسر د ټولی مړینی ۵، ۰% جوړوي.

C: دنسایي انساجو ډولونه:

۱- Osseous

A: Ostea sarcoma

B: Gaint cell tumor

C: Fibro Osteoma

D : Osteochondroma

۲- Enomal (اعضا) Ectodermal

B: Enamoloma

۳- Marrow (دهډوکي مخ)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: Ewing's Sarcoma

B: Myeloma Plasma Cell او Plasmocytoma

۲- کلینیکي پلټنی

A: په استثناء د Oseto sarcoma چی شدید درد لري نوموړی تومورونه د بی درده غټیدونکی کتلی په حیث تظاهر کوي.

۳- تشخیصي طریقی

A: دهډوکو د متنوع تومورونو دپاره د X-ray معاینه.

B: بایوپسي دتراپي څخه مخکی ضروري ده.

۱- چی دهډوکي څخه دنسج داخیستلو لپاره دهغی وارزول کیدای شي چی ضروري وي.

۴- تصنیف بندي

اناتومیک او هستالوژیک اوصاف (جدول)

تومور	مستقیم انتشار	دلمف پواسطه میتاستاز	لیری ځای ته میتاستاز
Fibro osteoma	Yes	NO	NO
Gaint Cell Tumor	Yes	NO	
سلیم			
Osteosarcoma	Yes	NO	Yes
خبیث			
Amelo Blastoma	Yes	Rare	NO
تیټ درجه خبیث			
Ewing's Sarcoma	Yes	NO	Yes

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوړ درجه خبیث

۵- دتداوي پرنسیپونه

A: که په غیرمناسب توګه Excision ترسره شي نو Gaint cell tumor په موضعي توګه عود کوي.

B: Osteo sarcoma دقسمي Mandibulaetomy پواسطه تداوي کیږي.

۱- دغاړی جذري تسلیخ استطبابات نه لري ځکه چی میتاستاز شتون نه لري.

C: Ameloblastomy بشپړ جراحي Excision

۱- معمولاقسمي Mandibulectomy ته اړتیا لري. اګر چی په کوچني افاتو کې دهډوکي جوړښت ساتل کیدای شي.

A: دهډوکو د پیوند بیرته ترمیم کول.

B: Ewing's Sarcoma

۱- یواځی کله کله دشفا راپور ورکول کیږي.

VI: دغاړی دعقداتو تنظیم:

دخولی دجوف په افاتو کې اوورسره په ثانوي توګه دعقداتو په اخته کیدلو کې انتخابي لاره د مقدم عقداتو Block تسلیخ دی د مثبت عقداتو شتوالی دخرابو انزارو علامه ده او په زیاتره کانسرونو کې دموجودیت له کبله دشفا اندازه ۵-۲۵% ته رسیږي ټول هغه ناروغان چی دمقدم کنترول شوي افاتو سره دجس وړ عقدات ولري باید د غاړی تسلیخ ترسره شي دخولی دژبی په کانسرونو کې د Subcilinical میتاستازس دپیښو پیاوړی شتون دومره زیات دی چی دغاړی انتخابي تسلیخ ته اړتیا پیداکیږي اودا باید په هغه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخو باندی هم ترسره شي چیرته چی دمقدم افت پراخه جراحي Resection ته اړتیا احساس کیږي یعنی د وری دځنډی یا دخولی دځمکی په پرمختللي Ca په Resection کې دغاړی د جذري تسلیخ اجراکول په هغه حالاتو کې چی دهستالوژي له نظره عقداتو ته میتاستاز شتون ولري لاکن د کلینیک له نظره د شفا اندازه ۲۵% کیدای شي.

دغاړی دمیتاستاتیک عقداتو دځارنی لپاره که څه هم شعاعي درملنه د جراحي په څیر اغیزمنه نه ده لاکن په لاندی حالاتو کی استطباب لري.

۱- د Naso Pharynx د ژبی د قاعدي او تانسل په کارسینوما کې د غاړی دناحیوي عقداتو Metastasis موجودیت په داسی حال کې چی لمړنی افت دشعاع پواسطه معامله شي.

۲- دغاړی دجذري تسلیخ نه وروسته بیا راتلونکو غوټو شتوالوالي په ډله کې دتشعشع زیاتره پیښی شتوالی لري.

۳- دغاړی هغه غوټی چی د جامد انساجو سره ننښتی دی اودعملیاتو وړتیا نه لري.

دکلینیک له نظره N۳ N۲ درجه لمف ادینوپاتي چی د Super voltage تیراپي پواسطه د لمړنی افت سره یوځای د سر اودغاړی مختلفو کانسرونو د درملنی په اوږدو کې معامله شوی دی دهغوی دکنترول اندازه ۵۰% څخه زیاته لاسته راغلی ده او دغه درملنه یواځی په ۲/۲۹ یا ۳% پیښو کې دناکامی سره مخامخ شوی وه داځکه چی دمقدم افت دکنترول کولو سره یوځای دلمفاوي عقداتو د Metastasis په کنترول کولو کې عدم کفایه موجوده وي دلته د ۵ کالو ژوند اندازه ۲ % وه لاکن دا اندازه دلیری ځایو میتاستازس له کبله اغیزمنه شویدی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- پایلی:

Gaint cell Tumor که په درست توګه يې درملنه وشي انزار به يې ډير ښه وي.

B: Osteo sarcoma چې په پراخه توګه Resection شوی دی د ۲۵-۳۰% د ۵ کالو پوری دژوند چانس شته.

۱- دناکامي اساسي سبب يې دوینی له لیاری لمړنی میتاستاز په ځانګړي توګه سږو ته دی.

C: Amyloblastoma که په ډير سخاوت سره غوڅ شی دشفا لوړی اندازی (۷۵-۸۰%) لري.

۱- لږ لږ غوڅولو او Curretage کی دبیرته راګرځیدلو پیښی ډیری وي.

D: د Ewing's کوما ډير خراب انزار لري.

۱- ځینی وخت شفا یاف کیږي.

تداوي باید دجراحي پرنسیپونه تعقیب کړي په دی ډول چی دتداوي ساحی باید د Block په څیر محتویات ولري یعنی Subaxillary مثلث، St Cleidomastoid عضله، داخلی Jugular وريد او عقدات، د Triceps عضلی انسی څنډی، د Mandibula څخه تر ترقوي هډوکی پوری شحمی او منضم نسج په کې شامل وي. دایواځی د Super voltage تخنیک اویا په بین الخلالي مسافو کې Radio isotopes په Nylon ریشو کې تثبیت شي او د تحول په حدود کې Cunericidal دوزونه لاسته راوړی شي.

VII: پایلی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- دشعاعي تراپي اوجراحي لوړه درجه يوځای کارول:

(Marclemb او Fletchers اوسنی اعدادو شمیره ۱۹۲۲ دریم جدول:

دخولی دجوف پایلی

موقعیت	د ۵ کالو دژوند اندازه (مطلق)	د ۵ کالو د ژوند اندازه (تخمیناء)
دژبی قدامي دوه پر درې برخی	%۴۴	%۵۲
دخولی ځمکه	%۵۵	%۷۱
ښکتنی وری	%۴۷	%۵۵
پورتنی وری	%۵۵	%۴۵
دخولی مخاطي غشاء	%۵۳	%۷۱

د Oropharynx دکانسر پایلی

قدامي Facial	ستونونه	%۳۷	%۸۵
Retro molar	ژبه		
Tonsillar Fossa		%۳۴	%۴۰
نرم Palate		%۴۹	%۲۸
بلعومي جدارونه		%۳۱	%۳۸
دژبی قاعده		%۲۷	%۳۰

د NasoPharynx دکانسر پایلی

Squamous Cell Ca	%۳۲	%۳۹
Lymphoma Epitheloma	%۳۷	%۴۲

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Lymphoma	%۵۰	%۵۰
مجموعه	%۳۵	%۴۱

پورتنی پایلی د یوډیر لوړ تجربه لرونکي Radio therapist او جراحانو له خوا برابر شویدي چې دیوزیات شمیر ناروغانو په کلینکي ریسرچ او درملنه کې راټول شویدي. نوموړی پایلی په یو ډیر شمیر مراکزو او روغتونونو کې په کافي اندازه کم دی چی معمولاء د پورتنی اندازو ۵۰% پوری رسیږي.

شعاعي تراپي او داضافي O۲ تنفس ترسره کول

A: داتموسفریک O۲ تنفس کارول (SMN)

دادیادونی وړ ده چی دسر او غاړی د پرمختللي کانسرونو په درملنه کې داتوموسفیري O۲ تنفس او دشعاع یوځای کارولو په هکله اوسنی تجربی د اولنی افت د بیرته راتللو اندازه ۸۵% (۳۲/۳۷ پیښی) ورکړی ده چی دی جملی څخه زیاتره تر کنترول لاندی او ژوندی وه.

B: د Hyper Baric O۲ تنفس کول

اګر چی دنوموړی میتود اولنی راپور دشعاعي غبرګون د زیاتولو په مورد کې په زړه پوری وه خو تر نن ورځی پوری برابری شوی پایلی دومره ښی نه وي او د هغوی د رینښتنی ارزښت د ټاکلو لپاره نورو څیړنو ته اړتیا ده د لمړنی سپینوالي او عقداتو رجعت ښه دی لاکن د اوږدی مودی د راپورونو څخه خالي دی او په اتموسفیري O۲ باندی برتري نه لري.

۳- دشعاعي تراپي سره یوځای دکیموتراپي کارول:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: دکیموتراپي او شعاعي تراپي دیوځای کارول په هکله پلټنی دوام لري او لاندی دوا ګانی احتوا کوي.

Methotrexate (MIX) وریدي یاداخل وعایي 5FU IUD یا BUDR د MTX پروګرام دټولو نه ښه ښکاري اوپه ملي تعاونی مطالعاتو کې منظم شویدی.

۴- دشعاعي تراپي او جراحي ګډ کارول:

دجراحي او شعاعي تراپي دګډ کارولو دارزښت دمطالعی لپاره یو لړ پلټنی د Randomizide په اساس ترتیب شویدی ځینی ښی پایلی چی تر اوسه ددی پواسطه راپور ورکړل شویدی په لاندی ډول دی.

A: دعملیاتو څخه مخکی د شعاعي تراپي اودغاړی جذري تسلیخ: دغاړی دعقداتو په Operable ناروغانو کې دعملیاتو څخه مخکی ورکړل شوی ۲۰۰۰ راده دوز په دری کالو کې دغاړی دعقداتو د عود اندازه په کنترولي ګروپ کې د ۳۳% نه تر ۲۰% ته رابنکته کړیده چې داد لاندنیو لپاره صدق کوي (۵).

۱- دجس وړ عقدات ۴۱% تشعشع شوی ۲۲% کنترول ګروپ

۲- غیر قابل جس عقدات ۱۹% تشعشع شوی ۰% کنترول ګروپ

۳- دمثبت هستالوژي لپاره ۴۷% تشعشع شوی ۲۹% کنترول ګروپ

B: دبلعومي دپرمختللي کانسر لپاره:

په یو کال کې د ژوند په اندازو ښه والی ۲۷ څخه تر ۷۵% پوری د Rush او Green Low پواسطه راپور ورکړل شویدی (۱۹۸۲) (۴۷)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی د حنجروي بلعوم د پرمختللي کانسر لپاره د شعاعي تراپي دوزونو د استعمال پواسطه ۵۵۰۰-۶۵۰۰ راده پوری د ۵-۶ اونیو لپاره او په تعقیب دجراحي دعملی څخه وروسته دا پایلی برابری تهیه شوي دي.

دخولی دجوف دکانسرو ویشنه بندي، مرحله بندي او ERRS دپاره د UICCS او AJCCCS ترمنځ پرتله کیدنه (اولنی شکل او څلورم جدول).

UICCS	AJCCS
ویشنه	ویشنه
Tمقدم	T۱ مقدم
T۱: تومور چی ۲ سانتي متره لویوالی په خپل عرض کې ولري په کلکه توګه سطحي او Exophytic وي	Carcinoma Insitu T۱S T۱ تومور چی په خپل لوی ترین قطر کی د ۲ سانتي متره څخه کم وي.
T۲ : تومور چی په خپل لوی ترین عرض کې د ۲ سانتي متره څخه کم او کم ترکمه ارتشاح په ژوروالي کې ولري.	T۲ تومور چی په خپل لوی ترین قطر کې د دوه سانتي متره څخه لوی لاکن ۴ سانتي متره څخه لوی نه وي
T۳: تولید چی په خپل لوی ترین عرض کې د دوه سانتي متر څخه زیات یا تومور نظر خپل لوی والی ته عمیق ارتشاح ولري.	T۳ تومور په خپل لوی ترین قطر کې د ۴ سانتي متره څخه زیات وي
T۴ تومور چی نور جوړښتونه لکه دهلیزکي اویا عضلات یې ماوف کړي وي او دیو څخه زیات مجاورو ناحیو ته پراختیا موندلی	ناحیوي لمفاوي عقدات دکلینیک له نظره رقبي لمفاوي عقدات
N ناحیوي لمفاوي عقدات	دجس وړ نه وي یا دجس وړ وي لاکن د میتاستازس شواهد نه وي. په ماوف خواکې د کلینیک له نظره دجس وړ

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

No عقدات قابل دجس وړ نه وي	لمفـاوي عقـدات تثبـت نـه دی اودميتاسـتازس شواهد نشته.
N۱ په ماوف طرف کې حرکت لرونکی	دکلينيک له نظره په مخالفه خوا کې يا دوه طرفه
N۲ په مخالف طرف اويا دوه طرفه حرکت لرونکی	رقبـي لمفـاوي عقـدات چـی دجـس وړ وي او د
لمفاوي عقدات.	ميتاستازس شواهد نشته
N۳ په ماوف طرف کې يا مخالف طرف کې ثابت	N۳ دکلينيک له نظره دجس وړ عقدات چی ثابت
لمفاوي عقدات	وي شواهد شته

M: ليری ځايو ته ميتاستازس	M: ليری ځايو ته ميتاستازس
MO ليری ځايو ته دميتاستاز هيڅ شواهد نشته	MO ليری ځايو ته ميتاستازس نشته
M ليری ځايو ته ميتاستازس نشته	M۱ درقبي لمفاوي عقداتو نه علاوه کلينيکي اويا راديوګرافيک شواهد موجود وي

مرحله بندي

مرحله بندي

دمرحله بندي سيستم برابر شوي شوی نه دی ۱ مرحله T۱ N۲ مرحله IV T۱ NO MO MO T۱ NO MO

II مرحله T۲ NO MO

III مرحله T۳ NO MO

T۱ N۱ MO

T۲ N۱ NO

T۳ N۱ MO

T۲ N۲ MO T۲ N۳ MO

T۳ N۲ MO T۳ N۳ NO

Chapter (XVI)

يا د N۱ سره هر يو T يا N مرحله

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمرکزي عصبي سیستم تومورونه

تناظر:

دمرکزي عصبي سیستم داخل المنشاء تومورونه چی زیاتره د Gliomas د جملی څخه دی غوره ځانګړتیا داده چی دتومور خپریدنه د CNS څخه دباندی خواته ډیر په ندرت سره صورت نیسي ټول د Gliomas خبیث دي داپه دی معنی چی په موضعي توګه انتشار کوي او د نومورو په بشپړه توګه لیری کول ممکن نه دی د مرکزي عصبي سیستم تومورونه د Morbidity او Mortality په لور لوړو درجو سره ملګرتیا کوي ځینی مخصوص تومورونه د سب ارکنوئید مسافو څخه انتشار کوي اودمیتاستازس په ډول وجود کې انتشار کوي که داډول د انتشار مساعد والی یواځی نخاع شوکي پوری محدود پاتی شي نو داسی فکر کیږي چی تشعشع په کامیابي سره داډول تومورونه کنترول کولای شي په هر صورت یو زیات شمیر Gliomas دشعاعی غبرګون لپاره چی کومو دوزونو ته اړتیا پیښیږي زیاتره دنارمل عصبي نسج د دوز سره برابر اویا ورځخه زیاتیږي.

که لوی دوزونه وکارول شي په پاتی ژوندی خلکو کې ځینی وروستنی اړخیزی اغیزی لیدل کیدای شي د Modulo blastoma په ځینی پیښو کې دجراحی او شعاعي تراپي سره یوځای دکیموتراپي کارول اغیزمن ثابت شویدی اوپه ډیر فعال توګه دنورو تومورونو لپاره تر څیړنی لاندی نیول شویدي. څرنګه چی دنیوپلازم ډیر ډولونه چی پیاوړتیا او زور یې سره توپیر لري لیدل کیږي نو د اوږدی مودی لپاره ژوند په یو ځانګړی او حتمي ډله کې منځ ته راځي چی دا باید دشعاعي درملنی اویادجراحي تداوي ځانګړی تاثیر ونه ګڼل شي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

بلکه دتومور طبعي تاریخچه باید تر نظر لاندی ونیول شي اویوازی په اغیزه Gliomas کې د ۵ کالو ژوند اندازه دومره قدر او ارزښت لري چې د پایلی په حیث باید بیان شي.

۱- ویشنه

ددماغي تومورونو په میتابولیک ویشنه باندی تکیه کول دنومورو د کلینیکي اړیکو انزارو او د درملنی د پوهیدنی لپاره اړینه ده اګر چی زمونږ معلومات په دی هکله ډیر محدود دي چی دیوی باوري ویشنی بندي اساس جوړ کړي لاکن لاندی ورکړل شوی معلومات دتجربی له نظره ګټور دي.

A: داخل المنشاء تومورونه:

۱- Gliomas په دی ټولګی کې دټولو نه عمومي تومور Astro cytoma دی همدارنګه Oligo dendro glion او Ependymomas کم پیښیږي.

Astro cytoma زیاتره د IIV درجو پوری ویشل کیږي.

۱- درجه دښه توپیر شوي Astrocytes څخه جوړ شویدي او IV درجه یې بارز Cellularity pleomorphism، زیات شمیر Mitosis ، نکروزس او کله کله Gaint cell احتوا کوي اوهمدارنګه II او III درجی ددی دواړو ترمنځ بین البیني حالت لري.

د Glio blastoma اصطلاح Multiform په عمومي توګه دلوړ خباثت لرونکی Astro Cytomas لپاره کارول کیږي چی د III او IV درجی څخه دی څرنګه چی ټول Gliomas ارتشاحي وصف لري او کپسول نه لري نو ځکه د خبیثه افاتو په ډله کې شمیرل کیږي.

۲- ځینی عالمان Medulo Blastoma دیو قدیمي غیر تفریق شوي تومور په حیث تصنیف کوي او ځینی نور یې دقدیم Neuronal تومورو په ډله کې داخلوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا د کوچنیتوب د دوری د Cerebelum د Vermis برخی ځانګړي تومور دی چی په چټکه توګه وده کوونکی ارتشاحي نیوپلازم دی چی دټولو Sub arachnoidal مسافو په اوږدو کی خپریدنی ته میلان لري او په سحایاو کی خپاره محراقونه منځ ته راولي دهستالوژي له نظره حجرات يې کوچنی یودبل سره نژدی ترلی شکل لري چی Cytoplasma يې هم کم شویدی نوموړی تومورونه په ټولو پیښو کې مشابه اوصاف لري برخلاف د Astrocytoma چی په خپل منځ کې پراخ هستولوژیک تظاهرات لري د Medula blastoma دقدیم حجراتو د پاتی شونو څخه منځ ته راتللو نظریه په Gliomas کې دنورو تومورو د منشاء د اوسنی مفکورې په ضد ده ځکه چی فکر کیږي چی د Gliomas د ډلی تومورونه دکاهل حجراتو د Differentiation څخه منځ ته راځي.

B: دعصبي سيستم داستادي جوړښتونو تومورونه

Meningomas د Pia arachnoid حجراتو څخه منځ ته راځي په داسی حال کې چی Neuri lemomas دقحفي اعصابو یا عصبي جذرونو د Schwann حجراتو څخه منشا اخلي د Meningiomas په ځینونواحیو کې نشونما کولو ته میلان لري اوله دی کبله په هغه مخصوص نواحیو کې واقع شوی Meningiomas سره وصفي کلینیکي سندرومونه ترلې شویدي داخل قحفي Neuri lemoma زیاتره داتم زوج څخه منشاء اخلي او له دی کبله اکثراء د Cerebelo pontine زاویی دپاسه واقع کیږي چیرته چی داتم زوج مجاور Stem اوپورته په Cerebelum تولید شوی فشار دتولید شوي کلینیکي سندروم اناتومیک اساس جوړوي په همدی ترتیب Meningiomas او Neuri lemomas دشوکي قنات مهم تومورونه جوړوي چی په نخاع شوکي او نخاع عصبي جذرونو باندی فشار تولیدوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمایکروسکوپ له نظره Meningiomaso د Arachnoid پوښ کړی حجراتو ته ورته دی چی جزیري او طبقی جوړوي او په هغوی کی Whorls او Psamomas اجسام هم لیدل کیږي نور یې اوږده حجرات دي چی د Fibro blast په شان منظره لري.

Neurolomomas دموجو په شان بندلونو اویو دبل سره تړل شوي حجراتو څخه جوړ شویدي چی اوږده دوه قطبه لرونکی حجرات لري د دوی هستی عموما په ډیرمنظم توګه ترتیب شویدي چی د Palisade په ډول حجرات په کې متبارز وي.

C: دنشونما تومور

دتومورونو دریمي ټولګی دنشونما د نسج څخه منشاء اخلي داسی فکر کیږي چی د جنیني ژوند په اوږدو Embryogensis په مرحله کې دپاتی شوو حجراتو د پاتی شونو څخه منځ ته راځي ددی ډلی څخه یو تومیور Hemangio blastoma دی چی د وینې اوعیو څخه منځ ته راځي اوعموما د کهولت په موده کی لیدل کیږي داپه ورو ډول وده کوي عموما Cyst دی او په اساسي توګه په Cerebelum کې واقع کیږي ددی ډلی نور تومورونه عبارت دي له Epidermoid craniopharyngioma او Dermoid cyst د دویم بطن Colloid cyst او نادراء Chordomas دی ددی جملی څخه دځینی افتونو Neoplastic جنبه ډیر ژرتثبیت کیږي او په نورو کې (مثلا د دویم بطین Colloid cyst Epidermoid او Dermoid cyst) ددی طرز عمل واضح نه دی نوموړی په ورو ورو سره لویږي چی دحجراتو دودی اویا د Desquamote شوو موادو یا افراز شوي موادو اودمنضم نسج د غبرګون دعناصرو دټولیدلو له امله د دوی جسامت زیاتیږي اوله دی کبله دنوموړو کلینیکي طرز العمل د لوئیدونکي افت په شان وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: د Pituitary تومورونه:


دتومورونو څلورم اساسي ګروپ دنخامیه غدی دقدامي فص د Chromo phobic او Esinophilic ادینوما پواسطه جوړ شوی اګر چی نوموړی دعصبي سیستم حقیقي تومورونه نه دی لاکن نوموړی زیاتره عصبي ګیلی او نښی دخپل اساسي اختلاطاتو په توګه منځ ته راولي چی لامل یې په Hypothalamas optic chiasma ،دریم بطیني اوانسي Temporal فص باندی د فشار تولیدیدل دي او ښایي چی دداخل قحفي فشار دزیاتوالي لامل شي نوموړی تومورونه سلیم ورو وده کوونکی افتونه دي.

E: Metastatic کانسرونه:

داتومورونه د پنځم کلاس د Metastatic تومورونو څخه تشکیل شوي دي کوم چی یو واحد یا زیات شمیر کیدای شي په دی ډله کې Ca د Sarcomas نه زیات عمومیت لري. سږي او تیونه ددی ټولو نه زیات عمومي مقدم منابع دی هم دارنګه دپانقراص او ښکتنی کولمو کانسر، دپښتورګو کارسینوما خبیث Melanoma هم ددماغ د دویمی کانسرونو مهم منابع دي. ددماغ Metastatic افتونه ډیر زیاته خپریدونکی او ویجاړونکی وده لري چی افت په شاوخوا کې ښی ښکاره څنډی لري په ګاونډي سپین جوهر کې زیاتره اذیما موجود وي کوم چی په ځینی پیښو کې دتومور څخه دکتنی وړ فاصله خپریږي کله کله میتاستازس د Leptomeninges یو منتشر کارسینوماتوزس منځ ته راولي چی په زیات شمیر قحفي اعصاب اودنخاع شوکي جذرونه ماوف کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



پورته شکلونو کې د CNS تومور ښودل شویدی.

پاملرنه:

دهر نوع داخل قحفي تومور که داخلي منشاء ولري خبیث واوسي اویا سلیم ډیر ټینګتیا او توجه ته لږ اړه لري ځکه چی دماغي اذیما دلته مورد بحث ده د اذیما دمنځ ته راتلو میخانیکیت په ښه توګه پوهیدل شوي نه دی لاکن بیا هم اکثراء دکلینیکي ستونځی او همدارنګه د ناروغی اناتومي دپوهیدو لپاره دکتنی وړ مرسته کوي.

II: وقوعات

دعصبي سیستم تومورونه نادر دي د Lurkand په نوم یوعالم په ۱۹۵۸ کال کی دملي نفوسو یوه احصائیه نیولی ده اوداسی یې ښکاره کړیده چی هرکال ددماغ نوي مقدم تومورونه ۱۵۰۰۰ په اندازه اودشوکی نخاع تومورونه د ۴۰۰۰ نه لږ زیات پیښیږي تقریباء دټولو مړینو ۲% ددماغ دتومور له کبله منځ ته راځي.

عمومي وقوعات:

A: دټولو تومورونو ۲-۵% جوړوي.

B: ۸۰%دماغ او ۲۰% نخاع شوکي ماوفوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: ددماغ ۲۰-۴۰% Metastatic وي (چی دسږو ثدیی، پښتورګي، میلانوما اومعدی معایي طرق څخه منشاءاخلي په یوه پلټنه کی په ۷۰% پیښو کې زیات شمیر ذخایر لري.


D:دکاهلانو تومورنه:

۱- Glimomas : ددماغ دټول مقدم تومورونو ۵۰% جوړوي چی ددی څخه ۵۰% Glio blastoma جوړوي نوموړی زیاتره په دماغ کې منځ ته راځي اود ۴۰-۲۰ کلنی پوری زیات عمومیت لري.



شکل کې MRI د Glioma توموري کتله ښیي

۲- علاوه د Gliomas تومورونو څخه Meningiomas ډیر عمومیت لري دوقوع اعظمي عمر ۵۰ کلنی ده ددماغ Para sagital ناحیه او قاعدوي قدامي برخه ددی عام ځایونه دي نادراً په کی خښته بدلون لیدل کیږي چی د ډیری چټکی ودی او ځایي خپریدنی له کبله تشبیت وي.



Glioma. Magnetic resonance imaging (MRI) scan of a low-grade glioma. **Left,** T۲-weighted image; **right,** T۱-weighted image, gadolinium contrast with minimum enhancement. The images are typical of this tumor, which is being detected with increasing frequency by MRI in seizure patients. Many are invisible on computed tomography scans.

پورته شکل په CT معاینه کې چی د Contrast سره اجراشوی Meningioma ښي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- دنخامیه غدی Adenomas دداخل قحفي نیوپلازم د ۱۲-۱۸% پوری جوړوي چی زیاتره برخه یې Chromophobic ده تقریبا هیڅ کله خبیث نه وي.

۴- Neurilemomas (Schwan noma) اساساء د کاهلانو تومور دی چی معمولا سلیم سیر لري.

E: دوړکتوب تومورونه

۱- Medullo blastoma ۳۰% جوړوي Astrocytoma (پیتمه درجه خباثت) ۳۰% Ependymomas ۱۲% جوړوي.

۲- دخلفي جوف تومورونه زیات عمومیت لري چی اندازه یې ۲۰-۷۰% ده.

۳- دڅلورم بطین ډیر عمومي تومورونه عبارت دي د Ependymomas څخه دی.

۴- دبصري لارې Gliomas دامعمولاً ښه توپیر شوی Astreo cytoma دی چی ورو وده لري اودبصري عصب په اوږدو کی پرمختللی پراختیا مومي او بلاخره داخل قحفي انتشار کوي چی دکوچني والی دداخل قحفي تومورونو ۵۰% جوړوي د بصري حفری غټیدل په زیاتره پیښو کی موجود دی.

۵- Craniopharngioma دا د ۳۰-۸۰ کلنی عمر څخه په کم عمر کې لیدل کیږي دهستالوژي له نظره سلیم دی د Cystic تومورونو د لوئیدو له املې تولید شوی اعراض او علایم دنخامیی Adenomas ته ورته دی په X-ray کی په وصفي شکل د Super sellar کلسیفیکیشن معلومیږي.

F: دنخاع شوکي تومورونه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- Gliomas دمجموعي تومورونو ۲۳% جوړوي ددی جملی څخه دوه پر دری Ependymomas دی دنورو دجملی څخه زیاتره ښه تفریق شوي Astrocytomas دی ددماغ اودنخاع شوکي د Gliomas دوقوعاتو تناسب ۹۳:۷ دی دوقوعاتو متوسط عمر ۳۸ دی.

۲- Hemingioma او Schownaoma ۵۲% واقع کیږئ او دصدري فقراتو په ناحیه کې ډیر عمومیت لري.

۳- باقي پاتی تومورونه یې Epidermoid او Dermoid cyst ، Chordomas Hemangio Blastoma او متفرقه نور تشکیلوي او ډیرکم عمومیت لري.

III: کلینیکي لتنه:

ددماغ تومورونه عمومي (یعنی چی غیر موضعي وي) اعراض او علایم ورکوي چی په داخل دقحف کی دفشار زیاتولو مستقیمیاء فشار تولیدولو انتشار کولو یا ددماغي تخریش پواسطه محراقي تکلیفونه منځ ته راولي.

A: دداخل قحفي فشار زیاتوالی:

کیدای شي چی په ابتدایي مراحلو کې د سریع نشونما اودزیات انتشار له امله متبارزه اذیما منځ ته راشي او په کمو حالاتو کې په داخل دتومور کې نزف اویا انفارکشن منځ ته راتلای شي د اذیما منځ ته راتلل په چټک ډول په لمړنیو مراحلو کې سردردي، دزړه بدوالي، کانګی او همدرانګه دشعوري حالت خړپړتیا منځ ته راځي. د ورو ورو نشونما لرونکي تومورونه لکه Meningiomas زیاتره دیوه څخه دزیاتو کالو لپاره موجود وي او مخکی له دی څخه چی په داخل دقحف کې فشار زیات شي جسامت یې ډیری لوړی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اندازی ته رسیږي یو تومور چی په داسی موقعیت کی واقع شوی دی چی د بطیناتو څخه دمایعاتو داخراج مانع وګرځي په داخل قحفي فشار کې چټک او شدید زیاتوالی منځ ته راځي دمثال په ډول Thalamic gliomas د دریم بطین Coloid cyst یا Cerebelar تومورونه چی څلورم بلاک کوي ددی دجملی څخه دی.

B: موضعي علامی:

کیدای شي چی د Temporal lobe یوافت دمخالف طرف د Homonymous hemianpsic سبب شي اوهغه تومورونه چی د Rolando fissure ماوف کوي د Jack sonian مرګ سبب کیږي ددماغ ناحیی لکه Cerebelum, Frontal او Parital فصونه همدارنګه ددماغ د Stem مدور ناحیی داسی مخصوص وصفي علامی تولیدوي چی دتومور دموقعیت په ټاکلو کې ډیر کومک کوي.

C: داعراضو شروع:

ددماغي تومور د ناروغی، تاریخچه کې داعراضو دوامداره پرمختګ موجود وي داډول پرمختګ ښایي بطي وي اویا د یوی لنډی مودی لپاره ساکن وي لاکن په ډیره توجه سره اخیستل شوي تاریخچه معمولاً داخرګنده کړي چی ناروغ دابتدایي ګیلو د پیل نه وروسته په بشپړ توګه هیڅکله ښه شوی نه دی.

D: په کاهلانو کې دمرګي دحملاتو مفهوم:

دلته یواځینی استثناء دهغه ناروغ لپاره ده چی دهغه یواځنی عمده شکایت میرګي وي په پیل کې کیدای شي چی ناروغ دمرګي دحملاتو په منځ کې په مکمل ډول ښه وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په یو کاهل شخص کې د مرګي دحملاتو شروع کیدل چې مخکې ورسره هیڅ مخامخ شوی نه وي باید دهمیش لپاره دتومور شتوالی دنظر لاندې ونیول شي تقریبا ددې ډول ۳۵% ناروغان داخل قحفي نیوپلازم لري د Cerebelum منجیوما دوه پر درې پیښو کې د مرګي دحملاتو لامل کیږي د Glioma په ناروغانو کې د مرګي حملې لږ عمومیت لري لاکن یو ابتدایي عرض کیدای شي.

E: سردردي

سردردي یو عمومي عرض دی دا زیاتره منتشر وي او که یوطرفه وي نو عموماء په ماوف طرف اویا د تومور په طرف کې وجود لري دخلفي جوف په تومور کې Sub Occinital حساسیت ډیر عمومیت لري.

معاینه باید اجراشي عبارت دې د Disorientation, Lethergy, Somnulence او په خفیف درجه Aphasia او دقحفي اعصابو د وظایفو د تناظر دخرابوالي څخه دی.

B: بصري ساحې:

دبصري ساحې معاینه اکثراء دیاده وځي اویا په ډیر خفیف توګه اجراکیږي لیکن دامعاینه د Tentoriam څخه پورته دتومور د موقعیت په تثبیت کولو کې ډیر صحیح معلومات ورکوي ځکه چې د شبکې او بصري قشر تر منځ یوزیات شمیر داسې ځایونه وجود لري چې هلته بصري عصب الیاف ماوف کیدای شي اودنومورې هریو ماوف شوي ناحیې څخه په بصري ساحه کې مربوط بدلون منځ ته راځي.

C: Fundoscopic معاینه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوموړی معاینه باید په عادی معایناتو کی اجراشي که دمعاینی اطاق تیاره وي نو دامعمولاً په بی له کومه Medriatic د راد استعمال څخه اجرا شي که امکان ولري ددی ډول دواګانو څخه بایدډډه وشي ځکه چی غلط شواهد ورکوي.

D: قحفي رونتګوګرام

ددماغ د تومورو په ۳۰% ناروغانو کې په قحفي رونتګفوګرام کې یوځه ناڅه ابنارملتي وجود لري. تر یو پرځلورد Carnic pharngioma به کلسفاید شوي وي Meningioma هم کیدای شي چی کلسفاید شوي وي او عموما د Celvaria اویا د Sphenoid دهډوکي دڅنډی سره دارتباطي نقطی په امتداد کې پیړوالی تولیدوي.


په عمومي ډول دداخل قحفي فشار زیاتوالی د Sellaturacica د خلفي Clenoidal نتواتو د تخریب لامل کیدای شي یاداچی ددماغ د نیم کری پواسطه دمتوسط خط څخه تیله شوی وي (یو کلسیفاید شوی Pineal جسم یا Habenular commisara یا کیدای شي چی دلور جبهی تومور پواسطه شاته یا ښکته خواته بیځایه شي.

E: دصدر قدامي خلفي رادیوګرافي:

څرنګه چی په دماغ کې دتومور میتاستازس عمومیت لري نو ځکه په نوموړو کی دسږو کانسر لټول اړین دی اړخیزو او شاتنی مخکینی رادیوګرافي دسینی اخیستل کیږي دسږو کارسینوما عموماء دماغ ته میتاستاز ورکوي اوداسی یوزیات شمیر تومورونه چی دماغ ته میتاستاز ورکوي سږي هم اخته کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



Brain metastasis. **Multiple metastases from breast carcinoma are seen on this T١ gadolinium-enhanced magnetic resonance imaging scan. The multiple smaller tumors were not visible on computed tomography, even after a contrast agent was given**

F: Lumber Puncture

کوم وخت چی دداخل قحفي فشار دزياتوالي ښکاره شواهد موجود نه وي د L.P څخه ډډه کيږي ځکه چی خطر لري کوم وخت چی نخاعي مايع وويستل شي نو په اني ډول داخل قحفي محتوياتو د بيځايه کيدو سبب کيږي چی دانسي Temporal lobe يا Cerebelar herniation لامل کيږي.

L.P هغه وخت ګټور ثابتيږي چی معلوم کړو چی داخل قحفي فشار زيات شوی دی که نه؟ يا دا د اشتباه لاندی وي يا داچی د Meningitis اويا Subarachnoid Hemorrhage دتوپيري تشخيص لپاره ګټوره تمامیږي.

G: د نخاع شوکي مايع دپروتين محتوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دداخل قحفي تومورو په شتوالي کی دنخاع شوکي دمايع پروتين يو پر درې پيښو کې زياتيږي اودشوکي حبل په تومور کې د تل لپاره زيات وي همدارنګه نادراء لوړ جسامت لرونکی تومورونه په سحاياو کې دشوکي مايع دقندد سويی دکموالی لامل کيږي همدارنګه کله کله په شوکي مايع کې د Cytologist پواسطه تومورې حجرات پيژندل کيدای شي.

H: EEG الکترو انفسالوګرام:

EEG په هغه ناروغانو کې چی ددماغي تومورو اشتباه موجوده وي په سکريننګ کې ارزښت لري تقريباء ۷۵% ناروغانو کې EEG غير نارمل وي. په ۴۰% پيښو کې دابنارملتي ځای په ښه توګه څرګند شويدی ليکن هغه معلومات چی ددی معاينی پواسطه لاسته راځي دومره صحيح نه وي چی بيله کوم نور مطالعاتو د جراحي اجراء کولو ته اجازه ورکړی.

۱- دماغي Scan:

دسيمابو شعاعي فعال مرکبات ناروغ ته تطبيق اوبيا ناروغ سکن کيږي Glioblastoma meningiomas اولوی ميتاستاتيک تومورونه ددی تکنيک پواسطه زياتره تشخيص کيږي اوتقريبا ۷۵-۸۵% پيښو کې مثبته پايله ورکوي.

I- دماغي Arterio graphy

دثباتي اويا فقروي اوعيو انتخابي انجيوګرافي ډيره زياته کارول کيږي ځکه دتشخيص دکاميابي اندازه يې ډيره لوړه ده (خصوصا د Cerebelam دمخکني دوه پر

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

درې برخی دتومورو لپاره) اوعلاوه پردی جراح ته دتومور داخلي وعايي سيستم اودهغوی دمحاورو دموي اوعيو سره دارتباط په هکله باارزښته معلومات ورکوي.

K: هوا مطالعات

نوموړی څيړنی دعصبي شعاعي تشخيصي مطالعاتو دجملی څخه دټولو نه زياته د درسته مطالعه ده چی په ۹۵% پيښو کې د تومورو د ځای او دشتوالي دتثبيت لپاره ورڅخه کاراخيتسل کيږي. کوم وخت چی دناروغ داخل قحفي فشار په متبارز توګه زيات شوی وي اويا ناروغ ډير زيات بيمار او Debilitated وي نو په ليری Ventri culography يعنی په بطيناتو کې دهوا په مستقيم توګه زرقول اجراکيدای شي.

V: د درملنی پرنسيپونه:

A: جراحي پرنسيپونه: دټولو داخل قحفي تومورونو ړومبنی درملنه تداوي دجراحي پواسطه غوڅول دي.

۱- دعضويت دنورو ځايو د تومورو په شان دتومور ليری کول دمخصوص افت دجسامت او خپريدو له کبله محدود کيږي يادځينی سليم افتو په پيښو کې دعملياتو په وخت کې دکوم تکنيکي پرابلم له کبله محدود پاتی کيږي.

۲- Meningioma دهستالوژي له نظره هميشه سليم وي اومعمولاً په بشپړ ډول ايستل کيدای شي ځينی وخت يواځی Resection کول يی ممکن وي لاکن داهم په عرضي ډول ارام منځ ته راوستلای شي. ځکه چی Meiningomas ډير ورو ورو وده کوي اوعود کړی اعراض يې زياتره د زياتو کالو لپاره هيڅ ستونځه نه پيداکوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- خبیث تومورونه نادراء شفا کیدای شي په عمومي توګه کوم وخت چی داډول تومورونه تشخیص شي له مخکی ددماغ ژورو برخو ته یې انتشار صورت نیولی وي ترڅو دنومورو تومورونو مکمل ډول دلیری کولو مخه ونیسي.

۴- په دی ډول پیښو کې جراح معمولاء دداخلي فشار د لیری کولو لپاره عملیات اوهر څومره چی امکان ولري تومور لیری کوي چی په نتیجه کې په دماغ فشار کم کړي او عموما په موقتي توګه ددماغ وظیفی اعاده کوي.

۵- زیات جسامت لرونکی Astrocytoma ژر عود کولو ته میلان لري او د Astrocytom درجه III IV ۸۰% هغه ناروغان چی دجراحي لاندی نیول شوي دیوکال په دننه کې دمرګ سره مخامخ کیږي برخلاف ددی زیات سلیم طبیعیت لرونکی Astro cytoma زیات په زړه پوری دی او کله کله په بشپړه توګه لیری کیدای شي او هغه تومورو نه چی دماشومانو په Cerebelam کې موقعیت لري تقریبا دتل لپاره په مکمل ډول ایستل کیدای شي.

B: دشعاعي تراپي پرنسیپونه:

ددماغ زیاتره خبیث تومورونه دخارجي تشعشع په وړاندی دحساسیت غبرګون ورکوي ددی ډول درملنی یوکورس د ناروغ ژوند اوږدوي او کله کله دتومور دعود په صورت کې اعراض هم له منځه وړي.

۱- دشعاعي تراپي استطبابات په عمومي توګه دادي:

A: که تومور مرکزي برخه کی موقعیت ولري اودجراحي مداخلی پواسطه پرابلم زیات کړي.

B: که تومور حیاتي اعضاء اخته کړی وي نودهغوی غوڅول دمړینی کچه زیاتوي مثلاً متوسط دماغ، دریم بطین)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: میتاستاتیک ذخیری (اګر چی دکلینیک له نظره یوه ناحیه تراشتباه لاندی نیول کیدای شي لاکن نوموړی دشمیر له نظره زیات وي).

D: دنخامیه غدی Sednomas چی اختلاط یې نه وي ورکړی.

E: Mandulo blastoma (دځلورم بطیني بایوپسي اودفشار لیری کول).

۲- کـه دتومـور Resection پـه ناتـام ډول پـاتی وي نودعملیـاتو وروسـته X-ray تراپـي پـه لاندی واقعاتو کې توصیه کیږي.

A: Astrocytomas درجی IV III II

B: Endymoma

C: Oligio dendro glioma (ځینی وخت دسلیم تومور په حیث عمل کوي اوپه مکمل ډول لیری کیدای شي).

D: Sarcoma

E: Cranio pharyng

F: Chordoma

۳- دداخل قحفي فشار د زیاتیدو په صورت کې شعاعي تراپي په محتاطانه توګه اجراءشي که داحالت دجراحي په ذریعه دفشار ختمولو ته Decompression ته ضرورت لري.

۴- دتـداوي دوز یـې دتومـور هسـتالوجیکي ډول، شـعاعي غبرګـون او اناتومیـک ځـای اودهغوی دزغم دسویی پواسطه تعین کیږي.

۵- دتداوي ساحه د تومور د اناتومیک پراختیا پواسطه تعین کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- نیوپلازمونه لکه Medulo blastoma چی سحایاو ته دمیتاستاز ورکولو لوړ قدرت لري دنخاع شوکي تشعشع دوقایی په منظور اجراکیږي.

۷- عمر په Gliomas کې یو مهم فکتور دی ځکه چی په ماشومانو کې داډیر شعاعي حساسیت لري.

لیکن دتحمل سویه کمه ده داسی چی تراپیوتیک تناسب یې د کوچني دوزنو دکارولو سره هم یوشان دی.

۸- په رخوه انساجو کې دجانبي عوارضو دکمولو لپاره په لوړ دوزونو باندی Super voltage کارول برتري لري.

۹- ابتدایي دوزونه یې ټیټ وي او تدریجا زیاتیږي په دی ترتیب د شعاعي اذیما څخه مخنیوی کیږي.

۱۰- دتومورونو مجموعي دوزونه د ۴۰۰۰ – ۶۰۰۰ راده د ۴-۸ اونیو په حدود کې توپیر کوي.

۱۱- کوم وخت چی داخرګند شي چی ناروغ ددماغ Metastasis تومور لري نو نادراً یواځی جراحي عملیه اجراکیږي ددی ډول پیښو په تنظیم کې خارجي تشعشع په کتلوي دوزونو دکورتیکوسترویئد ورکول اوپه Sub temporal ناحیه کې د Dural فوحی دجوړولو پواسطه جراحي Decompression ترسره کیږي.

۱۲- شعاعي غبرګون

A: په زړه پوری غبرګون: زیاتره ناروغان د Resection او Decompression نه وروسته په دراماتیک ډول ښه والی مومي او شعاعي تعامل نادراء پرابلم منځته راوړي نور پاتی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ناروغان يې چې يواځې دشعاع پواسطه ښه والی مومي او د درملنې په اوږدو کې په ټول دوام کې ګیلی يې په ورو توګه بیرته راګرځي.

نامناسب يا ناخوښونکی غبرګون:

۱- عاجل: دشعاعي اذيما تشريح کول ستونځمن دی لاکن دمخکی نه دداخل قحفي فشار لوړوي اوپرمختګ کوونکی پرمختللی تومورونه ورته والی لري له دی کبله ټیټ ورځنی دوزونه يې اړين دي دتراپي په منځ اويا نيمايي کې د rad ۳۰۰۰-۲۰۰۰ Epitation منځ ته راځي.

۲- موخر: دتراپي نه ۲ کال او څو میاشتی وروسته معمولاً داعراضو عود منځ ته راځي او معمولاً دتومور دعود او دشعاعي نکروزس ترمنځ توپیري تشخیص اجراء کیږي.

او معمولاً دداخل قحفي فشار زياتوالي دتومور د عود سره ملګرتیا کوي.

C: دکیموتراپي پرنسیپونه:

ددماغ دتومور د کیموتراپي او لتنې لاندی نیول شویدی دتومور په بستر کې ددماغ اروا کوونکی اوعیی اود Subarachnoidul مسافو کې دوا تطبیق شویده.

تر نن ورځې پورې کومه ښکاره ګټه نه ده لیدل شوی په استثناء د Medulo blastoma VI: پایلی

په اوس وخت کې ۴۰% دهغه ناروغانو چې ددماغي تومور په پواسطه کلینیک ته مراجعه کوي يوځه ناڅه دژوندانه کارونه سرته رسولي شي په داسی حال کې چې ۳۰ سلنه ښه عرضي درملنه حاصلوي.

دتومورو په ځانګړو ډولونو يې پايلي او تبصری:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: Astrocytoma

۱- درجه: جراحي Resection که جراحي مداخله ممکن نه وي يا تومور د Resection وړ نه وي نو شعاعي تراپي دی ترسره شي.

۲- درجه : دباقی پاتی توموري برخی لپاره تشعشع کارول کيږي.

۳ او ۴ درجه: دا نادراء ليری کيدای شي او که ناروغ شعاعي زغم ولري نو شعاع په عمومي ډول تطبيقيږي.

پايلی:

(۲) Bonchard (۲۳) Kernohen د ۵ کالو دژوند داندازی په درجی پوری اړه لري.

جراحي په ځانګړي ډول: ۱ درجه ۵۹% ، ۲ درجه ۳۸% ، ۳-۳% ، ۲-۴% جراحي د X-ray سره: په اوله درجه کې تشعشع د ژوند اندازه زياتوي د Glio blastoma زياتره ناروغانو کې ناروغی عود کوي اوپه لمړنی کال کې مړينه واقع کيږي يواځی د جراحي سره دژوند اندازه ددوو کالو لپاره ۷% ده اودشعاعي تراپي په اضافه کولو سره ۲۰% ده په ماشومانو کې د Cerebelum دناحيی Astrocytoma معمولاء دجراحي پواسطه شفامومي.

B: Medulo blastoma

په ماشومانو کې يو عام خبيث تومور دی چی معمولاء د Cerebelum څخه منشاء اخلي او Metastasis يې تقريبا Subarachnoid مسافو ته صورت نيسي نو له دی کبله قحف اودشوکي نخاع په ټولو برخو باندی تشعشع اجراکيږي ديوشمير زياتومراکزو څخه دبهترينو نتايجو راپور په دوامداره توګه ورکول کيږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پایلی:

په ۸۲ پیښو باندی چی Bloom پواسطه په Royal Mersden Hospital کې کار شوی وه دلسو کالو لپاره دژوند داندازو راپور په دی ډول ورکړل شوی وه د ۵ کالو دژوند اندازه ۴۰% ، د ۱۰ کالو دژوند اندازه ۳۰% اودهغو خلکو له جملی څخه چی ژوندی پاتی شول ۸۲%دکوم سویی شکل سره مخامخ شول اوفعال ژوند یې تیر کړلو چی داسی ګمان ورکوي چی موخر اختلاطات دتشعشع په عوض دحقیقي تومور او Hydrocephalus له کبله وه (۲۰) Paterson د ۵کالو دژوند اندازه ۴۲% وه چی یوائی یوه واقعه په کی ددماغي تاخر لیدل شوی وه.

Hope Stone

د ۵ کالو دژوند اندازه ۷۵% اودلسو کالو دژوند اندازه ۵%.

C: Ependyma

دټولو نه زیات عمومي ناحیه څلورم بطیني، دلیری بطیناتو څخه یو بطین او نخاع شوکي وه په ځینی پیښو کې دټول Subarachnoid مسافو ته انتشار کوي.

پایلی:

ټولیز ډول دنخاع شوکي Ependymas دداخل قحفي په نسبت نبه انزار لري معمولاء جراحي اوتشعشع اجراء کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: Oligo Dendro glioma

د ۲۲ پیښو له نظره دریم Glioma ګڼل کیږي زیاتره په عکس کې د Classification له کبله پیژندل کیږي. (۴۰-۵۰%) کیدای شي چې په زیات بطي ډول پرمختګ وکړي سیر ولري لاکن زیاتره د یو مخلوط تومور په ډول چې درجه III او IV وي لیدل کیږي.

پایلی:

دکم خباثت لرونکی ډولونه یې معمولاً دجراحي سره درملنه کیږي او تشعشع د ډیرو خبیثو ډولونو لپاره اجراء کیږي اود Bonchardis په تجربه کې د ۵ کالو دژوند اندازه یې ۵۵% ده لاکن Eluidgg یواځی ۴۱% د ژوند داندازو راپور ورکړیدی.

E: دمتوسط دماغ او د Pontine تومورنه:

نوموړی تومورونه په ډیره حساسه ناحیه کی موقعیت لري چې عموماً دژوند لپاره خطرناک ثابت کیږي اودا زیاتره د Gliomas دډلی څخه دی یعنی Glioblastoma, Astrocytoma یا ګڼ Gliomas

پایلی

اصلاً په نوموړی تومورونو باندی جراحي مداخله امکان نه لري او تشعشع هم لوړ بدلون لري.

F: دنخامی دغدی Adenoma

دواقع شوي Amaurosis (فشاري اعراض) لپاره (د ۵۰% څخه زیات د ډیرو ساحی له منځه تلل اویا د بصري عصب اتروفي) دداخل قحفي فشار زیات والی د Cavernous sinus ماوف کیدو یا III,IV,V, VI قحفي اعصابو چې دنوموړي Sinus څخه تیریږي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دماوفه کیدو په صورت کې، د X-ray تراپي په اوږدو کې په Scotoma کې دناڅاپي زیاتوالي دمنځ ته راتلو په صورت کې، اویا د X-ray تراپي داجراکولو نه وروسته په درې میاشتو کې دبهبودي دنه حاصلیدو په صورت کې جراحي ته مراجعه کیږي.

ځینی ګروپونه که دکلینیکي اساساتو په تشخیص باندی یقین ولري نودنخامی غدی په ټولو کوچنیو پیښو کی د Adenoma لپاره په ابتدایي مرحله کې X-ray تراپي اجراکوي لاکن په ځینی نورو ټولو پیښو کې د بایوپسي په اخیستلو ټینګار کوي.

که د Adenoma لپاره جراحي اجراشي نو دعملیاتو څخه وروسته تشعشع هم اجراء کیږئ ځکه دنومورو په ګډه اجراء کول دژوند موده اوږدوي اود عود څخه مخه نیسي (یواځی دجراحي سره دعملیات څخه ازاده اندازه ۱۲% اود عملیاتو نه وروسته دتشعشع سره ۸۳% د ۵ کالو ژوند اندازه دعود څخه ازاده وه په Acromegaly کې دنخامی جسم او Acido philic تومور په لمړی مراحلو کې لیږی کیږي ځکه چی دنشونما هورمون اودهغوی کنټلوي مقدارونو کې به تاثیرات دمنځه یوړل شي.

G: Cranioparyngioma

ددی تنظیم یوګران پرابلم دی د Crigler اود Matson دراپور په اساس ډیری غوه پایلی په مقدم ډول دجراحي پواسطه دلیری کولو سره منځته راغلي دي Kramer هم دتشعشع پواسطه ښی نتیجی لاسته راوړي دبصري عصب او Hypothalamas سوء تشکلات د ژوندي پاتی شوي ناروغانو ژوند اوږدی مودی لپاره دوخیم اختلاطاتو سره مخامخ کولای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

H: Hemi angioblastoma

داوعیو حقیقي نیوپلاستیک افات ډیر ژر دوعایي سوء تشکلاتو څخه توپیر کیدای شي داوعیو حقیقي نیوپلاستیک افات ډیر ژر د وعایي سوتشکلاتو څخه توپیر کیدای شي که جراحي مداخله استطباب ونه لري نوتشعشع هم اجراء کیدای شي.

Lindua von hipple سندروم د Cerebelam او Retina دګډ Blastoma ، Hemangic یو مثال دی.

توجه:

دوایي تشکلاتو لپاره د Angioma اصطلاح باید استعمال نشي ځکه چی نومورې Neoplastic منشاء لري د blastoma Hemangio سره یوځای د Erythoma پارانیوپلاستیک سندروم هم دلیدو وړ دی.

پایلی:

نومورې ورو ورو تکامل کوي او د جراحي پواسطه ډیر ښه ځواب وایي.

۱- Meningiomas

معمولاء ورو ورو نمو کوي اودقحف د Hyperostosis سره یوځای وي.

پایلی

ددی ډول تومورو لپاره دجراحي لاره کارول کیږي او که افت د جراحي مداخلی او Resection وړتیاء ولري نو په زړه پوری پایله ورکوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

J: ددماغ لمړنی Sarcoma

دادیوغیر متجانس ګروپ څخه عبارت دي چی د CNS څخه دباندی هم Metastasis ورکولای شي اوهم يې نشي ورکولای اوپه اساسي توګه په ماشومانو او ځوانو کاهلانو کی منځ ته راځي.

پایلی:

نتیجی يې ښی نه دی لاکن Bouchard دجراحی اود شعاع دتطبیق پواسطه په ۳۸% کې د ۵ کالو دژوند داندازی راپور ورکړی دی.

K: Metastatic تومورونه: په اساسي ډول دثدیو اوسږو کارسینوما دماغ ته میتاستاز ورکوي. لاکن نور نیوپلازم لکه د Melanoma ، دخصیو، پښتورګو او درقیه غدی تومورونه او نور هم میتاستاز ورکولای شي که دمنشاء ځای يې معلوم نه وي نو دا ډول افت د مقدم دماغي تومور په ډول مطالعه کیږي.

پایلی: یوائی په هغه حالاتو کې چی مقدم تومور کنترول شوی وي اوددی دقبلولو له پاره ښه دلایل موجود وي چی میتاستاز په انفرادي ډول صورت نیولی وي نو د جراحي په مقابله کې تشعشع انتخابي میتود دی اوپه دی ډول شرایطو کې دجراحی په ذریعه د Decompression اجراء کول اړین نه ګڼل کیږي او اذیما دکورتیکوسترویئدو دلوړ دوزونو په استعمال یا دیوریا اویا دمانیتول په شان دمدرر دواګانو پواسطه کنترول کیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سترګه (EYE)

تناظر:

دسترګو تومورونه په لاندی توګه ویشل شویدي:

۱- دسترګو دجفن اومنضمي تومورونه.

۲- دسترګی د کری (Orbit) تومورونه.

دسترګو تومورونه یوه ځانګړی دلچسپي لري ځکه چی دنومورې تومورونو په کامیابه درملنه کې ناروغ ژر دلیدو قدرت حاصلوي دسترګو په ساختمانو کې دخبیثه ناروغیو مینځته راتلل عیناء دوجود دنورو برخو دخبیثه افاتو په شان دی چی ډیر نادر تومورونه یې داصل زجاجي تومورونه دي. ددی جملی څخه Retinoblastoma دخپلو ارثي خواصو له نظره اودخپل کلینیکي طرز العمل له کبله ډیر پیچلي دی.

دسترګو دجفن او منظمی تومورونه:

۱- پیژندنه

دسترګو دجفن او منضمی ښکاره او واضح موقعیت لرونکی تومورونه د یوشمیر زیاتو افاتو درملنی ته اړتیا پیداکوي. خو په کوم بل ځای کې دموقعیت لرلو په صورت کې دهغوی لوی والی او طبیعت تداوي ته ضرورت نه پیداکوي د سترګو د جفن په خپله په سترګه کې هم کافي خطر منځ ته راولي اوددی موقعیت ددی اجازه نه ورکوي چی په غیر له

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پراخه ترمیم څخه پرته هغه لیری کړای شي نو له دی کبله په دې ناحیه کې د کلینیکي تشخیص صحیح والی خصوصي ارزښت لري.

A: دسترګوسلیم تومورونه لکه Heman giomas Nevi pa;ilomas او Xanthelomas په زیات عمومیت سره واقع کیږي.

B: په Ophthulmology کې دسترګو د جفن Epitheloma ډیر عام خبیث تومور دی Basal Cell Ca د Squamous cell Ca په نسبت په جفن کې ۴۰% زیات لیدل کیږي دنومړو تومورونو عمومي بڼه د پوستکي دزړو ځایونو Ca ته ورته ده نومړی تومور د سترګو دجفن په کنارو او د پوستکي او منضمی په اتصالي ناحیه کی زیات واقع کیږي د سترګو دجفن کانسرونه دپوستکي دنورو کانسرو په څیر میتاستاز ورکوي.

C: دسترګو دجفن صباغ لرونکی تومورونه دمنضمی په ناحیه کی ډیر نادر دی دنومړو درمله ول زیاتره دستونځو سره مخامخ کیږي ځکه چی دخباثت پیل یا درجه دکلینیکي یا Histopathologic شواهدو له نظره نه څرګندیږي.

II: کلینیکي پلټنه:

A: دجفن دتومورونو کلینیکي لټنه دباندینی کتنی پواسطه صورت نیسي او جس کله کله ګټور تمامیږي په کتنه کې دجفن دپورته کولو نه وروسته د منظمی سطحه باید معاینه شي.

B: دهډوکو داخته کیدلو د یقیني کولو لپاره باید X-ray ترسره شي.

C: دمولف نوټ:

دسترګو دجفن دپوستکي دتومورونو کلینیکي تشریح دلته نه ورکول کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځکه چی دپوستکي تر عنوان لاندی مطالعه کیږي اودنوموړو Histopathology ویشنه دپوستکي په کانسرونو کې ورکړل شویده.



په پورته شکل کې د سترګی کانسر ښودل شویدی



په شکل کې د Eye led کانسر ښودل شویدی

Sq Cell Ca :D

په پورتني جفن کې زیات واقع کیږي دهغی ځای څخه چی دلمفاوي اوعیی په Preauricular عقداتو کې تخلیه کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

E: Basal Cell Ca

دسترګو په ښکتنی جفن کې زیات عمومیت لري.

F: کانسرونه دانسي Canthus په ناحیه کی هم عمومیت لري اوباید په فوري ډول تشخیص اوتداوي شي ځکه چې په نوموړی ناحیه کی واقع شوي تومورونه په ډیر ابتدایي مراحلو کې دسترګی کره تر حملی لاندی نیسي.

III: تشخیصي لاری

دسترګو دجفن اودمنضمی دتومورونو دکلینیکي تشخیص لپاره علاوه له کلینیکي تشخیص څخه د Biopsy او Excision هستوپتولوژیک مطالعاتو ته اړتیا شته اودنوموړو طریقو پواسطه دتومور پیژندګلوی اړین امر دی.

IV:ویشنه

A: دسترګو جفن

۱- سلیم : په دی ډله کې لاندني تومورونه شامل دي.

Nevus ، خپور Melanosis ، Mallusum contagiousam, Papiloma, Xanthelosma, Senile Keratosis Hemangioma, Kerato acan, Follicular Keratosis او Inverted

۲- دکانسر پیش قدم افات:

Bowens dis senile keratosis, adiation melonosis, Xeroderma pegmentosum

۳- خبیث شکل: Basal او Aq Cell Ca Adeno Acanthomas د عرقیه غدواتو اود وینښتانو دبصلی Ca خبیث Melanoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دمنضمی تومورونه:

۱- سلیم تومورونه

Dermoid, Papiloma, Nevus, Dermolipoma, Lymphoma, Angioma

۲- خبیث تومورنه : Epithelioma ، خبیث Melanoma, Lympho Sarcoma

V- د درملنی پرنسپیونه

A: جراحي پرنسیپونه

۱- دجفن او منضمی زیاتره سلیم تومورنه دښایست په منظور په اسانی سره لیری کیږي چی عموماء داختلاطاتو اودعود سره ملګری وي.

۲- ځینی داسی Papiloma چی دجفن څنډی یې مساوف کړی وي د Diathermy سره د Cuterization پواسطه لیری کیدای شي.

۳- یوائی معاینه دسترګو دجفن دتومورو دخباثت یاسلیم توب دتاکلو لپاره ځینی وخت دغلطي سره مخامخ کوي نو له دې کبله بایوپسي اړینه ده په عملي ساحه کې دجفن زیاتره افات د Excisional بایوپسي پواسطه تشخیص کیږي په یوداسی لوی افت چی دخباثت شک موجوده وي دجفن داساسي Reconstruction دعملی څخه مخکی باید دبایوپسي په واسطه قطعی تشخیص ترسره شي.

۴- منضمی دخبیثه Epithelioma او Melanoma دسترګی سره یوځای پراخ Excision ته اړتیا لري چی په دی جمله کی دسترګو داجفانو مختلفی برخی اودسترګی دکری محتویات اوحتی دکری په تام ډول ویستلو Exenteration سره یوځای اجراء کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دشعاعي درملنی پرنسیپونه:

۱- دشعاعي تراپي څخه مخکی باید همیشه دتشخیص لپاره بایوپسي ترسره شي.

۲- د X-Ray تداوي دسترګو عدسیی ته خطر لري.

دکترکت دمخنیوي لپاره سترګه باید وتړل شي.

۳- دداخلی Anthus په ناحیه کې د X-ray د تداوي اجراکول د Lacrimal punctum او د قنیواتو د Epithelial نسج تخریب کولای شي اوکه په محتاطانه ډول Fraction schemes تعقیب نکړی شي نو ستونځمن Epiphria منځ ته راځي.

۴- د X-ray دتداوي بل اختلاط دسترګو دبنو له منځه تلل دی اوپه پورتنی جفن کې دبنکلا نقصان منځ ته راوړي لاکن دبنکتنی جفن لپاره دومره بد نه دی په کوم ځای کې چی Epithelioma زیات متبارز او عمومیت لري دتشعشع نه وروسته درنګ له منځه تلل او ضمور هم یوناخوښونکی زیبایشي نقصان منځ ته راوړي.

C: دسترګو دجفن د Basal Cell Ca دتداوي لپاره دجراحي یا تشعشع انتخابول په اساسي ډول دمسول ډاکټر په طرزالعمل، پس منظر او وروستنی اختلاطاتو اوپه ماحول باندی اتکا لري کله کله وسیع تومورونه دجراحي اوتشعشع ګډ کارولو ته اړتیا پیدا کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داخل کروي تومورونه (Intra Ocular Tumors)

۱- پیژندنه

A: سلیم داخل زجاجي تومورونه نسبتاء کم عمومیت لري د Uveal قنات Nevus تومور ښایي چی په Ciliary Iris جسم یا Choroid کې واقع کیدای شي اودخپل کلینیکي منظری او سیر په اساس بیرته کیدای شي په سترګه کی د Nevus اساسي ارزښت په دی کې دې چی نوموړی دیوخبیث Melanoma سره باید توپیر شي چی دا معمولاء دثابت غتوالی د ارتفاع د نشتوالی اوددغه حقیقت له مخی ویلی شو چی کوم وخت په Chroid کې واقع شي نو پورته موقعیت ولري Retina ډیره لږه دحملی لاندی نیسي. د Uveal قنات hemangioma زیات مشکلات پیداکولای شي اودزیاتوکالو په موده کی کمه اندازه د نشونما علامی ښکاره کوي داډول تومورونه معمولاء دداخل وریدي Fluresin دتطبیق اودابي رڼا پواسطه چی Fundus معاینه شي تر نوموړي رڼا لاندی Heman glioma په ابناک ډول فلورزونس ورکوي.


C: دشبکی Angioma نادر سلیم داخل زجاجي تومور دی کوم چی دبدن دنورو اعضاو خصوصا دماغزو Angiomas دسوتشکلاتو سره ملګری وي اوددماغ داخته کیدو په صورت کې Von hippel landau سندروم منځ ته راځي.

D: د Tuberous sclerosis او Neurofibromatosis افات دسترګی په Fundus کې کله کله لیدل کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

E: دشبکی حقیقي Gliomas او Neuro lemomas نادراء په Ciliary body کې واقع کیږي.



په پورته شکل کې Ocular کانسر ښودل شویدی

F: اساسي خبیث داخل زجاجي تومورنه په دوه ډوله دي:

Retronoblastoma او د Uveal قنات Melanoma ددی څخه هر یو تومور خصوصي دلچسپي اوډیر زیات ارزښت لري اوددی په باره کی ډیر پراخه معلومات راټول شویدي.

II: Retinoblastoma

A: وقوعات، ایتولوژي او ارثي خواص:

۱- Retinoblastoma یوارثي خبیث تومور دی چی په کوچني والی دادویم نمبر زیات عمومیت لرونکی خبیث تومور دی.

۲- د Retinoblastoma یوه واقعه په ۲۰۰۰۰ ولادتونو کې لیدل شوی وه اود وروستنی ۲۵ کالو په نسبت دادوه چنده زیات دی.

۳- وقوعات یې په خفیفه اندازه په سپین پوستانو کې نظر تور پوستانو زیات دی.

۴- که تداوي نشي همیشه وژونکی ثابت کیږي دتداوي سره دوفیاتو اندازه یې ۲۰% ده او تقریبا ټول وفیات دتومور د شروع نه د دوو کالو په دننه کې صورت نیسي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- د Rethinoblastoma تقریبا ۹۴% پیښی په Sporadic ډول لیدل کیږي چی بدون د کومی فامیلي تاریخچی څخه منځ ته راځي داسی اندازه ګیري شویدی چی ددی جملی څخه ۲۵ سلنه د Genitic mutation له کبله واقع کیږي او د Mutation اندازه $2x10^{-5}$ ده.

۲- ددی ۲% پیښی فامیلی دی او دارثیت ډول یې دیوبارز Autosom ۱- gen په شان دی دفامیلي Retonoblastoma ناروغان چی ژوندی پاتی شي اودبلوغت دوری ته ورسیږي اودحمل داخلی تقریباء ۵۰% د دوی ماشومانو کې په دی افت اخته کیږي دیوی سپورادیک پیښی څخه وروسته ۲۵% د ژوندی پاتی کیدل امکان شتول لري دا ناروغی دجنیتک Mutation له کبله منځ ته راځي کوم چی دهغه اولاد ته د Autosomal dominant خواصو په څیر انتقالیږي. سالم والدین چی یو مرضي مشاوم ولري نو باید خپلو مانوور ماشومانو کې د مرض حملو د ۲% توقع وساتي.

B: کلینیکي لټنه:

۱- کلینیکي لټنه معمولاء هغه وخت تکمیلیږي چی تومور ټوله سترګه تر دی حده پوری ډکه کړی وي چی دتومور له کبله حدقه سپین رنګ غوره کړي یادتالي Strabismus یا یو التهابي عکس العمل اویا دتالي Glucoma اعراض او علایم تولید کړي.

۲- د Ophthalmoscope پواسطه په ابتدایي مراحلو کې تومور نسبتاء معلومیدای شي په حقیقت کې چی تومور د پیداکیدو په وخت کې همیشه موجود وي Retronoblastoma تقریباء په ۹۰% پیښو کې د دری کلنی څخه دښکته عمر په ماشومانو کی تظاهر کوي اود ۲ کلنی څخه پورته نوموړی تومور په نادر ډول ځان ښکاره کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- په ۳۰% پیښو کې تقریباء دواړه سترګی ماوفه کوي.

C: تشخیصیه لارې

۱- تشخیصیه لاره یې په اساسي ډول د Ophthalmoscope په معاینه باندی مشتمل ده اوتومور دکلینیک له نظره په ډیر صحیح توګه پیژندل کیدای شي.

اګر چی یو لږ شمیر داسی شرایط هم وجود لري چی توپیري تشخیص دستونځو سره مخامخ کوي.

۲- دداخل زجاجي تومور بایوپسي دخطرناک انتشار او دزجاج داخته کیدو سبب ګرځي.

۳- د X-Ray معاینه کله کله داخل زجاجي Calcification څرګند وي کوم چی په تیپیک ډول د Retonoblasma سره ارتباط لري او که داسی یوه سترګه تر معاینی لاندی ونیول شي چی Cloudy وسط ولري نو دتشخیص سره ډیر کومک کوي.

B: ویشنه :

هیڅ اناتومیک تصنیف بندي په عمومي صورت نه منل کیږي.

۱- د Retonoblastoma هستوپتالوژیک ویشنه دتومور دزیات توپیر شوي او کم توپیر شوی انواعو ترمنځ یوڅه اندازه په بیلولوکې کمک کوي هغه تومورونه چی زیات تفریق شوي وي کوچنی Rosettes .

۲- ډیر ښه تفریق شوي تومورونه ۸% اونه تفریق شوی ۴۲% وفیات لري.

۳- داتومور زیاتره دخپلی ارواء څخه زیات نشونما کوي چی په نتیجه کې نکروزس منځ ته راولي اودکلسیم د ذخایرو د جوړیدو سبب کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په نادر ډول سره تومور ښايي دومره نکروزس وکړي چې خپل ځان په خپله ختم کړي او دبنفسهي ترميم نادر مثال منځ ته راولي دتومور نکروزس د شديد Ocular التهاب په نتيجه کې منځ ته راځي.

۵- داتومور په سترګو کې په چټکتياء سره خپريږي کوي او ښايي دسترګی په داخل کی اوحتی Iris او تر قدامي Chamber پوری ميتاستاز ورکړي.

۲- په Retonoblastoma کې ليری ميتاستازس عموماء دبصري عصب په اوږدو کې صورت نيسي چې دلته تومور په چتک ډول سره دبصری عصب د Sheet اودسحايا و د مسافو په امتداد کې انتشار کوي او ډير ژر د قحف جوف ته ځان رسوي ليری ځايو ته انتشار دوينی له لياری صورت نيولای شي.

E: دتداوي پرنسيپونه:

۱- د Retinoblastoma تداوي دماوفی سترګی ايستل دی. څرنګه چې دبايوپسي په اجراکولو سره داسی خطرات موجود دی چې دمنلو وړ نه دی نو په کلينيک کې دصحيح حقيقي تشخيص ترسره کول اړين دي.

۲- که د Ophthalmoscope پواسطه معاينه اجراء شي نو کلينيکي تشخيص ژر راپه ګوته کوي اودسترګی غير ضروري Enucleation دیو غلط تشخيص له کبله نادراء واقع کيږي.

۳- داسی هم کيدای شي چې مخکی له دی څخه چې د سترګو تومور تشخيص شي په پراخه توګه خپور شوی وي چې دهمدی خبری په اساس دتومور سره يوځای ۲۰% داد وفياتو مسول ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- دجراحی په وخت کی د سترګی په لیری کولو سره دا خبره هم دپام وړ ده چی هرځومره شتون ولري بصري عصب د ۱۰-۱۵ملي متر د سترګی سره یوځای وویستل شي دبصری عصب قطع شوی څنډی باید حتماء د Histo pathology له نظره معاینه شي که دبصری عصب مقطوعه څنډی تومورى برخه ولري نودوقایی په ډول دبصری عصب داخل قحفي برخه د Chiasma سره یوځای تشعشع کړای شي اودسحایاو مسافو ته دخپریدو په صورت کې دنخاع شوکي مایع د Cytology له نظره معاینه شي.

۵- دتداوي یو مهم پرنسیپ په دی حقیقت استوار دی چی دبلی خوا سترګه باید په مفصل ډول معاینه شي ځکه چی تومور په ۳۲% پیښو کی دوه طرفه وي چی دامعمولاء د عمومي انستیزي لاندی صورت نیسي حدقه باید په کافي اندازه وازه شي اودمستقیم او غیر مستقیم Ophtalmoscpe پواسطه دی ولیدل شي اودفشار ورکولو پواسطه دقدامي Sclera ټولی برخی اود Viterous جوف د Ophthalmoscpe دمنظری په حدود کې راوستل شي.

۶- Ophthalmoscope دتشعشع دمتوسط دوزونو په وړاندی حساس دی دا داسی دوزونه دي چی نارمل شبکیه یې ښه تحمل کولای شي.

دسترګو عدسیه دتشعشع پواسطه تخریب ته لږ زیات حساسه ده اوپرته له دی چی عدسیه پټه او X-ray په صحیح لوری باندی ترسره شوي وي شعاعي Cataract زیاتره دتومور دشفا په پایله کې منځ ته راځي (داډول Cataract په کامیابي سره لیری کیدای شي).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- څرنګه چی تومور مستقمیا د Ophthalmoscpe په ذریعه لیدل کیدای شي نوله دی کبله دتداوي پایلی په ډیر احتیاط سره اندازه کیدای شي او که درملنه کامیاب ثابت نه شي نودناروغ ژوند په خطر کې اچوي نو باید سترګه لیری کړای شي.

F:پایلی او اختلاطات:

۱- دلیدو قدرت اودناروغ دژوندی پاته کیدو چانس انزار او نتیجی دتومور په هغه مراحلو تکیه لري په کوم کې چی تومور د اول ځل لپاره ولیدل شي.

۲- کله کله داکتر ددوو خبرو او شرطو سره مخامخ کیږي چی ددی شرطو تر منځ دیو شرط قبلول او فیصله اړینه ده هغه داچی که دویمه سترګه تومور ولري هغه دی لیری نه کړای شي ترڅودماشوم ژوند په خطر کې پاتی نشي اویا د دویمه سترګه لیری کړل شي ترڅوددید په ځای دماشوم ژوند وساتل شي چی داقضاوت په ډاکټر پوری اړه لري.

۳- د Ocular ناحیه کې دشعاعي تداوي یو مهم اختلاط دکری دهډوکي په ناحیه باندی دتشعشع پواسطه دنشونما تاخر منځ ته راتلل دی که دتداوي په وخت کې ماشوم د دوه کلنی څخه کم وي نو تشعشع دکتنی وړ سوء تناظر په مخکی تولیدوي.

۴- د Retinoblastoma په شعاعي تداوي کې په موخر ډول Rhab domyosarcoma منځ ته راتلل لیدل شویدي چی داډول خطرات د کوچني مناسب دوزونو داجراء کولو پواسطه ډیر کم شویدي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

III: Melanoma

A: پیژندنه، وقوعات او شیوع

۱- دداخل زجاجي خبیث Melanoma وقوعات دسترګو په ناروغانو کې ۵، ۰% دی دادکاهلانو تومور دی چې په ۵۰ کلنی کی منځ ته راځي. د ۲۰ کلنی څخه کم عمر کې داتومور ډیر زیات نادر دی همدارنګه په تورپوستانو کې په ډیر ندرت سره لیدل کیږي.

۲- داخل زجاجي Melanoma ډیر زیات عمومیت لري او په کاهلانو کې د سترګو ۱۰% Onucleation مسول ګڼل کیږئ چې د ترضیض څخه وروسته په دوهمه درجه ددی سبب دی.

۳- دا هر ډول جس بیله کوم توپیر اخته کوي اوکوم مهم جینتیک میلان نه لري په استثناء د Caucasions څخه نومورې په ډیر ندرت سره دنور Melanoma لکه دپوستکي سره ملګرتیا کوي برعکس دپوستکي خبیث Melanoma معمولاً سترګی ته میتاستاز نه ورکوي لاکن د Fontanel له خوا د لسو پیښو راپور ورکړل شویدي.

B: کلینیکي لټنه:

۱- داخل زجاجي Melanoma کلینیکي لټنه معمولاً Ophthalmoscope دمعاینی پواسطه ترسره کیږي البته دداخل زجاجي Melanoma اصطلاح دهغه تومورو لپاره کارول کیږي چې د Uveal قنات په هر ځای کې منځ ته راځي چې په دی جمله کې Iris هم شامل کیدای شي اودلته تومور دمستقیمی معاینی پواسطه دلیدو وړ دی.

۲- کوم وخت چې تومور په Choroid کې منځ ته راشي نو په ډیر وصفي توګه د سترګو په وسطي برخه کې ځای نیسي داداسی مفهوم ورکوي چې په ابتدایي مراحلو کې دمرکزي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دید قدرت سالم پاتی کیږي داهم امکان لري چی یوښه لوی سایز لرونکی داخل زجاجي Melanoma بیله کوم اعراضو او علایمو موجود وي او ناروغ پری خبر هم نه وي له دی کبله مقدم تشخیص دعادي Ophthalmoscope په معاینه باندی اړه لري.

۳- څرنګه چی دشبکی تومور کې شبکیه خپله وظیفه له لاسه ورکوي ځکه چی دتومور نشونما ددید دخرابوالي سبب کیږي تومور عموما په سترګه کې دتالي تغیراتو لکه د cataract اویا دګلوکوم دتولید لامل کیږي.

۴- دداخل زجاجي تومور نشونما تقریباء همیشه د Metastasis ورکولو څخه مخکی داعراض مرحلی ته رسیږي داخل زجاجي Melanoma په موخر ډول میتاستاز ورکوي اوکه تومور کوچنی وي نو دکلینیکي Ophthalmolgic مشاهداتو لپاره یوه موده په کار ده چی په توپیري تشخیص کې مرسته کوي.

تشخیصیه لاري:

۱- په تشخیصیه لارو کې دا لاندی شیان شامل دي خارجی معاینه، د Ophthalmoscope معاینه Slit lamp مایکروسکوپي معاینه او Transillumination .

۲- د Melanoma choriod لپاره بایوپسي داجراء وړ نه ده ځکه چی په کره کې ددی پواسطه دتومور د خپریدو وقوعات زیات دي د Iris او Ciliary body دجسم دقدامي برخی Melanoma زیاتره لیری کیدای شي او سترګه سالمه پاتی کیدای شي.

۳- د Radio active uptake مطالعات چی د شعاعي فعال فاسفورس پواسطه اجراشویدی د ځینی خلکو له خوا منل شویدی لاکن په پراخه توګه نه استعمالیږي.

۴- د Ultra sound (ماورای صوتي) الانو پواسطه Echogram دځیړنی لاندی دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکیدای شي چی دکارولو وړ ثابت شي په ځانګړي ډول هغه وخت چی دسترګو منظه د Cataract اویا داصل زجاجي نزف له کبله مکدره شوی وي.

۵- دکلینیکي تشخیص صحیح والی یواځی یوځه اندازه بنه دی Ferry د Enculeated سترګو ۷۴۴ داسی پیښی ترمطالعی لاندی ونیولی کوم چی وربانډی دخبیث Melanoma احتمالي تشخیص ایښودل شوی وه هغه داسی مشاهده کړل چی تشخیص د ۷۴۴ څخه په سلو پیښو کې غلط وه نزف دشبکی جداکیدل، شبکوي Cysts ، پرازیت، نور تومورونه او التهابي شرایط په کلینیکي تشخیص کې دغلطی مسول دی.

۲- د Enucleated سترګی د داسی Melanoma دشتوالي اندازه چی تشخیص شوی نه وي ۱۰% ده ددی دشتوالي دنه معلومیدو سبب معمولاء مکدریه وسط دی هغه سترګی چی دالتهاب یا ترضیض نه وروسته یو ګونځی شوی طبعی حالت غوره کړی وي دداخل زجاجي Melanoma اخته کیدو ته میلان لري اوداخبره په ځینی Enucleated سترګی کې دنه تشخیص شوی Melanoma دکتنو سبب دی ځینی سترګی چی دشبکی دجداکیدو له کبله تر تداوي لاندی نیول شوی وي وروسته داسی ثابته شوه چی په Melanoma باندی اخته وه په دی شرایطو کې دشبکي دجدا کیدو لپاره دجراحي ترسره کول دتومور پواسطه دمنځ ته راغلي وفیاتو اندازه زیاتوي.

D: ویشنه

۱- د Melanoma choroids لوی والی په انزارو باندی اغیزه لري لوی تومورونه لوړ وفیات لري تر اوسه پوری دکوم افینشل اناتومیک مرحله ایز سیستم د کارولو راپور ورکړی شوی نه دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- د Ciliary اوعیی اواعصاب چی Acelera ته داخلیږي ددی په اوږدو اناتومیک انشتار او یا خارج الزجاجي خپریدنه د منضمی لاندی کـه صورت نیولی وي نو انزار نور هم خرابیږي.

۳- دهستالوژي پواسطه په عمومي ډول دسترګو په دوینی پـه اوعیـو کې تومـوري حجرات میندل کیدای شي او تردی اندازی وي چی داسی ګمان ورکوي چی حتمي یې Metastasis کری اوټول عضویت ته صورت نیولی دي.

د Metastasis عمومي ځایونه ځیګر، دماغ او هډوکي دي.

هغه خلک چی دسترګو د Melanoma څخه ژوند پاتی شویدي د هغوی په Autopsy کې کله کله پټ Metastasis دلیدنی وړ وي.

B:د Melanoma د B Spindle ډول یـې دلـوی اوزیـات Loose ډول سـره دبسـته شـوی حجراتو پواسطه توصیف شوي وي چی دمتبارزو هستچو لرونکی دي داهم نسبتا سلیم تومور دی چی دوفیاتو اندازه د ۱۵ کالو په موده کې ۲۵% ده.

C: د Spindle شکل لرونکی حجرات چی د بنډلونو په ډول ترتیب شویدي د Fascieater تومور پواسطه نامګذاري کیږي وقوعات یې نادردي او د وفیاتو اندازه په ۱۵ کالونو کې ۲۵% ده.

D: دخالص Epitheloid حجراتو څخه جوړ شوي ډول یې چی لږ عمومیت لري او د ۱۵ کلنی دوفیـاتو انـدازه ۷۰% ده ددی ډول تومـوري حجراتـو لـوی Polygonal ګرده هسـته اودمتبارز سایتوپلازم لرونکی دی چی Epitheloid تومورنو ته ورته والی لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- دسترګو د Melanoma نیمایي پیښې د حجراتو ګډ (مشترک) ډولونه لري او زیان اړونکی د Epitheliod دنوع حجرات په کې معمولاً ګډون کوي هغه Melanoma چې دحجراتو ګډ ډولونه لري ۱۵ کلنی دوفیاتو اندازه ۲۰% ده.

۶- په Melanoma کې Necrosis نادراء واقع کیږي چې ددی تومورو یواځی ۷% پیښو کې نومورې پیښه لیدل کیږي.

۷- په تومور کې دصباغاتو موجودیت دډیر شدید Amelunctic درجو ترمنځ توپیر کوي چې دصباغاتو دلرلو اندازه یواځی یو خفیف ارتباط دخباثت د درجې سره لري همدارنګه Reticuline الیاف په ځینی تومورونو کې ډیر عمومیت لري او نورو کې په لږه اندازه لیدل کیږي اما په تومورکې د Reticuline الیافو محتوي دتومور د انزارو سره یواځی په خفیف ډول رابطه لري.

۸- د Uvea د Melanoma منبع موضوع د ډیرومطالعاتو او نظریاتو لاندی نیول شویدی اوداسې امکان لري چې د Uvea د Stroma دبرخې Melanocyte دخبیث Melanoma لپاره پیش قدم وي همدارنګه دځینې مشاهدینو له خوا د شبکی صباغي اپیتلیم اود Neural Crest څخه مشتق شوی نور حجرات هم ددی پیش قدم ګڼل شویدي.

E: دتداوي پرنسیپونه:

۱- دداخل زجاجي Melanoma په درملنه کې دماوفی سترګی ایستل شامل وي اما یوه استثناء شته او هغه دا چې که Melanoma په Iris کې واقع وي اودمشاهداتو پواسطه دروښودل شي چې نومورې نشونما کوي نو دسترګی څخه Excised کیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په داسی غیر معمولي حالاتو کې چی خارج الزجاجي انتشار په کری کې صورت نیولی وي نودسترګی دکری Exentenation اجراکیدای شي مادده طریقی ارزښت په Melanoma کې داشتباه لاندی دی ځکه چی په دی وخت کې لیری ځایو ته په حتمي توګه Metastasis صورت نیولی وي.

۳- که یواځی په یوه سترګه کې تومور وي نو دشعاعي تداوي لاندی نیول کیدای شي خصوصاء په موضعي توګه د Radon شحم د Scelra سره وګنډل شي چی ددی میتود پواسطه دتومور په نشونما کې یوڅه رکودت لیدل شویدی اما داطریقه یواځی په غیر معمولي شرایطو کې توصیه کیږي.

۴- دمنضمي Melanoma دسترګی دنورو برخو د Melanoma څخه مختلف سیر لري لاکن دشعاع فعال Strentium او د X-Ray دکارولو پواسطه په بري توګه ددی تومور کنترول دسترګی د دید دقدرت دساتلو سره یوځای صورت نیولی دی.

۵- کیموتراپي تراوسه پوری کوم ځانګړی ارزښت نه لري.

F: نتیجی او انزار:

۱- دجراحي درملنی پایلی: د Melanoma سره یوځای دسترګی ایستل هغه وخت ښه دي چی تومور کوچنی وي اودسترګی څخه دباندی پراختیایي نه وي کړی.

۲- که دسترګی څخه دباندی پراختیاء موجود وي نو لیری ځایو ته Metastasis هم ډیر عمومیت لري او همدارنګه که سترګه نستاء لوی تومور ولري اومخصوصاء د Epitheliod دنوعی څخه وي نو هم لیری ځایوته انتشار عمومیت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- برخلاف دنورو تومورو دسترګی د Melanoma دلیری کولو څخه وروسته دوخت تیرول په قوي اندازه تحفظ نه ورکوي داعراضو ورکوونکی Metastasis دښکاره کیدو اندازه د سترګی دایستلو نه وروسته د ۵ او ۱۰ ترمنځ څخه د ۱۰-۱۵ په نسبت یواځی یوه کمه اندازه زیات وي.

۴- څرګنده ده چی Metastasis دډیروکلونو دپاره پټ پاتی کیدای شي اوداخبره چی په موقتي ډول غیر فعال Metastasis د کومو فکتورونو پواسطه فعالیږي تراوسه پوری معلومه شوی نده.

۵- د ناروغ عمر په انزارو باندی اغیزه لري یعنی دناروغی انزار د زړوکاهلانو د پاره خراب دي په ښکاره توګه د نابالغو ماشومانو دپاره ښه دی.

۶- د Iris او د Ciliary دجسم د مخکنی برخی Melanoma د Clinoid دمیلانوما په نسبت لږ خباثت لري اوداډول تومورونه په زیاته اندازه قطع شویدي اودناروغ ژوند دلیدلو قدرت هم په کامیابی سره سالم پاتی شوی دی.

دسترګی دکری تومورونه:

۱- پیژندنه:

دسترګی دکری په تومورونو کې ټول هغه ډولونه شامل دي کوم چی دکری د اناتومیک جوړښت او محتویاتو له نظره په کی واقع کیدای شي اویا د مجاورو نواحیو څخه انتشار اویاد Metastasis د لارو څخه رسیږي نو له دی کبله داسی یو تومور نشته چی د سترګی دکری سره ځانګړی اړه ولري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دسترګی دکری دتومور ځانګړی توب په دی کی دی چی دتشخیص امکانات په کې پراخه کوم چی د ډول ډول تشخیصي تکنیکونو دکارولو د تشخیص لپاره اړین دي نو دکری دتومورو په توپیري تشخیص کې ستونځی پیدا کولای شي.

II: کلینیکي لتنه

A: دکری دتومور کلینیکي لتنه په ډیر عام ډول سره صورت مومي ځکه چی یوطرفه Exophthalmos یادسترګی دجفن په جوړښت کی بدلون منځ ته راولي اما دنومورې نښه دتومور لپاره Pathogonomic نه ده ځکه چی دالتهابي او استقلابي ناروغیو له کبله هم منځ ته راتلای شي.

B: دوهمه ډیره عمومي علامه چی دکری دتومور سره اړه لري دوه دوه ښکاره کیدل دي (Diplopia چی په میخانیکي یا عصبي ډول دخارج زجاجي عضلاتو دماوف کیدو له کبله منځ ته راځي).

C: هغه څه چی په زیاتره کروي تومورونو کې ډیر لږ عمومیت لري د Visual Acuity یا د دیددساحی دمنځه تلل وي.

III: تشخیصي لارې

A: علاوه دخارجي معاینی څخه باید چی د تشخیص طریقو کې د Exophthalmas اندازه کول دکری د پورته ښکته اویا جوانبو ته دبیځایه کیدو دمعلوماتو سره یو ځای شامل وي.

مثلاء د Lacrimal دغدی تومورونه چی دسترګی دکری پورتنی خارجي Quadrant کې منځ ته راځي عموما سترګه نه یواځی مخکنی خواته بلکه ښکته خواته هم ټیله کوي.

B: دکری تومور ښایي چی دکروي Rim او د Eye Bale دخالیګاو ترمنځ واقع کیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: د Visual Acuity اوددید دساحی څیړنه هم اړینه ده مثلا د بصري عصب تومورونه د Exophthalmas دتولیدولو څخه مخکی دلیدلو قدرت دمنځه وړلای شي.

D: دکری تشخیصي X-ray ډیر زیات ارزښت لري او په ځانګړي توګه توپیري تشخیص سرته رسولای شي دکری دتشخیص X-ray دپاره د مخصوصو موقعیتونو په ډله کې Caldioess progection او Waters projection شامل دی.

E: دکری دتومورونو په پلټنه کې دشاوخوا برخو څخه خپریدنی په ځانګړي توګه خصوصاء دانفي جیبونو Ca باید په نظر کې ونیول شي.

F: هغه تومورونه چی کری ته یې Metastasis کړی وي باید مقدم ناحیه ولټول شي چی په دی پلټنه کی طبیعي معاینه X-ray اوداسی نور شامل دي او دداسی ځمکو تومورونه لکه دثدیی غدی، سږي، Prostat او ادرینل ولټول شي.

G: د Leukemia او Lympho sarcoma دلټولو لپاره باید دمحیطي وینی او کله کله دهډوکو د مخ څخه Biopsy واخیستل شي.

IV: ویشنه

A: دکری تومورونه معمولاء په دی لاندی ډول ویشل کیږي مقدم سلیم، مقدم خبیث او Metastasis تومورونه.

دسترګو په کره کې دتومور دډولونو ډیر زیات بیان شویدي دي چی ددی ډلی څخه زیاتره په ښکاره ډول نادر دي اویواځی هغه ډولونه یې چی ډیر عمومیت لري په لاندې ډول دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- مقدم سلیم تومورونه

A: Hemangioma دټولـو نـه عمـومي تومـور دی د نـورو وعـایي تومورونـو پـه ډلـه کـې Telangiectasis ، Anearysm او Fibro angioma شامل دي.

B: Lymphoangioma د Hemangioma سره ورته والی لري.

C: یوبل کروي تومور چی عمومیت لري ولادي Dermoid تومور دی چی په وصفي ډول په پورتنی Temporal برخو کې په ماشومتوب کې مینځ ته راځي.

D: د Lacrimal غدی سلیم تومورونه هم منځ ته راتلای شي.

۲- مقدم خبیث تومورنه:

A: دکری دخبیثو تومورونو په ډله کې د Adeno carcinoma lacrimal چی دګډو حجرو دتومورونو نوع ده او Rhabdomyo sarcoma چی دماشومتوب په دوره کې دکری ډیر عـام خبیث تومور دی شامل وي.

B: نور Sarcoma لکه Lympho sarcoma او Reticulin cell Sarcoma په نادر ډول په کره کې دمقدم خبیث تومور په حیث منځ ته راتلای شي.

۳- Metastatic تومورونه :

A: دسـترګی دکـری د Metastatic تومورونـو پـه ډلـه کـې د وړکتـوب Neuro blastoma دتیونو Ca او کله کله د سږو Carcinoma شامل وي.

B: همدارنګه کله کله د انفي جیبونو Ca، اودپوسـتکي Epithelioma په ځانګړي توګه دانفي Canthus په ناحیه کې منځ ته راتلای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

V: درملنه

A: کله کله دکری تومورونه په کافي اندازه په مخکنی برخه کې وي چی په ساده توګه يې Biopsy ترسره کیدای شي اودجراحي عملیی څخه مخکی نسجي تشخیص اماده کیدای شي اما معمولاً دکری تومورونه په اسانی سره جراحي مداخلی ته اجازه نه ورکوي اویوی لوی طریقی ته چی دسترګی دکری انساج ښکاره کوي اړه پیښیږي.

B: په عمومي صورت دسترګی دکری عمیق تومورونه دتام Excision په ذریعه Biopsy کیدای شي. همدارنګه دکروي محتویاتو پلټنه اودیوکروي تومور ایستل د سترګو دخارجي عضلاتودوظیفی اودبصري عصب سلامتیا ته ډیر خطر پیښوي کوم چی د کری دیوشمیر زیاتو کوچنیو اوعیو څخه ارواء کیږي.

C: دکروي تومورونو لپاره جراحي طریقی:

قدامي طریقه یادپوستکي څخه یادسترګو اوعظمي کری ترمنځ منضمی څخه البته په زیاتره واقعاتو کې دسترګی او عظمي کری ترمنځ دنامناسبی خالیګاه له کبله د کروی محتویاتو مناسبه لټه اجرا کیدای نشي.

جنبي طریقه

دکری دعظمي اړخ څخه دکری دمخکني او منځنی دریمی د لټولو لپاره اجازه ورکوي او کله تومور په انفي څلورمه برخه کې موقعیت ولري نو د عظمي کړی Temporal Decompression ممکن سترګی ته په موقتي ډول Retraction ورکړي اود پوزی دلاری ښه جراحي مداخلی ته اجازه ورکوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنی طریقه:

ددماغ جبهي برخی Resection اودکری دبام لیری کول دکری شاتنی برخه ښکاره کوي نوموړی طریقه داقابلیت لري چی دکری دشاتنی دریمی څخه دقحف دجوف پراخه شوی تومور تشخیص کړي اودجراحي عملی داجرا په وختکې تداوي کیدای هم شي.

D: شعاعي درملنه:

دکری د Lympho Sarcoma او Metastasis تومورونو لکه Neuro blastoma ثدیو اوسږو دکانسر دتداوي لپاره استعمالیږي.

E: دکری مقدم او Metastatic تومورونه په لاړمي ډول دنورو ځایو دتومورو په څیر برخورد کوي او تداوي دهمغه طریقو پواسطه معامله کیږي کوم چی دنورو تومورونو لپاره استعمالیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهډوکو تومورونه

تناظر:

سره له دی چی دهډوکو نیوپلازم نادر دی لاکن دخپل متنوع ډولونو له کبله خصوصا د Orthopedist, Radiologist او پتالوجست دپاره په زړه پوری دی کوم وخت چی دهډوکو د ټولو تومورونو دویشنی لپاره کوشش وشي نودهډوکو د تومورونو ویشنه ډیر تضادونه پیداکوي. اګر چی جراحي اویا شعاعي تداوي دتداوي اساسي لاری دي داخبره دیادونی وړ ده چی دوینی دلاری د Metastasis په عوض په موضعي ډول دتومور اویاپه ناحیوي ډول دتومور خپریدنه د ناروغ دمرګ لامل کیږي.

څرنګه چی کومه اغیزمنه کیمیاوي ماده دنوموړی تومورونو د درملنی دپاره څرګنده شوی نه ده اما اوسنی انکشافات او پرمختګونه د Immune therapy په ساحه کې د پرمختللي Osteo sarcoma په پیښو کې د پلټنی لاندی دی.

۱- پیژندنه

A: په نادر ډول واقع کیدل: هډوکي په ټول هغه X-ray کې لیدل کیږي کوم چی دهر یو تشخیصي هدف لپاره اخیستل کیږي لاکن دهډوکو د تومور د اضافي میندل نادر دي دهډوکو نیوپلازم په زیاتو واقعاتو کې درد اولنی عرض په څیر تظاهر کوي او دخبیث افت چټکی نشونما لپاره دا تصادفي کشف ډیره کمه موقع ورکوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دهډوکو دتومورونو زیاتی پیښی د ژوند په دوهمه لسیزه کې اودهلکتوب په دوره کې منځته راځي (اندازه ۳۱۰۰۰۰۰ نفوسو کې ده). دعمر په دی دوره کې دپیښو ددی لوړی اندازی څخه پرته دهډوکو تومورونه د وړکتوب د خبیثه ناروغیو یواځی ۳،۲% پوری وي چی د ۱۵ کلنی څخه په ښکته عمر کی واقع کیږي.

دکهولت په موده کې (۳۰-۳۵ کلنی ترمنځ) ددی پیښو اندازه راښکته کیږي چی وروسته دهغه څخه ورو ورو زیاتیږي اود تر ۲۰ کلنی پوری وقوعات دهلکتوب د دوری دوقوعاتو سره مساوي کیږي. هغه ماشومان چی Osteo Sarcoma لري اودعمر د تولد څخه تر ۱۸ کلنی ترمنځ وي. دشفاخاني د کنترول ګروپ دهغه ماشومانو په نسبت چی دهډوکي کانسر نه لري لوړ قدونه لري (۱۴) داډول مشاهدات دانظریه تقویه کوي چی دهډوکي نیوپلازم دهډوکو د نشونما لرونکی برخو څخه منشاء اخلي چی دوامداره نشونما یا ډیر زیات تنبه شوی استقلاب کومه پټه رابطه به دنیوپلازم سره ولري چی همدغه اغیزه د کاهلانو په نسج کې منځ ته راغلي نیوپلازم کې لیدل کیدای شي چی په استقلابي ډول تنبه شوي Pagets ناروغی Hyper para thyriodism، مزمن Osteo myelitis، دهډوکو زړه احتشاء کسري Callusse اود ionize کوونکی شعاع د ورکولو نه وروسته مینځ ته راځي.

C: دهډوکو دټولو مقدمو خبیثو تومورونو دډلی څخه Osteo sarcoma ډیر عمومیت لري او د Dahilin پواسطه داسی راپور ورکړل شویدی چی دهغوی په Series کې ۲۸% پیښی جوړی کړی وي.

D: وروسته له دی څخه Chandro sarcoma نادر دی او ممکن دهډوکودمقدمو خبیثه تومورونو ۱۳% پیښی جوړوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

E: په حقیقت کې د هډوکو مقدم Fibro sarcoma نادر دی اوممکن دهډوکو دمقدمو خبیثه تومورونو د ۴% څخه کم واقعات جوړوي.

F: دهډوکو پاتی خبیث تومورونه په عمومي ډول لږ عمومیت لري لاکن د E.Wing sarcoma د Myoclinic په سریزه کې تقریباء ۷% جوړوي.

G: Multiple myeloma چی یو غیر عظمي خبیث تومور دی اودهډوکو دمخ څخه منشاء اخلي بایددهډوکو دتومور په حیث په نظر کې وي چی دهډوکو دتومورونو ۳۵% جوړوي.

H: دهډوکو زیاتره خبیث افات د ۲۰-۲۵% د وجود د نورو ځایو د Carcinoma Metastasis پواسطه منځ ته راځي په یوزیات شمیر پیښو کې یوه Carcinoma په خپله لمړنی ناحیه کې پټه او بی ګیلو او نښو وي اما په ناروغ کی دهډوکي دتومور په ډول رابنکاره کیږي بایوپسي داسی یوه لاره ده چی د درملنی داجراء څخه مخکی بایدا ترسره شي او داتکی باید همیش لپاره مد نظر وي.



په پورته شکل د هډوکي تومور ښودل شویدی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

I: دملا اودحوصلی په هډوکو کې د کارسینوما میتاستاز ډیر عمومیت لري لاکن هرځومره چی دهډوکو اناتومیک موقعیت دبطن او صدر څخه لیری کیږي په همغه اندازه د Metastasis اندازه په کې کمیږي او په ډاډه زړه ویلای شو چی دهډوکو Metastasis افات دځنګلی او ځنګون د بند څخه دباندی ډیر زیات نادر دي او دلاس په نسبت په پښو کې زیات میندل کیدای شي.

II: ویشنه:

A: تعریف

۱- دهډوکي کانسر یا نیوپلازم عبارت دهغه نوی نشونما څخه دی چی دهغه انساجو څخه منشاء اخلي چی داناتومي له نظره هډوکی ورڅخه جوړشویدی او د Metastasis ورکولو قدرت هم لري.

۲- یو Osteogenic تومور عبارت دهغه تومور څخه دی چی دهډوکي دانساجو څخه یې منشاءاخیستی وي یا هغوی کې یې تومور جوړ کړی وي (یعنی هډوکی غضروف، لیفي نسج، دموي رګونه، مخ، شحم او هغه حجرات چی نوموړی انساج تشکیل کړیدي). نوله دی کبله Osteogenis دمجموعي نامګذاري څخه پرته استعمال نشي اوکوم یوځانګړی تومور ددی پواسطه نامګذاري نشي.

B: دهډوکو نیوپلازم داصطلاحاتو عام Terminalogy دخبیثه پښو سره دتجربی پواسطه منشا اخیستی ده او دهغوی دسلیم ملګري تومورو پوری پراخه شویدی. داهمیشه دتومور مستقمي اړیکی نه ښکاره کوي او زیاتره نور سلیم تومورونه چی دهډوکو دانکشافي Dysplasia دډلی څخه وي دیو حقیقي نیوپلازم په جمله کې نه شمیرل کیږي (مثلاء

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Chondro sarcoma او Euchondroma یو انکشافي Dysplasia عبارت دداسی غیر طبعی نسج څخه دی کوم چی د کوربه دنشونما دتوقف سره یوځای خپلی نشونما ته هم خاتمه ورکوي په داسی حال کې چی یو حقیقي تومور دکوربه دنشونما دطریقو سره بیله کوم ارتباط څخه خپلی نشونما ته دوام ورکوي.

په تیرو وختو کې یو زیات شمیر انکشافي Dysplasia دتومور په حیث ویشل شوي وه اوداځکه چی نوموړی ځاي نیونکي افتونه وه اونن ورځ نوموړي په ورو ډول دنیوپلازم دساحی څخه دهغوی په مکمل ډول مختلف برخورد او Bio physiology له کبله ایستل کیږي نو له همدی املـه تاسی بـه وګوری چی Fibrous dysplasia دهډوکو Osteo chondroma cyst او د Osteoid osteoma په شان افت د هډوکو دتومورونو په تصنیف بندي کی شامل شوی نه دی دلته د Dysplasia اصطلاح دحجروي توپیري پروسی دغلطي په حیث کارول شوي وه او د Epitheloid context کې د Metaplasia نه د Neo plasia دمرحلی په حیث ندی کارول شوي په پتالوژي کې د Dysplasia دعمومي استعمال لپاره دی دوهم فصل وکتل شي.

C: اناتومیک فکتورونه

دتومور موقعیت دهغوی په تشخیص کې زیاتره یوه نقطه وي په هډوکو کې هریو تومور په مخبروي توګه دهمغه ناحیی دفزیولوژیک نشونما سره تعامل کوي دکوم ځای څخه چی منشه اخلي (مثلاء Epithysis د نشونما غضروف Metaphysis, Diaphysis دمخ خالیګاه یا Periosteum) په دی مورد کې یو Lytic افت چی یواځی په Epyphysis کې موقعیت لري د Diaphysis او Metaphysis د Roentgen تظاهراتو په نسبت مختلف

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شکلونه لري. (Epiphyseal , Condro blastoma نشونما غضروف، دهډوکو سیست Roentgenogram Meta physis (Fibrous dysplasia) دهډوکو د تومورونو دمطالعی تشخیص او انزارو کې خاص ارزښت لري ځکه چی نوموړی دافت کورس اناتومي ښکاره کوي او همدارنګه دشاوخوا نورمال نسج دنیوپلازم په احتواکولو اودهغوی مقابل کې دعکس العمل ښودلو توان هم څرګند نه وي.

دهډوکو مایکروسکوپیک Section زیاتره غلط لارښودنه کوي اوکه دعضویت غبرګون او ګروس اناتومي چی د Reentgenogram پواسطه اندازه شوی وي د هستالوژي سره کوم ربط ونه لري نو په ډیر خراب او خطرناک تشخیص منتج کیږي.

D: هستالوجیکي ویشنه دهډوکو د تومورونو داسی Terminology ده چی په عمومي ډول منل کیږي.

دکلاسیک زیاد شمیر Hypemated دتشخیص څخه د ډډی کولو لپاره دتومورونو دنوم اینبودلو دپاره داسی سیستم اختیار شوی دی چی دافت دټولو نه زیات توپیر شوی نسج څخه بیل شوی وی د یوزیات شمیر دلایلو له کبله دمختلو سیستمونو (مثلاء امبریالوژي Paleontalogy phylogeny چی اساسي مطالعات دي دانسج په Terminology کې د لاندیني Seniority څخه جوړ شویدي چی دافت دټولو نه لوړ تفریق شوی نسج باندی اساس لري.

۱- هډوکي Osteo

۲- غضروف Chondro

۳- الیاف Fibro

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- غیر تفریق شوي Spindle cell round cell

۵- غیر عظامي ،نسج شحم Lipo ،دموي اوعیی Angio عصب neuro

یو تومور متبارز او یالوړ وصفي ځمکنی مادی Matrix دموادو څخه چی دافت پواسطه جوړ شوي دي کوم چی په تفریقیت کې لوړی درجی ته رسیدلی وي په اساسي نامګذاري کیږي او که بله کومه یا ټولو بقیه پاتی هم ولیدل شي هغوی دنظر لاندی نه نیول کیږي نومورې Termenology په کار راځي.ځکه چی کلینیکي اندازه ګیري X-Ray تجزیه اودهریوځانګړي تومور د هستالوجیکي تومور د ظاهري منظری څخه کوم چی ددی پواسطه تهیه شوی تشخیص سره یوځای استعمال شي نودناروغ داخري انزارو سره سمون خوري په نورو ټکو کې د هدوکو دتومور اندازه ګیري دکلینیکي اندازه ګیري دافت X-ray اناتومي او هستالوجیکي څیړني ددی پایی باندی اساس لري (ورکړل شوي جدول دی ولیدل شي)



په پورته شکل کې دهډوکي Osteosarcoma ښودل شویدی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

III: کلینیکي لتنه او تشخیصي طریقی:

A: تاریخچه ډیر زیات ارزښت لري مثلاء دیومعلوم شوي غضروفي تومور په پیښه کې چې په متوسط عمر کې درد ناک شوی وي په تاریخچه کې یو خبیث بدلون خواته لارښودنه کوي په داسی حال کې چې دبایوپسي پواسطه سلیم نسج ښکاره شوی وي. دهډوکي دنیوپلازم اولنی ګیلی درد دی او داسی درد چې دورځی په نسبت دشپی له خوا شدید وي ډیر داشتباه وړ دی.

B: Roentgenogram دتشخیص لپاره په ځانګړی ډول د ټولو نه مهمه مطالعه ده نوموړی نه یوائی دافت موقعیت په ګوته کوي اودهغوی پتالوجیک اناتومي څرګندوي بلکه د Biopsy لپاره دتشخیص موقعیت په ټاکلو کې کمک کوي.

C: بایوپسي دیوصحیح تشخیص لپاره اړینه ګڼل کیږي. لاکن په ډیر احتیاط سره واخیستل شي په دی ترتیب چې دافت زیاتره تیپیک Typic برخې ولري اوداخیستل شوو موادو اناتومیک حالت برقرار وساتل شي ددی یو ښه مثال په Myositis Ossificans کې لیدل کیدای شي چې دبایوپسي داخیستلو په وخت کې داناتومیک موقعیت د سرچپه کیدو له کبله د Osteo sarcoma سره مغالطه کیدای شي یوځل بیا داپه ګوته شي چې مایکروسکوپیک Section دافت د Gross anatomy سره یوځای معاینه شي ترڅو دزیاتو غلطیو مخه ونیول شي.

دتاریخچې او کلینیکي کتنو پواسطه زیاتره د یو ترمیمي اویا التهابي پروسې اودنیوپلازم ترمنځ دغلطیدلو کیدو څخه مخنیوی کیدای شي. دلته یومثال ورکوي چې داورتوپیدي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

جراح ، رادیولوجست او پتالوجست ترمنځ مرسته او همکاري نه یواځی ګټور دی بلکه د صحیح طریقی او سایتیفک مطالعی دپاره حتمی او ضروري وي.

D: لابراتواري معاینات:

یواځی دهډوکو دتومورونو یو لږ شمیر پیښو کې مرسته کوي مګر که مثبت وي نو زیاتره تشخیصي ارزښت لري د قلوي او اسیدي Phosphatase څیړنی په هډوکي کې پروستاتیک Ca (لوړ اسیدي Phosphatase د Pagets ناروغی یا Pagets osteo sarcoma (لوړ قلوي Phosphatase) څخه تفریق کوي.دسیروم الکتروفوریسس مطالعات غیر طبعي پروتینونه یا د ساده A/G تناسب تجزیه Multiple myloma په واقعاتو کې د Glubulin اودغیر طبعي Glubulin دسویی لوړوالی ښکاره کوي.

دهډوکي نور تومورونه دومره وصفي نه دی لاکن Osteoblastic تومور دنورمال په نسبت لوړ قلوي Phospharase سویی لرلو ته میلان لري او په کتلوي ډول تخریبي افتونه اکثراء په سیروم کې دکلسیم لوړه اندازه ښکاره کوي چی په متیازو کې د کلسیم د اطراح اندازه هم زیاته وي مګر بیا هم دوینی مطالعات دپورتنی مثالونو په استثنی د X-Ray او Biopsy په نسبت صحیح پایلی نه ورکوي او ارزښت یی کم دی.

IV: دتداوي پرنسیپونه

A: دجراحي پواسطه دسلیم تومورونو دلیری کولو ښه لاره د مستقیم لاری څخه دتومور ایستل دي اودهډوکي لوی زیان Defect دهډوکو دمناسب پیوند پواسطه ډکیږي په سلیم تومورونو کې Roentgen تراپي افت ختمولای شي لاکن هډوکو اوغضروفونو ته شعاع ورکول دماوف نسج شاوخوا نورمال نسج کې دموخر خبیثه بدلون امکانات برابروي چی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهمدی له املـه دهډوکو د سلیمو افـاتو د درملنـی لپـاره دشعاعي تداوي کـارول د هغـو ناروغانو په نزد محدود دی کوم چی ژوند په خطر کې وي او جراحي مداخلی ته افت جوړ نه وي.

B: خبیث تومورونه د شعاعي تداوي او جراحي دګډ کارولو پواسطه ښه معامله کیږي.

۱- شعاعي مقاوم تومورونه (Fibro Sarcoma chandros Osteos)

یـوائی پـه نسـبتي ډول مقاومـت لـري چـی هسـتالوژي او حجـروي تفریقیـت سـره یـو ځـای مقاومت هم فرق کوي اونوموړی په خپل هریـو تشخیصـي ګروپ کې دخپـل حساسیت (او دخپـل خباثت) دنظره دومـره فـرق کـوي چـی دخپـل هـر تومـور پـه ویشـنه بنـدی کې کـوي دهډوکي تومورو کې دخپل ځان لپاره یونوم دکومی مخصوصی تداوي داستطباب لپاره نه لري درملنی عادي سیر دمناسبی شعاعي تداوي ورکول دی چی همغـه مخصـوص تومـور ختـم اویـا خـاموش کـړي اوپـه تعقیـب یـې دجراحي پواسطه دافت ډول اوموقعیت دنظره د جذري Resection اویا Amputation پواسطه لیری کړل شي.

۲- شعاعي حساس تومورونه (Ewing's سارکوما)

چی د Ewing's تومورونو په نوم هم یادیږي.

Angio sarcoma, Reticulum cell Sarcoma او Multiple myeloma چی په مختلف ډول اولنی شعاعي درملنی تـه ځواب وایـي Ewings sarcoma او Rationalum cell sarcoma (چی هډوکی کې په مقدم ډول منځ ته راغلی وي) دومره خراب انزار لري چی دفخـذ دمنځنـی برخـی څخـه لانـدی واقـع شـوی تومورونـو دپـاره شـعاعي تـداوي او

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Amputation دواړه یوځای اجراکیږي مرکز ته زیات نژدی واقع شوی تومورونه یواځی دشعاعي تداوي پواسطه تداوي کیږي.

همدرانګه په Multiple Myloma کې کیموتراپي دشعاعي تداوي سره یوځای دټولو نه زیاته دژوند موده اوږدوي.

C: تیکنیکي کتنی

۱- شعاعي درملنه دتومور دحجروي بیلونی اودهغوی داناتومیک ځای دارتباط په اساس ترسره کیږي د ماوف شوي هډوکي ټوله برخه باید شعاع واخلي.

A: ټیټ دوزونه (۱۰۰۰-۳۰۰۰ rads) د Leukemia lymphoma, Metastatic Carcinoma او Multiple myloma لپاره کارول کیږي.

B: متوسط دوزونه (۳۰۰۰-۵۰۰۰ rads) د Ewing' Sarcoma ، Raticulum cell sarcoma او واحد Myloma دپاره استعمالیږي.

C: لوړدوزونه (۵۰۰۰-۸۰۰۰ rads) د Osteogenic carcinoma او Chondro sarcoma دپاره.

دهډوکو خبیث تومورونو دجراحي درملنی په مورد کې داسی عقیده موجوده ده چی ټول ماوف هډوکي باید لیری شي او دا اصول په دی منتج کیږي چی په یو Amputation کې دتومورو څخه پورته خواته واقع شوي بند هم باید لیری کړل شي په ځینو مخصوصوشکلونو کې چی هلته جراحي مداخله امکان ونه لري (حوصله، دملا تیر، قحف) پورتنی اصول داسی ترمیمیږي چی دجراحي عملیی پواسطه داسی جذري Resection صورت ونیسي څومره چی دمربوط ناحیی اناتومي اجازه ورکړي کله کله

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسی یو تومور چی ښکاره ټیټ خباثت ولري (Parasteal osteo sarcoma) د Amputation په نسبت موضعي Resection ته اجازه ورکولای شي.

V: پایلی او انزار

ددی نتیجه دحجری دډول ، بیلوالی اودهر یو تومور مقابل کې د کوربه د غبرګون سره توپیر لري په طبي ادب کې د ۵ کلنی د ژوندداندازی د راپورونو حدود او اندازه دتومورونو د نماینده ګروپ دپاره شمیرنی په سلنی په لاندی جدول کې ترتیب شویدي.

د ۵ کالو دژوند داندازی سلنه (%)

تومور	کم ترین راپور	لوړترین راپور
Osteo Sarcoma	%۵	%۲۰
Chondro sarcoma	%۲۵	%۵۱
Fibro Sarcoma	%۲۰	%۲۰
Reticulum cell sarcoma	%۲۰	%۵۵
Ewing Sarcoma	۰	%۱۲
Gaint cell Tumor خبیث		%۲۵
Plasma cytoma واحد myolma	%۲۵	%۵۰
Multiple myoloma	%۱۰	%۲۰
Parosteal osteo sarcoma		دمناسب تداوي سره ۱۰۰% وي څرنګه چی داتومور ډیره بطي نشونما کوي نو د ۵ کالو د ژوند اندازی ورته هیڅ مفهوم نه لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پورتنی اعداد رابنبي چی:

۱- دهډوکو خبیث تومورونه دمایوسي وړ نه دی او شدید تداوي ته ښه اړتیا لري.

۲- دشمیرنی سلنه دباور وړ نه ده ځکه چی دهر سریز په راپور شوو واقعاتو کې یو زیات شمیر نه راپور شوي حجروي ډولونه موجود دي چی دواقعاتو دراپور مقایسه کول د ستونځو سره مخامخ کوي.

هر ناروغ په ځانګړي ډول تداوي شي چی تداوي دهمغه بالخاصه افت په مکملی مطالعی باندی اساس ولري دتومور موقعیت دناروغ دژوند موده ډیره اغیزمنه کوي او د شمیرنو په پلټنو کې د Trunk تومورونو داطرافو دتومورونو څخه جلاشوي وي دحوصلی دهمدی ډول تومور دیوبل تومور په نسبت چی په لاس کې واقع شوی وي په لوړه پیمانه خباثت لري دواړه تومورونه یوشان هستالوژي لرلای شي لاکن مرکز ته نژدی واقع شوي تومورونه په ابتدایي مرحله کې Metastasis ورکوي اوزیاته پراختیاء لري.

ویشنه:

منشاء	دحجراتو ډول	خبیث	سلیم
هډوکي جوړیدونکی	Osteoid Osteo Blast جوړوي	Osteo sarcoma Medullary Parosteal سارکوما چی لاندنی کی منځ ته راځي ناروغی تشعشع شوي هډوکي کې	Osteo blastoma نور افتونه چی دلته تصنیف بندي کیږي اکثراء حقیقي نیوپلازم ندی (مثلاً Osteoidosteoma او Osteo (Osteoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هضم کیدونکی	Osteo blast Matrix نه جوړوي	Osteo dostoma Gaint cell tumor	blastoma Gaint cell tumor
غضروف	Chandro blast (د غضروف Matrix جوړوي	Chondro sarcoma	Chondro blastoma Choandromyoxoid Fibroma Eachondroma Osteochandroma یا یو Dysplasia یا دنشونما نقیصی وي
Fibrous غیر تعین شوي	Fibro blast (کولاجن جوړوي) غیر تعین شوي	Fibro sarcoma Spindle cell sarcoma	Desmo plastic
مخ	R.E System	Multiple myeloma Reticulam cell sarcoma Ewing Sarcoma	
وعایي غیر تعین شوي	دموي اوعیی داوږدو هډوکو	Angio sarcoma Adam antioma	Angioma
عصبي	عصب		Nearolemom (Schowmoma) Neuro Fibro Matasis Genglio Neuroma

د Histogenesis دنظره تعین شوی نه دی په ځینو تومورونو کې نا بالغ غضروف ته ورته والی لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

درخوه انساجو سارکوماګانی

تناظر:

درخوه انساجو سارکوماګانی عام نیوپلازم نه دی چی دټول خبیثه افاتو ۳، ۰-۴، ۰ پوری جوړوي چی کیدای شي د ډیر ندرت له کبله د ډیری مودی پوری تر مشاهدی لاندی ونیول شي چی تداوي هم په غیر مناسب ډول اجراء کیږي درخوه نسج مشتبه کتلی باید سمدستي بایوپسي شي خصوصاء په اوسنی وخت کې د نومورو کتلو جسامت اویا قوام بدلون کړی وي اویاداچی اعراض یې ورکړي وي نوحتماء باید بایوپسي ورڅخه واخیستل شي موضعي سارکوما عموماء د جراحي پواسطه تداوي کیږي او دتومور Excision باید جذري وي او که نه عود به حتماء منځ ته راځي او عموما Amputation ته اړتیا پیښیږي د عود اندازه مختلفه ده چی په مختلفو سریزو کې توپیر کوي او د ۳۳-۷۷% پورې فرق کوي.

دمقدم لیږی کولو وروسته د ۵ کلنی دژوند موده تقریبا ۲۰% ده اوکه دسارکوما Reexcision ته اړتیا پیښ شي نو داندازه ۳۰% ته رالویږي.

دعود کړي شوی افت او حتی Metastasis دپاره Resection کوي ښه دی چی داوږدی مودی په شفا ختمیږي شعاعي تداوي او کیموتراپي عموما پرمخ تللی عرض داره او غیر علاج وړ تومورونو دپاره مخصوص ده.

۱- پیژندنه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: ایتالوژي: درخوه انساجو د Sarcoma سبب معلوم شوی نه دی اګر چی ځینی وخت Sarcoma په زړه پوری تندبی شوی (Scora) نسج کې منځ ته راځي لاکن ترضیض د نوموړي د سبب په حیث ثابت شوی ندی د سلیمو شرایطو لکه T.B یا د تایراید ناروغی دپاره شدیده شعاع ورکول د Fibro sarcoma منځ ته راتلو لامل شویدی همدارنګه د دوامداره Lympho adenomy په تعقیب Lymphongic sarcoma لیدل شوی وه او خصوصا داد جذري Matestectomy نه وروسته منځ ته راځي هغه ناروغان چی Von Reck ling hausens ناروغی لري کله کله Neruro fibro sarcoma یا خبیث Schwanoma باندی معروضیږي.

ویشنه:

درخوه نسج Sarcomas دپخواني Mesenchyme څخه منشاء اخلي کوم چی په Hemato poeitic او منضم نسج باندی دانکشاف کولو توان لري چی دنوموړي منضم نسج برخه ښایي چی لیفي شحمي Synovial نسج ملسا اومخطط عضلاتو او Schwon حجراتو ته ورته والی لرلی شي. Sarcoma دهستالوژي له نظره تصنیف بندي کیږي اودهغوی دنسج په اړه یې نوم ایښودل کیږي نوموړي ډیر زیات ورته والی لري خصوصي تلوین اودنسج زرع معمولاصحیح تصنیف بندي په لاس راوړی نوموړی ټول تومورونه Reticulin تولیدوي.

داسی هم ویلای شو چی په دی ګروپ کې د منضم نسج هغه نیوپلازم شامل دی چی په ټول بدن کی خپور شوی وي او کوم خاص عضوي سیستم پوری اړه نه لري.

۱- لیفي نسج منشاء

Fibro sarcoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Demato fibro sarcoma

Fibro sarcoma desmoid type

۲- شحمي نسج منشاء

Lipo Sarcoma

Myxoid lipo sarcoma

۳- عضلي منشاء

Rhaddomyo sarcoma

Embryonal rhabdomy sarcoma

Alvealar

Betryaides sarcoma

Granular cell myblastoma

Leimyeo sarcoma

۴- وعايي منشاء

Angio sarcoma

Kaposis sarcoma

Lymph angio sarcoma

Hemangio pericyloma

۵- Mesenchymal منشاء

داربطی پوښ منشاء Syovial sarcoma

۲- غیر ناویشل شوی سارکوماګانی:

دیادونی وړ خبر داده چی درخوه انساجو د سارکوماګانو په ویشنه کې دیوی ځانګړی عضوی پوری مربوط تومورونه لکه Reticulum cell sarcoma Ewings sarcoma

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادمعدی معایي جهاز تومورونه شامل شوي نه دي خیر په هر صورت د رخوه انساجو سارکوماګانی دهغه تومورونو دډلی څخه دی چی په بل کوم فصل کې څیړل کیدای نه شي.

C: پیښی

دسارکوماګانو دمختلفو ډولونو د نسبي پیښو اندازه چی دنیویارک د میموډیل شفاخانی په ۲۵ کلنی تجربی کې ښودل شوی په لاندی ډول دی.

	دناروغانو شمیر	سلنه
ناویشل شوي سارکوما	۲۰۰	۲۲
Lipo sarcoma	۱۳۵	۱۷
Rhabdo myhosarcoma	۱۳۳	۱۷
Fibro sarcoma	۱۱۰	۱۴
Synovioma	۱۰۴	۱۳
Neuro sarcoma	۴۷	۲
Embryonal rhabdomy sarcoma	۲۸	۴
Hemiangic Pericytoma	۱۱	۱
Angio sarcoma	۷	
Etra osseous osteogenic S	۵	
Leiomyo sarcoma	۲	
Alveolar seft parts sarcoma	۲	
	۷۸۴	۱۰۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کلینیکي لټنه:

A: ځایي ننښی

زیاتره سارکوماګانی دنرم نسج دکتلو په شان ښکاره کیږي چی وده کوي ګیلی تولیدوي او زیاتره یو کلک یا سخت قوام غوره کوي محیطي عصبي دردونه Neuroalgias ، فلج یااسکیمیا په عصب یا دموي اوعیی باندی دفشار له کبله منځ ته راتلای شي نومورې تومورونه نه داحشاو د وظیفو سره مداخلت له کبله کولمو حالب اویا دمنصف د جوړښتونو د بندوالی لامل کیدای شي.

B: سیستمیک اغیزی:

برځیره له دی څخه چی دوزن بایللو ، تبی او عمومي ستړتیاء لامل کیدای شي ځینی سارکوما د Hypo glycemia دشدیدو حملاتو پواسطه تظاهر کوي نو د Endocrine بی نظمي ګانی جاغور اودنخامیه غدی وظیفوي خرابوالی منځ ته راتلای شي هغه سارکوماګانی چی دنومورې Para neoplastic سندروم لامل کیږئ په عمومي ډول سره لوی او Retro peritoneal یا entro pleural وي چی زیاتره د Fibro sarcoma دډلی څخه دی مګر دنورو هستالوجیکي منظرو انواعو راپور هم ورکړل شویدی.

دنومورو غیر معمولي سارکوماګانی له کبله Hypo glycemia سره ناروغان زیاتره ګډوډ هیجاني بی نظمي ګانی یا دوینی دقند دټیټی سوی دخرګند کیدو څخه مخکی حتی په Psychosis اخته کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په پورته شکل کې Soft Tissue سارکوما ښودل شویدی

ددی تشخیص دلوړی تسټ دقند تحمل ټیست، Leucine ۱ تحمل تعین کولو تست، Talbutamide تست یا د Insulin immunoassys په ذریعه تقویه کیدای شي.



په پورته شکل کې Soft tissue سارکوما ښودل شویدی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: Roentgenogram

اگر چی زیاتره سارکوماګانی دمعاینی او جس پواسطه څرګند کیدای شي ښایي چی په Retroperitoneal مسافه کې یا لوی نسجي کتلو کې په مخفي توګه واقع شوي افتونو د پاره رادیوګرافي د رخوه نسج تیکنیک یا Contrast studies په شمولیت د ضرورت وړ وي درخوه نسج مکشوفه Liposarcoma کم Radio opacity یا د Synovio sarcoma معین مختلط Calcification ښکاره کولای شي.

همدارنګه Anterio gram وصفي بی ترتیب ګډوډ، شعریه اوعیی Pedulling اویا وعایي وریدي (AV) ارتباطات په یو زیات شمیر واقعاتو کې ښوولای شي اوعلاوه له دی څخه Anteriography مخصوصا دنومړي تومورونو دپراخوالي معلومولو کې ډیر ګټور دی په ځانګړي توګه هغه تومورونو کې چی دبدن په اجوافو یا لوی عضلی کتلو کی ځای ولري.

D: بایوپسي

درخوه نسج په هره یوه کتله باندی چی دسارکوما ګان شوي وي باید سمدستي بایوپسي شي څرنګه چی دتداوي طریقه په زیاته اندازه دتومور دهستالوژي پواسطه تعین کیږي دنسج لوی برخی باید پتالوجست ته دمعاینی دپاره ور کړل شي او باالاخره داسی ویلای شو چی دستنی بایوپسي معمولاً غیر مناسب او Incision یا Excision بایوپسي ته په عمومي ډول اړتیا پیښیږي.

III: درملنه

دنرم نسج سارکوماګانی عموماء دشعاع په وړاندی کې ټینګار لري او دانساجو د سطح سره سم په موضعي ډول خپریږي چی زیاتره د جس وړ تومور سره لیری وي په خپل اولنیو

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

برخوکې دکنترول کولو دنظره نوموړی تومورونه د ستونځمنو تومورونو د ډلی څخه دي چی نوموړی یوه حقیقي محفظه نه لري او له همدی کبله باید دخپل پوښ څخه وانه ایستل شي په موضعي ډول دعود کولو اندازه په یو بهترین Series کې ۳۰% ده داسی انعکاس کوي چی دهر ۳ څخه یو تومور په غیر مناسب توګه قطع کیږي دموضعي عود منځته راتلل ددی امکان دوه چنده کوي چی ناروغ دخپلی Sarcoma له کبله به مړ کوي دمیموریل روغتون تجربی په څرګند ډول ښکاره کوي چی دجذري عملی څخه اجراء کول په دی منظور چی اطراف د منځه تللو اویا ټوټه کیدو څخه وساتل شي د عود اندازه لوړ وي او لیری ځایو ته د Metastasis لوی خطر منځ ته راځي.

درملنه د تومور ځای او هستالوژي پواسطه تاکل کیږي کې کوم لیری ځای ته دانتشار شواهد موجود نه وي تومور باید په پراخه توګه قطع شي او ورسره Frozen section کنترول دنیوپلازم دتام Excision دتعین کولو په اندازه اجراء شي دیوماوف طرف Amputation په لاندی شرایطو کې استطباب لري.

۱- چی تومورې کتله دپراخ Excision پواسطه هم لیری کیدای نشي.

۲- چی دعملی په نتیجه کې ماوف طرف دیوبی کار طرف په ځیر پاتی شي اوکومه مناسبه وعایي یا عصبي ارواء ونه لري.

۳- کتله دپخوانی قطع شوي افت دنکس له کبله پیداشوی وي.

۴- دتومور د نزف، درد یا بوی له کبله دطبي اهتماماتو پواسطه په عرضي ډول تداوي کیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلمفاوي عقداتو تسليخ په عمومي توګه تر هغه وخت پورې نه اجراء کيږي چې ترڅو پورې افت داساسي عقداتو نواحيو سره پيوستون ونه لري يا عقدات ماوف شوی نه وي يا افت د Myxolipo sarcoma ډول څخه وي کوم چې دعقداتو پواسطه انتشار ته ميلان لري هغه Metastasis چې په واحد ډول وي بايد ليږی کړل شي دمثال په ډول په سږو کې دواحد Metastasis موجوديت دسږو دمقدم تومور څخه ډير ښۀ انزار لري دا افت د ۵ کالو ژوند دپاره ۴۰% اندازی سره ليږی شويدي.

B: شعاعي تداوي

په عمومي صورت د Sarcoma دمعالجوي تداوي په برخه کې شعاعي درملنه اغيزمنه نه دی لاکن په Sporadic پيښو کې ډيره ښه پايله تری لاسته راغلی ده. بدبختانه داسی کوم دباور وړ راپور نشته چې د Sarcoma حساسيت دشعاع په وړاندی کې وړاندی وينه وکړي.

۱- په Border line عملياتو وړ افاتو کې دارجاع لپاره عملياتو څخه مخکی تشعشع اجراکيدای شي کله کله په ځينی نا توپير شوی سر کوم کې د دراماتيک پايلو راپور ورکړ شويدي او ۲-۸ اونی وروسته د Resection لپاره اجازه ورکوي.

دعمليات څخه مخکی تشعشع په مورد کې دلچسپي منځ ته راغلی ده او داسی جراحي ګروپونو لکه د نيويارک د روغتون جراحان يی طرفداري کوي ځکه چې دنرم نسج دسرکوما ۷۲% انواع د ۳۰۰۰ - ۴۰۰۰ راډه شعاع پر وړاندی ځواب ورکوي چې دشنډتوب اندازه يې ۳۳% دی.

په دی ډول مريضانو کې دشفا اندازه دهغه مريضانو په نسبت چې يواځی د جراحي پواسطه تداوي شوي وي لوړ دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- که مایکروسکوپیک ناروغی کوم بقیه پاتی شي نو دعملیات څخه وروسته دتشعشع استطباب موجود دی سره له دی چی په شعاعي مقاوم تومورونو کې د خبیثه حجراتو کوچنی ذخیري په کامیابي سره لیری کیدای شي البته په داسی ډول چی دماوف لوری دزغم په اندازه کې تشعشع اجراء شي.

۳- که افت دجراحي تداوي څخه زیات پرمختګ کړی وي یا که ناروغ دکتلوي Resection تحمل ونه کړي نو په دی صورت کې د نورو تومورونو لپاره عرضي تداوي اجراکیږي.

C: Chemo therapy

دسرکوماګانو کیموتراپي یواځی په محدود ډول تجربه شویده په ځانګړي وقایو کې ډیر کم لاکن ښه نتایج د Cyclophospamid phenylaanine master vinceo leuke blastine او Actinomycin D د کارولو څخه راپور ورکړشویدی.

C: Chemo therapy

د پورتنی موادو تطبیق کول په موضعي شکل نظر Systemic کارولو ته څه ناڅه ګټه لرلای شي لاکن داموضوع تر اوسه ثابته شوی نه ده او دنوموړی موادو اینده یا مستقبل دهغوی دجراحي یا شعاعي تداوي استعمال پوری تړلی دی لیکن تر اوسه دا امید هم په عمومي توګه حقیقت نه دی موندلی.

کیموتراپي په سرعت سره بدلیدونکی ساحه ده په پرمختللي سرکوماګانو باندی اخته ناروغانو کې دیوی کمی اندازی دراماتیک غبرګون منځ ته راتلل دا څرګندوي چی نوموړی تیراپیوتیک سطح یا معیار په سطحی توګه تر تحقیق لاندی نیول شویدی د کیموتراپیوتیک موادو عاملو پر وړاندی مختلف سرکوماګانو غبرګون په هکله اوسنی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تازه معلومات باید د Regional cooperative oncology groups اودکانسر دتحقیق او تداوي ته وقف جورنالونو کې باید ولټول شي.

IV: ځانګړی (وصفي) تومورونه

A: فایبروسرکوما : Fibro sarcoma

نوموړی دخپلو ټولو ډولونو سره ډیر زیات عام کانسر دی. منشه یي دمنضم نسج یا عصبي لیف څخه وي جنس پوری هیڅ اړه نه لري او د تشخیص څخه وروسته متوسط عمر ۵۰ کلنی پوری دی لاکن په ماشومانو کې او حتی نوموړی د نور سرکوماګانو په نسبت خباثت ته کم میلان لري فایبروسرکوما اساساً نیغ په نیغه او دوینی دلیاری خپریږي سره له دی چی دنوموړو کانسرو ۷% اول ناحیوي لمفاوي غوټی اخته کوي.

د Stouts په ۴۰۳ پیښو کې په سریزه کې دفایبرو سرکوما ځای نیونه په لاندی ډول دی:

تنه ۱۰۹، لاندینی برخه ۱۰۲، سر او غاړه ۲۲، علوي طرف ۵۸، Perosteam او نوری برخی ۰۹۲

دګراس له نظره افت عموماً ټینګ او نرم وي، رنګ یې سپین بخون فولادي وي، Pseudo encapsulation لری، متجانس جوړښت لري چی کله په کې دنکروزي ساحی هم لیدل کیږي مایکروسکوپ پواسطه دمنضم نسج دهر عمر حجرات موجود وي او Phosphotungstic تلوین Hemoatoxylin او Fibrogtia, fibrils, Gaint Cell کله کله د GC سره ښکاره کوي چی په تداوي کې یې په پراخه ډول Excision ترسره کول شامل دي همدارنګه د فایبروسرکوما دعود پیښی هم زیاتی دي تقریباً ۲۰% یې دپراخه Excision څخه پرته هم بیرته راګرځي. په هغه افاتو کې چی په ښه توګه تفریق شوي وي په نادر ډول

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Metastasis ورکوي او وروسته د Excision څخه دبیرته کرځیدنی اندازه یې ۴۲% ده او ۴% وفیات لري برخلاف ددی کم توپیر شوي فایبروسرکوما ګانو کې دعود اندازه ۷۵% او ۵۰% وفیات لري.

یو لږ شمیر فایبروسرکوما ګانی دشعاعي درملنی پواسطه په موقتي ډول کنترول شوي دی او که تکنیک اجازه ورکړي نو ددی مقصد لپاره بین الخلالي تکنیوکونو ته اولیت ورکول کیږي.

۱- Dermato fibro sarcoma

نوموړی یو ټیټ درجه فایبرو سرکوما دی کوم چی دعمر په ۳۰ یا ۴۰ کلنی کې دوجود د Trunk یا د Scalp په برخه کې منځ ته راځي نوموړی د یوزیات شمیر کلونو لپاره غلی وي چی دیو ارغواني Excrescene (دپوستکي یو برجسته افت په څیر) یا د Keloid په څیر موجود وي او وروسته په چټکه توګه وده کوي.

۲- اول درجه Sesmoid نوع فایبروسرکوما.

نوموړی ډول تومور یو انتهای او ورو وده کوونکی تومور دی چی په ځوانو ښځو کې منځ ته راځئ اودفایبروسرکوما دانواعو دډلی څخه نوموړی تومور یو ښه دکتنی وړ انزار لري.

B: دفایبروسرکوما نه وروسته Lipo Sarcoma ډیر عمومیت لري دبدن په هره هغه برخه کې چی شحم موجود دی لیپوسرکوما پیداکیدای شي اودتشخیص په وخت کې همیشه جنیتیک وي یواځی په نادر ډول د Lipomas څخه منشاء اخلي نوموړی د عمر په هره دوره کې منځ ته راتلای شي لاکن د ۴۰-۲۰ کلنی ترمنځ زیات واقع کیږي.

د Stout د ۲۲۲ پیښو په سریزه کې د Lipo sarcoma ځای نیونه په لاندی ډول دی:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

سلفي اطراف ۱۱۸، دکیډی جوف او Retro peritoneum ۳۲، جذع ۳۲، پورتنی اطراف ۲۰، سر او غاړه ۱.

Lipo sarcoma ښایي چی ډیر زیات تناسب غوره کړي په ۱۸۵۹ کال کې د Delamater له خوا دیو Ibs په اندازه دیو Lipo sarcoma راپور ورکړشویدی چی دنوموړي تومور وزن د نوموړي ناروغ دمرګ تروخته IBS پوری رسیدلی وه.

دګراس له نظره تومورونه لوی دي او یوزیات شمیر فرورفته ګانی لري Convulsion او ښایي چی ژیړی ولری همدارنګه نوموړی زیاتره Satelite nodule یا یوزیات شمیر منشه یې هډی لرلای شي.

دماکروسکوپیک معاینی پواسطه ښه تفریق شوي کاهل شحمي حجرات د لیدنی وړ دي.

یا کیدای شي چی دزیات مختلف قسم سره دګډوډ Giant حجراتو ولیدل شي دتشخیص لپاره وصفي شحمي تلوین ګټور ثابت شویدی.

تداوي یې په وسیع ډول Excision څخه عبارت دی د تومور د عود اندازه دهغوی دلویوالي او هستولوژي پورې اړه لري، یعنی دیو ښه توپیر شوي کوچنی Myxoid lipo sarcoma عود د نادراتو دجملی څخه دی. د ژوندی پاتی کیدو اندازه او دتفریق اندازی سره ډیر کم فرق کوي یعنی که تومور Non myxoid وي نو دژوند چانس ۱۰% دی اوکه Myxoid منبع ولري نو ۲۲% دژوند چانس لري دژوند ټوله اندازه تقریبا ۳۲% ده همدارنګه نوموړی تومور سړو ته دمیتاستاز لپاره زیات میلان لري.

که دتومور دکامل Resection په برخه کې اشتباه موجود وي نو باید دعملیات څخه وروسته شعاعي درملنه اجراء شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: دعضلی تومور

۱- Rhabdomyo sarcoma

ربدومایوسرکوما دمخطط عضلاتو څخه منشاء اخلي. نوموړی تومور د سرکوماګانو د جملی څخه خبیث ترین شمیرل کیږي او زیاتره دلویو Fungating وینه ورکوونکو کتلو په څیر وده کوي نوموړی تومورونه په ځوان کاهلانو کې ډیر زیات عمومیت لري. پورتنی تومورونه په ښکتنی اطرافو کې ډیر عمومیت لري او وقوعاتو اندازه یې دلاندني ترتیب په اساس کیږي:

پورتنی اطراف، سر، غاړه او Trunk دمایکروسکوپ پواسطه د Tennis Racquet په شکل حجرات چی Striations او Gaint حجرات دمحیطي واکیولونو سره لري لیدل کیږي. ددی حجراتو سایتوپلازم تل Acidophilic وي.

دنوموړي تومورونو په درملنه کې پراخه Excision شامل دی چی په موضعي ډول دبیرته راتلنی اندازه Memorial cancer center ۲۷% دی او شتون لري ۲۰-۷۰% وي.

د ۵ کالو دژوند اندازه دومره ښه نه وي دټولو نه بهترین سریزه کې یواځی ۳۴% د ۵ کالو دپاره ژوند پاتی کیدای شي همدارنګه زیاتره نورو سریزو کې د ۱۰% څخه کم اندازی راپور ورکړشویدی.

۲- Embryonal Rhabdomyo sarcoma

لمړی ربدومایوسرکوما دټولو نه زیات عمومیت لري اوپه ځوانو خلکو کې زیات لیدل کیږي ددی Gelatinous اوخراب توګه تفریق شوی کپسول لرونکی تومورونه نه عموماء په

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nasopharynx, Maxilla یا سترګو کری کې ځای لري چی انزار یې هم خراب دي دتومورو نه ډیر زیات شعاعي حاسیت لري لاکن دعود اندازه یې هم زیات دی.

۳- Alveolar Rhabdomyo sarcoma

دادرشیمي رابدومایوسرکوما دډلی څخه یوبل ډول دی چی ډیر خراب انزار لري اودا زیاتره دنوی ځوانانو په اطرافو کې عمومیت لري.

۴- Botryoides sarcoma

لمړی سرکوما د رشیمي رابدومایوسرکوما یوبل ډول دی اودانوم ورته دانګورو د وړې دجوړښت دشباهت له کبله ورکړشویدی او دا دواړو جنسونو دبولی تناسلي طرق او په صفراوي قناتونو کې معمولاً منځ ته راځي دنومورې تومور تداوي او شفا دجذري Resection پواسطه دی.

۵- Granular cell Myoblastoma

معمولاً سلیم تومورونه دي لاکن ښایي په ۱۰% پیښو کې خبیث واوسي زیاتره د ژبی څخه منشاء اخلي او تقریباً نیمایي یې په خوله کې وي دنومورې تومورونو که غوڅول یې ښۀ پایلی لري دهستولوژي له نظره دنومورې تومورونو منشاء په مورد کې اختلاف اوس هم وجود لري او امکان لري چی نومورې تومورونه برخلاف ددی چی عظمي منشه ولري دحجراتو څخه منځ ته راغلی وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- Leimyo sarcoma

داډول تومورنه کیدای شي چی دملساء عضلاتو په څنګ کې ولیدل شي او په معدی معایي، بولي تناسلي او وعایي سیستم کې نومړي تومورونه په عمومي توګه لیدل کیږي یا ښایي چی په Retro peritoneal ناحیه کې دلویو کتلاتو په ډول راښکاره شي.

D: خبیث Synouiomas (Synovial sarcoma)

اګر چی Synovial sarcoma معمولاً د Mesenchymal حجراتو په اربطو، وتری الیافو Bursa اومفاصلو کې منځ ته راځي اود Synovial نسج په شان منظره غوره کوي لاکن داتومورنه نادراً دمفصل Synovia اخته کوي.

دمختلف مطالعاتو پواسطه لیدل شویدي چی ۸۰-۹۴% پیښو کې افت په لاندینی اطراف کې منځ ته راځي.

دګراس له نظره نومړی تومورنه تینګ او فولادی رنګ لري چی نزف او Calcification ورسره ملګری وي اودخپل لاندني ساختمانو سره کلک اړیکه لري.

دمایکروسکوپ له نظره Synovial sarcoma د Calcification لپاره باید دوه عنصره موجود وي چی عبارت دي د Adeno matous جالی مانند جوړښت او Sarcomatoa stroma څخه دی همدارنګه مخطط Calcification چی دمایکروسکوپ په ذریعه مشاهده شوي دي په ۳۰% پیښو کې د X-Ray په ذریعه هم لیدل شویدی.

دتومور د ودی په لحاظ داسی ښودل شویدی چی یوزیات شمیر ناروغان چی Synovial سرکوما لري د ۱-۱۸ میاشتو دپاره مخکی دکوم کتلی دښکاره کیدلو څخه درد یا حساسیت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Synovial سرکوما په ماشومانو کې ۱۵% منځ ته راځئ او انزار يې دکاهلانو په نسبت ښه دي په درملنه کې يې پراخه Excision شامل دی. څرنګه چی نوموړی سرکوما ۱۰-۲۰% پيښو کې عقدات هم ماوف کوي له دی کبله افت که دکوم عقدات لرونکی عضوي سره نژدی واقع وي او يا عقدات دجس وړ وي نوبايد عقدات دی قطع شي همدارنګه د Amputation په شمول د حوصلی دمفصل Disanticulation ته اړتيا پيښيږي.

تقريباء د ۴۵-۲۳% ناروغان د Excision نه وروسته د ۲۰ مياشتو په موده کې دتومور د نکس سره مخامخ کيږي.

د ۵ کالو دژوند اميد د ۲۰-۴۰% پوری ليکل شويدی شايد ۳۰-۳۵% تثقب وکړي د نوموړي تومور په عرضي تداوي کې کيموتراپي او شعاعي درملنه يو مهم رول لوبولای شي.

E: هغه سرکوماګانی چی دموي اوعيو څخه منشه اخلي:

Kaposis سرکوما ددموي اوعيو سرکوما دی چی په USA او اساساء په يهوديانو کې او ايتالوي اشخاصو کې د ۲۵ کلنی څخه وروسته منځ ته راځي. دخط استواء په افريقايي ممالکو کې نوموړي فوراء زيات عموميت لري چی هلته دعمر په هر ګروپ خلکو کې منځ ته راځي او دټول خبيثه افاتو ۱۰% جوړوي.

دا افت په لاندنی طرف کې دارغواني ډوله نوډول په څير تبارز کوي کله چی زيات وخت وربانډی ووځي نو نور نوډولونه هم ظاهريږي چی نه يواځی پوستکي بلکه په احشاء کې هم ځای درلودلای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمجاور پوستکي اذيما دناروغی دپرمختګ نښه ده نوموړی افت په حتمي ډول ديوزيات شمير محراقونو څخه منشاء اخلي. Asterography اودرخوه انساجو Roentgenography ښايي د پټ نوډول په څرګندولو کې مرسته وکړي.

درملنه يې په موضعي تشعشع ورکولو باندی استواره ده چی په Conservative توګه داسی بايد پلان شوي وي چی دا ينده نوډولونو هم تداوي کيدای شي.

دتومور په نکس کې په متوسط دوز شعاعي تداوي ډيره موثر تماميږئ خصوصا په هغه صورت کې چی ناروغی په ناحيوي ډول په پرمختللي شکل موجود وي لکه په پښو او Pedis کې دزيات شمير نوډولونو موجوديت.

په دی اوسنی وختونو کې د Vinco Alkelaid کارول اوطرف د Nitrogen mustard پواسطه Perforation کولو سره ښه نتايج لاسته راغلي دي.

د Kaposi سرکوما دتشخيص نه وروسته د ژوند پاتی کيدو اندازه تقريباء دوه کاله اټکل شويده بايد وويل شي چی دنوموړي تومورونو سره د Lymphoma پيښو اندازه لوړه ليدل شويده.

Lympho Angio sarcoma

نوموړی کثيرالمرکز تومورنه دی چی په هغه اطرافو کې چی مزمن اذيما ولري منځ ته راځي. نوموړی تومور وروسته د Metastasis څخه په عمومي توګه دلاسونو د اذيما څخه داختلاط په شکل منځ ته راځي. لاکن Mastectomy شوی اشخاصو کې د ۱% نه کم کې منځ ته راځي داسی فکر کيږي چی په هغه ناروغانو کې د Lympho انجيوسرکوما دپيښو اندازه لوړه وي کوم چی دجذري Mastectomy څخه وروسته دشعاع سره مخامخ شوی وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دناروغی شروع متوسط عمر ۲۲ کلنی او د Mastectomy نه دتومور دپیداکیدو متوسط عمر ۲۲ کلنی او د Mastectomy نه دتومور دپیداکیدو متوسط وقفه ۹ کاله او ۷ میاشتی ده دوینی دلیاری خپریدنه یې چټکه ده تداوي یې که جذري Amputation وي یا کیموتراپي یا شعاعي تداوي وي په عمومي صورت غیر اغیزمنه ثابتیږي د ژوندی پاتی کیدو متوسط اندازه د تشخییص نه وروسته ۱۹ میاشت دی.

V: لنډیز

۱- درخوه انساجو سرکوماګانی یو ډول غیرمعمولي تومورونه دي چی دلیفي شحمي عضلی او وعایي انساجو څخه منځ ته راځي یا منشاء اخلي.

نوموړی دخپل ظاهري شکل او برخورد په اساس ډیر فرقونه لري او لدی کبله ویشنه کول یې ستونځمنه ثابت کیږي. په عمومي صورت سره ویلای شو چی نوموړی ډیر خبیث تومورنه دي چی په مستقیم ډول دوینی دلیاری انتشار کوي او په ابتدایي مراحلو کې میتاستاز ورکوي.

۲- ګیلی یې معمولاء دیوفشاري او خپریدونکی کتلی له کبله دی تشخیص یې د Biopsy پواسطه ایښودل کیږي اوعموما د تشخیص ځنډ اچول د خصوصي تلوین په خاطر ګټور ثابتیږي.

۳- دنرم انساجو Sarcoma دوسیع او جذري Excision پواسطه تداوي کیږي چی د ۵ کالو د ژوند امید یې ۲۰% دی مخکی له دی چی د تومور پر اخه Excision یا Amputation اجراء ترسره شي باید چی دپټ میتاستازس شته والی رد کړو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

که جراحي عمل دشفا په غرض وکارول شي نو بايد Excision په پراخه ډول اجراء شي د Trimerous (ویدی دک) طریقه د عود دلوړو اندازو سره ملګرتیا کوي شعاعي تراپي او کیموتراپي عموماء دیو اضافه تداوي په حیث ګټور ثابت کیږي لاکن دا کار دومره باوري هم نه دی او کله کله داکار د یوی اوږدی مودی لپاره ښه عرضي تداوي ده.

۴- څرنګه چی دنومورو افاتو ډولونه خورا زیات دي اووقوعات یې دومره کم دي چی محصل دیوداسی ناروغ سره مخامخ شي چی درخوه انساجو په سرکوما باندی اخته دي.

نو باید اوسنی داسی طبي Literature مطالعه کړی چی د خاص دتومور موضوعات په کې دي ځینی اساسي رفرنسونه چی نورو منابعو ته هم لارښودنه کوي لاندی ورکړشویدي.

داندوکراین غدواتو کانسر (Cancer of the Endocrine Glands)

درقیه او فوق الکلیوي غدوات:

د رقیه غدی کانسر : Thyroid Cancer

تناظر: د رقیه غدی کانسرونه متصف دی په : ورو ودی کولو ، وروستی ګیلی، تیت Morbidity او Mortality څخه) او دټول کانسرونو د وفیاتو ۴، ۰% جوړوي. زیاتره له دی کبله چی داتومورونه د رقیه غدی د Nodule په څیر تظاهر کوي نوله دی کبله زمونږ د دلچسپي باعث ګرځي. له دی کبله چی د رقیه غدی نودول زمونږ دنفوس ۴% مصاب کړیدی د اسبابو سره یوځای مطالعه کیږي او ورځخه توپیر کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمومي تعريفات:

۱- جاغور د رقيه غدی په ډول لوی والی څخه عبارت دی چی خپور يا Nodular کيدای شي.

۲- د رقيه غدی نودول (۲۸) په نوموړي غدی باندی هر يو ځانګړی کتله ده او د سريری مقاصدو دپاره معمولاً دغدی د سطح دپاسه يا ورته نژدی وي چی لوی والی يې د يو سانتي څخه بايد زيات وي.

A: وظيفه لرونکی نودول:

معمولاً يو Capsule لرونکی نيوپلازم دی (Adenoma) چی Thyroxin افرازوي چی په متغيرو اندازو دنخاميه غدی د کنترول څخه بهر يا ازاد فعاليت کوي او لاندنی فکتورونوتوان لري:

I: د رقيه غدی دنارمل نسج انحطاط کول.

II: د راديواکتيف (RAI) ايودين اخيستل په متبارز ډول.

III: د Euthyroidism نه تر Hyper thyroidism پوری يو لړ کلينيکي اعراض توليدوي.

IV: په ډير نادر ډول خباثت غوره کوي.

B: وظيفه نه لرونکي نودولونه:

د RAI اخيستل يې په متبارز ډول ندی او زياتره دلويو کلوئيد داره فوليکولونو د ورو څخه جوړ شويدی کپسول داره يا بی کپسول کيدای شي زياتره Cystic، نرمي، يا Calcified شوی وي. ددی ډلی څخه ځينی رينبستنی او کپسول لرونکي نيوپلازم (Adenoma) دی چی دهستالوژي له نظره دپخواني Trabecular يا Tubular ډول څخه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وي اوکوم وخت چی منفرد وي خصوصاء هغه ناروغانو کې چی ۳۰ کلنی څخه کم عمر ولري یا په نارینو کې وجود ولري نو باید ضرور د یو خبیث نیوپلازم ګمان پری وشي.

C: د سږي، ثدیو، پښتورګي اوداسی نور دکارسینوما څخه میتاستاتیک نوډول منځ ته راتلل غیر معمول نه دي.

D: همدارنګه کیدای شي چی په د رقیه غدی کې Sarcoma، Lymphoma نور نادر تومورونه او Grunulomas کیدای شي چی د Nodular په څیر

۱- پیژندنه:

A: پیښی

۱- جراحي پیښی (دواقعاتو یو انتخابي ګروپ دی چی MD ته د Refer کولو پواسطه سکرین شوی وي)

A: د رقیه غدی دټول څانګړي (منفرد) نودولونو نه ۱۵-۲۰% خبیث دی.

B: دزیات شمیر نودول لرونکي جاغور (Non toxic) دجملی څخه ۲-۱۰% پوری خبیث وي.

C: دلویو Thyrotoxic غدواتو دډلی څخه یواځی ۰،۰۱ – ۰،۱ خبیث وي.

۲- درقیه غدواتو کې د اوتوپسي دوقوعاتو اندازه چی دکلینیک له نظره نارمل دی د ۰،۱ – ۲ پوری فرق کوي (۱۰۰ million-۲۰۰۰) د Data دهغه برخو شمیر له نظره چی داتوپسي لپاره اخیستل شوی وي اودتوجه له نظره چی مطالعه شویدي فرق کوي.

۳- همدارنګه هرکال په هر میلون خلکو کې د رقیه کانسر ۲۵ نوی پیښی لیدل کیږي.

B: شیوع

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکانسر په انواعو کې دښځو او نارینه نسبت جدول کې وګوری

C: دمړینی اندازه:

۱- هر کال په هر میلون خلکو کی تقریباء ۵ نران او ۸ ښځی دمرګ سره مخامخ کیږي.

پاملرنه:

د درقیه غدی په کانسر دهغوی د پیښو او وفیاتو تر منځ ښکاره توپیر یا تضاد د نوموړي کانسر دورو ودی او تیټ Morbidity له سببه دي.

B: سببي عوامل

۱- د TSH دوامداره تنبه (۸):

A: د رقیه کانسر په تجربوي ډول حیواناتو کې دایود دشدید کمښت Giotrogens (لکه کولپس او Rape تخم) دغدی ناتام Resection او RAI په مفرد یا مختلفو موادو سره یوځای تطبیق کولو پواسطه تولید یدلای شي.

B: همدارنګه ددا سی پیښو راپور ورکړل شویدي چی دا څرګند وي چی نه تداوي شوي Hyper plastic غدواتو چی په ولادي Cretins کې موجود وي په د رقیه کانسر باندی بدلیږي.

۲- دشعاع اغیزی چی دهستوي Anrtipicality لامل ګرځي (۱۴، ۱۹، ۲۹)

A: په هغه شیدي خوړونکو ماشومانو او ځوان کاهلانو کې درقیه کانسر وقوعات اندازه دکتنی وړ ده کوم چی دتداوي په منظور د سر او غاړی اویا د ماشوم د Thymus برخی دشعاع سره مخامخ شوي وي (ددی خبری پلتنه په هغه ناروغانو کې کوم چی د درقیه غدی داشتباه لاندی نیول کیږي).

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- هغه سببي عوامل چې په کمه اندازه ښه تشريح شوي وي.

A: ديوی اوږدی مودي غير سمي کلوئيدي جاغور ارتباط د Anaplastic او Papillary سره.

B: د Follicular adenoma ارتباط د يو پيش قدم خبيثه افات په حيث د Follicular Ca سره.

C: د ارثيت او Neural crest analoges رول د Medullary Ca په منځته راوړلو کې.

۴- حمل د رقيه کانسر باندی کوم څرګند تاثير نه لري. (۱۵)

E: اپيديمولوژي

ګرچې Wegelin داسی ښکاره کړه چې درقيه کانسر دجاغور په Endemic مناطقو کې ډير عموميت لرلو لاکن اوس زمونږ په هيواد کې داخبره کوم عملی جنبه نه لري.

II: کلينيکي لټنه:

A: عمومي اعراض او علايم

۱- تاريخچه: ۲۰% رنځوران دجاغور فاميلي تاريخچه لري او زمونږ د Series څخه ۱۰% مريضانو يو بل ډول هم لرلو.

۲- اعراض او علايم (۲۲) (په II جدول کې وليدل شي).

III: تشخيصي طريقی

A: راديواکتيف ايودين ۱۳۱ Scintiscan RAI

زيادتر د راديواکتيف ايودين د رقيه کانسر له خوا په کمه اندازه اخيستل کيږي. له دی کبله د شاوخوا دنارمل غدی په خلاف ديو فلج ناحيی په توګه تظاهر کوي له دی کبله په يخ

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

نودلوونو باندی دکانسر اشتباه کیږي لاکن بیا هم داډول نودولونه دکلوئیدي نودلونو، Calcification، Cyste نزف او سلیم Adenoma سره زیات عمومیت لري.

پاملرنه:

دیونودول په شاتنی برخه کې واقع شوی درقیه غدی یو نارمل نسج د نومورې نوډول یخ طبیعت پتولای شي اوسنی پرمختګونه داسی ښودلي دي چی په RAI فوقیت لري (۲۵).

B: Needle Biopsy :

سره له دی چی دستنی بایوپسي دیوی وازی طریقی مخه نیولای شي خو بیاهم ددی دتطبیق کولو طرف داری نه کیږي او اکثراء د ناروغ طبیعت او پراخوالی اندازه کول مناسب نه ګڼل کیږي او ښایي چی دپتالوژي نماینده ګي هم ونکړي بلکه تومور ته انتشار ورکولای شي یا خارج خواته دلیارو په حذا کې دهغوی Seeds ته انتقال او انتشار ورکولای شي.

دمایع څخه ډک یو Cyst ستنی یا پیچکاري په ذریعه Aspirate کول ګټور تمامیږي او دغیر ضروري جراحي څخه مخنیوی کوي. (۱۳)

- (Transillumination وکتل شي)

C: Metastatic سرعت:

د هډوکو Osteoclyt افات، د منصف عقداتو غټوالی یا دنرم Metastatic ارتشاح موجودیت دیو داسی ناروغ په سرو کې چی درقیه غدی ځانګړی نوډول یا زیات شمیر نودول لرونکی جاغور باندی اخته وي داکتر درقیه کانسر خواته اشتباهي کوي.

په هغه نادرو پیښو کې چی نومورې Metastasis خبله وظیفه دلاسه ورکړی نه وي د Scanning طریقی پواسطه Localization ترسره تشخیصي ارزښت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: دغاړی Roentogen کتنه:

په هغه صورت کې چې وروسته دباریوم دبلعی څخه دشزن بیځایه کیدل تثبیت شي چې دجاغور پواسطه پیداشوي دی داکتر اشتباه د Ca په خباثت باندی نوره هم قوي کیږي.

که په منظم ډول ترسره شوی د سینی عکسونو کې شزن فوراء ولیدل شي او په هغی دمساوي، خرابی څنډی، نفیس یا نازک خیالونه، ګډوډ Calcification چې خطي یا د Nodular په څیر وي (چې د Psammowe bodies په نوم یادیږي) د رقیه غدی په نرم نسج کې د X-ray پواسطه ولیدل شي نو داډول بدلونونه به د Papillary follicular کانسر په یو زیات شمیر پیښو کې دکتنی وړ وي.

E: غیر مستقیم Laryngoscopy

دابایـد پـه عـادي ډول ترسـره شـي دحبـول صـوتي یـو طرفـه یـا دوه طرفـه فلـج معمـولا دخپریدونکی درقیی کارسینوما یوه وتلی علامه ده.

F: Transillumination

نوموړی اسانه لاره ده چې ښایي دیو ساده مایع څخه ډک کلوئیدي Cyst په تشخیص کې ډیر سطحي واقع شوی وي په رول ولري خو بیا هم مونږ دیو ناروغ په Colliod ستې کې د Papillary Ca منځ ته راتلل لیدلی دی.

G: د رقیه غدی وظیفوي تستونه

په اسشتنی د Cold Acan د رقیی غدی وظیفوي تستونه ډیر کم ارزښت لري نوموړی ناروغـان زیـاتره Thyroid وي او نارمـل PBI ، از اد Murphy pattee او Thyroxine blinding لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځینی وخت یو غیر نارمل Iodo protein مغلق لیدل کیږي لاکن دعادي تشخیص لپاره کومه ګټه نه لري Ca insitue او وظیفه لرونکی Follicular Ca کې د Hyper thyroidism پیښی نادری وي چی دخپور او پراخه Metastasis سره ملګری وي چی د پورتنی ټولو تشخیصي طریقو ضرورت به لیری کړي.

H: د رقیی غدی Angiography:

ددی په باره کې د راپور ورکړ شوي ځیړنو توقعات ډیر ښه دی لاکن دغه تکنیک تراوسه لږه اندازه ستونځمن دی او داجراء کولو لپاره یې یو ماهر تیم ته اړتیا وي.

د رقیه غدی دکانسر په ۱۰۲ ناروغانو کې ګیلی او ننبی

	Papillary Ca	Follicular Ca	Anaplastic Ca
	۲۲	۳۳	۷
	فیصدي	فیصدي	فیصدي
Hoarsness	۹	۱۵	۵۵
Dysphagia	۱۱	۱۲	۲۸
Pains Pressure	۸	۲	۲۸
Dyspnia	۳	۲	۴۳
زیاتیدونکی جسامت	۵۲	۷۵	۸۵
ځانګړی نوډول	۲۰	۲۵	۱۴
زیات شمیر نوډولونه	۳۳	۲۰	۷۰
په عادي معاینه کې لیدل شوي	۲۷	۳۰	۰

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

IV: ویشنه

۱- کلینیکي Catagories د AJC (TNM) (۲) او ICC Catagories سره پرتله شویدي (اخرنی په Paracenthesis کې ورکړل شویده.

To Ca کې کوم دجس وړ مقدم تومور وجود نه لري.

په لوی عرض لرونکی تومورچی ۵ سانتي متر دی (کوم سوء شکل او تحرکیت خرابوالی نه لیدل کیږي) T۲ ۵cm یا لوی (سوء شکل یا زیات تعداد تومورونه د تحرکیت سره یوځای وجود لري).

په متصله جوړښتونو کې نیغه خپریدنه (دتثبیت شتوالی).

B:درقیبی ناحیی غوتی د جس وړ نه وي او که دجس وړ هم وي تر اشتباه لاندی نه وي.

N۱ دجس وړ غوتی په عین خوا کې حرکت لري ټولی نه وي د Metastasis اشتباه موجوده وي.

N۳ تثبیت شوي رقبي عقداتو دمیتاستازس اشتباه موجوده وي.

C: Mo دلیری ځایو دمیتاستازس کوم شواهد وجود نه لري.

M۱: دلیری ځایو د میتاستازس لپاره کلینیکي اویا رادیولوژیک شواهد نشته.

۲- کلینیکي مرحله بندي (TNM سیستم دکارولو پواسطه).

Ca : اوله مرحله Stage I

IA	IB
T۰	TI

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

N۰ N۱ N۲ N۳ N۰ N۱ N۲ N۴

دویمه مرحله: T۲

N۰ N۱ N۲ N۳

N۰

دریمه مرحله Stage III IA

T۳

N۰ N۱ N۲ N۳

N۰

څلورمه مرحه هریو Stage IV and T or N

NI

۳- د رقیه غدی کې په لاندی ډول تشکل کوي او ښایي چی په لاندی ډول هم خپور شي.

A: دغدی په داخل کې.

۱- نیغه خپریدنه دریښتنی یا کاذب کپسول پواسطه د نارمل میزانشیم ماوفه کول لپاره.

۲- یوزیات شمیر Seeds (شحم) ورکول په دواړو خواو کې د رقیه غدی دلمفاوي سیستم پواسطه انتشار کول اودغدی استیلاء کول.

B: دغدی څخه د باندی: Extra glandular

۱- د رقیی دلوب کپسول یا Isthmus کې نیغه خپریدنه ګاونډیو عضلی منظم نسج ، عصب یاشزن ته.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دناحیوي منصف یا دلیری ځای عقداتو ته دلمفاتیک خپریدنی په ذریعه.

۳- دموي اوعیی دحملی لاندی نیول او بیا لیری ځایو ته میتاستاز ورکول.

B: پتالوجیکي درجه بندي (۴) : Pathological Staging

۱- هستالوژیکي ویشنه

A: Papillary Carcinoma

۱- Papillary

۲- Follicular papillary سره یوځای.

B: Follicular carcinoma

۱- لمړی ډول د Papillary Ca دبدلون څخه په Follicular ډول.

۲-دویم ډول موضعي Follicular Ca

۳- دریم ډول خپریدونکی Follicular Ca

C: Medulary carcinoma

D: Anaplastic

۲- درجه بندي (۳):

A: لمړی درجه کپسول لرونکی مدور نیوپلازم چی یواځی په خفیف توګه جامده عضوه یا اوعیی ماوف کړي.

B: دویمه درجه: دغدی شاوخوا کې نورهم زیات شدیده ارتشاح چی تومور لږ کم تفریق شوی وي کثیر الشکل او د Multi nucleated حجراتو سره وي اوډیر زیات اندازه Mitosis لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: پتالوژيکي طرزالعمل:

ددی غدی د ټولونه عام ډول کانسر Papillary Ca ده چی دکاهلانو د درقیه غدی دټولو کانسرونو ۵۰% اودماشومانو ۷۰% جوړوي.

تر کلونو پوری په موضعي شکل پاتی کیږي او بیا موضعي رقبي عقداتو ته انتشار کوي او پس له دی د منصف غدواتو او سږو ته انتشار کوي.

کله کله لمړنی محراق څرګند نه وي چی دپام وړ دوامدار Sectioning ته اړتیا لري زیاتره Multi focal او دوه طرفه وي د ۴۰ کلنی څخه مخکی مرګ په ډیر ندرت سره واقع کیږي څرنګه چی Papillary Ca شدید انتشار کوي نو ځکه په پراخ ډول سره میتاستاز ورکوي.

۳- Medullary دیوجامد او Anaplastic تومور په ځیر تظاهر کوي لاکن په حقیقت کې لږ ورو سیر لري څرنګه چی میتاستاز ته زیات میلان لري نو دعقداتو ماوف کیدل زیات عمومیت لري دنومورې بارزه وتلی ننبه دتومور په ډول امتداد کې د Amyloid ذخیرو سره یوځای وي نومورې زیاتره د Neural crest analoge د جینتیک سوء تشکلاتو سره یوځای واقع کیږي یعنی Pheo chromo cytoma او Neuro fibro mitosis داسی لیدل شوی دی چی نومورې نیوپلازم هغه Para follicular حجرات ماوف کوي کوم چی Calcification تولیدوي نادراء داتومور ACTH هم جوړولای شي او د Cushing Syndrome دمنځ ته

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

راتلو لامل کیږي هغه Para thyroid تومورونه چی ددی تومور سره ملګرتیا کوي هم تشریح شویدي کورنی تاریخچه باید په ډیر غور سره ولټول شي.

۲- Follicular Carcinoma

د رقیه غدی دټولو کانسرونو ۳۰% جوړوي دنوموړي پیښی په ۳۰-۵۰ کلنی کې اعظمي حد ته رسیږي او عقداتو ته انتشار کولای شي لاکن ډیر ژر د موي اوعیی دحملی لاندی نیسي اودلیری ځایو دمیتاستازس لامل کیږي خصوصاء هډوکو ته د نوموړي دریم ډول یې خپریدنی ته ډیر تمایل لري زیاتره دوه طرفه وي عودکولو ته میلان لري او ډیرخطرناک انزار لري لمړی او دویم ډول یې د طرزالعمل له نظره Papillary Ca ته ورته والی لري.

۴- Anaplastic Ca د کوچنی، لوی او Spindle حجری دکانسرونو په څیر تظاهر کوي چی ډیره چټکه وده کوي او د پراخه خپریدنی له کبله شدید موضعي ګیلی او نښی منځ ته راولي.

په پراخ ډول میتاستازس ورکوي او که په Uniodular مرحله کې تشخیص نه شي نو ۱-۲ کالو په منځ کې دمرګ لامل کیږي.

۵- درقیه غدی میتاستاتیک کانسر د رقیه مقدم کانسر هستالوژیکي لیاری نه تعقیبوي له دی کبله کیدای شي دهډوکو میتاستازس د یو حقیقي مقدم Papillary څخه دیوجلا شوي Follicular په ډول ولیدل شي.

V: مخکی له دی چی دغدی په داخل کې یا دباندی یادلیری ځایو Metastasis منځ ته راشي مقدم تشخیص اوپه مکمل ډول دتومور لیری کول اړین ګڼل کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

څرنګه چې دتومور عود Morbidity او مرګ کیدای شي چې داوږدی مودی لپاره په تاخیر واچول شي نو ددی کبله دتداوي دټول شکلونو د ګټو اندازه او شمیرنه نیول خورا ګران تمامیږئ د درملنی د لارو په نسبت دکوربه فکتورونو او دتومور بیولوجیکي طرزالعمل ښایي چې دزیات ارزښت لرونکی وي.

۱- جراحي

A: د Papillary کارسینوما لپاره:

په هماغه طرف کې دغوټو ترمیم شوی Resection اوتام Thyricdectomy که دمخالف طرف عقدات مثبت وي نو په ۲۰% پیښو کې د دوارو خواو عقداتو Resection کول.

په پورته ذکر شوي پلان باندی درملنه کول د سوال لاندی دی یوزیات شمیر ښی ترسره شوی پلټنې په دی نتیجه ته رسیدلی دي چې دعملي پراخوالی د ناروغی په سیر باندی کومه تاثیر نه لري لاکن ددی په عوض درقیه غدی دباندی څخه په په انحطاط راوړلو پوری اړه لري.

B: د Follicular کارسینوما لپاره:

د لمړی اودوهم ډول لپاره Lobectomy اودموضعي عقداتو سره د Isthmus غوڅول کول په داسی حالت کې چې استطباب ولري.

همدارنګه د دریم ډول لپاره دپورته ذکر شوي Papillary په څیر کار اخیستل کیږي.

C: د Medullary کانسر لپاره:

تام Thyriodectomy اودغایي غوټو غوڅول.

D: دمیتاستاتیک کانسر لپاره:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

یواځی په نادرو پیښو کې تام Thyriodectomy هغه وخت ترسره کیږي کوم چی مرضي پروسه موضعي پاتی شوی وي همدارنګه زیات شمیر ناروغان د عملیات وړ نه وي او که تنفسي لاری ماوفي شوی وي نو Trachectomy ته اړتیا پیداکوي.

۲- شعاعي درملنه

A: دشعاعي تداوي پر وړاندی د رقیه غدی دکانسر د غبرګون باید نوره هم اندازه ګیري وشي.

Smedal او ملګري یې دداسی ناروغانو په مورد کې دښو پایلو راپور ورکړی دی چی په بیل شوي کانسر باندی اخته وه اودغاړی دعقداتو دبیخه ایستنی په عوض دعملیاتو څخه وروسته د Mev ۲ شعاع پواسطه معامله شوی وه.

B: Follicular او Papillary کانسرونه په لږ څه دشعاع په وړاندی ټینګار لري اودعملیاتو نه وروسته دکنترول لپاره بهترینه وسیله داده چی باید دباندی نه تشعشع ترسره شي دغاړی لوی کتلی په ناتام ډول ارجاع اود هغی وده په موقتي صورت سره ودریدای شي لیکن په مکمل صورت سره له منځه وړل یې نادر دي.

C: دکوچنی حجری Anaplastic کارسینوما ګانی شعاعي حساسیت لري او شدید شعاع په وړاندی درملنی ته اړتیا لري کله کله پتالوجیکي تشخیص غلط ثابتیږي او په تعقیبي مشاهده کې دیو Lymphoma په حیث تثبیت کیږي.

D: لوی حجروي Anaplastic کارسینوماګانی په حقیقت کې دشعاع په مقابل کې مقاومت لري.

E: دهډوکو په میتاستازس کې موفقانه لاکن په زړه پوری غبرګون مشاهده شویدی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- دشعاعي فعال ايودين درملنه:

A: بنه تفريق شوی Follicular Metastasis زياتره يو څه اندازه ۳۱-۱ RAI د راټولو توان لري.

B: دنومورو دتمايل دزياتولو لپاره تام Thyriodectomy د TSH دافراز د بنه کولو په منظور ترسره کيږي.

C: دباندی نه د TSH کارول زياتره اکثراء دمايوسي سره مخامخ شويدي او څرنګه چی د رقيه غدی ضد درملونه لکه Aropyl thiouracil لوړ دوزونه هم ناکام ثابت شويدي.

D: ترکومه پوری چی Metastatic افتونه په اعظمي حد پوری تنبه شوي نه وي په هر اوني کې د Tracer اخيستنه تکراريږي.

E: درملنه د ۱۳۱ RAI د H ۲۰۰-۷۵ د ۳-۴ اونيو وقفو پوری ورکولو سره ترهغه وخته پوری دوام کوي چی ترڅو پوری احتباس منځ ته نه وی راغلی.

F: ناروغ د Trijodo thyrosin په انحطاطي دوزنو باندی ساتل کيږي او هغه وخت ورته توقف ورکول کيږل کله چی بيرته اندازه کولو ته اړتيا پيداشي.

G: بهترين پايلی او زيات اندازه شفا په هغه ناروغانو کې راپور ورکړشوی دی چی دسږو په ميتاستازس باندی اخته وي.

H: دهډوکي ميتاستازس په عرضي ډول تداوي کيدای شي لاکن په نادر توګه دافتونو مکمل بيرته ترميم منځ ته راتلای شي.

۴- درقيه غدی انحطاطي تداوي:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خارجي تايراید هورمون په لوړ دوزونو سره د TSH افراز نهیه کوي انحطاطي خارجي تايراید هورمون باید ټول مریضانو ته دمناسب مقدم درملنی نه وروسته توصیه شي داسی هم امکان لري چی دیو B adrenergic لکه Propanolol blocker دعلاوه کولو په ذریعه د خارجي T۴ په مقابل کې د ناروغ تحمل زیات کړی شي د TSH پواسطه دانحطاطي درملنی دتنظیم کولو لپاره ښایي چی Radio immune Assay گټور ثابت شي دانحطاطي تداوي سره دناروغ عود عمومیت لري زاړه اشخاص ډیر ژر د انحطاط سره نه مخامخ کیږي.

VI: پایلی او انزار:

A: دژوندی پاتی کیدلو احصائیه:

د رقیه غدی دکانسر ۲۰% ناروغان دمرګ سره مخامخ کیږي.

Papillary ۱۳%، Follicular ۲۲% Anaplastic ۸۴% د Papillary او Follicular کارسینوما لپاره د ۱۰-۲۰ کالو دژوند اندازی یوشان ده (د ۱۰ کالو د ژوند اندازه ۹۰%، د ۲۰ کالو دژوند اندازه ۲۰%)

خپریدونکی Follicular کارسینوما خراب انزار لري.

د ۱۰ کالو د ژوند اندازه ۲۰% د ۲۰ کالو ژوند اندازه ۳۵%.

B: دناروغی اختلاطات

۱-هغه ناروغان چی د رقیه غدی په کانسر اخته دي زیاتره دتنفسي لارو د بندوالي، نمونیا، وینی بهیدنی او Thrombo embolism له کبله مړه کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دهډوکو دمیتاستازس له کبله زیاتره دردناک سوء شکل او عموماء پتالوجیک کسرونه واقع کیږي.

۳- څرنګه چې پورته هم ذکر شول ښایي چې وظیفه لرونکي Follicular کارسینوما د هایپرتایروئیدیزم لامل شي.

C: دتداوي اختلاطات

A: جراحي

۱- تام Thytriodectomy کیدای شي چې دعود کوونکی عصبي فلجونو او د Hypo parathyriodism لامل شي.

۲- Hypothyriodism ډیر ژر تداوي کیدای شي اودناروغی په تداوي کې کومه ستونځه نه پیدا کوي.

۳- دغاړی جذري تسلیخ د سوء شکل سبب ګرځي.

B: د RAI ۱۳۱ درملنه

۱- خفیف شعاعي ناروغتیاء او دهډوکو دمخ انحطاط منځ ته راولي.

۲- دحوصلی دمیتاستازس په شتوالی کې دشنډتوب دمنځ ته راتلو لامل ګرځي.

۳- ډیر زیات شمیر مولفینو له خوا څخه د Leukemia راپور هم ورکړل شوی.

D: دانزارو فکتورونه

دپیښو اودژوند دپایښت اندازه په ناروغانو کې:

مرحله	دواقعاتو اندازه (%)	دژوند اندازه (%)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

		۱۰ کالو	۲۰ کالو
IA	۱۴	۹۰	۸۸
IB	۵۵	۸۹	۸۲
II	۱۵	۵۴	۴۲
III	۱۰	۲۹	۱۲
IV	۲	۱۰	۱۰

E: دناکامي اسباب

دغدی داخلي دوه طرفه خپريدنه او نه تشخيص کيدنه د درملنی د ناکامی سبب کيږي.

۲- دماوفه لمفاوي عقداتو نه ليری کول

۳- دمقدم تومورنه ليری کول او ليری ځايو ته ميتاستازس ددموي اوعيو ماوف کيدل د تداوي دناکامي لامل کيږي.

F: تبصره

د رقيه غدی دکانسر په مورد کې تراوسه پوری پلتنی نه دی تکميل شوي دمقدم تومور او دغوټو دمناسب جراحي تداوي په مورد کې افات تراوسه جريان لري.

دفوق الکليه غدی دقشر کانسر

تناظر:

نومورې تومورونه ډير نادر اوفوق العاده خبيث دي او معمولاء هغه وخت تشخيص کيږئ چی ليری ځايو ته يې ميتاستاز ورکړي وی دادرينل دقشر کانسر ديوی ليری کتلی په ډول تظاهر کوي کوم چی په مجاور ساختمانو پوری ننښتی وي يا دندی لرونکي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کارسینوما په څیر چې د Cushing syndrome لامل کیږي چې د Feminization, Verilizartion ، Hypertention ورځخه یوائی اویا په ګډ ډول منځ ته راځي.

۱- پیژندنه

A: پیښی

۱- په هریومیلون خلکو کې دوه نفره اخته کوي

۲- په Literature کې زیاتره راپورونه دهغو پیښو په پلټنې باندی تکیه کوي کوم چې په ځانګړي ډول اویا په کم شمیر مطالعه شویدی.

بهترین Series دلاندی عالمانو له خوانه ورکړل شویدی Rappapont ، Heinbecker, Macferlane, Lipsetf او Hutter

B: شیوع

۱- عمر : دعمر په هره مرحله کې دلیدنې وړ دی چې متوسط اندازه یې ۴۰ کلنی ده.

۲- نسل: کوم امتیازي خصوصیت په دی مورد کې نشته

۳- جنس: په نرانو کې دپیښو اندازه یې په خفیفه توګه زیاته ده په واړه Series او پیښو کې چې راپور ورکړل شویدی زیاتره تومورونه د دندی لرونکی کانسرو له جملې څخه دی (یعنی Virilism او Cushing) او په ښځو کې یې پیښی ډیری دی لاکن دکانسرونو په لوی Series کې دپتالوژیک تشخیص د راپور په اساس یې وقوعات په نرانو کې زیات دي.

C: وفیات: دټولو کانسرونو ۲ ، ۰% جوړوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: سببي عوامل: دقشري خباثت لپاره ورځخه تراوسه بيان شوي نه دی همدارنګه کورنی مساعد کوونکي عوامل هم ندي ليدل شوي ځينی تومورونه ښايي چی داخلي ACTH ته حساس وي.

E: Epidemiology

ديورپ او متحده ايالاتو ځخه چی کوم راپورونه رارسيدلي دې دکوم مخصوص جغرافيايي Climate ځخه ياد اوری نه ده شوی.

II: کلينيکي لټنه

۱- موضعي انتشار او په تالي ډول ليری ځايو ته ميتاستازس

A: په زياته اندازه موضعي خپريدنه ښايي چی په پښتورګي کې بيځايه کيدنه، بندوالی اويا ويجاړي منځته راوړي چی د درد، وينی بهيدنی او ديوی لوی بطنی کتلی دجوړيدلو لامل کيږي (د Lipsettis پيښو ۴۴% جوړوي).

پريتواني خپريدنه د Ascitis لامل کيدای شي.

B: عميق او سطحي عقداتو ته په پراخه توګه ميتاستازس ښايي چی د يو خاموش Lymph adenopathy په ځير په Chest X-Ray اويا فزيکي معاينه کې ښکاره کيږي.

C: ميتاستاتيک افات په هره عضوه اويا سيستم کې انتشار کولای شي اود اعراضو لامل کيږي هډوکو ته ميتاستاز غير معمولی دی او ښايي چی Lytic اويا Blastic بنيه لري.

D: دوزن بايلل، Fatigue، بی اشتهايي، تبه، خوله دنورو خبيثه افتونو په ځير عموميت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- Endosrine سندروم

کوم وخت چی نیوپلازم (وظیفوي لرونکی) نسج ماوف کړي نو کیدای شي چی سریري اندوکراین اعراض ورڅخ منځ ته راشي اویا رانشي داڅرګنده ده چی دادرینل کانسر د ۱۷ Ketosteriod او Corticosteroid ۱۷ OH په لوړ مقدارو اطراح کوي بیله دی چی ددی زیاتوالی کوم کلینیکي اعراض منځ ته راوړي او له همدی کبله په Literature کې د Terminology د Confusion لامل شویدی.

ویشنه:

۱- غیر وظیفوي: دستروئید دافراز Output نارمل وي اویا کم وي او د ادرینل دنسج دنارمل پاتی شونو څخه تولیدیږي.

۲- وظیفوي: دستروئید تولید دغیر نارمل حدود څخه زیاتیږي لاکن کوم سندروم منځ ته نه راولي.

۳- سندروم تولیدونکی: په دی شرایطو کې دستروئید تولید زیاتیږي چی په غیر نارمل حدود کې وي او په عمومي ډول سره دمتجانس اویا مخلوط Endocrinopathy دمنځ ته راتلو لامل کیږي.

A: په نرانو کې د Feminization منځته راتلنه:

په پیشرفته ډول د Impotence له منځتلل، Gyne comastia, , Atrophic Edemaچی په متغیر ډول دمیاشتو او کالونو په اوږدو کې هم منځ ته راځي.

B: په ښځو کې د Verilization منځته راتلنه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Hyper trichosis ، دنرانو دعانی دویښتانو په شان ترتیب غوره کول (Escutcheon) داواز د ژورتیا زیاتیدل، غوړ پوستکي، دویښتانو Bitemporal resection د Clitoris غټیدل (په ځوان نارینه و کې جنسي Precocity منځ ته راولي).

C: Cushing syndrome

معمولا دیوی پرمختللي کلینیکي بڼی په واسطه ښکاره کیږي کوي چی Hirsutism ورسره یوځای وي او په عمومي ډول سره په ښځو کې لیدل کیږئ او تر ډیره وخته پوری نوموړی سندروم د ادرینل دکارسینوما دمنځ ته راتللو لپاره لازه برابروي په یو ماشوم کې Cushing syndrome زیات عمومیت سره د ادرینل دکانسر له کبله منځ ته راځي.

D: Hypertension :

دالدستیرون دتولیدونکی کانسرونو راپور ورکړی شوی دی Halter داسی یو نظر ورکړیدی چی کیدای شي په ځینو پیښو کې دپښتورګي د شریان دبندش له کبله منځ ته راشي.

E: مخلوط سندروم

کیدای شي چی ځینی حالتونه په ګډ ډول سره وجود لري اویو مخصوص حالت په بل باندی متبارز وي لیکن په اساسي ډول دمخلوط سندروم موجودیت زیات عمومیت لري همدارنګه دانارونی دپرمختګ په اوږدو کې دیوحالت څخه په بل حالت بدلیدل هم بیان شویدي.

F: غیر مناسب پولي پیپتایدي هورمونونه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دادرینل کانسرونه په نادر صورت سره ګونادوتروپین او یو Hypoglycemia ماده تولیدولای شي چی امکان لري د Insulin په څیر وي.

Walter دادرینل دغدی دقشر دیو نادر تومور راپور ورکړیدی چی Atholam تولیدوي او د Pheochromocytoma په بڼه راښکاره کیږي.

III: تشخیصي لارې

A: X-ray Localization (د X-ray پواسطه د تومور دځای معلومول).

۱- داخل وریدي Pyelography دفوق الکلیوي کتلی په برخه کې چی پښتورګي بی ځایه کړی وي ښه شواهد وړاندی کوي.

۲- Nephro tomogram ښایي په تشخیص کې زیاتره مرسته وکړي خصوصاء کوم وخت چی Retro peritoneal Pneumography سره یوځای ترسره شي او د O۲ اویا CO۲ متوسط فشارونه په کې وکارول شي دادرینل کتلی په ډیر متبارز او واضح ډول ښکاره کیږي اود Airemboli دامکاناتو دکمولولپاره باید ناروغ په ښي اړخ واچول شي.

۳- انجیوګرافي ښایي چی یو پراخ وعایي جال (Network) دادرینل په نیوپلازم کې ښکاره کوي د نوي تکنیکونو دکارولو پواسطه دادرینل Venography پواسطه کولای شو چی دنیوپلازم تشخیص په مورد کې نور زیات کومکونه وکړي.

B: لابراتواري Data

۱- دمتبازو څخه دستروئید بیلول ډیر ارزښت لري (باید ورځني بدلونونه په نظر کې ونیسو) اګر چی ۲۴ ساعته اندازه یې خورا لوړه ده لیکن د ستروئید د تولیدولو ظرفیت

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

يې دکانسري نسج دفي ګرام له نظره ټيټ دی له دی کبله مخکی له دی چی تومور وليدل شي ډيره زياته وده يې کړی وي.

A: په عمومي ډول سره په وظيفه لرونکی کانسرو کې د Keto steroid ۱۷ دسويی لوړوالی يا په ځانګړي ډول اويا د نورو ميتابولايتو سره يوځای دليدنی وړ دی که په دي برخه کې زياتوالی وليدل شي نو دکارسينوما خواته لارښودنه کوي. اوس دامشاهده شويده چی DHE Dehydro epindrosterone په سويه کې په متبارز ډول زيات والی منځ ته راځي.

B: په غير وظيفوي کانسرونو کې دستروئيد نارمل اطراح د ليدنی وړ ده يا کيدای شي چی په متوسط اندازه تر انحطاط لاندی راغلی وي يعنی کم شوی وي. ځرنګه چی مخکی مو هم وويل چی ځينی کانسرونه خپل نارمل وظيفه اجراکوي لاکن کوم ځرګند کلينيکي سندروم منځ ته نه راولي.

D: د Hydrooxycoticoid ۱۷ دسويی زياتوالی هم عموميت لري لاکن بياهم د Ks ۱۷ په شان دکتنی وړ نه وي که په دی ډول منځ ته راغلی زياتوالی د Dexamethasone دتطبيق سره دمنځه لاړ نشي نو دادرينل دقشر دکانسر خواته فکر کيږي.

E: دستروئيد بين البيني ډولونه هم ډير عموميت لري چی د H & B په موقعيت باندی د Hydroxylation په عمليه کې تامه او نسبي عدم کفايه زياتره ليدل شوی ده همدارنګه دلاندنی ذکر شوي ستروئيدو په ترکيب کې زياتوالی هم ليدل شوی.

Androsten dione, Estrogen, Testeserone, Aldosterone ، Pregnantriol DHE او Tetra hydro S

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: په غیر نارمل لمفاوي عقداتو، دپوستکي یا دپوستکي لاندی ترشک لاندی کتلو کې بایوپسي استطباب لري نوموړی تومورونه په پراخه ډول سره میتاستاز ورکوي.

IV: ویشنه

دنوموړي تورمورونو لپاره اناتومیک کلینیکي او پتالوجیکي مرحله بندي په مفصل ډول برابره شویده.

دګراس له نظره نوموړی تومورونه په وصفي ډول غټ، محجم تومورونه دي چې پرې شوی سطح یې زیږه وي چې زیاتره وینه لرونکی Cystic اونکروتیک وي نوموړی تومورونه د کپسول پواسطه چاپیره شویدي.

په اولنی مرحله کې نوموړي تومورونه د کوچني کپسول لرونکی تومورونو په څیر ښکاره کیږي چې Adenomas ته ورته والی لري دنوموړو د خباثت اولنی ثبوت د هغوی د Metastasis څخه عبارت دي نوموړی تومورونه کولای شو چې دادرینل دغدی په وریدي اجوافو کې نشونما وکړي او لمفاوي اوعیو ته پراخه شي دهستالوژي له نظره نوموړي تومورونه کیدای شي چې ډیر سلیم اویا ډیر خبیث واوسي لاکن ددوی تر منځ یواځنی فرق په کپسول باندی تهاجم اومیتاستازس دی.

د Poly gonal دحجراتو راټولیدنه چې لیپیدي مواد ولري په اسانه سره دپښتورګو د ادینوکارسینوما سره غلطیږي کیږي په عادي منظره کې Multinucleated, Pleomorphism حجرات او Spindle شکلونه لیدل کیږي کوم تومور چې وظیفه لرونکی دي نو هغه نواحي چې میتاستاز یې ورکړی وي یا هغه افت چې عود یې کړی وي دخپل مورنی هورمونو لرونکی وي خو بیا هم دیو څو تعبیراتو راپور په دی لړ کی ورکړل شویدی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

V: د درملنی پرنسیپونه

۱- د NIH په سریز کې یواځی د ۳۸ څخه د ۱۸ ناروغانو د درملنی لپاره Curative ترسره شویده.

۲- دعملیاتومخکی او وروسته شعاعي تداوي دموضعي انتشار دمنځه وړلو په منظور کارول شویده.

۳- د OPDDD کارول P Chloro phenyl , ۱,۱ Dichloro ۲- Cochloro Phenyl rthane په هغه پیښو کې چی دعملیاتو وړ وه یوځه په زړه پوری پایلی ورکړیدي. نوموړی درمل د mg Tid ۱ په دوز ورکولی شوو چې د ۱۰-۸ ملي ګرام په ورځ دمجموعي دوز دلوړولو نه وروسته به په Metastasis ورکولی کې دکتنی وړ رجعت یا کموالی ولیدل شي همدارنګه به دمتیازو له لاری د ستروئیدو په غیر نارمل اطراح کې کموالی هم ولیدل شي نوموړی دوا د ادرینل په انساجو باندی نیغه اغیزه لري لاکن درست میخانیکیت یې څرګند شوی نه دی.

۴- دادرینل دکانسر په درمنله کې د Amino glate thimide کارول چی پخوا زیات وه اوس یې خپل ارزښت له لاسه ورکړیدی ځکه چی وخیمی تسممي اغیزی اودکانسر په نشونما کې عدم کفایه او اندوکراین انحطاط منځ ته راوړي.

۵- Pyramidine یو Analoge دی چی دنوکلیک اسیدو دجوړیدلو مخه نیسي نوموړی درمل د OPDD سره یوځای درملنی په منظور کارول شویدی دنوموړي درملونو داغیزی داندازه کولو له پاره یوزیات شمیر پیښو ته اړتیا ده ترڅو دتداوي دتاثیر اندازه ورځخه معلومه شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

VI: پایلی او انزار:

A: دژوند اندازه : ښه کنترول شوي مطالعات چی د Ca په ګروپ کې دژوند په اندازو باندی اجراء شوی په لاس کې نشته.

۲۰ داسی ناروغان چی دعملیاتو وړ نه وي او د Macforlan له خوا پلتل شوي وه دتشخیص دوخت څخه یې دژوند متوسط اندازه ۲-۹ میاشتی وه. په طبي Literature کې په دی مورد کی اختلاف نظر موجود دی چی ایا هغه ناروغان چی په سندروم تولیدونکی اویا وظیفه لرونکی کانسر باندی اخته وي دهغه ناروغانو په نسبت چی نارمل غیر وظیفوي تومورونه لري دژوند اندازه یې ښه ده.

B: د درملنی پایلی

۱- جراحي: د وظیفه لرونکی کانسرونو په بشپړه ډول ایتسل معمولاء دکلینیکي سندروم دمنځه تللو سره یوځای وي دتومور عود عمومیت لري او زیاتره دعود څخه مخکی دستروئید په تولید کې عود کوونکی زیاتوالی لیدل شویدی.

C: کیموتراپي:

OPDDD تراپي په هغه ناروغانو کې چی دعملیاتو وړ نه وي او په وظیفوي اوغیر وظیفوي ادرینل په کانسر اخته وي ترسره کیږي.

د Hutter او Kayhoe په ۱۳۸ هغه ناروغانو کې چی دستروئید د غبرګون اندازه داسی ښودله چی ۷۲% ده چی متوسط موده یې ۵-۱۰ میاشتی وه.

D: موخر اختلاطات او درملنه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- لوی کتلی په موضعي توګه نکس کوي دکولمو او پریتوان په شاتنی جوړښتونو پوری نښتی او هلته وده کوي.

۲- په وظیفه لرونکی کانسر کې ښایي چې په مخالفه خوا غده کې شدید او تام Artrophy منځ ته راشي چې دعملیاتو څخه مخکې او وروسته په جدي ډول معاوضوي تداوي ته اړتیا لري.

۳- OPDDD د دوا تسمم معمولاً د دوا په دوز پوری اړه لري او دارجاع وړ دی تقریباً د ۹۹% ناروغان دلاندی دري جانبي عوارضو ۳ د ډلی څخه یو یا زیات لري.

معدی معایي ۸۳%

عصبي عضلي ۴۱%

دپوستکي رش ۱۹%

۴- Reginsky دمشترکي درملنی دیو داسی پیښی راپور ورکړیدی کوم چې (OPDD او FU ۵ په کی یوځای کارول شوی وه).

دادرینل په فرط وظیفوي کارسینوما کې چې دحاد Addison ناروغی لامل شوی وه.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

خبیث لمفوما

تناظر:

خبیث لمفوماګانی د Lympho Reticular سیستم دګډوډیو دیو غیر متجانس ګروپ څخه عبارت دی. دهغه ډول خلکو لپاره چې دنیوپلاستیک ناروغیو د سبب او د پتوجنیزس په مورد کې پوره معلومات غواړي اوهمدارنګه غواړي چې د درملنې څخه ډیری دباور وړ پایلې لاسته راوړي نبه Challenge دی.

ددی ډلې څخه دیو معینې Burkitt's لمفوما ښایي چې دانساني خبیثه افاتو په ایتولوژي کې دوایرسونو درول دمنلو لپاره ثبوت وړاندی کړی او په همدی ډول دتومور په مقابل کې دکوربه معافیتي دفاعي سیستم رول هم ښکاره کړي د Hodkgin ناروغی هم دکوربه دهغه فکتورونو لپاره یو ممکنه مثال په توګه وړاندی کیدای شي کوم چې نیوپلاستیک پروسې ترمیم او کنترولوي خبیث لمفوماګانی په ډیر اسانی سره په لاندی کټګوریو ویشلی شوو:

	مشابه نوم
Lymphocytic نبه تفریق شوي	Lymphocytic Lymphoblastoma Lympho Sarcoma
Lymphocytic خراب تفریق شوي	
Stem Cell	Reticulam Cell Sarcoma
Histocytstic	
Histoly Phocytic	Follicular Lymphoma
Hodgkin's	Hodkin's Disease

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دپورته ذکر شوي دولونو د ډلی څخه هر یو یې کولای شي چی دخپل ځانګړی حجراتو نودولر یا خپور تکثر ښکاره کړي ددی لاری دکارولو په واسطه د Giant Follicle Lymphoma داصطلاح استعمال رد کیږي کوم چی دیوبل ډول د Nodular شکلونو څخه یې نمایندګي کوله. د هوجکن ناروغی په جلا توګه څیړل ډیر اسان نه تمامیږي ځکه چی ځینی وصفي کلینیکي او پتولوژیک منظری لري.


Hodgkin's ناروغی

۱- پیژندنه

A: پیښی: دخبیث لمفوماګانو ۴۰% تشکیلوي سپین پوسته نران د ۳۵ في میلیون سپین پوسته ښځی ۲۲ في میلیون اخته دي. دوفیاتو کلنی اندازه په نرانو کې ۲۳ في میلیون او په ښځو کې دیارلس في میلیون ده.

B: عمر:

تقریباء ۵۰% پیښی یې د ۲۰-۴۰ کلنی په منځ کې واقع کیږي. تقریباء د ۱۰% څخه کم پیښو کې د ۲۰ کلنی څخه وروسته منځ ته راځي اود ۱۰% څخه په کمو پیښو کې د ۱۰ کلنی څخه مخکی تظاهر کوي.



په پورته شکل کې هوجکن لمفوما ښودل شویدی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: جنس

په نرانو کې تبارز کوي چې نسبت يې ښځو ته ۴:۳ دی او په عمومي صورت سره انزار يې هم په نرانو کې خراب دي.

D: سببي عوامل

۱- دناروغی په پيل کې سړه لری تبه او Leukocystosis موجود وي چې فکر دانتاني موضوع خواته ګرځوي ځرنګه چې په نوموړي افت کې د هستالوژي له نظره ګرانولوماتوس غبرګون موجود وي چې داهم دنيوپلازم خلاف دی وايروس هم دسبب په حيث ورته فکر شويدی. لاکن تراوسه تثبيت شوی نه دی ناروغانو په يو سريزه کې د Herpes وايرسونو دانواعو په خلاف دانتي بادي دلوړی سويی راپور ورکړل شويدی لاکن دهغوی ارزښت تر اوسه ښکاره شوی نه دی.

۲- دهوجکن ناروغی دوقوعاتو اندازه دری چنده په هغو خلکو کې زياته ده چې په نژدی خپلوانوکې يې دا ناروغی تيره شوی وي.

۳- همدارنګه د حجروي معافيت ګډوډي دلمفوسيت دحجراتو دوظايفو دنيمګړتياو سره يوځای ښودل شويدی د نوموړوپتوجنيک رول تر اوسه معلوم شوی نه دی.

II: کلينيکي منظره:

A: دناروغی پيل معمولاً دلمفاوي عقداتو په بی درده غټيدلو باندی متصف دی چې دتبی، خولی کول ، Pruritis ، وزن بايلل او دزړه بدوالی څخه عبارت دی.

B: د ناروغی په پيل کې په عمومي ډول سره درقبي ناحيی لمفاوي عقدات په غټيدو پيل کوي (۲۰-۸۰%)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی دمنصف ، تخرګ او مغبني ناحیی لمفاوي عقدات ۲-۲۰% ، غټیږي.

C: دپریتوان دخلف، توری، ځیګر او هډوکي ا ختە کیدل په زیاتره پیښو کې وروستە هغه وخت منځ تە راځي کوم وخت چی ناروغی عمومي مشکل غوره کړي اګر چی ځینی ناروغان دتشخیص په وخت کې هم دمرض په عمومي حالت سره مراجعه کوي ځینو کې کیدای شي چی دبدن هره عضوه په دی اوږدو کې ماوفه شي.

III: تشخیصیه لارې:

A: دلمفاوي عقداتو بایوپسي

۱- دغټ شوي عقداتو په ډله کې دټولو نه غټ او مرکزي برخه کې واقع شوي لمفاوي عقده د تشخیص لپاره په زړه پوری ده.

III: تشخیصیه لارې:

A: دلمفاوي عقداتو بایوپسي

۱- دغټ شوي عقداتو په ډله کې دټولو نه غټ او په مرکزي برخه کې واقع شوي لمفاوي عقده دتشخیص لپاره زیاته په زړه پوری ده.

رقبي عقداتو ته ځکه ترجیح ورکول کیږي چی دمغبني ناحیی اودتخرګ لمفاوي عقدات دمزمن التهابي بدلونونو څخه مخه نیسي دعقدی تازه پریکړل شوی ننبی دیوصاف سلاید لپاسه جوړ کړي چی دهوا په ذریعه وچ او تثبیت شي باکتریالوجیک کلچر باید په عادي ډول اجراء شي په بفر شوي فورمالین یا Zenker محلول کې دعقدی ۳mm پارچی ژرترژره تثبیت کړي.دتشخیص لپاره د Stermberg reed حجراتو موجودیت اړین دی لاکن کیدای شي چی د Infectious Mononucleosis پواسطه مطالعه شي. دهوجکن ناروغی په شان

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

هستالوژي د Dilantines تراپي سره يوځای ليدل کيدای شي کوم چی ددغی دوا څخه ډډه کولو پواسطه له منځه ځي وصفي SR حجرات ښايي چی د هوچکن په هغه ناروغانو کې چی لمفوسيت په کې متبارز وي ډير نادر وي او کيدای شي چی عقدات په محراقي ډول ماوف شوی اوسي ديو بشپړ مرحله بندي دپاره په انتخابي پيښو کې د Lapratomy سره يوځای پورته ذکر شوي محراقي عقداتو لتولو ته ضرورت موجود دی چی دابايد ديو پراخ شعاعي تداوي دتطبيق کولو څخه مخکی اجراء شي.

B: هستالوژيکي کتنی:

۱- په وينه کې نوتروفيليک کولوسايتوزس اوخفيف Normocytic Normochromic anemia عموميت لري ايزونوفيليا ښايي چی منځ ته راشي او لمفوپينيا په وروستنی مراحلو کې تظاهر کوي.

۲- هيمولايتيک انيميا (چی معمولاد Combs تيست منفي وي) کيدای شي چی په پرمختللي ناروغی کې منځ ته راشي.

۳- دتداوي څخه مخکی د هډوکو دمخ بايوپسي يا Aspiration هغه وخت بايد اجراء شي کوم وخت چی دمحيطي وينی د حجراتو په شمير کې کموالی منځ ته راغلی وي يا دکتنی وړ Immuturity په کې وليدل شي.

۴- دمرض د Exacerbation دصفحو سره دسيروم دالکالين فاسفتاز سويې لوړوالی ليدل شويدی همدارنګه دسيروم د مسو سويه هم لوړه وي.

C: دوينی کيمياوي تجزيه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- دسیروم الکالین فاسفتاز لوړه سویه دځیګر او یا دهډوکي دماوفه کیدو خواته لارښوونه کوي همدارنګه Nucleotidase ۵ هم کیدای شي چی لوړ وي چی دا د کبد دپاره م نفي وصفي دي.

۲- په پرمخ تللي پیښو کې دمخ په انکشاف Hypogama globolenemia سره Hyper gam globolenemia عمومیت لري.

D: راډیولوژیک معاینات:

۱- IVP او دصدر X-Ray کولای شي چی داسی ماوف شوي عقدات تشخیص کړي کوم چی د هیڅ اشتباه لاندی راوستل شوی نه وي.

۲- Lympho angiography په دویمه کلینیکي مرحله کې تقریباء ۳۰% دپریتوان دخلف Adenoputhy ښکاره کړي (لاندی ورکړل شوي تصنیف بندي دولیدل شي) خو بیا هم ۱۴% په هغه مریضانو کې چی رقبي عقدات یې ماوف شوي وي د IIA کلینیکي مرحلی ۳۱% پیښو کې او د IIB کلینیکي مرحلی ۸۸% ښکاره کولای شي امکان لري چی ۲۰% هغه وخت کاذب منفي وي کوم وخت چی د Lapratomy اوهستالوژیک معاینات و پواسطه تعقیب شي.

SMH Lymphoangiography په شفاخانه کې دیو ډیر کم شمیر مریضانو د Restaging لامل شویدی که په ډیر احتیاط سره فزیکي ازموینه اجراء شي نو ښایي چی مریض د نارامي او د Lympoangiography دمصرف څخه وساتي.

B: دموخر Hyper sensitivity لپاره جلدي تستونه:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- ۵۰% مریضان چی I کلینیکي مرحله کې وي دپوستکي Anergy لیدل شویده چی خصوصا Lymphopenia ورسره یوځای د موثری تداوی نه وروسته فعالیت بیرته اعاده کیږي د I مرحلی مریضان معمولاء عکس العمل ښکاره کوي.

۲- دپوستکي ټیستونه په زیاته اندازه باید اجراء شي ځکه چی دداسی انتي باډي په مقابل کې عکس العمل منځ ته راتلای نشي کوم چی مریض اول مخامخ شوی نه وي توبرکولین Mumps trichophyton monilia او د Strento kinas تستونه مناسب دي کیدای شي چی دفعال توبرکلوزس په موجودیت کې د Angery له کبله توبرکولین تیست منفي اوسي د Dichlorobenzene سره دحساسیت پیداکیدل ته مخامخ کیدل تعین کړي او په نارمل خلکو کې ۹۵% مثبت وي.

IV: تصنیف بندي

A: اناتومیک :

دتصنیف بندی ستونځی:

دعضویت هر هغه برخه چی لمفاوي عقدات لري دیو توري دایری پواسطه په شکل کې ښودل شویدي هره یوه برخه یا Box په لاندی ورکړل شوي جدول کې دهغه مختلفو تصنیف بندیو څخه دهریو دپاره دیو مرحلی په حیث نماینده ګی کوي کوم چی په تیروکلونو کې په عمومي ډول سره منل شوی هم دی. منځنی خط دحجاب حاجز او مثلث د احشاو څخه نماینده ګی کوي کوم چی په تیرو کلونو کې په عمومي ډول سره منل شوی هم دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د Hodgkin ناروغی دمرحلو پیژندنه

مرحله Peters	Kaplan	بين المللي (نړيواله)
۱- دیوی واحدی ناحیی دلمفاوي عقداتو اخته کیدل	هغه ناروغی چی یوه واحده لمفاوي عقده او مجاوره اعضایی اخته کړي وی او اعراض ونه لري	هغه ناروغی چی یوی اناتومیک ناحیی ته محدود وي ( ) یا دوه مجاور اناتومیک نواحیو ته محدود وي ( ) اود حجاب حاجزپه عین خوا کې موجود وي
۲- د ۲ یا ۳ پراکسیمل لمفاوي ناحیو اخته کیدل	هغه ناروغی چی دحجاب حاجز پواسطه د وجود پورتنی یا ښکتنی برخو ته محدود پاتی کیږئ اودیو خوانه زیات طرفونه یې اخته کړي وي.	هغه ناروغی چی د دوه نه په زیات اناتومیک نواحیو یا دوه غیر مجاور نواحیو چی دحجاب حاجز په یوطرف کې وي موجود وي
۳- د ۲ یا زیات لیری غایو دلمفاوي نواحیو اخته کیدل	هغه مرض چی دحجاب حاجز څخه پورته اویا ښکته وي	هغه ناروغی چی دحجاب حاجز په دواړو خواو کې موجود وي لاکن دلمفاوي عقداتو،طحال اویا دخلفي څخه دباندی وتلی نه وي
۴	هغه ناروغی چی دلاندی ورکړل شوي نواحیو څخه په هر یوه کې ولیدل شي. (۱) دسړو دپرانشیم افات.	دهډوکو مخ،دسړو پرانشیم، پلورا، ځیګر، هډوکي، پوستکی، معدی معایي طرق یا بل کوم نسج یا عضوه برعلاوه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

	(۲) دسرو دپرانشیم افات. (۳) دپوستکي اویا تحت الجلدي دیو اویا یو څخه زیات افات. (۵) معدی معایي جهاز چی په دویمي توګه اخته شوی وي	دلمفاوي عقداتو طحال، یا Waldeyers خلفي څخه یې اخته کړی وي.

په ۱۹۲۵ کال کې د یو بین المللي سمپوزیم په موقع (۱) مرحله په دوو کې دویشلو تجویز وړاندی کړی وه او ددی نوی ترتیب په اساس ۱۲ Sub Group دحجاب حاجز په یو طرف کې د دوه مجاور اناتومیک نواحیو پوری محدود ناروغی څخه نماینده ګي کوي دا د Peter د IIA مرحلی ته ورته ده په حقیقت کې ۱ مرحله او IIA مرحله دواړه یو شان انزار لري.

اګر چی دهوجکن دناروغی څرنګوالی د یوی اناتومیک ناحیی څخه بلی اناتومیک ناحیی ته تر اوسه واضح شوی نه دی او په دی هکله د مرحله بندي لپاره نوری بشپړی طریقی د Lapratomy سره یوځای ډیر مهم معلومات لاسته راوړیدي.

دټولو مجاورو لمفاوي عقداتو اخته کیدل د Stan ford په ټولو مریضانو کې راپور ورکړل شویدی چی دیوواحد المحراقي او Non random انتشار خواته لارښوونه کوي ځینی وخت دتوری او ځیګر ماوفه کیدل د بطن او دغاړی دچپ خوا د عقداتو ماوفه کیدل ښایي چی دتشخیص او تداوي دپروګرامونو دترتیبولو لپاره باارزښته لارښوونه کوي دمرحله بندي او دتداوي د پایلو په ټولو بحثونو کې اناتومیک مرحله بندي څخه کار اخلي.

B: هستالوژیک

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Lukes د Hodgkin دناروغی هستالوژي کلینیکي مراحل او دژوند کچه په ډیره ځیر سره مطالعه کړیدی ددی په نتیجه کې برابر شوي تصنیف بندي چی د Parker او Jackson له خوا تهیه شوی ده اویو لوی غیرمتجانس ګرانولوما ګروپ لري د ځیړنی د زحمت څخه مونږ ساتي دژوند اندازه په عمومي صورت سره اویا Histocyte دشمیر سره مستقیماً فرق کوي چی دکوربه د عکس العمل اهمیت اوحجروي معافیت سره اړه لري.

برخلاف ددی د Stera berg reed حجراتو شمیر دلمفوسیتونو د شمیر او دژوند د اوږدوالي سره معکوس اړیکی لري باید دی ته پاملرنه وشي چی تصنیف بندی د Sterb berg Reed حجراتو په عوض د کوربه په څرګند تعاملاتو باندی په اساسي ډول اتکاء کوي.

Jackson and Parker ۱۹۴۷	Lukes ۱۹۶۳	Lukes et al. ۱۹۶۶
Paragranuloma (۵%)	Lymphocytic and / or Histocytic Lymphocyte (Nodular or Diffuse) ۲۲۲ ---- Predominance (LP)	
Granuloma (۵۲%)	Nodular Sclerosis ------- Nodular Sclerosis (NS)	
	Mixed (Moderate Fibrosis)---Mixed Cellularity (MC) (۷۷%)	
	Diffuse Fibrosis ------- Lymphocyte depletion (LD) (۲%)	
Sarcoma ۵%	Reticular	

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(متوسط فايبروزس)

دهستالوژي ، مرحلی، جنس ، او انزار اړيکی:

هستالوژي	کلينيکي مراحل	سيستميک اعراض	جنس	د ۵ کالو دژوند اندازه
متبارز لمفوسيت	I,II,III,IV	A	MF	%۹۰
نوډولر سکليروزس	I,II,III,IV	AB	FM	%۷۰
Mixed Cellularity	I,II,III,IV	AB	MF	%۴۰
				%۷۰ (۲ Yr-)
Lymphocyte Depletion	III,IV,I,II	BA	MF	%۴۰

A= absent, B= Fever, night sweets, and/ or Purities(خاربنت)

V: دتداوي پرنسيپونه

A: جراحي

۱- دجراحي اساسي موخه د بايوپسي پواسطه ديو نسجي تشخيص ترلاسه کول دي. دبطن لتيول، دلمفاوي عقداتو د هډوکو د مخ، او ځيګر بايوپسي او Spenectomy په دی اوسنی وختو کې د ځينی مريضانو د مرض د مرحله بندی دتهيه کولو په موخه اجراشويدي ځکه

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چی دلمفاوي عقداتو دپراخی تشعشع داجراء کولو څخه مخکی دبطن اختـه کیدل بایـد رد کړای شي.

۲- اګر چی دځینی جراحانو پواسطه دهوجکن دناروغی په اولنی مرحله کی دغټ شوي عقداتو جذري قطع کول توصیه کیږي لان د SMH دحصایی له نظره تشعشع دلاندی دلایلو له کبله ښه والی لري.

A: دجراحي څخه وروسته د یو موضعي مرض لپاره د پنځو کالو د ژوند اندازه د تشعشع داستعمال په نسبت ښه نه ده.

B: دتشعشع مکمل کورسونه په عمومي ډول حتی دجراحي د Resection څخه وروسته هم توصیه کیږي.

C: درقبي عقداتو تسلیخ چی زیبایش اختلاطات منځ ته راوړي باید ورڅخه ډډه وشي.

۳- په ځینی پرمخ تللي پیښو کې د Hyper splenism دتداوي په منظور Splenectomy استطباب لري په یو ابتدایي (تشخیصي) Lapractomy په اوږدو کی اجراشوی Splenectomy دطحال اخته کیدل ښایي چی ښکاره کړی کوم چی دځیګر دماوفه کیدو سره یوځای کیږي همدارنګه دشدیدی شعاع او کیموتراپي په مقابل کې مریضی ته یو ښه دموی تحمل ورکوي لاکن داثابته شوی نه ده.

B: شعاعي تراپي

۱- شعاعي تداوي د III,II,I مرحی دځینی مریضانو لپاره اساسي انتخابي طریقه ده دهوجکن موضعي ناروغی چی د شدیدی شعاعي تراپي پواسطه تداوي شوي وي په جدي توګه دشفا وړ ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- شعاعي تداوي اکثراء هغه وخت موثر تمامیږي چی په منتشر هوجکن ناروغی کې Symptomatic نواحی په ښه توګه ورسره تداوي شي لکه (دردناک موضعي عقدات، د حالب بندش، SVC سندروم، نخاعي حبل د فشار لاندی راتګ).

۲- طریقی

A: د IA او IIA مرحلو لپاره (هغه مرض چی دریم په یو طرف محدود وي) داسی نظریه د Peter له خوا وړاندی شوی وه چی دماوفه مجاور عقداتو دتداوي لپاره وقایوي تداوي دیواځی ماوفه عقداتو دتداوي څخه ښه تمامیږي او په دی اوسنیو وختو کې زمونږ په مرکز کې ددی نظریې څخه استفاده کیږي.

دکلینیک له نظره په شعاعي ساحه کې ماوفه ناحی درسم په یو طرف کې د اساسي عقدی لرونکی نواحیو سره یوځای دي. (د مثال په ډول هغه مر ض چی چپ رقبي عقدات محدود وي د یو داسی شعاعي ساحی پواسطه تشعشع کیږي کوم چی دغاړی دواړه طرفه دواړه تخرګونه او منصف دبرید لاندی راغلی وي.

(دویم شکل) دشعاعي تداوي ساحی ددی رسم پورتنی نیمایي Mantle نومیږي او ښکتنی نیمایي کی تر کمه دوزونه یې ۳۵۰۰ سرچپه او دطحال ساحی څخه جوړشویدی په راده ۱-۳ او اعظمي دی رسم کې ښودل شوی تورنګه ناحیو تشعشع یې rad ۵۰۰۰-۴۵۰۰ په خاص ترتیب اجراکول د Segmental sequent وي تشعشع نومیږي.

B: IB IIB او III مراحل:

څرنګه چی د سیستمیک اعراضو په مریضانو کې د Mantle field دتداوی نه وروسته د پریتوان خلف ته دمرض د پر اختیا او انتشار پیښی په نسبتي ډول لوړ ولیدل شو (C۳ VII

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولیدل شي، نو ځکه چې یو زیات شمیر طبی مراکزو ته په شمول د Rechester طبي مرکز ددی ډول مریضانو په تداوي کې چې سیستمیک اعراض لري په وسیع شکل شعاعي تداوي چې په دی کار کې اساسي لارښودنه د Kaplm دځیړنې پواسطه وشوه نوموړی تکنیک د Extended اویا Segmental sequential Field (SSI) داستعمال په هکله د Rubin اوملګرو له خوا ځینی دلایل ویل شویدی د وجود دټولو اساسي لمفاوي عقداتو لرونکو ناحیو او طحال باندی تشعشع د ۳۵۰۰-۴۰۰۰ په اندازه د Sequential steps په طریقه اجراء کیږي (دویم شکل) دهډوکو دمخ انحطاط کیدای شي چې یو مشکل راپیدا کړي اودشفاکیدو لپاره یې month ۱۲-۲ ضروري دي.

مقدم کیموتراپي د سیستمیک اعراضو له منځه وړلو لپاره ګټور تمامیدایشي دکیموتراپي ګډ استعمال دتداوي طریقه د باندنی عقداتو دانتشار دکمولو لپاره کوم چې په کې د MC او LD هستالوژي خصوصاء زیات عمومیت لري فعلاء دځیړنې لاندی نیول شویده دتداوي داډول طریقه باید یواځی د تجربه کاره معالجینو له خوا اجراء شي ځکه چې دکیموتراپي په زیاته اندازه استعمال دهډوکي دمغز دخرابیدو لامل ګرځي او په یقیني صورت دشعاعي تداوي مخه نیسي برخلاف ددی دکیموتراپي په مقابل کې دتحمل کموالی منځ ته راځي دعقداتو څخه دباندی دپراختیا تشخیص کول په ابتدایي مراحلو کې بشپړ مرحله بندی ته ډیر اهمیت په برخه کوي.

IV: مرحله

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دی مرحله کې تشعشع مخصوصاء دموضعي او اعراض لرونکو اختلاطاتو لپاره اجراء کیږئ (په پرمخ تللی پیښو کې دوصفي پرابلمونو د تنظیم او دتداوي لپاره د LSA او RCSA برخی دی مطالعه شي).

C: کیموتراپي

۱- استطبابات

A: کیموتراپي دهوجکن ناروغی د منتشر شوي اعراضو د کنترول په موخه اجراء کیږي او یا دتشعشع دتحمل وړ دوزونو په مقابل کې ځواب ونه وایي. هغه ناروغی چی اعراض ونه لري مونږ کولای شو چی دیوی اوږدی مودی لپاره یې بی تداوي پریږدو چی په دی موده کی دامرض کله زیات او کله کمیږي لاکن ددی دپاره دمریض توجه او پام ډیر ضروری دی.

B: دکیموتراپي اودشعاعي تداوي ګډ استعمال ترځیړنی او تحقیق لاندی نیول شویدی چی مقصد یې دعقداتو څخه دباندی ځایو ته دانتشار کمول دي کوم چی شاید د شعاعي تداوي دپراخه ساحو دتداوي پرته هم منځته راتلای شي.

دکیمیاوي تداوي عوامل:

لاندی ورکړل شوي عوامل په عمومي ډول او په ترتیب سره په Rochester کې په لاندی ډول استعمالیږي.

A: Nitrogen mustard (HN۲, Mustargen) نوموړی ماده دخپل ښه تاثیر اوسریع عمل له کبله په ډیر زیات ډول استعمالیږي چی معمولاً مجموعي دوز یې ۰.۴mg/kg په دوو کسري دوزونو هر مابنام د مسکن او داستفراق ضد دواګانو د ورکولو نه وروسته مثلاً (فینوباربیتل او کلورپرومازین) د وریدي لاری تطبیق کیږي چی د Infusion په شکل

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخیستل شي ځکه چی د Phelebitis څخه مخنیوی کوي چی ۷۰-۸۰% مریضانو کې په غټ شوي عقداتو کې کوچنی والی منځ ته راځي همدارنګه کیدای شي چی دیوی اوږدی مودی لپاره مرض دمنځه ولاړ شي ددی جانبي عوارض دهډوکو د مخ انحطاط او په ګذري ډول د دلبدی څخه عبارت دی.

B: Cytoxan, Cyclo phospam او Chlorambucil (Leukeran) یوډول Alkalyting مواد دي چی دخولی له لاری دتعقیبه تداوي لپاره ګټور دی مخصوصاء دهغه مریضانو لپاره چی HN۲ ته ځواب ورکوي او کله چی اعراض خفیف وي کولای شي شو چی د HN۲ په عوض Cytoxan دورید له لاری ورکړو

C: Velban Venblastine

داد Periwinkle نبات یو مشتق دی چی په هغه مریضانو کې چی د Alkalyting لامل په مقابل کې ځواب نه ورکوي تقریبا په نیمایي مریضانو کې ډیر ښه روغوالی منځ ته راوړلای شي داد ورید له لاری ۰.۰۵-۲mg/Kg هره هفته کې یا دوه هفتی وروسته زرق کیږي ددی دوا جانبي عوارض د هډوکو دمخ انحطاط دی.

D: Procarbazine Metulane د Methyl Hydrazine یو مشتق دی چی دخولی له لاری ۵۰-۳۰۰mg/K.w تطبیق کیږئ او هغه مریضان چی د HN۲ یا Venblastin په مقابل کې ځواب ونه وایي مریضان ددی دوز پواسطه ښه کیږئ سمی عوارض یې دهډوکو دمغز انحطاط دی.

E: کورتیکوستروئید:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پرمخ تللی پیښو کې او د Systmic اعراضو او د Hemolytic anemia دکنترول لپاره ۲۰-۴۰ mg/kg BW پریدنیزولون په ورځ کې ضروري دي دکورتیکوسټروئیدو د لوړ دوزونو استعمال پواسطه ۳۰۰ mh/day-۴۵ دلمفاوي عقداتو ، ځیګر اوطحال ښکاره عود دوه پر دری په هغه ډول پرمخ تللی پیښو کې ولیدل شو چې دتشعشع او د Alkalyting عوامل په مقابل کې یې ځواب نه وه ورکړی اګر چې دهډوکو دمخ په انحطاط کې Prednisone ګټور تمامیږي لاکن وخیم انتانات، د پیپتیک قرحات او Hyperglycemic اختلاطات منځ ته راوړی شي.

F: ۱,۳ Bis (۲ Chloroethyl ۱- Nitrosouren BCUN)

یوه ډیره ښه دوا ده چې په تحقیقاتی څیړنو کی استعمالیږي د هوجکن دناروغی په نیمایي مریضانو کې چې دتداوي په مقابل کې ځواب نه ورکوي موثر ثابت شوی وه دهډوکو په مخ باندی دانحطاطي تاثیر له کبله ددی ګټور اړخونه محدود شوي دي.

G: د دواګانو په ګډ استعمال کې اضافي ګټور تاثیرات او مختلف سمي تاثیرات په ډیر فعال ډول تر څیړنې لاندی نیول شویدي همدارنګه MOPP Nitrogen Mustard , Vencistin, Oncavin, Procarbazine او Prednisolone استعمال په ۲ میاشتنی کورس په جریان کې د III,IV مرحلی ۸۱% مریضانو کې یوه اوږده او بشپړ شفا تولیدشوی ده (۹) (۱-جدول)

همدارنګه سایکلو فاسفامایډ د Venblastin یا Vinceristin او د Prednisolone سره یوځای او همدارنګه د Procarbazine سره د شفا لوړی اندازی منځ ته راوړي.

لمړی جدول

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

(MOPP رژیم)

HN۲ ۶mg/m۲ IV	ورځ ۱	۸	۱۴
VCr ۱.۴mg/m۲ IV	x	x	
Procarbazine ۱۰۰/m۲ PO	X	x	
Prednizone ۴۰mg/m۲ P.O (۱st and ۴th Cycle only)	XXXXXXXXXXX	XXXXXXXXXX	XXXXXXX

Repeat at minimum of ۱۴ day intervals

(دا رژیم کم تر کمه د ۱۴ ورځی وقفونه وروسته تکرار شي)

D: لنډیز (Summary)

دعمومي زیات خطر له مخی دتداوی له نظره په (۲ جدول) کې وړاندی شویده نوموړی شیما دیو تجربه کار شعاعي معالج او د Hematologic د کلکی مرستی او فکر ته ضرورت لري مخصوصاء د S۱۱ سپارښت کولو په وخت کې.

VI: خصوصي کتنی

حمل دمرض په سیر او شدت اویا بهبودي باندی کوم اغیزه نه لري په عمومي ډول دتداوي لپاره د سقط اجراء کول اړین نه دی هغه مریضان چی په فعال مرض باندی اخته وي هغوی ته معمولاء د حمل دنه اخیستلو لارښوونه ورکول کیږي. ځکه چی دهغوی انزار د ډاډ وړ بڼه نه لري او باید ورته توصیه وشي چی تر دوو کالو پوری چی ناروغی بڼه شوی نه وي دحامله کیدو لپاره انتظار وباسي ځکه چی ددی مودی په اوږدو کی به عود زیاتره واقع شوی وی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: په ماشومانو کې د هوجکن ناروغی انکشاف او تکامل په کټ مټ کاهلانو ته ورته والی لري Pit Cock اودملګرو له خوا برابر شوی راپور د ۵ او ۱۰ کالو دژوند اندازی لپاره باالترتیب ۴۰-۲۰ % ورکړی دی چی دا دمرض دلمړنی مرحلی لپاره داسی مفکوره ورکوي چی دجدي شعاعي تداوي د تطبیق سره یو ښه نتیجه منځ ته راځي.

VII: پایلی

A: د هوجکن ناروغی دژوند کچه باید په ډیره غور سره وڅیړل شي او له دی لارې اهمیت لاسته راوړل شي ځکه چی د ژوند د اندازو مجموعي شمیر د مریضانو د هغه ګروپونو تر منځ چی دتشخیص په وخت کې مختلف هستولوژیکي او کلینیکي درجه بندي لري پراخ بدلون پټ وساتي دتولو مرضونو په شان په دی ناروغی کې هم په مختلفو موسسو کې د مریضي انتخابولو دطریقو تر منځ توپیرونه کیدای شي چی شتون لري او نوموړی توپیرونه ددی مرض دژوند په انزارو او شمیر باندی اغیزه وکړي.

B: کوم وخت چی ناروغ کلینیک ته مراجعه وکړي نو دهغی دناروغی انزار د برابر شوي احصایی په مرسته کولای شو چی دکلینیکي مرحله بندی او هستالوژیک اوصافو سره یې تړاو ورکړو (VB دی وکتل شي) همدارنګه د سیستمیک اعراضو میدان ته راوتل دځیګر اودهډوکو ماوف کیدل د خراب انزارو خواته لارښودنه کوي. د Hodkin دناروغی موضعي دمریضانو څخه یوائی د ۲۰% لپاره د شفا حتمی امکانات (دژوند نارمله توقع د ۱۰ کلنی یا زیات عمر لرونکی مریضانو لپاره دتداوي څخه وروسته) دلمړنی جذري شعاعي تداوي څخه وروسته ډیر زیات امکانات یې روښانه دي.

C: د Representative survival Figures :

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولف	کال	مرحله	د ۵ کالو %	د ۱۰ کالو %
Craver	۱۹۲۴	I	۲۲	۱۹
Memorial		IIa	۳۸	۱۰
Torontony		IIa	۳۸	۳۰ (۸ کاله)
Peters		I	۵۵	۵۰ (۸ کاله)
Ultamawetal		I,II	۳۷	۱/۲
Delta field		IIa	۲۵	۱۲
Eosson		موضعي	۵۴	۴۴
Menchester	عمومي	۰	۱۳	
Kaplon	۱۹۲۸	I	۸۹	
Etal (۲۲)	۱۹۲۸	II	۲۷	
Stam Ford	۱۹۲۸	III	۴۲	
Somessi	۱۹۲۸	IV	۲۰	
	نران ۳	۴	۴۳	
	ښځی ۲	۷	۷۲	
Rubin	۱۹۲۹	I,II	۲۷	
Et al ۳۳(not SSi)		III,IV	۲۰	

۱- دمرض د Exacerbution اسباب:

دمرض حقيقي عود داسی تعريف کيږي چی عبارت دی دلمف اديتوپاتي اويا دنورو فعاليتونو دشواهد دشته والي په هغه تداوي شوو ساحو کې چی دهوجکن دمرض لمړنی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تظاهرات يې درلوده، دشعاعي تراپي لمړني کورس نه وروسته دا داسی شواهد ورکوي چی تطبیق شوی دوز Temorocidal نه ده یایو Retrograde عود منځ ته راغلی وي.

۲- Marginal عود عبارت د هغه ځخه دی چی دشعاعي تداوي دساحی په څنډه کی تظاهر کوي چی داداسی لارښودنه کوي چی دمرض موضعي پراختیاء په غیر مناسب ډول اندازه شوی وه.

۳- دعرض توسع یا انتشار عبارت دی په غیر مجاور او غیر تداوي شوو نواحیو کې دنوی تظاهراتو وخت مثلاء هغه مرض چی دحجاب حاجز په مخالفه خواکې تظاهر وکړي.

۲- جدول

د Hodgkin دناروغی دتجویز شوی تداوي Outline (۳۳)

مرحله ، هستالوژي	مجوزه تداوي Suggested Treatment
IA, LP, NS	وسیع الساحه تشعشع
IA, MC,LD	Segmental Sequential irradiation (SSI)
چپ فوق الترقوي عقدات	SSI

IB,IIB, IIIB ټول هستالوژي لپاره :

IB,IIB,IIIB : دټول هستالوژي لپاره د SSI څخه مخکی دکمو کیموتراپي ۲-۳ سیکلونه IVA OR B (تحمل تر څیړنی لاندی ونیول شي).

ابتدایي تراپي : د ۴-۶ میاشتو لپاره په کمو ډول سره تراپي دوسیع تشعشع نه وروسته په محتاطانه ډول دکمو یا ځانګړي عامل استعمال (Venblastine)سایکلوفاسفامايد

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Procarbazine دزیات سریع HN۲ عکس العمل دپاره، دموضعي پرابلمونو لپاره موضعي تشعشع.

دتام عقدوي تشعشع Johnson total nodal (Trudution) TN۱ او تام Lymphoid تشعشع Kaplan (TL۱) Total lymphoid irridution ته ورته دی.

۴- انتشار

دعقداتو څخه دباندی دکانسر دپراختیاء څخه عبارت دی چی کبد، سږي، دهډوکومخ او په خپله هډوکی ماوف کوي.

۵- Rochester دطبي مرکز نتایجو داسی ښکاره کړیده چی د وسیع او پراخ ساحی ۳۵۰۰-۵۰۰۰ دتداوي په مقابل کې عکس العملونه دموضعي ساحی (۲۰۰۰ rads) (rad په نسبت ښه دی چی لامل یې اساساء ماوفه ناحیه ته دلوړو دوزونو رسیدل دي.

دوسیع الساحه تداوي ارزښت دادی چی دمایکرو سکوپیک محراقونو دعود مخه نیول کیږئ دشعاعي تراپي سره یوځای دکیموتراپي استعمال پواسطه دعقداتو څخه دباندی دعود اندازه کمیدای شي.

E: داختلاطاتو په جمله کې انتانات Bacterial septicemia توبرکلوزس، فنګسي انتانات او Herpes Zooster شامل دی او همدارنګه امیونولوجیک نیمګړتیاوی لکه Leukpenia او Immuno Suppression شامل دی.

خبیث لمفوما Lymphocytic او Reticulum حجراتو ډولونه :

۱- پیژندنه

A: وقوعات: دهوجکن دمرض نسبتي وقوعات په دی ډول دي:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Reticulum cell sarcoma, Lympho sarcoma ISA تر منځ تناسب په يو لوی سريزه کې ۲:۲ وه (۴۳).

B: عمر: اعظمي وقوعات يې د عمر په وروستنی مرحلو کې منځ ته راځي چې ۲۵% پيښې د ۵۰-۵۴ کلنی او اعظمي خطر يې ۲۰-۲۹ کلنی کې قرار لري.

C: جنس: په نرانو کې متبارز دی چې نسبت يې ۱:۷:۱ دی.

D: سببي فکتورونه د Burkitt لمفوما داپيديالوجي، الکتران مايکروسکوپ، حجروي زرع او اميونولوجيک فکتورونو په مرسته په ځينې پيښو کې پام دوايرس خواته ګرځولی دی چې بيله کوم ثبوت يو Herpes Viurs ددی سبب ګڼل شويدی.

۲- په دی اوسنی وختو کې په انسان کې دغير معمولي Reticulum cell Sarcoma د Immuno suppressive تداوي سره اړيکی ډيټرندلو په اساس داسی ګمان پيدا کوي چې يا خو کوم وايروسي علت شتون لري يا ديو توليد شوي Immunologic Defect دنومورو حجراتو دخبيثه تاثيراتو لپاره زمينه برابروي.

II: کلينيکي تظاهرات:

A: ددی مرض اعراض او علايم دهوجکن ناروغی ته ورته دي کله کله حتی توپير هم لري:

۱- په LSA و RCSA کې دفمي بلعومي لمفوئيد نسج، پوستکي، معدی معايي سيستم او دهډوکو ماوفه کيدل څه اندازه زيات عموميت لري.

۲- د LSA او RCSA د کلينيکي مرحی په وقوعاتو کې منتشره ناروغی د Lympho angiography پواسطه ۸۰-۹۰% پوری ليدل کيدای شي په داسی حال کې چې دهوجکن

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

مرض په کلینیکي مرحله کې دا اندازه ۳۰% ده د یوی معقولي تداوي په ترتیبولو کې دنومورې مرض د لمړنی انتشار پیژندل ډیر مهم دي (د Lympho angiography اختلاطات لکه سړو، دماغ او پښتورګو ته Fat امبولی) باید په نظر کې ونیول شي خصوصاء په زړو خلکو کې چې عمومي ناروغی اویا د سړو ناروغی لري نارامي د رادیولوګ وخت اومصرف هم مهم عامل دی د حالب انحراف چې د IVP پواسطه لیدل کیږي په عمومي ډول د Lympho angiogram مخه نیسي.

۳- په ماشومانو کې ابتدایي داخل بطني تظاهرات په ISA او CRA کې برخلاف دهوجکن دناروغی په نسبتي ډول زیات (د یو پر دري څخه زیات) عمومیت سره لیدل کیږي.

۴- د SA په تقریباء ۱۳% پینبو کې Leukemic بدلون دمحیطي لمفوسیت دلوړ شمیر سره یوځای لیدل کیږي.

۵- په دی مرض کې دهوجکن دناروغی په څیر انتانات لکه بکتریا، وایرسونه، فنګسونه ته زمینه مساعده کیږي لیکن ښایي چې دا په اساسي ډول د Hypo gamalobolememia او دانتي باډي دخفیف عکس العمل له کبله وي نه دحجروي معافیت دخرابوالي اودپوستکي دبی حسه کیدل چې دهوجکن دناروغی په حاملګی ډګر کې څرګند وي خو بیا هم کیدای شي دواړه ډوله معافیتي نیمګړتیاوی سره یوځای وي.

۶- اوتوامیون Hemolytic کم خوني دمثبت Comb تیست سره یوځای د LSA او RSCA په کمو پینبو کې لیدل کیږي اودهوجکن دناروغی سره ملګرتیا کوي.

III: تشخیصیه وسایل: دهوجکن دناروغی په شان دی.

IV: تصنیف بندي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: اناتومیک

اولنی مرحله: هغه مرض چی په واحد لمفاوي عقداتو اویا خارج دعقداتو څخه په واحد نسج کې محدود وي.

دویمه مرحله: هغه مرض چی په موضعي لمفاوي عقداتو اویا دعقداتو څخه دباندی نسج کې په واحد مجاور لمفاوي اوعیو پوری محدود وي.

دریمه مرحله: عمومي ناروغی چی دعقداتو څخه دباندی دلیری ځایو لمفاوي ناحیی یې اخته کړی وي یا ځیګر، توری یا دهډوکو مخ یې اخته کړی وي پورتنی هغه سیستم ته مشابهت لري کوم چی دهوجکن ناروغی لپاره استعمالیږي او په موجوده وخت کې تر څارنی لاندی نیول شویدی.

B: هستالوژیک:

دفصل په شروع کې ورکړل شوی تصنیف بندی ولیدل شي (۲۷,۴۴,۴۵) دا څرګنده شویده چی نوډولر شکلونه یې په منتشر Lymphoma ته دبدلون میلان لري.

V: د LSA او RCSA دپاره دتداوي پرنسیپونه:

دادهوجکن ناروغی ته ورته خو لاندنی حالات وربانډی اضافه کیږي.

A: دمعدی معایي په ځانګړي یا مجرد د LSA یا RCS بانډی دجراحي Resection اجراء کول ښایي چی څرګنده شفاء منځ ته راولي اوله دی کبله باید اجراء شي.

B: شعاعي تراپي:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- تشعشع چی دتداوي لمړنی او اساسي کړنه دی په اخته شوي ناحیو باندی اجراء کیږي او دناروغی په اولنی مرحله مجاور تا ترڼ شوی عقدوي ناحیی اکثراء د تشعشع په ډګر کې نه شاملیږي د LSA او RCSA په زیات شمیر پیښو کې دابتدایي انتشار شتوالی باید په نظر کی ونیول شي. او دتداوي دموخی په ټاکلو کې ورځخه مرسته واخیستل شي په زیاتره مریضانو کې پرمختللی سن دشدیدی تداوي په مقابل کې دزغم کموالی او ددی تومورو څخه دځینی تومورونو په مخفي ډول نشونما هم ملګری لاملونه دي.

۲- دوصفي نواحیو لپاره تشعشع:

که یوځل مرض دابتدایي تداوي څخه وروسته په نوی یا پخواني ځای کی تظاهر وکړي نو شعاعي تراپي د وصفي ځایونو د تداوي په منظور اجراء کیږئ او دا اکثراء دکیموتراپي سره یوځای اجراء کیږي چی داخبره په سیستمیک تظاهراتو متکی ده.

A: که دمرض په عود کې یو کال وخت تیر شوی وي او په اولنی تداوي کې Super voltage وړانګه استعمال شوی وي نو په عود اخته عقدات په همغه دوزونو سره په کامیابي سره تداوي کیدای شي.

B: معدی معایي افات باید دکوچنی کسري دوزونو پواسطه باید تداوي شي همدارنګه دتومور دچټک ویجاړیدو او سوري کیدوڅخه باید ډډه وشي.

C: دمنصف Compression د یو قوي دوز پواسطه ۳ ۴۰۰ rad د Diuretics په ذریعه له منځه وړای شو چی وروسته یې باید هره ورځ ۱۵۰-۲۰۰ نه تر ۳۵۰-۴۰۰۰ پوری باید ورکړل شي د اضافي تداوي په حیث کورتیکوسټروئید هم ورکولای شو.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

که چیری دنخاع حبل په لمړنیو څو ساعتو کې دفشار لاندی راشي نو غیر ددی چی دجراحي پواسطه فشار لیری کړی شي بله چاره نشته.

او یا دا چی ددی موخی دلاسته راوستو لپاره پورته ذکر شوي دوزونه په سریع ډول استعمال کړای شي.

E: که د اخته شوي هډوکي اعراض او علامي مینځ ته راغلی وي نو د rad ۳۰۰۰-۲۰۰۰ دوزونو داستعمال پواسطه درد له منځه ځي او تداوي بریالی ده.

F: دپلوراء دانصباب لپاره حتی که دمنصف دناحیی د Adenopathy کوم څرګند شواهد موجود نه وي نو بیا هم د منصف د تشعشع Rad ۲۰۰۰-۱۵۰ پواسطه په کامیابي سره کنترول کیدای شي.

۳- دخیړنی او تحقیق پروګرامونه:

دلمفوکانو دپراخو ساحو دتداوي لپاره Johnson دوه طریقي تجویز کړیدي (۱۷)

U: د عقداتو تام تشعشع Total nodul irridation (T N I)

دا د SSI ته ورته والی لري لاکن په دې طریقه کې دلمفاوي عقداتو ناحیی ته ټیټ دوزونه توصیه کیږي په دی موجوده وخت کې غیر ماوف شوی ناحیی ته ۲۴۰۰ تر Rad ۳۰۰۰ کفایت کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

TNI هغه وخت استطباب لري کوم چی د Lymphoma Sarcoma په دریمه مرحله کې مرض معمولاً لمفاوي عقداتو ته محدووي یعنی موضعي شکل ولري داطریقه کله کله په انتخابي ډول داولني او دویمي مرحلی دتداوي په منظور استعمالیږي.

دابایـد وویـل شـي چـی د Reticulum cell sarcoma دمـوثره تـداوي لپـاره لـوی دوزونـه (۴۰۰۰۰-۴۵۰۰ راده) ته اړتیا پیښیږي او له دی سببه زیات خطر هم لري.

B: دټـول بـدن تشعشـع (Total Body irridation (TBI داډول طریقـه دپـرمخ تللـی او منتشری ناروغی لپاره استعمالیږي کوم چی لمفاوي عقداتو یا هډوکو ته محدود وي (III مرحله) همدارنګه د حشوي خارج المقعد وي ناروغی لپاره نه استعمالیږي دشعاع دوز ۱۰ Rad دری ځلی په هفته کې دی چی مجموعي دوز یې ۳۰۰-۱۰۰ rad دی دا دوز هغه وخت په مکمل ډول ورکول کیږي کله چی دهډوکو مخ په انحطاط نه وي راغلی اوسنی تجربو ښودلی ده چی دمرض شفا ممکن ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمراحلو له نظره

	Follicular (Rappaport) ۱۹۵۲	Diffuse (Gall and Mallory) ۱۹۴۱	All cases (Rosenberg) ۱۹۶۱	By Stage (Peters ۱۹۸۴) ۱۹۶۸
Lymphocytic type			۲۷%	I ۷۰% II. ۵۰%
Well differentiated	۵۰%	۲۵%		III ۷۰% IV ۴۰%
Poorly differentiated	۵۴%	۳%		
Reticular cell type	۲۵%	۱۴%	۲۳%	۲۰%

C: Burkett's Lymphomas

نوموړی تومور سندروم په ۱۹۵۸ کال کې د Burkitt له خوا په افریقایي ماشومانو کې موندل شوی وه لمفوسایتیک تومورونه ډیر کم تفریق شوي چې اکثراء دمنتشر ماکروفاژ سره یوځای (دستورونه ډک اسمان) منظره ورکوي اوزیاتره په ژامه او بطن کې ځای لري.

دیو Herpes ډول وایروس عامل دتومور سره تړاو ورکړل شویدی چې کوم څرګند سببي شواهد هم نه لري په دوران کې د IgG موجودیت چې د Burkett's lymphoma دحجراتو دغشاء سره تعامل کوي دتومور په مقابل کې د یو معافیتي عکس العمل په شتوالي باندی لاربنوونه کوي دیوی لنډی کیموتراپي نه وروسته د یوی اوږدی مودی لپاره دتومور رجعت یا شفا کیدل هم دکوربه د Anti tumor عکس العمل د رول په شتوالی باندی دلالت

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي دهستالوژي له نظره هم همدغه شان تومورونه په USA کې هم لیدل شویدي کوم چې د مختلف اناتومیک او معافیتي لوحو له مخې فرق کوي ددې ډول تومورونو ارتباط دافریقایي تومور سره په فعال ډول تر څیړنې لاندې نیول شویدي.

C: دکیموتراپي پروګرام د هوجکن ناروغی په نسبت یو څه اندازه فرق لري که څه هم د هوجکن دناروغی په څیر دمنتشر تشعشع په ډول ورڅخه استفاده کیږي استعمالیږي.

۱-کوم وخت چې داعراضو چټک بهبودي ارام منځ ته راتلل موخه دی. نو Nitrogen mustard ددې لپاره یو ډیر عمومي استعمال لرونکی Alkylating درمل دی.

۲- سایکلوفاسفامایډ د Hodgkin مرض په نسبت په LSA او RCSA کې زیات موثر تمامیږئ نوموړی دوا دخولی له لارې ورکولای شو او یوه ګټه داهم لري چې په دموي صفیحاتو باندې اغیزه نه کوي لاکن د نایتروجن مسترد په نسبت په ډیر بطي ډول ښه والی منځ ته راولي RCSA د LSA په نسبت د دواړو ډولو Alkalyting عواملو په مقابل کې په عمومي ډول کم ځواب ورکوي د LSA په تنظیم او تداوي کې Chlorambucil ډیر ګټور ثابت شویدی.

۳- کورتیکوسټروئیدونه په حتمی ډول د LSA په زیاتره پیښو کې Cytotlyic تاثیر لري او کله کله په RCSA کې هم داتاثیر ښکاره کوي چې برسیره د هډوکو د مخ په انحطاط او د Hemolytic anemia په شتوالی کې هم ګټور تمامیږي.

۴- Vincristine د Periminkle نبات یو مشتق دی د RCSA په ځینې د Palliative عامل په حیث ښه پایله ورکړیده په اعصابو باندې د سمې تاثیراتو له کبله ددې دوا استعمال یو څه کم شوی دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- سایکلوفاسفامایډ Vinceristine او د پریدنیزون ګډ استعمال تر مطالعی لاندی نیول شویدی اودشفا لوړی اندازی یې منځ ته راوړي دی لاکن کیدای شي چی داختلاطاتو خطر زیات شي.

VI: پایلی

A: د ۵ کالو د ژوند اندازه دهستالوژجیک تصنیف بندي په اساس (په ۲۲۴ صفحه کې یا د اوری شویده).

B: انزار

دهوجکن ناروغی په څیر LSA او RCSA لمړنی مرحله دمنتشرو پیښو په نسبت ښه انزار لري د ژوند امید په کاهلانو کې دماشومانو په نسبت ښه دی.

۱- پیژندنه : Multiple Myeloma

میلتیپل میایلوما (mm) دپلازما حجراتو سرطاني یا Neoplastic تکثر څخه عبارت دی چی متصف دی په دهډوکو تخریبي افات، کم خوني اودسیروم اویا د ادرار د متجانس ګلوبولین دسویی په لوړوالی.

A: وقوعات

ددی مرض د وفیاتو متوسطه اندازه په یو کال کې تقریباء ۹ في میلیون ده.

B: وقوعات د ۴۰ کلنی څخه وروسته منځ ته راځي.

C: سببي عوامل

سرطاني Plasma cell یو متجانس ګلوبولین تولیدوي چی دا د نومورې حجراتو د ځانګړي او منفرد Clone دخبیثه بدلون مفکوره وړاندی کوي دمایلوما په ګلوبولین کې د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Antibody specificity موجودیت او همدارنګه د هغی په جوړښت کې دداسی Determinants موجودیت کوم چی دنارمل اشخاصو په امیوني ګلوبولین کې هم لیدل کیږي داسی لازښودنه کوي چی دنوموړي حجراتو کانسري تکثر امکان لري دیو ابتدایي انتیجنیک تنبه په مقابل کې دنارمل یا غیر مناسب عکس العمل پوری اړه ولري.

۲- دمړکانو په ځینی نسلونو کې د Lucite نصبول دپلازما حجراتو داسی تومورونه منځ ته راوړي چی د پیوند وړ دی (دپیوند په ډول بل مړک ته انتقالیدای شي) او ورسره په متبارز او پلازما کې متجانس Globuling دلیدو وړ دی.

۳- د وایرس په شان ذرات دانسانانو او مړکانو دپلازما حجراتو په تومورونو کې لیدل شویدی لاکن ددی کوم سببي رول څرګند شوی ندی.

II: کلینیکي تظاهرات

A: مریضان عموماء دملا درد سره مراجعه کوي پتالوژیک کسرونه عمومیت لري او کوم وخت چی فقرات اخته شوي وي نو دپلوریزي په شان درد منځ ته راوړی شي په X-Ray کې تخریبي افات ښکاره کیږي او نادراء Blastic بدلون هم دلیدو وړ وي.

B: یوه داسی Normochromic Normocytic کم خوني چی لامل یې معلوم نه دی او دسترتیاء سره یوځای وي مریض مجبوروي چی داکتر ته مراجعه وکړي.

C: مکرر انتانات لکه نموکاکل نمونیا ,Meningitis دنورو بارزو علامو څخه مخکی تظاهر کوي چی دانتي بادي په ناکافي تولید پوری اړه لري.

D: نزف د Coagulants فکتورونو دخرابي له امله منځ ته راځي چی دفکتورونو خرابوالي دمایلوما دګلوبولین دلوړی سویی دمداخلت نتیجه ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

E: په ځینی پیښو کې کلیوي عدم کفایه د Pyelonephritis ، Hyper calcemia اویاپه پښتورګو کې د پروتیني موادو دترسب له کبله چی اکثراء د Bence jones پروتینوریا سره ملګری وي منځ ته راتلای شي دداخل وریدي یا پایلوګرام لپاره Dehydration کیدای شي چی دپښتورګو د عدم کفایی لامل شي چی په دی ځای کې یو Infusion IVP ته باید ترجیح ورکړل شي.

F: د Para myeloid د تراکم له کبله Carpal tunnel syndrome منځ ته راتللی شي.

III: تشخیص

A: یقیني تشخیص مشکل دی ولی چی:

۱- دهډوکو تخریبي افات دنورو کانسرونو سره هم منځ ته راځي.

۲- دهډوکو په مخ کې Plasmocytosis په ځینی نورو ناروغیو لکه د دوا سره حساسیت، کولاجن Rheum Arthritis، Cirrhosis, Amyloidosis او کله کله ځینی نورو کانسرونو کې هم لیدنی وړ دی.

۳- دسیروم متجانس ګلوبولین په نورو کانسرونو (مثلاء Prostate retrosigmoid او صفراوي قنات) کې هم منځ ته راتلای شي اګر چی ددی سره د IgG ارتباط تراوسه واضح شوی نه دی کیدای شي چی کوم څرګند مرض ورسره یوځای نه وي چی داحالت د Monoclonal Gamopathy نومیږي.

چی داډول مریضان د Hyper gamma glabulenemia څخه ۱۸ کاله وروسته په Classical myeloma اخته کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: تشخیص هغه وخت یقیني دی کله چی دنسج یامخ Plasmocytosis حجراتو د ۱۰ سلنه څخه یې زیات تشکل کړی وي، د هډوکو Osteolytic افات اویا دسیروم اودمیتازو ګلوبولین سویه غلظت په پرمختللی ډول زیاتیږي همدارنګه اکثراء Normochromic Normocytic کم خونی دلیدو وړ وي.

C: دسیروم ګلوبولین تشوشات د Paper electrophoresis اویا Immuno electrophoresis پواسطه تشخیص کیدای شي چی دا اخرنی میتود یې په وصفي ډول (۵۴% د Myelon ۲۲% کی ۱% نه کم) کې Monocolonal زیات والی پواسطه پیژندل کیږي او نوموړی ډول د IgM دزیات والي سره په تفریق کولو کې هم مرسته کوي د Osserman په سریزه کې Bence Jones Proteinurea په ۲۴% کې لیدل شویده همدارنګه Proteinurea په سیروم کې د پروتین لوړوالی سره یوځای وي د Franklin dis Heavy Chain IgG ناروغی اویا Heavy Chain 8A ناروغی کی X Chain disease کې هم منځ ته راتلای شي.

IV: دتداوي پرنسیپونه:

A: کوم وخت چی MM تشخیص شي اودځارنی په یوه موده کې پرمختللی ناروغی لیدل کیدای شي نو باید کیموتراپي پیل شي او تر اخره پوری ورته دوام ورکړل شي.

B: کیموتراپي

۱- Cytoxan Cyclo Phospahamide چی په اوله کې دورید او یا دخولی له لاری توصیه کیږي چی وروسته یې دخولی له لاری تراپي ته دوام ورکول کیږي چی هدف یې د WBC ۲۵۰۰/mm۳ ساتل دي چی دوز یې ۱۱۵-۲۰۰mg/day معمول دی، متناوب

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

تراپي (مثلاء 5mg/K.W/day-۴ د ۵ ورځو لپاره هر ۳-۲ هفتی وروسته زیات ګټور دی ځکه چی دهډوکي په مغز اغیزه نه کوي چی تکثر کوونکی سرطاني حجرات ووژني اوداستراحت په حال کې په نارمل Stem حجراتو باندی تاثیر نه کوي دسایکلوفاسفامايد دتداوي پواسطه Alopecia اکثراء منځته راځي لاکن پرته له دوام دار تداوي څخه هم داحالت رجعي دی مریض ته په کافي اندازه دمایعاتو توجه او د ادرار د Output ساتل د Hemorrhagic cystitis امکانات کموي.

۲- بله دوایي Alkeran L Phenyl alanine Mustard چی دخولی له لاری په دوامدار په متناوب څلور ورځنی کورسونو په ډول توصیه کیږي WBC باید هره هفته یا میاشت کې تعین شي او د ۳mm/۳۵۰۰-۲۵۰۰ ترمنځ وساتل شي.ترڅو چی دهډوکو دمخ دانحطاط څخه مخه ونیول شي معمولاء دوامدار تعقیبیه دوز یې 2mg/day-۱ دی او متناوب-۰.۱ ۰.۲۵mg/K.W/day دپریدنیزون د 2mg/day/K.W-۱ سره یوځای دځلورو ورځو لپاره هر ۴-۸ هفتی وروسته ورکول کیږي.

۳- کورتیکوستروئید ښایي چی د اعراضو په کمولو د کم خونی په ښه کولو او د Hyper globolememia په کمولو کې ګټور تمامیږي.

۴- د BCND استعمال د MM دپاره په موجوده وخت کې د ځیرنی لاندی نیول شویدی.

C: شعاعي تداوي دهډوکي د موضعي اودردناک افاتو د ارامتیاء لپاره ګټور تمامیږئ.

D: (Sodium floride P.O mg/day ۵۰-۲۵) او کلسیم ښایي چی د هډوکو په وخیم ناروغی کې کمک کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

E: کـه اعـراض لرونکي Hyper calcemia مـنځ تـه راشـي نـو Cortico steroid تراپـي او معاینات بایـد اسـتعمال شـي (داخـل وریـدي هایـدروکورتیزون اکثـراء سـریع بنـه والـی پـه مریضانو منځ ته راولي) Methoromycin چی یو Cyto toxic انتي بیوتیک دی ښایي چی په مقاوم Hyper cacemia کې ګټور ثابت شي.

F: دانتاناتو تداوي دمناسبو انتي بیوتیکـو سره بایـد اجـراء شـي او هغـه کم خـوني چی اعراض یې ورکړي وي ترانسفیوژن باید ورته توصیه شي.

V: پایلی

دسایکلوفاسفامایـد یا Melphalan فوري او محتـاط اسـتعمال په یو پـر دري او دوه پـر دري مریضـانو کـې ښـکاره ښـه والـی مـنځ تـه راوړي د مـرض د ښـکاره ښـه والـی پـه جملـه کـې د Myeloma پـروتین د هیمـوګلـوبین زیـات والـی اودسـیروم کلسـیم پـه سـویی کـې کمـوالی شـامل دی د Osteolytic افـاتو بیرتـه Calcification او دهـډوکو دمـخ Plasmacytosis دمنځه تلل نادر دي.

Melphalan	دمریضانو تعداد	ښکاره عکس العمل	دتـداوي دشـروع نـه وروسـته متوسـط ژونـد اندازه (میاشتی)
کنتـرول بیلـه سایکلوفاسفامایـد یا	۱۲۲/۰۳		۹-۲ – ۱۱،۲
Cytoxan سـره تـداوي شي	۲۰۷	%۴۸	۲۵۴
Melphalan سـره هـره	۸۲	%۴۹	۲۳

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورځ په متناوب صورت تداوي شوی			
د Melphalan ورځنـــی ۳۹ استعمال سره	۳۹	%۴۱	۲۸
Melphalan او د پریدنیزون ګډ استعمال	۵۱	%۷۳	%۲۴

Waldenstorm's (Essential)
Macroglobulinemia
Macroglobinemia

۱- پیژندنه

یو غیر معمول حالت دی چی زیاتره د ۵۰ کلنی څخه پورته عمر اونرانو کې لیدل کیږي اود کلینیک له نظره دیو پرمخ تللی Lymphoma په څیر سیر کوي او اعراض او علایم یې په اساسي ډول په دوران کې S Macroglobolin ۱۹ دپروتین لوړ غلظت چی دسروکریواتو سره تعامل کوي اودوینی لزوجیت دزیاتیدو لامل کیږي داسی څرګندیږي چی دلمفوئید حجراتو د یو مخصوص Clone تکثر او نشونما منځ ته راغلی ده داسی څرګندیږي چی دلمفوئید حجراتو دیو ځانګړی زیاتوالی منځ ته راغلی دی چی نوموړی حجرات دمارفولوژي له نظره دپلازما حجراتو ته ورته دی برخلاف د Myeloma حجراتو چی 8G یا 8A تولیدوي نوموړی حجرات یو غیر نارمل او متجانس Macro globulin منځ ته راولي چی نوموړی مکروګلوبولینونه د ټولګي څخه دي او دغه ښایي چی Rheumutiod فکتور Cold Agglutinin یا ASO په څیر انتي بادي Specificity ولري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

II: کلینیکي لوحه:

A: سترټیاء اودوزن بایلل دمرض معمول مخفي اعراض تشکیلوي.

B: نزف عمومیت لري چی البته دا امکان لري چی د Macro globulin له کبله د Platelets دندی دګډوډی سره مخامخ کوي اودمرض په وروستنی مراحلو کې Thrombocytopenia منځ ته راځي.

C: دشبکی تشوش د دوران د خرابیدو له کبله چی دوینی لزوجیت په لوړوالي پوری اړه لري منځ ته راتلای شي.

D: لمف ادینوپاتي او Hepato spleno megaly معمولاً متوسط درجه لري.

E: برخلاف د Myeloma دهډوکو درد او کسرونه نادر دي.

F: کم خوني د RBC دژوند دکموالی او د وینی دضایع کیدو له کبله منځ ته راځي.

G: په کوچني محیطي اوعیو کې دوینی دلزوجیت زیات والی Hyper viscosity له کبله Raynodis Phenomena منځ ته راتلای شي.

H: دوینی Hyper viscosity او کم خوني دواړه دقلب داحتقاني عدم کفایی لامل ګرځي.

III: تشخیص

A: دهډوکو دمخ Aspiration معمولاً د Plasmocytoid لمفوسیت ښکاره کوي او کیدای شي چی په نسج کې Must cell هم زیات شي په محیطي وینه کې Lymphocytosis اکثرا دلیدنی وړ دي.

B: دسیروم دپروتین الکتروفوریزس په ګاما او بیتا ناحیو کې یو متجانس لوړوالی ښکاره کوي کوم چی د Immuno electro phoresis یا د Agargel precipitation technicges

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

پواسطه چی مخصوص Antiseru استعمالوي د 8m په حیث پیژندل کیدای شي همدارنګه د Ultra centrifuge پواسطه د 19s پروتین څرګندیدای شي.

C: د Sia Water test (دسیروم یوه قطره دمقطرو اوبو په تویب کې اچول کیږي که مثبت وي نو په تیوب کې Floculation پیدا کوي په SS Essential Macro globulenemia کې مثبت وي داتیست د 8m له پاره وصفي نه دی بلکه د 8m دمتوسطی اندازی دلوړو سویو سره او هغه وخت چی 8m یو نارمل Reglobulin نه وي کیدای شي چی داتست منفي دی.

IIV: درملنه

A: د Plasma Phoresis اویا Pencill amine دتداوي سره دسیروم لزوجیت په موقتي ډ،ل کمیدای شي.

B: هغه کانسري حجرات چی M پروتین تولیدوي د Alkalyting عواملو (مخصوصا د کلورامبوسیل او سایکلوفاسفامایډ سره په کورتیکوسټروئید یا لمفاوي عقداتو یا دتوري دتشعشع پواسطه یې تعداد کمیدای شي.

C: کم خواني او انتاني اختلاطات باید دترانسفیوژن، اوسپنی او انتي بیوتیکو دمناسب استعمال سره تداوي او تنظیم کیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوکیمیاګانی

۱- پیژندنه: The Leukemias

A: پیژندنه : لوکیمیا دوینی د سپینو کریواتو زیاتوالی اوپه انساجو کې د هغوی او لمړنیو حجراتو یو عمومي کانسري ډیرښت څخه عبارت دی چی معمولاً (لیکن دهمیش لپاره نه) په محیطي وینه کې دسپینو حجراتو د غیر نورمال شمیر او یا شکلونو سره یوځای وي همدارنګه کیدای شي په وینه کې د سپینو کریواتو فوق العاده لوړ شمیر چی په خپل محتوی کې په زیاته اندازه خام حجرات هم لري دیو غیر نیوپلاستیک Lukomoid عکس العمل څخه نماینده ګي وکړي چی اکثراء په یو انتاني اویا نورو التهابي تنبهاتو په مقابل کې منځ ته راشي.

B: ویشنه

کلینیکي سیر او د Cell Maturity

۱- حاد Acute : (په خراب ډول یا غیر تفریق شوي شکلونه په کلینیکي سیر اودحجری د دپخیدو اندازه



Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

په پورته شکل کې کولیمیا ښودل شویدی

دحجری پخید و تگ لار

نور	Lymphocyts	Granulocyte	په خرابه اندازه یا غیر تفریق شوي شکلونه متبارز دي او معمولاً سیر یې لنډ وي
Monocytic	Lymphoblastic	Myloblastic AML	
Plasmacytic	ALL		
Eosinophilic			
Basophilic	AUL		

Other	Lymphocyte	Granulocyte	Chronic
Monocytic Eosinophilic Basophilic	Lymphocytic CML	Myelocytic CML	ښه تفریق شوي شکلونه متبارز وي چې معمولا سیر یې اوږد وي

وقوعات :

(ټول ډولونه احتواء کوي)

۱- عمر او جنس (دهر سل زره خلکو د پاره ۴۵-۱۹۴۲

عمر	نارینه	ښځی
۵-۰	۷-۵	۲،۳-۴،۸
۳۰-۲۰	۳،۰-۱،۸	۱،۸-۱
+۷۰	۳۲-۳۱،۲	۱۹،۸-۱۳

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ډول

په لویه سریزه کې (چی د عمر ټول ګروپونه یې احتوا کړي دی دمرض توزیع په لاندی ډول ده:

Chronic Lymphotic	%۲۹	د ۴۵ کلنی څخه وروسته تبارز کوي
Chronic Lymphoblastic	%۲۲	د ۲۰-۴۵ کلنی تر منځ تبارز کوي
Acute Lymphoblastic	%۲۰	چی د ۲۰ کلنی څخه مخکی تبارز کوي
Acute Myoloblastic	%۱۷	چی د ۲۰ کلنی څخه وروسته دتومور حاد شکل دی چی ډیر عمومیت لري
Myelomonocytic	%۲	
Histio monocytic	%۲۰	معمولاً د ۲۰-۴۵ کلنی ترمنځ واقع کیږي

D: سببي عوامل

۱- په موفقانه ډول شعاع دانسان د Leukemia لپاره دلامل په حیث پیژندل شویدی او په کمه فیصدي مریضانو کې داخبره اثبات ته رسیدلی ده همدارنګه په جاپان کې داتوم بم د انفلاق څخه وروسته ژوندی پاتی شوی خلکو کې AMI او ALL دوقوعاتو لوړی اندازی ښودل شویدی لاکن بیا هم دلوکیمیا دټولو ډولونو په زیاتو پیښو کې دشعاع سره دمخامخ کیدو کوم شواهد لاسته ندي راغلي.

۲- جنتیک عوامل

په Down سندروم کې (Trisomi ۲۱) نسبت غیر منګولیا خلکو ته دحاد لوکیمیا وقوعات ۲۰ چنده زیات لیدل کیږي همدارنګه د ولادي نقیصو او ولادي لوکیمیا یوځای واقع کیدل داسی مفکوره ورکوي چی ځینی محیطي عوامل لکه وایروسونه یا د X

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وړانګی په داخل رحمي ژوند کې ددی سبب کیږي اګر چی په مشابه غیر ګونو کی Identical twins په نادر ډول سره دنوموړي ناروغی لیدل شوي خو بیا هم په انسانانو کې داثابته شوی نده لاکن په ځینی حیواني لوکیمیاګانو کې وایروس تر ځیړنی لاندی نیول شویدی چی په نوموړو ځیړنو کی دا لاندی شیان شامل دي:

A: د Leukemia انتقال دمړکانو یو نسل ته د Leukemic نسج د حجراتو څخه دالترافیلتریشن پواسطه.

B: دیونسل څخه بل نسل ته د جنیني انتقال پواسطه.

C: د Leukemia حیواناتو په حجراتو او پلازما کې دوایروس په څیر ذرات یا دپارتیکلو شتوالی چی دحمل په اوږدو کې یې شعاع اخیستی وي د دوی په ماشومانو کې د Leukemia خطر ډیر لوړ دی.

II: دلوکیمیا اساسي ډولونه:

A: دوړکتوب حاده لوکیمیا (ALL, AuL)

۱- پیژندنه

وقوعات: دوړکتوب دټولو خبیثه افاتو له جملی څخه لوکیمیا زیات عمومیت لري وقوعات یې په هر ۱۰۰۰۰۰ نفرو کې ۵-۷% دی پیښی یې د ژوند په لمړنی ۵ کالو کې لوړ دی چی دوقوعاتو اعظمي اندازه یې د ۳-۴ کالو ترمنځ قرار لري او په نرانو کې په خفیف ډول تبارز لري وقوعات یې د ۳۰ کلنی څخه وروسته نادر دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ویشنه

د Cytological ډولونو وقوعات په ماشومانو کې نسبت کاهلانو ته فرق کوي ۸۰% Leukemia (د Stem Cell یا غیر تفریق شوي)

Acute Lympho blastic All, Au
Acute myeloblastic, Monocytic monoyeloblastic
Ery thro leukemia
Chronic granulo cytic leukemia, lukemic
Reticulo endotheliosis

۳- کلینیکي لوحه:

لمړنی اعراض یې ، دلبدی،تبه دوزن بایلل، دهډوکو درد ، پرمخ تللی خثافت دی او عموماء دعلوي تنفسي طرف دانتاناتو څخه وروسته اویادهغوي په اوږدو کې پوستکي Bruising منځ ته راځي.

معمولا ناروغ دشدید انتان اوحاد نزف (Epistasis) له کبله داکتر ته مراجعه کوي همدارنګه Hepato splenomegaly, Lymp adenopthy او Petechia په دی حالت کی عمومیت لري د مرض ابتدایي تظاهرات په جمله دموضعي اعضاو اویا انساجو ماوفه کیدل شامل دی مثلاء د CNS ، خصیی ، درقیه غدی ، تغلف یا Intuss usception

۴- تشخیصیه لاری چاری

دمحیطي وینی په معاینه کې اکثراء Anisocytosis, Normochromic, Poilelocytosis او کله کله Normo blastosis سره ملګری وي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Thrombocytopenia او Blast cell موجود وي Leukocytosis Lukepenia په څیر عمومیت لري دهډوکو د مخ Aspiration (د خلفي یا قدامي حرفقی قنزعی څخه) همیشه باید اجراء شي په دی ترتیب د Blast دحجراتو دشمیر زیاتوالی د Megakaryocyte, Erthroposis کموالی، د Myelo Posis ، کمیدل هم لیدل کیږي.

په حاده لوکیمیا کې د حجراتو د نشونما تګ لار دمارفولوژي د معلومولو لپاره خصوصي Cytochemical تلوین باارزښته تمامیږئ چی دنوموړي تلوین په جمله کې Periodic acid sduff (PAS) دګلایکوجن دتلوین لپاره (چی دټولو واقعاتو په ۷۰% کې موجود وي)، Peroxidase او Sudan blak B (دفاسفولیپیدونو یو رنګ دی) چی Azurocephilic حبوبات د AML په پیښو کې مثبت وي او Oil Red O (چی دخنثی شحمونو یو رنګ دی چی د ALL په ۹۰% پیښو کې مثبت وي په نادرو واقعاتو کې دهډوکو د مخ په معاینه کې په بارز توګه Lympho blastic او د Aplastic کم خوني غیر قابل تفریق دی په دی ډول پیښو کې باید دهډوکو دمخ بایوپسي اجراشي د نورو ګټورو لابراتواري څیړنو په جمله کې د سیروم یوریک اسید ، دځیګر دوظایفو کیمیاوي تستونه، BUN او دهډوکو معاینه شامل ده په حاده لوکیمیا کې دکروموزونو کوم وصفي تشوشات موجود نه دي.

۵- دتداوي پرنسیپونه

A: کیموتراپي: یواځنی هدف د Lukemic حجراتو لیږی کول دی اود نارمل Hemato poisis عملی اعاده کول دي د ALL په ټولو پیښو کې دهغه مریضانو د جملی څخه چی پریدنیزولون ۲mg/k.w په ورځ ورته توصیه شویدي د ۸۰-۹۰% مریضانو کې مکمل او یا قسمي شفاء لیدل شوی وه چی ورسره نوری دواګانی لکه ۰.۱mg/K.W Methotrexate

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲-۵mg/K.W/day mercaptopurin ۲- Amethoprin یـــا ۰.۰۵-
۰.۰۷۵mg/K.W/week او Vencristin هـم اسـتعمال شـوی وه دځـارنی درملنـی تراپـي
پروګرامونه توپیر لري او په لاندی ډول دي.

۱. د ۲MP ,MTX Cyclophosphamid (Cytoxan) ۹ دوراني بدلون

۲. Cyto MTX ۲mp مرحله وار استعمال.

۳- دیوزیات شمیر دواګانو دکیموتراپي دشدید استعمال مکرر کورسونه.

پـه فعلـي پروګرامونـو کـې Prednisone د Vincristin سـره یوځـای اسـتعمالیږي چـی پـه
تعقیب یې دداخل وریدي Methotrexate په واسطه Consultation تراپي (۱۵) او ورپسی
د Methotrexate دمتناوب استعمال سره تعقیبیه تراپي او پس له هغه دمیاشتنی تراپي په
څیر د Methytrexate او Prednisone بیرته دوزنو تطبیق کیږي.

هغه مراکز چی نوموړی پروګرام استعمالوي حتماء بایدوینی یو مناسب بانک ولري چی د
Platelets او د Paked RBC دمهیا کولو قدرت ولري د دوایي تداوي په مقابل کې دځواب
نه ورکوونکی مریضـانو د جملی څخه ۱۵-۳۰% ناروغـان دنوي دواګانو لکه Cytosin
arabenoside او Daunomycin په مقابل کې ښه ځواب ورکړو اوشفایې وموند لـه لاکن دا
باید هیر نکړو چی دواړه د هډوکو دمخ لپاره په انتهایي درجه سمی دی.

دزیاتره Chemo therapeutic علامو څخه دی ډډه وشي ځکه چی L-Asperginase باندی
متکی Blast حجراتو باندی وصفي تاثیر لري او ددی داستعمال پواسطه ۴۰-۲۰% شفا
منځ ته راغلی ده دنوموړي اجنبي پروتین داستعمال په نتیجه کې د Anphylactoid عکس
العمل دمخنیوي لپاره د Immuno suppressive عواملو استعمال لکه (۲MP) وشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: شعاعي تداوي

دکیمیاوي تداوي څخه وروسته دکانسر دپاتی بقایاو اومحراقونو موثره ده مثلا لکه د CNS اخته کیدل (تقریبا په ۵۰% مریضانو کې موجود دی)، دهډوکو درد، دپښتورګو ارتشاح دتحت الجلدي کتلو شتوالی، دسترګو دکری Proptosis د CNS دلوکیمیا لپاره ۱۲۰۰-۱۵۰۰ راده شعاع استعمالیږي. دیو موضعي او محدود مرض لپاره ۵۰-۱۰۰ راده شعاع دوزونه اکثراء په دراماتیک ډول موثر ثابتیږي.

C: Immune Therapy په فرانسه کې Mathe دلوکیمیا دتداوي لپاره Immune therapy استعمال پیشنهاد کړو اودلمړی ځل لپاره یې تامه شفا ورڅخه حاصله کړله.

په هره هفته کې د BCG زرق اجراء کول په یو لړ شمیر مریضانو کې په غیر ثابت ډول شفا نوره هم زیاته کړله.

D: خصوصي کتنی او استنادی کمک

دمریض بشپړه توجه او مرسته اودهغوی دوالدینو دهیجاني احساساتو ضرورت ډیر ضروري دی جدی استنادي اقدامات چی Packed RBC دموی صفیحات، وصفي انتي بایوتیک تراپي، اوجدید Isolation تخنیکونه دنوی مریضانو لپاره حیاتي اهمیت لري اودعود په وخت کې هم باارزښته دی دمرض دارجاع په اوږدو کې ممکن وي د مریض تداوي دی په OPD کلینیک کې اجراء شي په ګډه سره (طبي، نرسنګ اواجتماعي خدماتو پرسونل) دمریض دنژدی دمشاهدی لاندی نیول دمریض دژوند لپاره ډیر اهمیت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- پایلی

A: دژوند احصائی: د ۱۹۴۸ کال څخه مخکی په هغه مریضانو کې چې تداوي شوی نه وه د ژوند اندازه ۴-۵ میاشتی وه دکیموتراپي دپرمختګ له کبله په ALL کې دژوند متوسطه اندازه ۳۰ میاشتو ته ورسیدله. تقریباء دهغه ماشومانو دجملی څخه چې All لري ۱۰-۱۵% یې کم ترکمه تر دری کالو پوری ژوندی پاتی شول همدارنګه کله کله دیوی اوږدی مودی لپاره ژوند د ۵ کالو څخه زیات هم مشاهده شویدی. دکوچنی توب په AML کې دژوند متوسطه اندازه ۲-۸ میاشتی ده شفا او ترمیم یواځی ۲۵-۳۰% مریضانو کې منځ ته راځي.

B: دمرض اختلاطات اودهغوی تداوي:

اختلاط	وقوعات	تداوي
۱- د دوا تسمم (معدی معایي او دهډوکو دمخ انحطاط او وغیره	دټولو عواملو سره عمومیت لري	د دوز د بدلون سره په زیاتره پیښو کې شفا لیدل شویده
۲- (CNS) لوکیمیا	تر ۵۰% پوری واقع کیږي	دماغ او CNS ته شعاع ورکول او د Intrarhecal لیاری MTX ورکول
۳- نزف اوانتان	دمرض عمومي سبب دی چې اکثراء، فنګسي، وایروسي (سایتومیګالو Inclus sion ناروغی یا Pneumocytosis	پلیټ لیټ، مناسب انتي بیوتیک، WBC او RBC ترانسفیوژن

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- Hyper uricemia	دلوکوسایتوزس سره عمومیت لري	Allopurinol
۵- موضعي ارتشاح (هډوکی، پښتورګی، پوستکی)	۸۰%	شعاعي تراپي

C: انزار

دترمیم او ژوند متوسطه اندازه په ALL مریضانو کې نسبت Non ALL مریضانو ته زیاته ده په ابتدا کې WBC چې د ۲۰۰۰۰ نه زیات وي دژوند دکوچنی متوسط اندازی او دلمړنی ترمیم دکموالی لامل کیږي اګر چې دعمر دزیاتوالي له کبله زیات ماشومان د CNS په افت اخته کیږي انزار په ماشومانو کې چې په نوموړی اختلاط نه اخته کیږي ښه دي.

D: دناکامي اسباب

دمرض دعود معمولي سبب د دوا په مقابل کې مقاومت دی چې اکثراء د دواتسمم ورسره اضافه کیږي او د دوا د دوز کمولو ته ضرورت پیداکوي حاد نزف یا شدید انتان دمرګ معمولي سببونه دي.

(AML) Acute Myeloblastic Leukemia

۱- تعریف

AML دعمر په هره مرحله کې واقع کیدای شي او وقوعات یې د ۲۰ کلنی نه وروسته Acute Lymphoblastic څخه زیات دي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- کلینیکي لوحه:

A: دمرض شروع مخفي وي چی دیو زیاتی مودی راپه دی خوا سترپتیا ، تبه، نزف، Brusing او انتاني خطرات موجود وي یا کیدای شي چی مرض په انی شکل شروع وکړي چی حاد انتان ته ورته والی لري چی د شدیدی ضعیفي، تبی او دپوستکي خاسف کیدل په چټک ډول منځ ته راځي.

B: دتکثري لوکیمیا سره په عمومي ډول خفیفه درجه Splenomegaly موجود وي لاکن لمف ادینوپاتي غیر معمول دی.

C: Mild یا Sever کم خوني یا Prelukemia

C: دمتوسط نه تر شدیده کم خونی پوری چی Herald state نومیږي یا Preleukemia چی د AML او Monocytic لوکیمیا څخه چی د څو میاشتو نه تر یوځو کالو پوری مخکی هم منځته راتلای شي چی په دی وخت کې د هډوکو دمخ معاینه د Blast حجراتو نارمل شمیر ښکاره کوي.

D: Poly cytemia vera یا Myeloid metapasia کله کله د Myeloblastic Acute څخه مخکی تاسس کوي په نوموړي انتقال کې P۳۲ تراپي دیو سببي فکتور په حیث ګڼل شویده لاکن داخبره تراوسه ښکاره نه ده.

۳- تشخیصیه طریقی

A: دمحیطي وینی معاینه: په دی معاینه کی معمولاً یو پر درې یا ددی څخه زیات سپین حجرات د Meloblast دجملی څخه دي د Myeloblast په داخل کې Auer اجسام، استوانوي شکله Inclusion, Cytoplasmic لیدل کیږي چی AML د ALL څخه تفریق

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کولای شي د سپینو کریواتو شمیر په عمومي ډول سره په متوسطه اندازه لوړ وی لاکن کیدای شي چی ټیټ یا نارمل وي.

همدارنګه Throbcytopenia او Anemia چی معمولاً Normocytic وي عمومیت لري.

B: دهډوکو دمخ Aspiration د Myeloblast په شمیر کې څرګند زیات والی ښکاره کوي. چی خارجي شکل یې اکثرا ګډوډی د Peroxidase تلوین مثبت وي (د ۵% نه زیات حجراتو کې) اود PAS تعامل یې ضعیف وي او دواړه نتیجی د ALL سره په تضاد کې وي.

۴- دتداوي پرنسیپونه

A: په اوسنی وختو کې دتداوي درژیم داستعمال په مورد کې نظر دادی چی د Myeloblastic لوکیمیا دمنځه وړلو لپاره د Cytotoxic دواګانی استعمال شي. په دی امید سره چی دنارمل لوکوسیت ارتروسیت او Megakaryocyte پیش قدم حجرات په خپل نشونماته ادامه ورکړی.

بدبختانه هغه جدی تراي چی په نسبتي ډول مقاوم Lukemic Myeloblast باندی انحطاط راوړي وي او ترمیم منځ ته راولي دهډوکو دمخ د Hypo cellularity سبب کیږئ شدیداء Agranolocytosis منځ ته راځي چی عموماء د Septicemia سره یوځای وي چی په دی وختو کې د سروحجراتو Platelets او سپینو حجراتو ترانسفیوژن ضرور دی چی کیدای شي چی دهډوکو مخ اعاده او بیرته ترمیم کړي ددی مرض پیش قدم حالات د Cytotoxic دواګانو دمنع کولو پواسطه ښه کنترول کیږي چی په بطي ډول دپراخ او پیشرفته leukemia مخه نیسي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: هغه دواګانی چی په AML کې دبشپړ ترمیم دمنځ ته راتلو قدرت لري عبارت دي له: Methyl glyoxabis, Cytosine arabinoside ۲ MP Methyl GAG, Guanyl hydrazone, Daunrabicin MTX ، Thioguemin څخه. نوموړی دواګانی دیوی لنډی مودی لپاره ۴۰-۴۵% مریضانو کې هغه وخت شفا منځ ته راولي کوم وخت چی په ځانګړي ډول استعمال شي.

د L.Asperginase پواسطه یواځی په ۱۰% مریضانو کې دلنډی مودی لپاره ترمیم لیدل شویدی.

C: دګډی تداوي داستعمال پواسطه لیدل شویدی چی دشفاء زیاتی اندازی منځ ته راغلی دي (۲۰-۵۰%) لیکن دهډوکو د مخ دشدید انحطاط سره یوځای وه همدارنګه Amethopyerin, Vencristin او MP ۲ Prednisolone په ګډ ډول استعمال شویدي که امکان ولري دا ډول تداوي باید په داسی طبي مراکزو کې اجراء شي چی له هره حیثه مجهز وي.

D: د Brusing او Thrombo cytopenia له کبله د نزفونو د شدت اووخامت دکمولو په خاطر پریدنیزون دکاهلانو لپاره ۳۰ mg/day - ۲۰ اودماشومانو لپاره ۲mg/kg/day استعمالیږي.

دکورتیکوستروئید پواسطه په Leukmic myeloblast حجراتو باندی تنبهي تاثیر لیدل امکانیت شته لاکن تراوسه ثابت شوی نه ده.

E: د Lukemic حجراتو پواسطه د دوا اخیستنه اواستقلاب په Invitro کې دمختلفو تکنیکونو استعمال د دوا په انتخابولو کې مقدم معلومات ورکړیدی ورکولای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۵- پایلی

دنووکیمیاوي عواملو استعمال اودشفا اندازی چی ورځخه حاصلیږي په دی مورد کی جدی څیړنی اجراشویدي چی یواځی د دوی دژوند متوسط اندازه په خفیفه توګه ښه شویده چی دکانسر دملي انستیتوت په سریزه کې تقریبا شپږ میاشتی وه لاکن بیا هم دشفا منځ ته راتګ دژوند دزیاتیدو سره یوځای وه (۵۰%) په ځواب ورکوونکی مریضانو کې ۳،۵ میاشتی وه.

Chronic Myelocytic Leukemia

۱- پیژندنه

CML په اساسي ډول ۲۰-۴۵ کلنی عمر کې واقع کیږي نوموړی ناروغی ځانګړی اړیکی د Myeloid metaplasia poly cytemia vera او Thrombocyteopenia سره لري اوددی ګروپ تشوشات د Chronic myelo proliferate سندروم په نوم یادیږي.

۲- کلینیکي تظاهرات

A: دمرض شروع معمولاً مخفي وي او په پرمخ تللی ډول ستړتیا ورسره یوځای وي او کیدای شي چی دمخفي عرض ځخه مخکی Leukocytosis څرګند شي دګیډی د ډکیدو احساس او ابتدایي Staiety ښایي چی د Splenomegaly له کبله منځ ته راشي.

B: توری اکثراً په کتلوي صورت سره لوی او کلک وي او کیدای شي چی په احتشاء اخته شي چی موضعي درد ورسره یوځای وي په خفیفه اندازه Hepato megaly عموما دلیدو وړ دی البته دلمفاوي عقداتو لوی والی عمومیت نه لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: دمناسبی تداوي سره یو زیات شمیر پیښو کی شفالاسته راوړل شوی ده لاکن بیا هم په اخره کې کم خوني او نزفي تظاهرات د Thrombocytopenia له کبله منځ ته راځي د ۸۰% مریضانو دژوند اخرنی مرحله دحاد AML Myeloblastic (AML) ته شباهت لري چی معمولاپه یو څو میاشتو کې د مرګ لامل کیږي (داحالت د Blastic transformation یا Blastic crisis په نوم هم یادیږي.)

۳- تشخیصیه وسایل

په محیطي وینه کې لوکوسایتوزس د ۳mm/۳۰۰۰۰۰-۱۰۰۰۰۰ په اندازه لیدل کیږي چی په کې Metamyelocytes bands PMN او Myelocytes متبارز وي.

Myeloblast معمولاً (۲-۱۰%) او دا اندازه نیمایي مرحلی پوری دوام کوي دایزونوفیل او Basophil تعداد زیاتیږي او بزوفیل په دی مرض کې نسبتې نورو ته زیات وي په ابتداکې هیماتوکریت نارمل لاکن جګیدای هم شي کم خوني دمرض دپرمختګ سره منځ ته راځي دموی صفیحات نارمل وي یا تعداد یې زیات شوی وي.

B: دهډوکو دمخ بایوپسي متبارز Hyper cellularity ښکاره کوي چی دګرانولوسایتوزس ټول مراحل په کې بارز زیات لیدل کیږي کیدای شي چی Myeloblast زیات شوی وي Reticulin اوکولاجن په ۱۰-۱۵% په هغو پیښو کې چی تداوي شوی نه وي زیاتیږي د اخرنی Blastic مرحلی څخه مخکی د Blast حجرات (۱۰%) ایزونوفیل او بزوفیل (۲۰%) مقدار زیاتیږي او Fibrosis منځ ته راځي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: دسپینو حجراتو Alkaline phosphatase دمحیطي وینی دتازه جوړشوی Smear دمخصوص رنګ دتلوین کولو پواسطه پیژندل کیږي (د EDTA تیوب په ذریعه یا مستقیماء) اجراکیږي.

هر ۱۰۰ Granolucyte ته یو مثبت نمره ورکول کیږي چی د ۴+ -۱+ پوری وي نارمل مجموعي شمیر د ۴۰ څخه زیات وي او معمولاء د ۱۲۵ څخه کم وي او په CML کې معمولاء د ۲۵ څخه کم وي (لوړی یا نارمل اندازه یې په Polycytemia, Myeloid metaplasia او التهابي لوکوسایتوزس اود CML په Blastic crisis (ځینی وخت لیدل کیږي).

D: Can be made to dectec the Philadelphia PH ۱ chromosome

Special preparation of peripheral blood or bone marrow

نوموړی غیر نارمل کروموزوم دی امکان لري چی د G ګروپ کروموزومونو دابودی برخی د ضایع کیدو له کبله (اوس معلوم شویده چی د ۲۲ اوتوسوم اوږده برخه ۹ Auto some ته انتقالیږي) منځ ته راځي او په عمومي ډ،ل CMI لپاره تشخیصي ارزښت لري تقریباء ۹۵% داسی مریضان چی په کلینیک کې د CML تشخیص وربانډی ایښودل شوی وه د Ph. Chromosome څخه نشتمن وه اوداډول مریضان د یو ګروپ په حیث دتداوي په مقابل کې ضعیف عکس العمل ورکوي او دژوند اندازه یې متوسط ده.

۴- دتداوي پرنسیپونه

A: دتداوي استطبابات د استقلاب دزیاتیدو اعراض لکه (تبه، خولی کول، دوزن ضیاع، سترتیاء) پرمختللی Splenomegaly او کم خوني ده. که دناروغ په وینه کې WBC شمیر د

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳mm/۱۰۰۰۰-۵۰۰۰۰ څخه زیات شي نو ناروغ اکثراء اعراض ورکوي که څه هم چې ځینی وخت ناروغ دمرض دپیل پټ یې خبره او بی ګیلی وي.

B: Busul fan (Myeleran) چې یو Alkalyting عامل دی د CML لپاره انتخابي دوا ده دادوا دخولی له لاری په ابتدایي دوزونو کې د ۲-۱۲ملي ګرامه په ورځ کې ورکول کیږئ چې یو تابلیت یې دوه ملي ګرامه دی د ۲-۳ هفتی وروسته د WBC اندازه په وینه کې کمیږي چې وروسته له دی باید د دوا دوز په دې ډول کم کړای شي چې د WBC شمیر د ۳mm/۵۰۰۰ څخه کم نشي (ددی لپاره اسانه طریقه داده کله چې د WBC شمیر په نیمایي اندازه کم شي نو باید دوز هم نیم کړای شي د څارونکي دوز ۲mg/day-۱ پواسطه بنایي چې دعود کوونکي Lukocytosis او اعراضو زیاته مخه ونیول شي اګر چې غیر له دی څخه هم داوږدی مودی لپاره شفا لاسته راغلی ده. Cytoxan هم ګټور تمامیدای شي اومخصوصاء د Thrombo cytopenia په شتون کې ډیر ګټور دی.

په هغه پیښو کې چې دبوسلفان په مقابل کې ځواب ورنکړي Hydroxy Urea او Dibromo manitol موثر تمامیږي دا دواړه دواګانی دوامدار څارونکي تداوی استعمال ته ضرورت لري.

C: توری ته د X-ray شعاع ورکول د توری په جسامت اود WBC په شمیر کې کموالی منځ ته راوړي لاکن په عمومي ډول ددی تداوي ځای بوسلفان نیولی دی.

D: په نیمایي مرحله کې د Blastio crisis تداوي د حاد Myoloblastic لوکیمیا په شان ده لاکن شفا په کې غیر معمول ده.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

E: دحمل په اوږدو کې د Basul fan استعمال د CML دتداوي په منظور کامیاب ثابت شویدی چی دجنین کوم ښکاره تخریب هم ورسره لیدل شوی نه دی دحمل په اوږدو کې دکتلوي Spleno megally څخه باید مخنیوی وشي.

F: Hyper Urecemia د Allo purinol (300 mg Tid) *.1 پواسطه کنترول کیدای شي کوم چی دا درمل Xanthine Hypoxanthine بدلیدل په Xanthine باندی او بیا په Uric acid نهیه کوي.

۵- پایلی

A: په CML کې دژوند متوسط اندازه ۳ کاله ده د بوسلفان دتداوي سره دعمر دزیات والی راپور ورکړل شویدی لاکن ثابته شوی نه ده خو بیا هم دژوند Quality حتماء ښه کیږي که دوام یې اوږد نشي.

B: دبوسلفان د تداوي زیات استعمال دهډوکو دمخ انحطاط منځ ته وړای شي د بوسلفان داوږدی مودی داستعمال سره یو سندروم لیدل شوی دی چی عبارت دی له Pulmonary fibrosis د Addision دنـاروغی پـه شـان اعـراض لکـه Anorexia، د پوسـتکی Pigmentation اودوزن بایلل مینځ ته راوړي.

D: Chronic lymphocytic leukemia (CLL)

۱- پیژندنه

CLL په اساسي ډ،ل د ۴۵ کلنی څخه وروسته منځ ته راځي په نرانو کې د ۱: ۲،۵ په نسبت یې واقعات زیات دی داسی نظرورورکول شویدی چی CLL دیو تکثري یا

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Proliferation په عوض يو Accumulative مرض دی چی دانسان دمعافيتي سيستم دتعاملاتو دنشتوالی اودغير نارمل لمفوسيت دعمر دزياتوالي پوری اړه لري.

۲- کلينيکي لوحه:

CLL کيدای شي چی بی عرضه وي او خصوصاء داپه مسنواشخاصو کې صدق کوي دمرض داشکل د Benign په نوم يادېږي او په وينه کې ديونامعلوم Lymphocytosis دکشف نه وروسته تشخيص کيږي دمرض تګ لاره ديوزيات شمير کلو لپاره ثابت پاتی کيږي.

B: ددی مرض يو زيات (خراب) شکل هم ليدل کيږي چی معمولاء ځوانان (۳۰-۵۰ کلنی) اخته کوي او دسترتيا ،وزن بايلل، خولی کول، دلمفاوي عقداتو مترقي غټوالی او په متغيره Splenomegaly باندی متصف دی.هرڅومره چی مرض پرمختګ وکړي کتلوي لمف ادينوپاتی منځ ته راځی چی دپيشرفته کم خونی سره چی د Thrombocytopenia له کبله منځ ته راځی يوځای وي چی نزف اوانتاناتو ته زمينه برابر وي .

C- دپوستکی تظاهرات په C L L کي دنورو شکلونو په نسبت زيات منځ ته راځی اوپه دي جمله کي موضعی اويا عمومی ارتشاحات Herpes Zooster دحشراتودچيچلو په مقابل کې زيات عکس العمل اود چيچک دانتان په خير شتوالی لري.

۲- تشخيصيه وسايل

A: دمحيطي وينی Smear په زياتره پيښو کې د ۳mm/۲۰۰۰۰-۵۰۰۰۰ په اندازه لوکوسايتوزس ښکاره کوي چی په کی ۷۰-۹۹% کوچنی او پاخه لمفوسيت هم شامل دي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددی حجراتو څخه زیاتره استحالوي بدلون ښکاره کوي (چی د Smudy یا Basket حجراتو په نوم یادیږي).

خفیفه او متوسط درجه کم خوني او Thrombocytopenia منځ ته راتلای شي شدیده Hemolytic کم خوني چی indirect Bilirobenemia, Icterus لوړ Spherocytosis, Reticulocytosis او مثبت Coomb انتي ګلوبولین تیست سره ملګری وي د CLL ۲۰% مریضان په دی ډول تالی کم خونی یا اعراض ورکوونکی Auto immune hemolytic کم خونی اخته کیږي.

همدارنګه کیدای شي چی د Gama comb test اویا Non gama دډلی څخه وي. پټه یا مخفي Hemolytic دمنفي Coombs تیست سره یوځای کیدای شي چی دمرض په وروستنی مراحلو کې منځ ته راشي د RBC د عمر یا ژوند کموالی د Splenomegly سره یوځای وي دهډوکوپه مخ کې د نورو انساجو په عوض دلمفوسیت زیاتیدلی شي چی دکم خونی لامل ګرځي.

B: دهډوکو دمخ بایوپسي Lymphocytosis ښکاره کوي (چی د ټولو هسته لرونکو حجراتو (۳۰-۹۰%) جوړوي کوم چی دهډوکو مخ یې اشغال کړیدی دهډوکو مخ په هغه حالاتو کې چی دلمفوسیت حجراتو پواسطه احاطه شویدی دهډوکو دمخ د Aspiration په وخت کې ډیر لږ حجرات ورڅخه لاسته راځي.

C: که دسیروم دپروتینو الکتروفوریزس اجراشي نو Hyper globolenemia دلیدو وړ دی همدارنګه Cryo globolins هم لیدلای شو دمرض په وروستنی مراحلو کې Hypogama

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

globlinemia عمومیت لري چی داد Antibody دجوړیدو خرابوالی او انتاناتو دزیات مساعد کیدو سره ملګری وي.

۴- دتداوي پرنسیپونه

A: دمرض سلیم شکل چی یواځی په Lymphocytosis باندی متصف وي معمولا داعراضو په عدم موجودیت کې نه تداوي کیږي په بی عرضه پیښو کې هر شپږ میاشتی روسته دوینی یواځی د حجراتو شمیرل کفایت کوي.

B: لوی شوی توری یا دعقداتو لویه کتله چی اعراض یې هم ورکړي وي دتداوي له پاره موضعي X-ray تراپي ګټور تمامیږي چی د rad ۲۰۰-۵۰ په اندازه هره ورځ ورکول کیږي او مجموعي دوز یې rad ۲۰۰۰-۵۰۰۰ پوری رسیږي باید هره ورځ د WBC شمیر او په هفته کې ۲-۳ ځلی د Platelets اجراکول ضروري ګڼل کیږي ترڅو دنوموړو حجراتو دزیاتو کموالی څخه مخنیوی وشي په زیاتو مطالعاتو کې دټول عضویت دتشعشع اجراء کول په ځینی مریضانو کې اوږده شفا منځ ته راوړای شي.

C: کیموتراپي دپرمخ تللي CLL داعراضو دکنترول په موخه اجراء کیږي دموجوده Alkalyting عواملو په جمله کې کلورامبوسیل Lukeron په ابتدایي دوزونو ۰.۱-۰.۲mg/day موثر تمامیږي ددی دوا ۲mg تابلیتونه باید د غرمی ډوډی څخه مخکی یا دخوب په وخت کې ورکړل شي د WBC شمیر دکمیدو سره سم باید دوز هم کم کړی شي اوکوم وخت چی نارمل سویی ته راشي نو باید دوا قطع کړي شي تعقیبیه تداوي د ۱-۲mg/day په اندازه ښایي چی دترمیم او یاشفا په زیاتولو کې مرسته وکړي لاکن دهډوکو دمخ دزیات انحطاط کولو څخه باید ډډه وشي همدارنګه په CLL کې Cyclo

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

phospahmid هم ګټور تمامیږي اودکلورامبوسیل په نسبت په کمه اندازه د Platelet دکموالی لامل ګرځي چی همدغه یې په ښه والی دلالت کوي.

D: کورتیکوسټروئید په لوړه اندازه Lympholytic عامل دی نوځکه په CLL کې ګټور دی اوخصوصا په هغه حالاتو کې چی د Alkalyting لاملو داستعمال له کبله Thrombocytopenia او کم خوني دهډوکو د مخ انحطاط ډیر زیات دخطر سره مخامخ شوي وي د پریدنیزون استعمال چی د mg/dau ۲۰-۴۰ شروع او په تدریج سره ۱۰-۱۵mg/day ته کم کړای شي اکثرا اعراض لرونکي د CLL دکنترول کولو لپاره مرسته کوي او که داتداوي دیو Alkalyting لامل سره یوځای شي نو کیدای شي چی داوږدی مودی له پاره شفا منځ ته راوړي.

E: د Immune hemolytic کم خونی په موجودیت کې باید دکورتیکوسټروئید (پریدنیزون mg/day ۲۰-۴۰) پواسطه تداوي شي یا د وریدله لاری mg ۴۰۰-۲۰۰ Hydrocortisone پواسطه تداوي شي او په زیاتو پیښو کې یې په تعقیب دخولی له لاری ورکړل شي که امکان ولري ترانسفیوژن دی اجرانشي او په دی ډول د Iso antibody دجوړیدو څخه مخنیوی کیږي هغه پیښی چی دکورتیکوسټروئید په مقابل کې مقاوم دي د Antimetabolite دواګانو لکه Imuran یا ۶MP استعمال اغیزناکه تمامیږي په CLL کې د Alkalyting دعاملو استعمال څخه لږ وخت وروسته د Acute immune hemolytic منځ ته راتلل لیدل شویدي اګر چی داحادثه بی دکوم مخکنی تداوي څخه هم لیدل کیدای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

F: Splenectomy په هغه مخفي کم خونی کې چی د کتلوي Splenomegaly سره یوځای ګټور ثابتیږي.

لاکن Auto immune هیمولایتیک کم خوني ددی عملی په مقابل کې د ۲۵% څخه کم ځواب ورکوي همدارنګه د Splenectomy لپاره یو بل استطباب هغه ډول Hyper splenism دی کوم چی د Lukemia د اختلاطاتو څخه منځ ته راغلی وي.

۵-نتیجی

A: دژوند متوسطه اندازه په CLL کې د ۳ کالو په شاوخواکی اندازه شوی ده یعنی CML ته ورته ده لاکن دا اندازه دهغه مریضانو په شمیر باندی چی دلسو کالو څخه زیات دمرض په سلیم شکل مصاب وي په دی ډله کې نه حسابیږي.

B: په CLL کې دژوند په اندازو باندی د موجوده تداوي دتاثیراتو اندازه کول ستونزمن دی.

E: داډول یې ااکثراء دکلینیک له نظره اکثراء AML ته ورته والی لري لاکن په ځینی پیښو کې وخیم سیر غوره کولای شي د وریو Hyper thrphy او د Oropharynx او رکتم تقرحات کله کله لیدل کیږي. تداوي یې هم AML ته ورته والی لري دژوند متوسطه اندازه دتشخیص څخه وروسته ۴-۶ میاشتی ده.

لوکیمیاګانی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دلوکیمیا ډول	دتشخیص کولو طریقی	تداوي	دژوندامید
۱- ALL	دامعمولاً د ۲۰ کلنی نه ښکته عمر کې لیدل کیږي چی لاندی علامی لري لمف ادینوپاتي، Hepatosplinomegaly, Blastemia (لوکوسایتوزس، نورموسایتیک نورموکرومیک انیمیا، دهډوکو په مخ کې د Blast دحجراتو زیات والی او Megakaryocyte کموالی	Prednison ۲-MP,Vcr,Mix Ara C, Daunorubincin L-Asparaginase په مرحلو کې یا په ګډو ډول توصیه کیږي	۳۰ میاشتی
۲- AML	د ۲۰ کلنی څخه وروسته واقعات یې زیات دي علامي یې دادي Thrombocytopenia, Myeloblastoma نورموسایتیک انیمیا په Myeloblast کې د Auer اجسامو شتوالی دهډوکو په مخ کې د Myeloblast حجراتو زیاتوالی او Megacaryocyte کموالی	Ara C Cyt, ۲MP,VCr Daunorubicin Prednison یوځای استعمال	۴- ۲میاشتی
۳-CML	معمولا ۲۰-۴۵ کلنی ترمنځ واقع کیږئ کتلوي سپلینومیګالي په کې عمومیت لري لوکوسایتوزس (۱۰۰۰۰۰,۴۰۰۰۰۰) دخام ګرانولوسیت سره یوځای وي Platelets ښایي زیات شوي وي	Busulphan (Myleran)	۳ کاله
۴- CLL	دمعمولاً د ۴۵ کلنی څخه وروسته منځ ته راځي متحول لمف ادینوپاتي Splenomegaly لوکوسایتوزس (۲۰۰۰۰۰mm۳ ,۵۰۰۰) چې په کې ۸۰-۹۹% لمفوسیت وي په	Chlorambacil Cyclo phosphamid Prednison	دری کاله

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

		Hemolytic کم خوني کی Coombs تیست ۷۰% مثبت وي دهغه وکو په مخ کی لمفوسایتوزس موجود وي	
۵- Monocytic (Myelomonocytic mitocytic)	داډول یې معمولاحاد سیر لري او کله کله مزمن سیر غوره کوي دخولی او رکتم افات وصفي منظره لري د سپینوحجراتو څخه ۲۰% یا زیات Monocyte اشغالوي همدارنګه Myelocyte او Myeloblastis هم لیدل کیږي	د AML په شان	۶-۴ میاشتی

داطفالو جامد تومورونه

تناظر یا اندازی عمومي کتنه:

دکوچنی والی د دوری تقریباء نیمایي اندازه خبیثه ناروغی جامد تومورنه تشکیلوي چی په دی جمله کې William's تومور Neuroblastoma, teratoma او Hepatoma شامل دي نور خبیثه تومورونه هم منځ ته راځي لاکن څرنګه چی ډیر نادردي نو له دی کبله دلته تر څیړنی لاندی نه نیول کیږي ددی په ډله کې Rhabdomyo sarcoma او Leiomyo sarcoma شامل دي پرته له دی داتومورونه په نورو مبحثونو کې په عمده ډول شرح شویدي لکه دګوناد، Lymphoid سیستم، سکلیت، سترګه او دپوستکي تومورونه.

د William's تومورونو دخیړنی لپاره دبولي سیستم تومورنه مطالعه شي.

دکوچني والی دخبیثه افاتو وقوعات

سیټل واشنګټن (۱۹۴۹-۱۹۲۲)

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ډول	وقوعات	فیصدي
لوکیمیا	۲۷۱	۳۵،۵
دمرکـــزي عصـــبي سیســـتم تومورونه (نوروبلاستوما)	۱۵۱	۱۹،۸
دنباتي عصبي سیستم تومورونه لکه نوروبلاستوما او نور	۷۲	۹،۴
William's تومور	۵۸	۷،۲
دلمفاتیک سیستم تومورونه غیر دلوکیمیا څخه	۵۲	۲،۸
هډوکی	۴۲	۵،۵
درخوه نسج سرکوماګانی	۴۰	۵،۲
کارسینوماګانی	۳۱	۱،۴
Teratomas	۲۳	۳،۰
متفرقه	۲۴	۳،۱
مجموعه	۷۶۴	۱۰۰

پیژندنه : Neuroblastoma

A: وقوعات : دکوچني والی دخبیثه افاتو له جملی څخه ۲-۱۰ Neuroblastoma جوړوي او تقریبا هغه ماشومان چی شفاخانه کې بستر کیږي دهر ۲۰۰۰ څخه یو یې په نوروبلاستوما باندی اخته وي.

B: منشاء

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داتومور د Neural crest څخه منشا اخلي او دا ډول تومورونه دسمپاتیک عقداتو دځنځیر په امتداد کی تر غاړې پوری دابهر دویش اوحتی نادراء په سر کې هم منځ ته راتلای شي.
تقریباء ۲۰ دپریتوان په خلف کې او تقریبا ۴۰% دادرینل غدی په مخ کې تظاهر کوي د دری میاشتو څخه دکم عمر ماشومانو په اوتوپسي کې دادرینل دنسج پاتی شونی دلیدنی وړ ده کوم چی د میکروسکوپیک له نظره یې Neuroblastoma ته ورته والی لري دا ډولونه یې په کاهلانو کې ندی لیدل شوي له دی کبله داسوال منځ ته راځي چی ایا نوروبلاستوما دعضویت د نارمل دفاعي میخانیکیت دمنځته تللو له کبله منځ ته راځي یا خیر؟

C: عمر :

زیاتره داتومورونه د ۴ کلنی څخه په کم عمر لرونکی ماشومانو کې منځ ته راځي چی دعمر متوسطه اندازه په دې حالت کې ۳۰ میاشتی ده ۴۰% واقعات یې د یو کلنی څخه کم عمره ماشومانو کې لیدل کیږي.

II: کلینیکي پلټنه:

A: دیوی کتلی موجودیت په بطن کی اویا غاړه کې یوه عمومي علامه ده تومور ثابت او فص لرونکی وي او که په بطن کی وي نوعموماء د متوسط خط نه تیریږي.

B: درد کم عمومیت لري درد کیدای چی په کتله کې داحتشاء له کبله منځ ته راشي یا دهډوکي نه دمیتاستاز له کبله منځ ته راشي.

C: دسترګو د Orbit په خلف کې دمیتاستاز له کبله Exophthalmas تظاهر کولای شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: هغه علامی چی کم عمومیت لري عبارت د خسافت والي، تبه، ضعیفتیا، وزن بایللل، ټوخی او نفس تنګي څخه.

E: کله کله ځینی اعراض او علایم د مقدم تومور په عوض د Metastasis له کبله چی منځ ته راځئ مریض ورڅخه روغتون ته مراجعه کوي.

III: تشخیصیه وسایل

A: X-Ray : دبطن، صدر، غاړی ساده یا هموار عکس دی واخیستل شي دبطني تومورونو د جملی څخه ۵۰% یې Calcification ښکاره کوي چی دازیاتره په ماشومانو کې دلیدنی وړ دی داخل وریدي Pyelography(IVP) دپښتورګو Calyceal سیستم بی ځایه شوی ښکاره کوي او په کمه اندازه ددی سیستم سوء شکل هم ښکاره کوي د ادرینل میدولاتومور اکثراء پښتورګی لاندی او وحشي خواته ټیله کوي دسړو اوهډوکو میتاستازس باید ولټول شي هډوکو ته میتاستازس اکثراء دوه طرفه او متناظر وي او اکثراء یو پر درې مریضانو کې دلیدنی وړ دی چی دامریضان اکثراء زیات عمر لري.

B: دهډوکو دمخ معاینه د Metastasis دانتشار دلټولو په غرض اجراء کیږي همدارنګه د Neuroblastoma حجرات په زیات عمومیت سره Pseudo ressetes جوړوي په نیمایي پیښو کې دهډوکو اودهډوکو دمخ میتاستازس په ۲۰ واقعاتو کې منځ ته راځي.

C: متیازی د Nor ephenephrine داستقلاب دمحصولاتو دلټولو په منظور معاینه شي چی په دی جمله کې HVA (Vanil mandlic acid) VMA Homo vanilic acid یا Dopamine شامل دي نوموړی اخرني استقلاب محصولات باید د Neuroblastoma په موجودیت لوړ اوسي (چی په ۹۵% مریضانو کې موجود وي) لاکن ښایي چی دسلیم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Ganglic nearoma یا Phechromocytoma له کبله یې اندازه لوړه شي که دمتیازو دمعاینه کولو څخه دری ورځی مخکی کوم چاکلیت ، کافي، Vanilla یاکیلی خوړل شوي دي نو کاذب مثبت Pseodu positive نتیجی ورکولای شي په متبارز کې د MA اندازه کول یو ښه ټیسټ دی چی ډیری ریښتنی نتیجی ورکوي.

IV: تصنیف بندي (دتمور برخورد اوپتالوژي):

نوموړی تومورونه ۲۰% دپریتوان په خلف کې او ۴۰% په ادرینل میدولاکی منځ ته راځي نوموړی تومورونه په ابتدایي مراحلو کې دخپل محافظوي کپسول څخه دباندی انتشار نه کوي او په موضعي ډول توسع کوي همدارنګه کیدای شي داتومورونه په ابتدایي مراحلو کې د وینې له لارې ځیګر اوهډوکو ته میتاستاز ورکوي.

په ډیرو ځوانو ماشومانو کې دپوستکي میتاستازس لیدل کیږي مجاور عقدات د لمفاوي اوعیو له لارې اخته کیدای شي سږو ته میتاستاز معمولاً په موخر ډول منځ ته راځي نومورې تومورونه دوه اساسي هستولوژیکي انواع لري چی عبارت دي له Neuroblastoma (چی خباثت یې زیات دی) او Ganglic Neuroblastoma (چی خباثت یې کم دی) همدارنګه کیدای شي چی دهستولوژي له نظره Lympho sarcoma او Ewing's tumor سره مغالطه شي.

V: دتداوي پرنسپیونه

A: جراحي

۱- په بشپړ ډول دجراحي دعملیی پواسطه د تومور ویستل د شفا لپاره بهترین امید دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- اوکه داامکان ونه لري او هډوکو ته دميتاستاز کوم کلينيکي شواهد موجود نه وي نو Subtotal excision استطباب لري.

۳- که دهډوکو اويا دعضويت پراخ او منتشر ميتاستاز موجود وي نو د بايوپسي لپاره هغه وخت دجراحي استطباب اينبودل کيږي کوم وخت چې يواځې دهډوکو دمخ په معاينه او په متيازو کې د Nerophenephrine داستقلاب نيمايي محصولات شتون ونه لیدل شي.

B: شعاعي تداوي

نورو بلاستوما دشعاع په مقابل کې ډير لوړ حساسيت لري اويواځې ددی تداوي داستعمال پواسطه شفا لاسته راوړل شويده په داسی حال کې چې ځيګر ته دتومور د ميتاستاز انتشار هم موجود وي.

۱- کوم وخت چې تومور په پشړ ډول سره وايستل شي نو يواځې دتومور په بستر باندی تشعشع اجراء کيږي اګر چې د يو کلنی څخه په کم عمر ماشومانو کې ددی استعمال تر اوسه فيصله شوی نه دی ځکه چې دنومورې ماشومانو انزار بيله دی هم ډير ښه دي.

۲- که تومور په ناتام ډول سره ويستل شوی وي نو دتومور دپاتی برخی په بستر باندی تشعشع اجراء کيږي که ځيګر ته ميتاستاتيک انتشار موجود وي لاکن دعضويت په نورو ځايو کې ميتاستازس موجود نه وي نو په ځيګر باندی هم تشعشع اجراء کيږي.

۳- که دهډوکو ته يا په عضويت کې په پراخ ډول ميتاستازس موجود وي نوشعاعي تراپي په عرضي ډول د درد دارامتياء اودلويو کتلو دکوچني کيدو په منظور اجراء کيږي.

۴- په ماشومانو کې دشعاعي تداوي داستعمال په عواقب عبارت دي (دهډوکو دنشونما دمراکزو اومجاورو رخوه انساجو دتشعشع له کبله سوء شکل اودهډوکو دمخ انحطاط دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه کیدای شي چی شعاع په خپله سرطان منځ ته راوړي. په غیر تداوي شوي عمومي Neuroblastoma کې دژوند وسطي اندازه څلور میاشتی ده دشعاع اویا کیموتراپي داستعمال سره دژوند اندازه ۵-۶ میاشتی پوری ده.

C: کیموتراپي:

۱- میتاستاتیک نوروبلاستوما د ګډې کیموتراپي په مقابل کې ښه عکس العمل ورکوي لکه Vencristin او Cytoxan sequential په مرحله وار ډول یا په Sequential ډول. تقریبا په ۵۰% مریضانو کې دتومور رجعت یاکوچنی کیدل لیدل کیږي په عمومي ډول سره په زړه پوری عکس العملونه په هغه ماشومانو کې لیدل کیږي.

۲- د Metastatic Neuroblastoma په ۳۸ هغه ماشومانو باندی چی دماشومانو دکانسر مطالعه کوونکی ګروپ له خواتر تداوي لاندی نیول شوی وه او نوروماشومانو ته Vincristin او Cytoxan په ګډ ډول سره دورید له لاری هره یوه هفته پس تطبیق شوی وه په دی ډله کې دتداوي ځواب دټولو عمرونو ماشومانو لپاره ۳۲% وه اودژوند متوسط اندازه ۱۲ میاشتی وه ددوی نتیجی په هغه ۸ ماشومانو کې چی عمر یې دیوکال څخه کم وه ښه وه چی ددی جملی څخه ۵ ماشومان د ۱۲ میاشتو لپاره دناروغی څخه خلاص پاتی وه.

۳- د ۴۸ ماشومانو په یوه بله ډله کې چی په Metastatic Neuro blastoma اخته وه د Acute Leukemia cooperative study group پواسطه تر څیړنی لاندی نیول شوي وه دتشخیص په وخت کې اویا دمقدم میتاستازس په وخت کې دکیموتراپي په مقابل کې عکس العمل اودعمر ترمنځ کوم ارتباط نه وه لیدل شوی په دی ډله کې یواځی څلور ماشومان چی ددوا په مقابل کې یې ځواب ورکولو دژوند متوسط اندازه یې ۱۴ میاشتی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه په داسی حال کې په هغه ماشومانو کې چی دتداوي په مقابل کې يې ځواب ورکولو د ژوند متوسطه اندازه ځلور میاشتی وه داخبره تراوسه معلومه شوی نه ده چی ایا د وقایوي کیموتراپي په مرسته په موضعي توګه په Resect شوی تومورونو کې دمیتاستازس مخه نیول کیدای شي یانه؟

۴- د VMA په Serial ډول اندازه کول دموثری تداوي د اندازه ګیري لپاره اودمیتاستازس دشتوالي اویا نشتوالي لپاره یو ګټور لارښود دی.

VI: نتیجی او انزار:

A: دژوند اندازه: هغه ماشومان چی دتومور داخرني شواهدو څخه (۱۴) میاشتی وروسته هم دکلینیک له نظره تومور ونه لري داډول ماشومان په څرګند ډول شفاء شوي دي تقریبا دټولو ماشومانو څخه یو پر درې دشفا قابلیت لري هغه ماشومان چی عمر یې د دوه کلنی څخه کم وي او په منتشرمرض باندی اخته وي هغوی دجملی څخه تقریبا ۱-۲% ماشومانو کې په بنفسهي ډول په سلیم Ganglic neuroma باندی بدلیدای شي.

B: انزاري عوامل

عمر: دیوکلن څخه کم عمر ماشومانو کې دشفا امید د ۲۰-۲۵% تر منځ قرار لري په داسی حال کې چی دهغه ماشومانو دشفا توقع یواځی ۱۵%وه چی دیو کلنی څخه زیات عمر لري.

دمقدم تومور موقعیت

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوفياتو لوړه اندازه دبطن په تومورونو کې ۸۰% ته رسيږي چې دتولو څخه لوړه ده د صدر يا غاړې تومورونه نسبتا ښه انزار لري.

دميتاستاز موقعيت:

دهډوکو ميتاستازس په زيات عمر ماشومانو کې خراب انزار لري او ۱-۲% ژوندی پاتی کيږي چې داکيدای شي چې مرض په بنفسهي توګه سليم شکل غوره کړيدی که ځيګر پوستکی اويا دهډوکو مخ ته په يواځی ډول ميتاستاز صورت نيولی وي نو شفا امکان لري ځکه چې داډول افات معمولاً په ډيرو کوچنيو ماشومانو کې ليدل کيږي کوم چې په زړه پوری انزار لري.

۱- پيژندنه : Hepatoma

Hepatoma ډير زيات خبيث تومور دی چې له نيکه مرغه په ماشومانو کې ډير نادر دی دا تومور په ډير نادر ډول سره په ماشومانو کې د سيروزس سره يوځای وي په هغه راپورونو کې چې دقطع کولو وړ افاتو اويا د Lobectomy داجراکولو نه وروسته ورکړل شوی وي دژوند اندازه يو پر درې وه خو بيا هم دتولو پيښو لپاره دژوند اميد ډير کم دی ممکن د ۱۰% نه کم اوسي او په نه تداوي شوو ماشومانو کې دژوندمتوسطه اندازه ۵ مياشتی ده چې ډير لږ يې تر ۲ کالوپوری رسيږي کوم څرګند ارثي فکتورونه پکې رول نه لري.

II: کلينيکي لټنه:

مهمه علامه د بطني کتلی موجوديت دی نور اعراض او علايم يې عبارت دي دي له کم خوني بطني درد او تبی څخه دی او تبه کيدای شي چې ډيره لوړه وي او کيدای شي چې

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دانـزارو لـه نظـره يـوه خرابـه علامـه وي ځکـه چـې پرتـه دمناسـب Resection څخـه هـم ميتاستازس منځ ته راځي.



په پورته شکل کې Hepatoma ښودل شويدی

III: تشخيصيه وسايل


A: دپريتوان د خلف دتومورونو د ردولو لپاره IVP اجراکيږي دميتاستازس دلټولو لپاره دصدر اوهډوکو X-Ray اخيستل کيږي.

B: په متيازو کې د Cathecholamin ټول دهغه Neuroblastoma دردولو لپاره چې ځيګر ته يې ميتاستاز ورکړی وي.

C: دځيکر Scan دماوفه بدلون د اندازه کولو لپاره اجراکيږي.

E: دځيګر Arteriogram دتومور ، Cyst اودسيروزس دافت د معلومولو لپاره اجرا کيږي.

F: په دی اوسني وختو کې دسيروم Feto protein (چې يوائی په جنين کې موجود دی) د Hepato Carcinoma د ۴۰-۸۰% مريضانو په سيروم کې ليدل شويدی.



په پورته شکل کې هيپاتوما ښودل شويدی

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

IV: تصنيف بندي

داتومور دوه اساسي هستولوژيک انواع لري چې يو Hepatoblastoma دی چی معمولاً د دوه کلنی څخه کم عمر ماشومانو کې او دواړو جنسو کې په مساوي ډول لیدل کیږي بل يې Hepato carcinoma دی چی معمولاً د دوه کلنی څخه زیات عمر ماشومانو کې لیدل کیږي او په نارینه ماشومانو کې ۱۱ چنده زیات لیدل کیږي دهستولوژي له نظره د يو خبیث Hepatoma توپیر د کبد دسلیم Adenoma څخه ستونزمن کار دی د Hepatoma دوه پر درې پیښو کې په ځانګړی ډول یواځی دځیګر یو فص ماوفه کوي دمیتاستاز لپاره دټولو نه زیات عمومي ځای سږي دی چی دوینی له لاری انتشار کوي ناحیوي لمفاوي عقداتو ته انتشار صورت نیولای شي همدارنګه کیدای شي چی تومور مجاور انساج لکه حجاب جاجز او پری کاردیوم دبرید لاندی ونیسي.

V: دتداوي پرنسیپونه

A: د ښه والي یواځنی لاره د جراحي پواسطه دتومور بشپړ ایستل دی چی دایوه مشکله عملیه ده اوباید یواځی هغه وخت اجراء شي کوم وخت چی افت یواځی یو لوب ماوف کړی وي او د Metastasis کوم ننښی موجود نه وي لاکن بیا هم یو داسی ماشوم چی په سږو کې يې میتاستازس درلوده د مقدم افت د قطع کولو څخه وروسته دسږو افت هم له منځه لاړ چی دځلورو کالو لپاره ژوندی پاتی شو.

B: شعاعي تداوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

شعاعي تداوي اوکیموتراپي څرګنده ګڼه نه لري لاکن داطریقی په هغو پیښو کې استعمالیږي چی دجراحي عملی وړتیا ونه لري.

C:خصوصي کتنی

دځیګر د Lobectomy څخه وروسته یو زیات شمیر استقلابی تغیرات منځ ته راتلای شي کوم چی باید تر تنظیم لاندی ونیول شي داعبارت دي د Hypo prothrobenemia او Hypoglycemia hypo albomen څخه.

چی ددی جملی څخه Hypo albumenmia او Hypoglycemia د داخل وریدمایعاتو پواسطه کنترول کیدای شي.

د Labectomy څخه دړې ورځی وروسته وینی دقند سویه کوم مشکل نه پیدا کوي لاکن دسیروم د البومین سویه ښه والي زیاته موده وروسته منځ ته راځي دبیلروبین اود S got سویه هم لوړیدای شي لاکن دالوړوالی ګذري وي.

VI: نتیجی او انزار:

A: دعملیاتو دوفیاتو اندازه ۲۰-۳۰% پوری راپور ورکړل شویدي.

B: په Resectable افاتو کې ښایي دژوند اندازه ۳۰% وي.

Teratomas

۱- پیژندنه

تیراتوما په ماشومانو کې نادر افت دی په عمومي ډول سره په Sarcoma Coccygiat ناحیه کې زیات منځ ته راځي د وقوعاتو اندازه یې دژوندی زیږیدنو لپاره ۱/۴۰۰۰۰ ده داتومورونه په کمه اندازه Retro peritoneal قدامي منصف،غاړه، قحف اویا Gonods

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کې منځ ته راځي Sarcoma Coccygeal teratoma په Coudal ناحیه کې په زیاته اندازه منځ ته راتلای شي چې په تعقیب یې Dermoid cyst، قدامي Myelomening cell lipoma ، Perirectal ابسی ګانی، Angiomas او Sarcoma عمومیت لري.

A: عمر او جنس

څرنګه چې د Gonads اویا قدامي منصف Teratoma د ۲۰-۳۰ کلنی په منځ کې واقع کیږي البته د پاتی ځایونو Teratoma معمولاً دیو کلنی څخه کم عمر ماشومانو کې لیدل کیږي. Retro peritoneal او Sacro Coccygeal تیراتوما که خبیث نه وي نو په ښځو کې دري چنده زیات عمومیت لري او که خبیث وي نو دواړه جنسه یو شانته اخته کوي داخل قحفي افات په نرانو کې زیات عمومیت لري.

وفیات:

هغه ماشومان چې عمر یې د ۲ میاشتو څخه کم وي د Sacro coccygeal tertoma دجملی څخه تقریبا ۲-۱۰% یې خبیث وي اودتومور د بشپړ ایستلو نه وروسته ښایي چې دلیږی ځایو میتاستاز منځ ته راشي هغه تومورونه چې د ۲ میاشتیې څخه وروسته کشف کیږي دخباثت فیصدي یې ۴۰-۹۲% ده.

C: پتالوژي او اپیدیمولوجي

په تومور کې درشیمي ژوند دری واړه طبقی Germ layer موجود وي ښایي چې په ټول سلیم Teratomas کې Glial نسج موجود وي Sacro coccygeal teratoma په مورد کې مولفین په دی عقیده دي چې داد hensen node دحجراتو اودرشیمي ژوند په ۲-۳ هفتو کې د Primitvie streale څخه منشی اخلي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دنوموړي مريضانو په فاميل کې دغير ګونی ماشومانو پيداکيدو ته زيات ميلان وجود لري چی داحقيقت داسوال راوړي چی شايد داتومورونه ديو Twins ماشوم په پيداکيدو کې ناکافي وي.

Adeno carcinoma دټولو نه زيات خبيث تومور دی چی د ۳۰ خبيثه واقعاتو څخه يو پر درې راپور ورکړل شويدی نور ډولونه يې د Embryonal carcinoma او Sarcoma Rhabdomyo sarcoma غير تفريق شوي او Hemangic endothelioma باندی مشتمل دی.

II: کلينيکي لټنه:

نوموړی تومورونه ښايي چی ديو داخل قحفي کتلی، دغاړی کتلی، ديوی بطنی کتلی ياد کناټيو سره يوځای يو کتله پواسطه تظاهر وکړي چی دا اخرنی تومور دی دعصعص هډوکی سره وصل وي اويولړ شمير يې د عجز هډوکي په قدام کې حوصلی خواته پراختياء موندلی شي او که دبولی لاری اويا دکولمو دبندش اعراض منځ ته راشي نوداپه خباثت دلالت کوي دقدامي منصف Teratoma ښايي چی دشزن يا ممکن په مری باندی فشار يا دسږو دانساجو په بيځايه کولو پواسطه اعراض توليد کړي.

تشخيصيه وسايل

A: افت ساده عکسونه د Calcification دمعلومولو لپاره اخيستل کيږي. کوم چی د Neuroblastoma په نسبت ځيګ او تاو راتاو وي غابنونه دافت لپاره Pathogonomic دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: په Sacro coccygeal افت کې د حوصلی په داخل کې دتومور دانتشار دمعلومولو لپاره IVP اودباریوم اماله کمک کوي د Retro peritoneal تومورونو په شتوالی کې د Neuroblastoma تفریقي تشخیص د William's دتومور سره د IVP پواسطه اجراکیږي.

C: دپریتوان دخلف دتومورونو په موجودیت کې د Neuroblastoma تفریقي تشخیص دپاره دمتیازو اودهډوکو دمخ Cathechol amine معلومول ضروري دي.

D: دمیتاستاتیک ناروغی دلتونی لپاره د صدر رادیوګرافي اودهډوکو Survey اجراکیږي.

IV: تصنیف بندي

دتومور جسامت دهغوی خباثت نه تعینوي لاکن بیا هم خبیث تومورونه نسبتاء زیات جامد او کلک وي او سلیم تومورونه په عمومي ډول Cystic بنیه لري میتاستاز دوینی اویا لمفاوي سیستم دلاری صورت نیولای شي خبیث تومورونه په موضعي ډول هم انتشار کوي او په بشپړ ډول یې قطع کول مشکل تمامیږي.

V: درملنه

A: دجراحي پواسطه دتومورایستل دتداوي یوائنی غوره لاره ده کیموتراپي اوشعاعي تراپي کوم بد تاثیر نه لري.

B: د Sacro Coccygial teratoma څخه د Specimen د اخیستو په وخت کې باید د Coccy هډوکي هم ورسره پریکړل شي ځکه چی که داقطع نشي نو یو پر درې واقعاتو کې دتومور دعود لامل کیږي که تومور د حوصلی په داخل کې توسع کړی وي نو د یو مشترکی بطني طریقی استعمالول ضروري ګڼل کیږي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

VI: نتیجی او انزار:

د Sacro coccygeal teratoma دپاره دعملیاتو د وفیاتو اندازه د ۱۲-۲۳% ترمنځ فرق کوي که دجراحي عملیه دماشوم تریو کلنی پوری په ځنډ واچول شي نو دوفیاتو اندازه لوړیږي یو سلیم تومور چی په مکمل ډول ایستل شوی وي ښه انزار لري اویو خبیث افت ډیر خراب انزار لري ځکه چی دافت په بشپړ ډول لیری کول مشکلات لري او کیموتراپي اود X-Ray تراپي هم ګټور ثابتیږي.

داطفالو دخبیثه افاتو عمومي پرابلمونه دکانسر د تداوي تاثیراتو

۱- فزیکي جانبي عوارض

په دی جمله کی لاندی شیان شامل دي Seizures ړوندوالی Hemiparesis ، Cosmetic تشوشات، غیر متناظر نشونما ، دپوستکي Gengmentation اتروفي او Vascularization فلج ، Hypoparathyroidism او Hypothyroidism hypo gonadism ، عقامت اودمهمو اعضاو Fibrosis دهډوکو د Epiphysis تخریب چی دهډوکو دنشونما دکموالی سبب کیږي.

۲- دویمي کانسر

۳- هیجاني او روحي پرابلمونه.

۴- اقتصادي فشارونه

۵- دمریض مکمل توجه ته ضرورت چی دتشخیص په ورځ ددی مقصد لپاره دډاکترانو او نورو موظف خلکو یو تیم تشکیلوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمنتشر کانسر تنظیمول او کنترول

Management of Disseminated Cancer

۱- دپرابلم پیژندنه

کوم وخت چی دکارسینوما یو مثبت Cytologic تشخیص سرته ورسیږي نو په طبیب باندی دافرض دی چی دمرض دموضعي وسعت یوه حیقیقي اندازه ګیري وکړي او همدارنګه ورسره یوځای دلیری ځایو د میتاستازس دانتشار په مودر کی هم څیړنه اجراء کړي په داسی حال کې چی په موضعي ډول میتاستازس دشفا وړ وي یا نه وي؟

په دې مبحث کې مونږ په اساسي ډول دداسی مریضانو څخه یاداوري کوو کوم چی دمقدم کانسري افت څخه په یو یا څو لیری ځایو کې په میتاستازس باندی اخته وي په زیاتره مریضانو کې دیوشمیر زیات Metastasis محراقونو شتوالی ښایي چی ښه څرګند وي چی دمریض پرابلم په څرګند ډول په ګوته کوي اودبلی خوا هریو تجربه لرونکي طبیب په هغه مشکلاتو ډیر ښه پوهیږي کوم چی دمرض دانتشار په مورد کې دابتدایي معلوماتو د راټولولو په وخت کې پیدا کیږي همدارنګه طبیب باید دمختلفو کارسینوماګانو دمیتاستاتیک طرزالعمل په باره کې دناروغی دسیستمیک تظاهراتو لپاره کې برسیره د تشخیصیه X-ray او جراحي د بایوپسي په باره کې معلومات په کافي اندازه حاصل کړي که د Metastasis په مورد کې کوم شک موجود وي نو باید داکتر داحصایی له نظره نوموړی ناحیی ته دمیتاستازس په مورد کې خپله زیاته پاملرنه واړوي

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوم چی دشفا په منظور ورځخه بنه ګټه واخیستل شي دتشخیص وړ میتاستاتیک ناروغیو موجودیت د مختلفو طریقو استعمال ته ضرورت پیدا کوي او ددی راپور اساس هم ددی پواسطه تشکیل شویدی.

II: پرته دځینو استثناءتو څخه (چی ددی ټولو نه زیات عمومي استثناء Choric carcinoma ده) دیو منتشر کانسر موجودیت دامعنی ورکوي چی شفا ناممکن ده اودتداوي لپاره کوششونه Polloay داعراضو دکموالی په موخه دی دا باید څرګند اوسي چی Pullictien دژوند داوږد والی مفهوم نه ورکوي بلکه دمریض ستونزی کموي چی په پایله کې دمریض ژوند دیو زغم وړ بنه ځانته غوره کوي د عرضی تداوي څخه مخکی دمریض او دهغوی دفامیل په باره کې معلوماتو ته ضرورت پیدا کیږي.

II: دمنتشر کانسر سریري تظاهرات:

I: دطبعي تګ لار: دیوزیات شمیر عمومي کانسري ناروغیو طبعي تګ لار ددی کتاب په نورو فصلونو کې خلاصه شویده مهمه خبره داده چی دا وپیژندل شي چی دځینی مخصوص CA دژوند اندازه د وخت له نظره فرق کوي په داسی حال کې چی دمیتاستاتیک ناروغی څرګند شواهد موجود وي د اوږده ژوند لپاره یو کلاسیک مثال یو Post Menopousal مریض دی چی دثدیی پر مخ تللی کانسر لري (متوسط ۲-۷ کاله دی) او دلنډی مودی دژوندانه لپاره Standard مثال دسږو او د پانکراس دکارسینوما مریضان دي څرنګه چی داډول احصائیوي معلومات فوق العاده زیات اهمیت لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- په موضعي نواحيو کې دميتاستاتيک انتشار ستونځی

څرنګه چې يو ځانګړی ميتاستازس په ځينی مهمو ځايو کی داساسي اعراضو مسول کيدای شي نو پرته له دی چی نوور ځايو کې ميتاستازس وجود لري دنوموړي ځای لپاره تداوي اجراء کوي ډير اهميت لري نو په داسی ټولو ځايونو کې Capitulation ضروري ندی لاکن مهم مثالونه يې په لاندی ډول دي:

A: دماغي Metastasis

B: پلورا او پريتوان ته ميتاستاز او هلته دمايعاتو راټوليدل.

C: ثانوي افات په داسی ځايو کې چی دوجود څخه دمايعاتو دخارجيدو په مقابل کې بندش منځ ته راولي لکه GI، صفراوي طرق او بولي لاری او نور.

۳- دخبيثه ناروغی سيستميک تظاهرات

دسوء تغذی تشوشات چی دکانسر په سير کې منځ ته راځي دټولو ناروغيو څخه خرابه لوحه جوړوي چی دادکانسر د سيستميک تظاهراتو په پايله کې منځ ته راځي. يادکانسر په مقابل کې دکوربه دعمومي عکس العمل له کبله تظاهر کوي هغه ښه پايه چی دکوربه په نوموړی عکس العمل باندی متصف دی په لاندی ډول دی.

A: بی اشتهايي

B: دشخص دتغذی لپاره د Hypermetabloism منځ ته راتلل.

C: دعضويت دانساجو ضايع کيدل.

دانساجو داډول ضايع کيدل په متبارز ډول په عضلاتو او شحم باندی تاثير اچوي او امکان لري چی ټولی اعضاو په استثناء دځيګر اودماغ څخه خپل تاثير لاندی راولي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

C: کیموتراپي

په عمومي ډول دتداوي داډول دهغه مریضانو لپاره په کار وړل کیږي چی په منتشری ناروغی اخته او سیستمیک تظاهرات ولري.

۲- عمومي اقدامات

A: د درد اراموں: که امکان ولري دوصفي تداوي پواسطه باید درد ارام شي حتی کیدای شي چی د نرکوتیک دواګانو په شدیدوحالاتو کې کار واخیستل شي لاکن ډاکټر باید دمرضي پروسی دمزمن سیر غوره کیدو په مورد کې پوره معلومات دځانه سره ولري د نارکوتیکو دجانبي عوارضو په باره کې (عضلی په معدی معایي) باید معلومات ولري.

عمومي اوصول داسی نظر ورکوي چی په لمړی مرحله کې د Analgesis دواګانی استعمال شي یا د Petentiating دوا سره یوځای او په تعقیب یې کمه اندازه قوي Narcotic ورکړل شي او په اخره کې دټولو نه قوي Narcotic استعمالیدای شي.

۱- Aspirin Darvon

۲- Codeine

۳- Opium demerol

B: تغذیه

دانسانانو سرطاني ناروغیو سوء تغذی دعضویت په تضایع اود وجود دشحمي ذخایرو په تضایع باندی متصف دی او داپه اساسي ډول دغذایي موادو دکم اخیستلو اودعضویت ته د انرژي د ضرورت د زیاتیدو له کبله وي دسرطان ناروغی په مریضانو کې د کالوري د فقدان دمنځه وړلو لپاره کوششونه یوائی هغه وخت دکامیابی سره مخامخ کیږي کوم

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت چی دناروغی ترمیم او ښه والی منځ ته راغلی وي په اجباري ډول په زیاته اندازه مریضانو ته دخولی له لاری غذا ورکول په داسی مریضانو کې د انرژي په زیات مصرف باندی منتج شو اوکلوري په فقدان کې کوم ښه والی منځ ته راغلی نه وي دسوء تغذی دحقیقي رجعت لپاره دتومور Regression تولیدول ضروري ګڼل کیږي.

C: انتان

په زیاتره مریضانو کې انتان ته زیاته زمینه مساعدوي او کوم وخت چی Cytotoxic دواګانی استعمال شي نو دانور هم زیاتیږي.

D: کم خوني

دخبیثه ناروغیو کم خوني معمولاً یوزیات شمیر اسباب لري سوء تغذیی دسړو حجراتو دعمر کموالی او ځینی وخت د Erythroblastic فعالیت تنقیص ټول فکتورونه دکم خونی په منځ راوستلو کې رول لري.

که دفولیک اسید فقدان په واضح ډول سره داساسي فکتور په حیث رول ونه لري نو دکم خونی تداوي معمولاً د مرض دترمیم کیدو پورې اړه لري ځینی وخت ترانسفیوژن ته استطباب ورکول کیږي لاکن دایواځی هغه وخت صورت نیولی شي چی کم خوني د اعراضو په تولید کیو یو متبارز رول ولري. او همدارنګه دایواځی دتومور دنشونما په سرعت پورې مربوط کولای هم نشو یو زیات شمیر داسی مریضان شته چی په څرګند ډول په منتشر تومور باندي اخته وي اودپورته ذکر شوي اعراضو څخه یو هم نه لري اودبلی خوا ځینی وخت زیاتره مریضان دپرمختګ په اوږدو کې دنشونما کوونکی تومور په مقابل کې دکوربه عمومي عکس العمل ښکاره کوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

برعلاوه دپورته ذکر شوي عمومي عکس العملونو چی په خبیثه ناروغی کې لیدل کیږي داسی معلوم شویده چی یو لړ مخصوص سندرومونه چی دستروئید هورمون Trophic هورمون یا پولي پیپتاید تولیدیدو پورې ارتباط ولري منځ ته راتللی شي پداسی حال کې چی دسږو او پښتورګو کارسینوما په عمومي ډول سره داندوکرین د وظایفو دتشوشاتو اعراضو سره یوځای لیدل شویدی او داډول حادثه تقریبا په هر ډول نیوپلازیا سره منځ ته راتلای شي په عمومي صورت سره ویلای شو چی دهورمونو دزیات والی سندرومونه یواځی دمیتاستاتیک ناروغی دموجودیت سره ملګرتیاء کوي نوری ډیری ښی توضیح شوی پدیدی په Metastatic ناروغی کې لیدل کیږي لاکن ددی لامل واضح کول مشکل کار دی چی په دی ساحه کې د CNS Demylina ناروغی او ځینی Hemotological او Connective tissue ناروغی شامل دي کیدای شي چی معافیتي میخانیکتونه په کې رول ولري لاکن په موجوده وخت کې ددې لپاره کوم شواهد وجود نه لري او په حقیقت کې دځینی تومورونو سره معافیتي عدم کفایه لیدل کیدای شي.

IV: دمریض تنظیم او تداوي

۱- وصفي تداوي په هغه مریضانو کې چی مشخصه منتشره ناروغی لري.

A: جراحي

په میتاستاتیک خبیثه ناروغی کی دجراحي رول اوس هم ډیر اهمیت لري کله چی بارز اعراض د تومور د بندش له کبله منځ ته راغلی وي نو دانسداد دمنځه وړلو په خاطر جراحي ته استطباب ورکول کیږي دجراحي دویم استطباب دیو ځانګړي تومور ایستل دي حتی که

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

داتومور بی عرضه هم وي اوداعمليه په دی امید اجراء کیږي چی دایوائنی میتاستاتیک ناحیه ده.

B: شعاعي تداوي

دموضعي میتاستاتیک نواحي چی داعراضو سبب کیږئ په داسی نواحیو کې لکه هډوکو، پلورا و دپریتوان عموماء دشعاعي تراپي دځینی ډولونو په واسطه په اغیزناکه ډول سره درملنه کیدای شي.

دکانسر په پاملرنه کې دنرس رول:

۱- کتنه یا نظر اندازی: په دې فصل کې دنرس دخدمت څخه یا د اوری شویده چی دیوکانسر لرونکی شخص ته څرنګه پاملرنه کیږي ځکه چی نرس په فزیکي ډول دکانسر مریض دناروغی په اوږدو کې دپام لرنی لپاره ډیر زیات فعالیت کوي او نوموړی په زیاته اندازه دکانسر دمخنیوي لپاره کوشش کوي ډاکتر، نرس اومریض په اجتماعي شکل کې اودمرض دتداوي په مورد کې یودبل سره زیاتی همکاری ته ضرورت لري ځکه چی نوموړی ډیر اساسي پریکړی کوي اونرس یو تشریحي رول لري نرس دمریضانو سره اودهغوی دکورنیو سره دمرض دتداوي اود روحي فشارونو دلیری کولو په مورد کې چی دکانسر څخه پیداکیږي مجادله کوي نرس مریض ته دډاکتر دطبي پلان دقبلولو دپاره دضروري تشخیص اودتداوي داقداماتو دتحمل کولو لپاره اودهغوی دتداوي څخه داعظمي ګټی داخیستلو لپاره او د ژوند اطمینان لپاره ډیر مهم رول لوبوي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

II: دمرض په مختلفو مراحلو کې دنرسنګ دندی:

A: صحت مند شخص

۱- دکانسر د مخنيوي لپاره ښکاره اقدامات تدريس کړی شي.

۲- دکانسر دمقدم يا ابتدايي تشخيص لپاره اقدامات تدريس کړی شي (دثديو په خپله معاينه کول)

۳- هغه شخص چی دکانسر دخطر سره مخامخ دي.

۱- دمريض سره دطبي توجه دحاصلولو لپاره کمک وکړل شي.

۲- دمريض دتدادوي په تحمل کولو کې کمک وکړل شي.

A: د ضرورت له نظره فزيکي توجه ورکړل شي.

B:په خپل پام لرونکو خلکو باندی عقيده وساتل شي

۳- دتداوي نه وروسته دمريض سره په لاندني شيانو کې کمک وکړل شي.

A: دتبديل شوي وظيفی سره تطابق کول

B: دتوليد کوونکي ژوند دبيرته راتګ لپاره Rehabilitation

C: دمرض چټک او خراب پرمختګ زغمل

E:دمناسب اجتماعي سازمانونو سره اړيکی کلکول.

۴- په تعقيبيه معاياناتو باندی تينګار کول.

III: دنرسنګ Care عمومي اړخونه دهغه مريضانو لپاره چی کانسر لري:

A: دنرسنګ دپاملرنی موخی

۱- دمريض اودهغه دفاميل دپاره فزيکي او روحي ارامتياء برابرول.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- مریض دهغه اختلاطاتو څخه ساتل کوم چی دتداوي، دمریض کم زوري په محیط کې دخطراتو اودحرکاتو دکموالي په نتیجه کې منځ ته راځي.

۳- دمریض سره د Anxiety په کمولو کې مرسته کول.

۴- دضرورت په وخت کې دمریض سره دهغوی دژوند دمشکل په مورد کې مرسته کول.

۵- هغه مریضان چی دخپل مرض په اخرنی صفحو کې وي (جانکندن) په وقار اودرناوي دمړکیدو احساس پیداکول.

۲- دمریض په حق کې دطبي امرونو سرته رسول.

B: دنوموړي هدفونو دلاسته راوړلو لپاره میتودونه:

۱- دماهرانو فزیکي پاملرنی برابرول.

۲- دمریض او کورنی پوهیدنه

A: دصحت عمومي پاملرنه

B: دیو مفصل رول په عوض فعال رول غوره کول

۳- دمریض سره دباور پیداکول (په کوم ځایو کې چی دمریض او نرس ترمنځ تماس دوامدار وي)

A: دیوائی توب او بیچارګي احساس کمیدای شي.

B: دستونزمنی درملنی قبلول منځ ته راتلای شي.

C: مریض خپل منفي احساسات څرګنده وي.

D: دتداوي په اوږدو کې

E: دتداوي په اوږدو کې پاملرنه چی دکانسر په ټولو ډولو پوری اړیکی لري.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- جراحي:

A: په وظایفو کې دبدلون له امله پیداشوی خفګان سره مجادله کول.

B: دمریض د درد په اراموله کې کوششونه او دانلجزیک استعمالول.

C: داختلاطاتو څخه دی وساتل شي.

۲- شعاعي تراپي:

A: پوستکی ته پاملرنه.

B: دمریض سره دغذاء تنظیمول، دفعالیتونو او بدلونونو کنترول، بی اشتهایي او N/V یا اسهال په مورد کې خاصه پاملرنه کول.

۳- کیموتراپي

A: داتتاناتو څخه دی وساتل شي.

B: دسمی جانبي عوارضو څخه پوهاوی ورکړل شي.

C: دتغذی دښه حالت دمنځ ته راتلو لپاره زده کړه.

IV: دنرسنګ پاملرنی، اهتمامات چی دکانسر دځینی ډولونو لپاره وصفي اویا مخصوص وي:

عمومي اهتمامات لکه دجراحي څخه مخکی، دهغوی په اوږدو کې او وروسته دجراحي څخه مریض پاملرنه، په مزمن ډول ناروغ شخص پاملرنه اودمرګ ځاله مریض پاملرنه دکانسر دپاملرنو برخی تشکیلوي لیکن په داسی ځای کې تر بحث لاندی نه نیول کیږي.

A: دثدی کانسر

۱- په لمړی یا مقدم ډول لټنه: دثدیو خپله معاینه ورته دی زده کړی شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- دمریض ویره، قهر ته غوږ نیول کوم چی دطبیب په مقابل کې یې ظاهرولای نشي.

۳- د Mastectomy داجراء کولو نه وروسته پاملرنه.

A: په لاس اوعملیات شوی خوا کې دپیچکاري کولو څخه دی ډډه وشي.

B: داوږدی مودی دحرکاتو لپاره دفزیکي تمریناتواجراء کول.

۴- دنقاهت صفحی او Rehabilitation :

A: په بازار کې د موجوده ثدیی Prosthesis مختلف ډولونه مریض ته وښودل شي او هغوی ته دی داتوضیح شي چی دکوم ځای څخه باید واخیستل شي اودهغوی پاملرنه په څه ډول وشي.

B: دکورني فعالیتونو سره دتمرین په اجراء کولو کې دمریض سره کمک کول.

C: هغه مریضانو ته چی هډوکو ته یې میتاستازس صورت نیولای وي دوجود دمیخانیکي حرکاتو تمرین ورته زده کړی شي.

B: دسږو کانسر

۱- وقایه، مریض د سګرټ څکولو څخه ډډه وکړي او په دې مورد کې دی ورسره کمک وشي.

۲- دتداوي په اوږدو کې پاملرنه.

A: د Thorocotomy نه وروسته د درد ارامتیاء اودسږو پانسمان په منظم ډول اجراء کول.

B: دشعاعي تداوي په اوږدو کې دمری یا شزن دتخریش څخه مخنیوی.

۳- نقاهت او Rehabilitation

A: د Thoracotomy څخه وروسته داوږي تمرینات زده کول.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

B: دضرورت له نظره دکار او استراحت اندازی په مورد کې کمک کول.

C: دهضمي لارو کانسر، دکولون او رکتم کانسر:

۱- د پیښو کتنی: هغه مریضان چی دوامداره خاسف، ضعیف، دتغوط دعادتونوبدلون، Tenesmus اویا په غایطه موادو کې وینه ولري دطبی مرستی لپاره تشویق شي.

A: مریضان دی د Sigmoidoscopy دغوښتنی لپاره تشویق شي.

B: دمعایناتو لپاره دی مریضان پوه اوامادە کړی شي.

۲- دتشخیص څخه وروسته پاملرنه.

A: که Colistomy ډیر ضروري وي نو هغه هدایات چی د طبیب له خوا ورکول کیږي باید ټینګار پری وشي او ددی حالت لپاره دی مریضان تشویق شي.

B: ددی لپاره چی دمریض وصفي سوالونو ته ځواب وویل شي باید دیوداسی شخص سره معرفي شي کوم چی خپل ژوند یې د Colostomy سره تطابق ورکړی وي.

C: که مریض دجراحي تداوي لپاره موافقه ونه کړي نو هغه دیومتناوب تداوي د پلان دقبلولو لپاره به رهنمایي شي او باید داسی محسوس کړي چی هغوی هیڅکله یواځی پری نږي اودهغوی شریک ژوند (ښځه او میړه) هم په دی پلان کې شامل کړی شي.

۳- دعملیاتو څخه وروسته اهتمامات:

A: دکولمو اهتمامات چی څرنګه ورته امر شویدی باید سرته ورسول شي.

B: هغه سامان اویا طریقی چی دجراحي نه وروسته استعمالیږي باید توضیح شي.

۴- دعملیاتو څخه وروسته اهتمامات:

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

A: دعـانی د Flops دلانـدی څخـه Suction د معـدی Decomression ، دسـوند داخلـول اودعملیاتي زخم پاملرنه دی سرته ورسول شي.

۲- کورته بیرته تګ

A: دعـامی روغتیـاء دنرسنګ څخه دی وغوسـتل شي چی دمریض د کورنی حالاتو سره دتطابق کولو اندازه ګیري وشي او مریض ته دی اطمینـان ورکړل شي او په دی مورد کې ورته تدریس وشي چی دپرابلم دتولید په صورت کې معالج ډاکتر ته راپور ورکړي.

B: مریض ته دناحیوي Colostomy کلپ یا Iliostomy کلپ په باره کې معلومـات ورکړل شي.

C: دداسی ډول پرابلمونو سره لکه اسهال، قبضیت، دپوسـتکي تخرشیت، د Stoma یـا خـولی تنګیـدل، دعـانی پـه تـرمیم کیـدو کې ځنډوالی، یـادمریض دحوصـلی کمیـدل، Depression په تشومتیازو کې مشکلات او بی صبري سره په ښه ډول مجادله وشي.

D: ودی کتل شي چی ایا مریض په دی پوهیږي چی په کوم ځای کې باید خپـل تعویضي مواد ذخیره کړی اویا نه؟

۷- دمریض په تعقیبیه پلان باندی دی دیوځل نظر واچول شي اوداډهم وګوري چی مریض د پاملرنی لاندی دی او که نه؟

D: دښځو دتناسلي طرق خبیثه افات:

۱- وقایه: مریض ته دخپلی حفظ الصحی په باره کې تدریس وشي.

۲- مقدم تشخیص: Pap تلوین هر کال یو کال وروسته.

۳- دتداوي په اوږدو کی پاملرنه لکه دنورو کانسرو په شان.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- په پیشرفته مرضي حالت کې: حبن، دپښو اذیما، بی اشتهایي، بی خوبي، Maliasia، قبضیت، درد، Depression او نزف ته دی توجه وشي.

۵- Rehabilitation دی اجراشي یعنی مریض دخپل ځان او صحت په مورد کې ښه توجه وکړي.

A: که ضرورت پیښ شي د Colostomy او فلجي مثانی تنظیم دی مریض ته ورزده کړل شي.

B: اطراف دی دزخم څخه وساتل شي.

دبولي تناسلی کانسر:

۱- مقدم پلټنه: د بی درده هیمتوریا او دادرار د بندش په صورت کې د داکتر څخه مشوره واخیستل شي.

۲- دتداوي په اوږدو کې پاملرنه.

A: دفلجي مثانی تنظیم یا Frequency او Dysuria ته توجه.

F: دپوستکي کانسر

۱- وقایه: پوستکی د دوامدار تخریش څخه وساتل شي همدارنګه د اولتراوایلیت یا Ionizing وړانګو اودکیمیاوي موادو دتخرشیت څخه دی وساتل شي.

۲- مقدم پلټنه: دپوستکي په زخمونو کې بدلون او همدارنګه زخمونو ته دی پاملرنه وشي.

G: دغاړی او سرکانسرونه:

۱- وقایه: دخولی پاک ساتل د سګرټ او تمباکو د څکلو څخه اجتناب.

۲- مقدم پلټنه: دخولی افاتو او د اواز خشن والی ته دی پام وشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۳- دتداوي په اوږدو کې .

A: مخکی له تداوي څخه پاملرنه.

۱- په سختو سګرت کښانو کې دسږو د دندو دښه والی لپاره دپروګرام سنجول.

۲- دعملیاتو څخه وروسته دخبری کولو لپاره یوه وسیله جوړه کړی شي.

۳- مریض ته دهغه هرونه ورزده کړل شي کوم چی دعملیاتو څخه وروسته په کار وړل کیږي.

۴- د Speech therapy په منظور دیو تیم سره اړیکی وساتل شي کله چی Laryngoectomy اجراء کیږي.

B: دعملیاتو څخه وروسته پاملرنه:

۱- ودی لیدل شي چی دمریض سره د Communication لپاره پنسل او کاغذ په لاس شته او که نه؟ اود لیکونکي په لاس کی وریدي زرق وجود لري اویا نه؟

۲- د Laryngectomy څخه وروسته د Speech therapy سره دمقدم Speech therapy دشروع کولو لپاره پلان جوړ کړی شي یا برقي حنجره دی تهیه شي که دمری څخه دخبری کولو امکان ونه لري.

۳- ودی لیدل شي چی مریض رنګ لري اویانه؟ دلیکلو په منظور مواد داستعمال لپاره اماده دی او که نه؟

E: دشعاعي تراپي په اوږدو کې دخولی پاملرنه، د Xylocain استعمال او داوبو زیات غروپونه اخیستل دی اجراء شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۴- نقاهت او Rehabilitation (احیای مجدد).

A: مریض ته دی په خپله د Suction کولو، دتیوب څخه دتغذی کولو او دخولی خصوصي پاملرنه زده کړي.

B: د Laryngectomy څخه وروسته دناروغ دیو داسی شخص سره معرفي شي کوم چی دمری څخه خبری کوي او د Speech Therapy په باره کې یو پلان وسنجول شي.

H: لوکیمیاګانی

۱- که مریض یو ماشوم وي نو دانتاناتو څخه دساتنی په غرض دی ورسره کومک وشي او توجه دی ورته وشي.

۲- دمریض اودهغوی دفامیل ترمنځ دقهر او غصی دخیالاتو دځرګندولو لپاره دمعقول حدود وټاکل شي.

۳- ودی لیدل شي چی Alopecia لرونکی مریضان اضافي ویښتان یا خولی لري یا نه لري.

۴- د Preschool ماشومانو لپاره:

A: هغه طریقی چی دتداوي لپاره استعمالیږي باید تشریح شي.

B: دماشوم دمیندو سره دی دماشوم دخوراک دزیاتولو په منظور د طریقو دتشکل په مورد کې مفاهمه وکړی شي.

۵- دوړکتون په سن ماشوم

A: وړکتون ته تګ اودنورو معقول فعالیتونو په برخه کې اخیستل دی تشویق شي.

B: دماشوم په فامیلي کارونو کې دفعالی برخی اخیستو لپاره تشویق شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- Adolescent

A: داحساساتو او ویری داظهارولو لپاره دی اجازه ورکړل شي.

B: دماشوم سره دطبي رژیم په اخیستوکې کمک وشي او ضروري فزیکي فعالیتونه دضرورت په اندازه کم کړی شي.

۷- ځوان کاهل

A: دمعقولو مقاصدو دلاسته راوړلو باندی دی ټینګار وشي.

B: دمحدود والی په مورد کی باید مشوره وشي.

۸- زاړه خلک چی لوکیمیا لري:

A: دورځني عادي فعالیتیو داجراء لپاره دی کومک وشي.

B: دانتاناتو څخه دساتنی په غرض دی ورته تعلیم وشي.

C: غیر معقولي ویری دلیری کړای شي.

V: Conclusion

څرنګه چی زمونږ په خلکو کې دکانسر مریضان زیات دي او څرنګه چی ددی جملی څخه زیات شمیر خلک دډیری مودی لپاره ژوند کوي نونرسان او معالجین کولای شي چی دخپلو مریضانو سره دامکان تر حده پوری دارامتیاء او مکمل ژوند کولو په هکله کوشش وکړي.

A: دمرض د اختلاطاتو څخه دی مخنیوی وشي.

B: دفزیکي او اجتماعي احیای مجدد لپاره مهمو منابعو څخه استفاده وشي.

C: دکانسر دپاملرنی په غرض دی مثبت طرزالعمل غوره کړی شي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

D: ځینی دکانسرونو په مخنیوي کې د مریض رول او ډول ډول بدلونونه په مقدم ډول ولټول شي او ورته زده وکړل شي.

E: دتشخیص څخه وروسته دمریض سره دناامیدی او بیچاره ګی داحساساتو دختمولو لپاره کوښښ وشي.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Book Name	Principle of Cancer Diseases
Author	Prof. Dr. M. Zahir Zafarzai
Publisher	Nangarhar Medical Faculty
Website	www.nu.edu.af
Number	1000
Published	2011
Download	www.ecampus-afghanistan.org

This Publication was financed by German Aid for Afghan Children **(www.Kinderhilfe-Afghanistan.de)** a private initiative of the Eroes family in Germany. The administrative and technical affaires of this publication have been supported by Afghanic (www.afghanic.org).
The contents and textual structure of this book have been developed by concerning author and relevant faculty and being responsible for it. Funding and supporting agencies are not holding any responsibilities.

If you want to publish your text books please contact us:
Dr. Yahya Wardak, Ministry of Higher Education, Kabul
Office: 0756014640
Mobile: 0706320844
Email: wardak@afghanic.org

All rights are reserved with the author.

ISBN: 978 993 640 0504

Printed in Afghanistan. 2011

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Abstract

As we knew Afghanistan is one of the poorest counties in the world, and still suffers from war and post war conflict. Our young students, especially medical students can't afford buying medical books and also their level of understanding from English is very low. There for, I decided to write some medical books in Pashto which is in lined with the curriculum of medical college.

I have incorporated all the international changes and progresses happened so far, so that every medical person and student will be benefited.

I believe my following books would be better resources for teaching and research for coming several decades.

1. Gastro Intestinal Disease
2. Liver and Biliary System and Pancreas Diseases
3. Hematologic Diseases
4. Renal Diseases
5. Principle of Cancer Diseases

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

دمولف لنډه پیژندنه:



نوم: محمد ظاهر ظفرزی

دپلار نوم: محمد ظفر

علمی رتبه: پوهاند

اوسنی رتبه: مافوق رتبه

علمی کدر کی دشمولیت نیټه: ۱۳۴۵/۱۱/۱

محترم استاد دتنګرهار ولایت دچپرهار ولسوالی د سری قلعه په کلی کې زیږیدلی او لمړنی ښوونځی دهمدی ولسوالی په لیسه کی پاتی ته رسولی او منځنی ښوونځی یې دکابل د ابن سیناء په متوسطه کې په کامیابی سره په اعلی درجه بشپړ او فارغ شوی دی شهادت نامه یې دکابل دعالي دارالمعلمین څخه لاس ته راوړی. او له هغی وروسته دکابل دطب پوهنځی کی شامل او په ۱۳۴۵ کال کې فارغ التحصیل او دکانکور دازموینی دبریالیتوب وروسته په ۱۳۴۵/۱۱/۱ کې دتنګرهار پوهنتون دطب دپوهنځی دداخلی په څانګه کې داستاد په حیث قبول اوخپله دندی ته یې دوام ورکړ. عالي تحصیلات دامریکا د انډیاناپولس، انډیانا میډیکل سنټر کې د داخله ناروغیو په څانګه کی سرته رسولي او ددرې کالو لپاره د **Fellow Reiden** او علمی کدر کې بشپړ او د بریالیتوب څخه وروسته بیا په ۱۳۵۷ کال کې خپل ګران هیواد ته راستون شوه.

محترم استاد په ۱۳۶۰-۱۳۶۴ کال پوری دلمړی ځل لپاره دطب دپوهنځی د ریاست مقام ته وټاکل شو ، په ۱۳۷۲/۸/۱۹ هـ ش ۴۴۱ ګڼه فرمان له مخی ددوهم ځل لپاره دطب پوهنځی د ریس پوهنځی رئیس مقرر شو او د دریم ځل لپاره د جهادي حکومت د راتګ په وخت کې هم دطب پوهنځی ریس په حیث په خپله دنده پاتی شو.

محترم پوهاند صاحب په ۱۳۸۰/۱۰/۲۰ نیټه د ۱۲۷۷ ګڼه حکم په اساس د تنګرهار پوهنتون د طب پوهنځی دداخلی او بیوشمي څانګی دامر په حیث مقرر شوی دی.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

همدارنګه محترم استاد پوهاند ظفرزی دعالي تحصیلاتو دوزارت دمکتوب ۲۵۲/۷۵۳ ۱۳۸۴/۲/۱۴ هـ ش دتنګرهار پوهنتون د سرپرست ریس په حیث وټاکل شو.

د محترم پوهاند ظفرزي اوسنی دندی او فعالیتونه په لاندی ډول دي:

۱-ددتنګرهار دطب پوهنځی دداخلی ځانګی دامر په حیث ۱۳۵۸-۱۳۸۹ هـ ش

۲- دتنګرهار دطب پوهنځی دعلمی شوری غړی.

۳- دتنګرهار پوهنتون د علمی ترفیعاتو دکمیټی غړی.

۴- دتنګرهار پوهنتون دعلمي عالی شوری غړی.

۵- دتنګرهارپوهنتون دسپلین او انضباط کمیټی ریس

۶- دتنګرهار دطب پوهنځی مشورتي بورډ غړی.

په پای کی یادونه کیږي چی محترم پوهاند صیب یوشمیر زیات علمی کتابونه، مقالي، رسالی ، ریسرچ او ځیرنی چی په بهرنیو او خپل هیواد کې نشر شوي دی او د تنګرهار پوهنتون په ځانګړي توګه د طب پوهنځی ډیره پراخه ګټوره علمی زیرمه یې برابره کړیده.

په درنښت

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماخذونه

١. Andreoli and Charles C.J Car Penter, Robertc. Griggs, ivorj. Benjamin, Cecil Essentials of Medicine, Saunders company, ٢٠٠٧ England.

٢. Christopher – Haslett, EDvin.R. Chilvers DAVIDSON'S Principles and Practice of Medicine, Chruchill Living Stone, ٢٠٠٢ England

٣. Clinical Oncology For Medical Students and Physicians A Multi disciplinary approach the university of Rochester School of medicine and Dentestry, New York Third Edition ١٩٧١.

٤. Edward C. Klatt, Robbins and Cortan Atlas of Pathology, Saunders Company ٢٠٠٦, England.

٥. Fauci Anthonys. Braunwald Engene, Longo- Houser- Harrison's Principle of Internal Medicine ١٧th Edition, Mc Graw Hill Company, ٢٠٠٨ New York.

٦. KUMAR and CLARK Clinical Medicine, ٧th Edition, Saunder company, ٢٠٠٩ England.

٧. Stephen J. MC Phee – Maxine A. Papadakis, Current Medical Diagnosis and Treatment MC Graw-Hill Company ٢٠١٠ USA.

Downloaded from: www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nangarhar Medical Faculty

AFGHANIC

Prof. Dr. M. Zahir Zafarzai

Principle of Cancer Diseases

Funded by:
Kinderhilfe-Afghanistan

ISBN 978-9936-400-50-4

Printed in Afghanistan

2011

with CD

Downloaded from: www.ketabton.com

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library